دانش خپرندویه ټولنه

پښتو پښویه

(پایڅوړ: د ژبپوهنې بنسټونه او غړپوهه)

پوهاند دوکتور مجاور احمد زیار

چاپ آثار:

پښتو ویې پوهنه، پښتو پښویه (ګرامر)، پښتو لیکلار، پښتو شعر څنګه جوړېږي؟، زنداني نغمې، وینه او مینه، اندو ژوند، سوزونه او سازونه، ګلکخونه – ګلولې، پښتو نوموالترنګونه(په الماني) پښتاته اوورونه ملیتونه (ژباړه)، د کنښکا د سره کوتل ډبرلیك، د سبرونو نڅا، اور اووینې، ګلوییونه- څڅواکي، رزم و بزم، مینه د زړه په وینه(د پنځلسم پوړ کړکۍ)، سیندګی هممانیزونه)، سیندګی (نوېزونه) د انګرېزي- پښتو د سربلونو+او ستربلونو سیندګی، پټه خزانه ناپېيلې نثري ټولګه)، پښتو اوپښتانه د ژبپوهنې په رڼا کې ، نوې پېړۍ نوې زرۍ، اندوواند ، ساندې او سندرې، د خوشال ادبي پښتو.

PROPERTY OF ARIC
Established 1989

پښتو پښویه (گرامر)

(پایڅور : د ژبپوهنې بنسټونه او غږپوهه)

پوهاند دوکتور مجاور احمد زیار

PROPERTY OF ACKU
11228

Agha Library The Digital Library

ليكي پوهه:

ليكي :: پښتو پښويه (ګرامر) دويم چاپ
(پايځوړ: د ژبپوهنې بنسټونه او غږپوهه)

ليکوال :: پوهاند دوکتور مجاور احمد زيار

خپرندوی :: دانش خپرندويه ټولنه

اوډګر :: سيد حسين هاشمي

چاپ نېټه :: ۱۳۸۲ل -۲۰۰۳ز

چاپ شمېر :: ۱۰۰۰ ټوکه

د چاپ رښتې (حقوق) له ليکوال او خپرندوی سره خوندي دي او د اخځ له يادونې پرته ترې د اخېستنې اجازه نشته .

Download From: aghalibrary.com

بسم الله الرحمن الرحيم

پیرمحمد کاکړ ته

چې پر ۱۱۹۵ س کال یې په خپله " معرفة الافغانی "
د پښتو پښويې بنسټ ایښی

او

نورمحمد نوري ته

چې پر ۱۲۸۰ س کال یې د " تحفة الامیر "
په نامه دويمه پښويه کښلې ده .

پاسلنه او مننه

له منلو حبیب الله جانبدار، ډاکتر وارث وزیر، استاد محمد اصف صمیم، اتڼ یوسفزي، اسدالله ساپي، په تېره تېره له خپل کليوال پاچا څخه د زړه له تله مننه کوم چې په خپلو پښتني پاسلنو یې د دغه بنیادي پښتو ژبپوهنیز نبښیر د بیا خپراوي لپاره زما د پرش کلنو خیړنو پلتنو ته رښتیا ینه وبښله .

((پوهاند زیار))

Download From: aghalibrary.com

د خپرندويې ټولنې يادښت

دانش خپرندويه ټولنه ډېر وياړي چې د نومهالې (معاصرې) پښتو ژبپوهنې ددغه بنيادي کتاب په وړاندېينې سره د خپلې لرغونې ملي ژبې په سرخنه کې برخه اخلي.

لکه څنګه چې د ليکوال له خپلې وېړې سريزې اودارواښاد پوهاند محمد رحيم الهام له لنډې او کوټلې کره کتنې څخه جوتېږي، دغه ژبپوهنيز اثر له رومبي چاپ (۱۳۶۲ل) راهيسې تراوسه لومړنۍ او يوازينۍ بشپړ پښتوګرامر ګڼل کېږي، چې په نړېواله کچه د نومهالې ژبپوهنې په رڼا کې رازېږېدلی دی.

استاد زيار له هماغه مهالپېره بياتراوسه، په تېره د جلاهېوادی په وروستيو اوو کلو کې،له انګلستانه نيولې تر المان، فرانسې، سويس اوسوېډنه د خپل دغه اکاډېميك اثر د لابشپړونې او کرونې لپاره د شلمې او يوويشتمې پېړۍ د ژبپوهنې له تازه برياوو څخه تر وروستې بريده ګټه اخيستې، چې دا دی موږ يې د بيا خپراوي وياړ ترلاسه کوو.

دانش خپرندويه ټولنه ټينګ ډاډ او باور لري، دغه پښوونيه په هېوادواله اونړېواله کچه هغې سختې اړتيا ته ځواب ووايي، چې يې د مخکينې چاپ له نشتېدنې سره د اړوندو ښوونيزو اوزده کړيزو ځانګو استادانو، شاګردانو اونورو مينه والو ورته ننګېرله.

موږ هم پر خپل وار د هغې ځانګړې مينې او لېوالتيا له مخې،چې د بېلابېلو پوهنيزو او فرهنګي آثارو د خپرونې په لړ کې يې د خپلې لومړنۍ ملي ژبې لاسته راوړنو سره لرو، وېتېيله چې د پوهنتونو او ښوونځيو استادانو او شاګردانو لپاره دده ګټور کتاب بيه په سل کې تر پنځوسو راټيټه کړواو په دې توګه يې په خپرولو اودودولو کې اغېزمنه ونډه واخلو.

داهم نوې بشپړه او کره پښتو پښوونيه اوتاسې!

وړاندې په ټول هېواد کې د پوهې او فرهنګ د نويو پايلو او برياوو د خپراوي په هيله

دانش خپرندويه ټولنه

Download From: aghalibrary.com

نیو لیک

سرلیک	مخکنه
سریزه (زیار)	۱۱
کتنه (الهام)	۱۷
۱- څپرکی: پښتو اواز پوهه	۲۱
خپلواك اوازونه (واولونه)	۲۳
د خپلواکو لښتیلیك (جدول)	۲۷
بېواك اوازونه	۲۸
د بېواکو (کانسوننټو) لښتلیك	۳٦
پښتو غږیزه (فونیمیکه) ابېڅې	۳۷
۲- څپرکی: ګړ پوهه (صرف)	٤۳
لومړۍ برخه: نوم ګړپوهه	٤٤
د نوم اوړون (اسمي صرف) لښتیلیکونه	۵۳
د نومونو څلور ګونې ډلې	٦٤
څیز نوم (اسم)	//
ستاینوم (صفت)	٦۵
شمېر نوم (عدد)	٦۷
نومځری (ضمیر)	٦۹
ځانګړ نومځري (شخصي)	//
تولنومځري (اضافي یا ملکي)	۷۰
نغوتنومځري	//
پوښتنومځري	۷۱
پلوي (سمتي) نومځري	۷۳
وییکنومځري	
اړیکنو مځري	۷۵
غبرګون - او ناټیکنومځری	۷۹
ګډ تولنومځري	۸۳

دويمه برخه: كړ كړ پوهه (فعلي صرف) ٨٩
كړنوماند (مصدر) .... //
د كړ (فعل) اوړوني اړخونه ٩١
مخكړ – ولې – سته .... //
كړتړ – دود – ځېل ٩٣
نوري- لېږد- اړخ- مهال- وګړي ٩٤
ګڼه – لېږند چار – د نفې يا نهې توك ٩٥
كم اوړوني كړونه – اوړونونه ٩٦
لومړی – تېر مهالكړ (ماضي فعل) .... //
الف – لېږند (متعدی) خبري بشپړ (مطلق) .... //
نا بشپړ (غير مطلق) ٩٧
لنډ تېر مهال ٩٨
لرتېر مهال (بعيده ماضي) ٩٩
دويم – ناخبري (انشايي) – ګوماني ١٠٠
ارماني تېرمهال او ډولونه يې ١٠١
آړوتی تېر مهال (شرطيه ماضي) ١٠٣
تواني – تينګاري – هېښني ١٠٤
ب – نالېږند (لازمي) خبري، بشپړ تېرمهال ١٠٥
نابشپړ – لنډ – لز – روږدني (اعتيادي) ١٠٦
ناخبري – بشپړ- ارماني ١٠٧
تواني – ګوماني ١٠٨
پوښتني – هېښني – آړوتي ١١٠
د وسمهال كړ اوړون – بشپړ خبري .... //
نا خبري – آړوتی نابشپړ وسمهال ١١١
درېيم – وسترمهال (مستقبل) كړ ١١٢
لېږند – خبري – بشپړ او نابشپړ ١١٩

ناخبري - لېږند وسترمهال ۱۲۰
د کړ رغاوني ډولونه ۱۲۲
د کړ پوهې دويمه برخه: ناوړېدوني ګړونه ۱۲۷
کړولونه .... 〃
وييکي - اړيکوييکي - ټړوييکي ۱۲۹
ناتړوييکی ۱۳۰
سربلونه + اوستربلځونه ۱۳۲
بېلابېل وييکي - ويناوابنتي ۱۳۶
د پښتو ګړونو (مورفيمونو) انځور ليک ۱۳۷
۳- څپرکی: غونډله پوهه (نحو) ۱۳۸
غونډله (جمله) - جوړښت ۱٤۱
د غونډلو انځور ليکونه ۱٤٤
د غونډلې رغنده توکونه (آرو مرستيال) ۱٤٥
انګيو ييکي، پارنوييکي (هيجاني چغې) ۱٤٦
د غونډلې او ډون (ترتيب) .... 〃
د غونډلې بشپړاندتوکونه - آهنګ، خج ۱٤۸
د ابني او ابنوني سمون ۱٤۹
نوموالە او کړواله غونډله - مانيز ډولونه ۱٥۲
د غونډلې جوليز ډولونه ۱٥۳
يو وستوې غونډله - غبرګغونډله ۱٥٤
چار ټاکې غبرګغونډله ۱٥۸
ګډه غونډله ۱٥۹
ګډلې غونډله (مختلطه جمله) ۱٦۰
ګړنې او څرګندنې (محاورې او اصطلاحات) ۱٦۲
غونډله پوهيزه (نحوي) شننه ۱٦٤
د پښتو يې بشپړېزه ۱۷۳

د استاد زیار پښویه

پښویــه (ګرامــر) د ژبپوهــانو پــه انــد ســپړیزې(تشــریحي) ژبپوهنې یــوه څانــګه ده،چــې ځینــې یــې تطبیقــي یــا انځوریــزه ژبپوهنه بولــي.

پښویــه هغــه پوهنــه ده،چــې د یــوې ژبــې رغــدود (د جــوړښت نظــام) سپړي. هره ژبــه یــو ځانــګړی رغــیز یــاجوړښتي نظــام لــري، چــې دهغــې ژبــې آر ویونکــي او ګړېدونکــي د همغــه رغــدود لــه مخې غږېږي. نو ویلای شو چې دیــوې ژبــې پښویــه د یــوې ژبــې د جوړښتــي نظــام آرونــه (قواعــد) راســپړي او رابرســېره وي.

دژبځېړنــې د آرونــو لــه مخــې پښویــه د قوانینــویــه بریــد کــې نــه راځي. د یــوې ژبــې د پښویــې د کښلو موخــه دا نــه ده،چــې د ژبــې آرو ګړېدونکیو تــه بــې ویــاره (بــې عیبــه) یــابې "خــو" وینــا اوکښنــه ورزده کــړي او یــا داســې آرونــه او بنســټونه پــر ژبــه وتپــي، چــې خلــك یــې د ویلــو او کښلــو پــر وخــت پــه پــامنیوي اړ وي. یــانې پښویــه دا ښیي چې ژبــه څنــګه ده؟ خــو داحــق نــه لــري،چــې ووایــې ژبــه دې څنــګه وي،ځکــه نــو ژبپوهــان او پښویپوهــان وایــې، چــې د یــوې ژبــې پښویــه (Grammar)او ژبــدود (Regularity of Language) د نــورو ژبــود پښویــو پــه پلیــون (پــېروی) رغــول او اوډل علمي کــار نــه دی.

Download From: aghalibrary.com

پښتو یه ګنې ځانګې لړي لکه: فونیم پوهه، مورفیم پوهه.
ګړپوهه (صرف) غونډله پوهه (نحو)

د ژبپوهنې او پښتویې په باب زموږ له دې اوږدې رسې غزونې موخه دا وه، چې ددې (تر لوست او لاس لاندې) پښتویې پر اړتیا او اغېزې څه ووایو.

دا پښتویه د هېواد د وتلي او تکړه ژبپوه پوهاند ډاکتر زیار هغه اکاډیمیك او پوهنیز اثر دی. چې د خپل ښوونیز او پوهنیز ارزښت او اغېز له امله په دې تېرو دوه نیمو درو لسیزو کې یې د خپرېدا دا پنځم ځل دی، چې وروستی هغه یې په لومړي ځل پر ۱۳۶۲ کال په افست بڼه د کابل پوهنتون له خوا خپور شو او سره له دې، چې هر ځل په سوونو چاپ شوی، خو له پښتو لوستونکیو نه له سرتکاوي سره سره یې د تېرو چاپونو یوه نسخه هم نه موندل کېږي، ځکه دې پښتویې وخت پر وخت د پوهنتون د زده کړیالو تنده خړوبه ساتلې ده.

د پښتویې ددې چاپ بیاکتنې او بشپړونې ته استاد زیار ښایسته ښه مخه (فرصت) اویوځه نسبي اسانې درلودې، نوځکه یې پرې ښې په زړه پورې زیاتونې او اسانونې کړې دي.

زه خپل ویاړلي استاد ته ددې علمي اثر پر بیا رااېستو مبارکي د یوه بل تکي تر وړاندې کولو وروستی کوم او هغه دا چې استاد زیار ته د خپل دغه اثر په سریزه کې له بده مرغه دتېر په څېر یو ځل بیا د زړو پلونو او پولو نړونه او نه درناوی د خپل دې نوي اثر د ارزښت او اغېز زیاتوب اسپدلی اود مهال تنګو ترینګلو اړونو او شراېطو. ته په نه پاملرنه یې پر رامنځته شویو دودیزو آثارو او د هغو پر لیکوال له یوې مخې د "نه اغېزمنې"ګز راکښلی، چې نیاو راته -په ښښنه- ونه

برېښنېږ. زه د خپل درانه استاد ددغه شان جاجنې او ارزونې پر څرنګتیا د څه ویلو پرځای یوازې د استاد الفت د "پخوانی دیوې"تومې لیکنې یوه برخه د دوی مخې ته ږدم:

"د زمانې دا عادت دی، چې زاړه شیان له کاره باسي او نوي شیان په کار اچوي، مګر خلك خپل زوړ حال نه هېروي او زړو شیانو ته په ځګو رفونو باندې ځای ورکوي.

دا عادت بد نه دی،چې څوك زاړه خدمتونه هېر نه کړي او زړو خدمتګارانو"ته په قدر وګوري، مګر کار باید له نوو شیانو واخیستل شي اوپه کورونو کې نوې رڼاګانې پیداشي.

... د همدغه بدلون او تغییر په وجه د علم او پوهې رڼا هر وخت خپل فانوس بدلوي او د لوښو په بدلون په لوښو کې پراته شان هم بل رازکېږي"

"د الفت نثري کلیات، ۱۸۸مخ"

په پای کې د دانش خپرنځي ادبپال او روښاندی ښبتن ښاغلي اسدالله ساپی ددې علمي اثر په بیا ځلونه د ډېرې نمانځنې وړ بولم ،چې له همدې تېرو لس -دولس کلو راهیسې د پښتو ژبې د پرمختیایي بهیر په چتکتیا کې ناستومانه ونډه اخیستې ده.

نور نودخپلو خبرو لمن د استاد زیار ددې شعار په راغبرګونه رانغاړم،چې:

تل دې وي پر ناپوهۍ د پوهې برې
اوپر زړود باندې د نویولاسبرې

درنښت

محمد آصف صمیم

۱۸/۱۸/۱۳۸۲

Download From: aghalibrary.com

د ړومبي چاپ د يادښت پر بنسټ :

سریزه (*Introduction*)

زموږ په وروسته پاتې پښتني ټولنه کې د نورو بشري پوهنو په لړ کې ژبپوهنه هم نوې دود ېدونکې ده او زموږ له ټولنيزو آړونو سره سم يې يو رنګ لاسم دود نه وي موندلی چې په نوره نړۍ کې هغه بيا له وخته له دود او موده وتلې وي . که څه هم نژدې نيمه پېړۍ اوړي چې نوې ژبپوهنې او بيا پښتو ژبپوهنې د کابل پوهنتون د ادبپوهنځي له لارې زموږ هېواد ته سر رادننه کړی، خو بيا يې

هم نه یوازې د زړې دودیزې ژبپوهنې ځای نه دی نیولی چې لاکوړت وسکوټ یې ترې سر هومره هم نه دی پورته کړی . د لمریزو دیرشمو په منځیو کې د اروابناد عبدالاحد یاري د نوې ژبپوهنې څو لیکنې او لوستونه لا د شاګردانو او مینه والو مغزو ته نه وه رسیدلي چې د " ګرامر پښتو " د یوه بچي په توګه د اروابناد صدیق الله رښتین "ژبښودنې" بیا ټول افغانستان نیولی وو (بله په زړه پورې کارنامه یې لا دا چې د ژوند په وروستیو شپو ورځو کې یې له وخته په ګټه اخیستنه د هماغه بره خوا له دوده کښلې ګرامر پښتو ژباړه له نورو بې سروبوله ژبنیو څېړنو سره چاپ ته وسپارله) که له اروابناد الهامه راتېر شو، د پښتو څانګې آرو استادانو د نوې ژبپوهنې د پېښاووانو (اماتورانو) په توګه نه دومره اکادمیکه زده کړه او سمبالتیا درلودلې او نه یې ورسره یوه لړه کې علمي مېړانه چې هغه زړه پښویه او ژبښودنه لږ تر لږه د پوهنځي له لوستي اډانې وباسي، نو له دې سره به ترې پخیله د پښتو ژبپوهنې او بیا پښتو پښویې د کښنې او دودونې څه هیله اسره شوې وای . د استاد الهام له خوا د پنزل د کندهاري ګړدود پښویې (پښتو ګرامر) ژباړې او بیا یې خپلې " د پښتو ګرامر طرحې "، د " ترې " نوې ژبپوهنې او ژبنیو مسایلو "، د پالوال " نوی مصدر " د اروابناد لودین روسي ژباړو او خورو ورو لیکنو څېړنو او راوروسته یې د اکادیمي پوړي لپاره تش په نامه " پښتو اکادمیك ګرامر ! " او څه ناڅه د شاکر نیمي نیمګورې " ژبنی څېړنې " بیا هم زاړه غوړونه یو څه وبنګول او وبوړنول او دا یې لږ تر لږه راوښووله چې نوې ژبپوهنه او نوې پښتو ژبپوهنه یا پښویه څه مانا ؟

پر ۱۹۶۲ ز (۱۳۴۱ ل) کال د ادبپوهنځي په چوکاټ کې د ژبپوهنې د انستیتوت له منځته راتګ او په ځانګړي ډول، د افغانستان د ژبپوهنې اتلس له هغې نړیوالې پروژې سره یاد شوي علمي غورځنګ یوه نوې سا واخېسته چې د یونسکو په سپارښتنه یې د نومیالي ناروېژي پښتو پوهاند استاد ګیورګ مورګنستیرن تر مشرۍ لاندې د اروپايي آریانپوهانو او زما په ګډون د همدوی له خوا د یوه لنډ مهالي کورس د بریالیو افغاني زده کړه والو په ملتیا څو کاله پرمخ یووړل شوه او د هېواد له ګوټ ګوټ یې د ګڼو آریانې او یو څه ناآریانې ژبو ثبت کړې ۲۸۰ ګړدودونه د سویس د برن پوهنتون پازوالو ته د نومورې اتلس د اوډون لپاره وسپارل شول .

له بده مرغه زموږ تکړه ملګری " پالوال " د پروژې بورس ته سترګې پر لار پاتې نه شو او د فولبرایت له هغه سره یې د ژبپوهنې پر ځای توکمپوهنه وامرله او کشر ملګري " اخك " راوروسته ړومبی په هند کې ژبپوهنه پرمخ بوتله او بیا په ناروې کې له استاد مورګنستیرن څخه په آریاني فیلالوجۍ کې تر ماسترۍ پورې خپلې زده کړې ترسره کړې. خو په پوهنځي کې یې ټول زور د تاریخي ژبپوهنې پر ښووانه واچاوه، بې له دې چې کوم څېړنیز یا درسي پښتو نښیر رامنځته کړي د پښتو څانګې خوانو لیسانسه او ماسترې کدرونو زیاتره تر ژبپوهنې، ادبپوهنه اسانه او واره یې ګڼلې او په دې دومره ګلونو کې یوازې یوه استاد "خوږشکي" له هماغه پیله ژبپوهنه خپله

څانګه ګرځولې او لږ تر لږه یې د خپلو علمي پوړیو لپاره د پښتو پښوېي ځینې سکالووې کښلې او تدریس کړې دي.

پوهاند تږي هم تر ماسترۍ وروسته له " نوې ژبپوهنه او ژبني مسایل " پرته نور زیاتره د ژبپوهنې او بیا پښتو ژبپوهنې پرځای د ادبي تیورۍ پر ښوونه او څېړنه بسیا پاتې شو. او چې د اویایمو زېږدي کلونو په پای کې یې د ژبپوهنې ډاکټرۍ له امریکا راوړه، تر ما پورې ورته د ډېرو استادانو او شاګردانو دا سترګې اوښتې چې ګوندې تر هرڅه له مخه د پښتو پښوېي په رابشپړوته کې راسره یوه مخکښه ونډه واخلي. خو د کړ اورون په اړه یې د څو ازمانښتي لوستونو تر وړاندې کولو وروسته د سیاسي اړودوړ په پلمه بیا هېواد پرېښووه او څېل دویم هېواد " امریکا " ته بېرته ورستون شو. هلته یې هم ترننه پورې تر پوهنتوني استادۍ او پښتو ژبپوهنې د امریکا غړ خپرونې پښتو ویاندي غنیمت ګڼلې او په دې وروستیو کې یې چې د اړوندو چاروکو له اړتیا او غوښتنې سره سم د یوې امریکنۍ پوځي ملتیا یو " خودآموز " ډوله پښتو لوستلیکی " A Reference Grammar of Pashto " د دوکتورا د تېزس غوندې د خپل لنډ تنګ څانګړي کلیوال ګرډود پر بنسټ ګره بره راوکښل، نو ما ترې د دغې پښوېي په نوې کتنه کې خور ناخیره ګټه واخښتای شوه او پر ځای یې نور هم د څتیخپوهنې د تېرمهالو او وسمهالو له دارمستېتر، ګایګر او مورګنستیرنه نیولې تر پنزل، شفییف، مېکنزي ګیفر، سکېرو، سېتفون، مایر او نورو) پښتو څېړنکو د ببلا ببلو میتودیکو هستونو وریځاندی شوم. ډېر مې زړه غوښتل اروپا ته له وروستنې راتګ سره د پښوېي دغه دویم چاپ د یوه انګریزي، برانسي یا جرمني زده کړیز تعلیمي) ګرامر په مخبېلګه نوز هم بشپړ او کره کړم، خو د پښتو ژبپوهنې نورو اړینو غوښتنو او اړتیاوو او بیا یې د یوې - کره لیکنې غورځنګ ورځنیو هاندو هڅو نر دې زیاته کابو رانه کړه او د " پښتو او پښتانه د ژبپوهنې په رڼا کې " تر بشپړونې او خیروې وروسته دا دی، د نورو منډو تړرو ترځنګه له دړو لسیزو راپیل کړی پښتو اتیمولوجیک سیندګی برمخ وړم.

هو، زه دا باتې نه وهم چې دغه نوې کتلې او کره کړې پښوېه د کوم ډېر تازه پښوییز ښوونځي، لکه واخلې، د چومسکي زېږند (جنراتیف) ګرامر، یا هم د تولمنلې ترانسفرمېشنل - جنراتیف ګرامر " بشپړه یا هوبهو لاروي او ښکارندوبي وکړای شي. خو دا په ډاډ سره وایم چې له دې سره سره یو دودیز نورماتیف ګرامر همنه دی. دا چې یوې یوازینۍ کره لیکنۍ او علمي پښتو لا دومره تولبزوالی نه دی موندلی او یو نیم پلی ورک، لکه پوهاند تږي په حیله څانګړي ګردودي پښنو یوه نیمه لیکنه څېړنه رامخته کړې ده، نو کیدای شي، د همده به ګډون حېنو ګونښنیوکښو ته زما دغه پښوېه بب هم یو نورماتیف ګرامر واښي. بې له دې چې تر دامنځ د " پښتو او پښوېي " تویېر وکړي او بیا دا تول څې دلته څبره پر ګرودوي ګرامر نه. بلکې پر ژبني ګرامر ده. په دې مانا چې مې د ګرامرۍ دوبو (قاعدو) او تولنو (کتېګوریو) په نومېرنه، ناکنه، سېرنه او وېشنه کې څه

ناڅه د ټولو پاموړو پښتو ګړدودونو د يوې يوازينۍ ګډې امرلې (انتخابي) بڼې آرو معيار پر کار اچولی دي. په دې چې د "پښتو" ګرامر کښنه او د "پښتوګانو" ګرامر ليکنه سره توپير لري، په بله وينا د ګړدود او ژبې ګرامرونه سره په آرو بنسټ کې توپير لري. له دې کبله دغه پښويه نورماتيفه نه، بلکې اړونده ژبه "پښتو" يې نورماتيفه او کره کړ شوې ده.

که خبره يوازې پر ګړدودي پښويې (ګرامر) واى، ډېره اسانه وه چې د پوهاند تړې تر لاروي، د هربرت پنزل پښويه ځانته مخښلګه کړم چې يو خوا يې څېړندود څه ناڅه نومهالی دی او بل خوا د يوه کلي يا کندي د يوه لنډ تنګ نه، بلکې تر کندهاري نامه لاندې د ټول سوېل - لويديځ د يوې ارتې يېرتې ګړدودي ډلې ښکارندويي او استازي کوي چې د نورو (منځنيو، سوېل - ختيزو او شمال ختيزو) ګړدودي ډلو په وړاندې له تاريخي پلوه زيات رغاونيز لرغونوالی لري. دا چې سوېل - لويديزه ګړدودي ډله، يا په بله وينا، "کندهارۍ پښتو" مو په يوه - کره ليکلار کې ولې له ارکاييکي ځانګړتياوو سره سره تر ډېرې کچې له پامه غورځولې ده، لاسوند يې پرتليز لړه کيوالی دی. څکه د اړوند ژبپوهنيز تولمنلي پروسيجر (چلند ښېلګې) له مخې د نورو ويونکيو ډېروالی دا رښته (حق) راکوي چې د کندهارۍ پښتو ښېخرته ځانتنۍ خجپوهه (اکسنتولوجي)، ګړپوهه (مورفولوجي) او غونډله پوهه (سېنتکس) د نورې ډېرۍ پښتو په پرتله ښېخرته نادودۍ (بې قاعده ګۍ) رامنځته کوي، د ساري په توګه، تر خج لاندې، يا په بله وينا، هره ناخجنه نومواله او کړواله پايله بدلوي: (- زور) پر (- زورکي)، اوږد (- و) پر لنډ، اوږده (- ې) پر لنډه (ي)، زورواله (- ی) پر زورکي واله (- ی)، لکه په لاره (راه) کې يې "ه" يو "زورکي" دی او په لاره (ميلودي) کې "ه" يو "زور" او له دې سره يې د ډېر ګړي او پېر پايلې هم توپير مومي. ړومبۍ لاره (لاري) راځي او دويمه لاره (لارې). ژوی (ژوئ) او سړی (سړی) ويل کېږي. خو ډېرګړې يې د نورو غونډې يو راز پايله (- ي) ترلاسه کوي. په اوښتي يوګړي کې يې هم ورته پېښه راغبرګېږي. په اوښتي ډېرګړي کې بيا د ټولو پايلو ناخجن "و" لنډ (u) راځي، حال دا چې په نورو ټولو ګړدودو کې خج پر پايلو کوم اغېز نه ښندي، د ساري په توګه لاره (راه) او لاره (ميلودي) يو راز پايله (زور) لري او د ډېرګړئ او پېر پايله يې هم يو راز (- ې) راځي. په همدې ډول يې د ډېرګړي اوښتي پېر پايلې هم يوه بڼه رااخلي او پر اوږده (- و) پای مومي. په و - پای يو ګړيو ښځينه نومونو کې بيا هم کندهارۍ پښتو دوه بلګړونه (الومورفونه) لري. ناخجن لنډ (- و) او خجن اوږد (- و) ادا کوي، لنډ (- و) لکه په بنو او اوږد (- و) لکه په بيزو کې.

دغه راز خجيز اغېز يې په کړ اوړون کې هم لېدل کېږي، لکه په راغئ يا راغلئ کې. کړ نو. مې "کېدل" د نورو پښتنو غونډې وايي، مګر په ګرداني بڼو کې (- ې -) بيا پر (- ي -) بدلوي. د ښېلګې په توګه د يوې - کره پښتو دويم يوګړی "کېږې" پکې پر "کيږي" اوړي چې له درېيم يوګړي سره ګډون (التباس) رامنځته کوي. يو څېيز ويېونه، وييکي او نومځري يا په بله وينا په ټوليزه

پښتو کې ناخجن نومیرلي توکي " enclitics " کندهاریان پر خجنو " proclitics " اړوي او له دې سره " ې " پر " ي " او " ی " پر " ی، ئ " بدلوي پوهاند تري هم هغه دناخجنو ترکو " enclitics " په توګه په خپل ډاکټري تېزس کې څېړلي دي . نو که له نورو بې شمېرو خانګړنوو سره د کندهاري پښتو دغه پاسني ځانتیاوي یومخیزه په پام کې ونیسو. زموږ د یوې کره پښتو دغه پښویه به، نه یوازې دوه ګرایه وغځېږي چې لا له اړونډو دویونو (قاعدو) څخه به یې نادویي (بېقاعده ګي) تیرې وکړي او له شاګردانو، په تېره له نا پښتنو کورنیو او بهرنیو زده کوونکیو څخه ګردسره لار لودن ورک کاندي . له دې هم څوک نته نه شي کولای چې لنډوالي او باقاعده والی له غورو او بنسټیزو معیاري آرونو (اصولو) څخه ګڼل کېږي .

د ښ " او " ږ " په برخه کې خو هرګوره د منځنی پښتو وینګ غوره او کره ګڼل شوی چې په کار ده، په رسمي، سیاسي، علمي، فرهنګي، ادبي او ژورنالیستي (رادیو – تلویزوني) ویناوو کې له پامه ونه غورځول شي. که نه، ښایي کوم پاموړ ګډون (التباس) هم رامنځته نه کړای شي . د داسې ناخېزو ویونیزو توپیرونو څرک خو په ډېرو پرمختللو ژبو کې هم لګیږي. لکه واخلئ /ch/ چې په جرمنی کې، هغه هم تر ربو خپلواکو وروسته د پښتو "ښ" غونډې درې وینګه لري او یوازې یې د رادیو – تلویزیون ویاندان او ورسره ورسره رسمي، علمي او فرهنګي ویناوال هماغه معیاري وینګ په پام کې نیسي چې کټ مټ د منځنی پښتو " ښ " هغې غونډې دی .

د موخې او مرام له پلوه ما دلته تر هرڅه له مخه د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د پښتو څانګې د شاګردانو راتلونکې اړتیا او اسانتیا په پام کې نیولې. هغه دا چې دوی وروسته د استادانو او ښوونکیو په توګه په یوه داسې نوې پښویه، پرخپل خپل وار، په منځنیو او لوړو ښوونیزو څانګو او منځیو کې سم له لاسه د زړې پښویې او ژبښووني بلېږدېدنه او رانغښتنه او له دوده لوېدنه هومره وانګروزي او ډاګیزه کړي او پر ځای یې د نوې ښوونیزې یا ژبښودې پښویې دودوني ته متې راونغاړي چې هم تخنیکي او میتودیکي نویوالی لري او هم ترمینالوجیکي نویوالی .

زما په ازمېښت د دې لامل او لاسوند چې ما ولې هممهال دغه دوه اړخیز نویوالي ته پر یو وار رادانګلي، دا دی چې یوازې په دې یوه نویوالي له زړو هغو سره جګړه بیا هم نیمګړې پاتې کېده د " حرف یا توري، مصدر وحاصل مصدر، مجهول ومعروف، جارومجرور، اصلي او مغیره حالت، مسند ومسندالیه، مضاف ومضاف الیه ... " غونډې نابومه او ګران سهیزې او ګران پوهیزې او تر ټولو زیاتې بیا د "فاعل او مفعول" یا "مفعول منه او مفعول له" غونډې کرغېړنې، بد غونې او بد لګې نومونې چې استاد او ښوونکی یې په ویلو او شاګردان یې په اورېدلو شرمېږي. هماغسې له دوده او موده وتلې برېښي، لکه پخپله د زړې پښویې او ژبښووني وروست وکرغېړن دود او څېړندود، مېتود او تخنیک .

اروانباد استاد الفت له هغو څوان اندو زړو پښتو پوهانو څخه وو چې په هماغه پیلامه (۱۳۵۱ل) کې یې زما دغه نوې نومونپوهنه (ترمینالوجي)، نه یوازې رد نه کړه، بلکې دا داډ یې هم راوباښه چې دغه نوې نومونې د کتاب له سره بیا ترپایه بیا بیا راغبرګېږي او په دې ډول یې شاګرد او لوستونکی په اسانه سهلای او زده کولای شي. ما چې رښتیا هم د پښتو پښویې څو لوسته برابر کړل او شاګردانو ته مې واورول، د هغه استاد د پاخه منطق پایله مې په کړن کې ولیده شاګردانو د دې منښته وکړه چې هماغه کړ (فعل)، کړند (فاعل)، کړی (مفعول)، کړول (قید)، کړوال (فعلي)، کړ نوم (حاصل مصدر)، کړنومی (مصدر) ... یا نوم (اسم)، نومځری (ضمیر)، ویی (کلمه)، ګړ (مورفیم)، ګړپوهه (مارفولوجی)، صرف، غوند (فقره)، غوندله (جمله)، غوندله پوهه (نحو) اوداسې نورې نومونې وې چې پرله پسې راغبرګېدې او د ټولو په زړونو او ذهنونو کې نقشبدلې

د ګرامر پښتو انډول "پښوویه pxóya" خو څه ناڅه دوه سوه کاله پخوا راوړتې او بیا یوسل ودېرش کاله له مخه ښېلیو په خپلو اړوندو پښتو ویي پانګو کې راڅښتې او بیا څه له پاسه اویا کاله مخکې صالح محمد کندهاري خپله دوه ټوکیزه "صرف ونحو" په همدغه نامه نوملې وه چې پښتو قاموس لومړي ټوک (۱۳۳۰ ل) هم راخوندي کړې ده.

په هره توګه د یوې - کره پښتو د دغې لومړنی نومهالې ښوونیزې پښویې څو مخنیو کچه ازمایښتي چاپونو او په ځانګړي ډول یې رومبي آفسټي چاپ او خپراوي په تیرو دوه - درو لسیزو کې دومره داډ او باور را په برخه کړ چې له دغې نوې، څه ناڅه بشپړ شوي او کره شوي چاپ سره لا زیات دود او ګرانښت ومومي او تر هېواد دننه او د باندې د شاګردانو او مینه والو غوښتنو او اړتیاوو ته ځواب ووایي.

تل دې وي پر ناپوهی باندې د پوهې بري

او پر زړو باندې د نویو لاسبري!

پوهاند دوکتور مجاور احمد زیار

اکسفورد، اکتوبر ۲۰۰۳

له روميني چاپ څخه :

کتنه

پښتو پښويه (گرامر) د پښتو په تشريحي ژبپوهنه کې يو نوی پام وړ او گټور اثر دی . له دې گرامر نه رومبی د پښتو ځينې گرامرونه د بهرنيو ژبپوهانو او کورنيو څېړونکو له خوا ليکل شوي دی ، خو زياتره يې عنعنوي څېړندود لري او معاصر علمي څېړندود پکې نه دی کارول شوی او ځينې يې چې علمي څېړندود لري ، مکمل او مشرح نه دی .

ما پخپله پخوا د ډاکتر هربت پنزل پښتو گرامر له انگليسي څخه پر پښتو رااړولی او د ادبياتو پوهنځي له خوا چاپ شوی دی ، چې تر ډېره ځايه پورې علمي رنگ لري ، خو د دې گرامر نحوې برخه کمزورې او بيخي مختصره ده . په هغو وختو کې د افغانستان په ژبپوهنه کې عنعنوي څېړندود دومره پياوړی و چې ان استادانو هم دې کتاب ته پاملرنه ونه کړه او په گودامونو کې پاتې شو .
وروسته ما د پښتو گرامر لپاره يوه طرحه ترلاس لاندې ونيوله چې د فونولوجۍ برخه يې تکميله شوه او خوره وره په " وږمه " کې خپره شوه ، خو د کار د تکميل وخت مې پېدا نه کړ .

دغه طرحه یوه سریزه لري چې په هغې کې د تشریحي ګرامر لیکلو څېړندود څېړل شوی دی ، خو دغه کارونه ابتدایي او نیمګړي دي .

له ښه مرغه پوهاند دوکتور مجاور احمد زیار چې یو تکړه او غښتلی ژبپوه او پر پښتو باندې مین زیارکښ څېړونکی دی او ډېر مهال د نورو علمي کارونو په ترڅ کې د پښتو ګرامر په څېړلو او تدریس بوخت وو ، دغه کتاب تکمیل کړ او د تدریسي متن په توګه درې ځله د ګستنتر په شکل د ژبو او ادبیاتو د پوهنځي د پښتو څانګې له خوا چاپ او د استادانو او زده کوونکو د ګټې اخېستلو لپاره علمي ډګر ته راووت .

دغه کتاب په لومړي سر کې له ستونزو سره مخامخ شو . یو خو له دې لامله چې څېړندود یې نوی و ؛ زموږ دودیز ګرامرونه ، چې البته خپل علمي رسالتونه یې پخپل وخت کې سر ته رسولي وو ، د معاصرې ژبپوهنې له کلیاتو ، ضوابطو ، مفاهیمو او اصطلاحاتو څخه خالي وو او د متود له نظره یې زر کلنه زړه سابقه درلوده . د یو داسې زوړ او پیاوړي سېستم پر ځای نوی سېستم رامنځ ته کول او د ګرامري مفاهیمو او اصطلاحاتو بنسټیز بدلول اسان کار نه و . خو بیا هم دغه کتاب عمومیت وموند او اوس د ازموینې او کره کتنې له ډګر څخه په هسکه غاړه بریالی راوتلی دی .
بله دا چې په دې کتاب کې د ژبپوهنې معاصر بین المللي علمي اصطلاحات ټول پر پښتو اړول شوي دي ؛ د دې اثر لویه ستونزه په همدې کې وه . زیار عقیده لري چې موږ باید د علمي اروپایي اصطلاحاتو لپاره د امکان په صورت کې او د پښتو د عمومي معیاري رغاونیز ظرفیت او د ویي پانګې پر بنا پښتو انډولونه ومومو او باب یې کړو . دا د ستاینې وړ کار دی ، خو باید له احتیاط څخه پکې کار واخېستل شي او د افراط جنبه ونه لري .
د زیار د دغه کتاب ځینې اصطلاحت او علمي نومونې ښایسته زیات عمر لري او په تېرو ګرامري او ژبپوهنیزو اثارو کې راغلي دي ، خو زښت ډېر یې ښځي نوي دي . په دغو نومونو کې هم زیاته برخه اوس د ادبیاتو او ژبو په پوهنځي او د له پوهنتون څخه د باندې هم منل شوې او په دې علمي څېړنو او تدریس کې ورڅخه کار اخېستل کېږي . هیله کېږي چې کومه ورځ به پر دغو نومونو باندې نور هم غور وشي او کره او عام به شي ، یا دا چې تعدیل به ومومي . خو زه شخصاً د دغو ابتکارونو قدر کوم او زیار ته کور ودانی وایم .

د کتاب پر محتوا باندې په دې سریزه کې خبرې کول دغه وینا اوږدوي . زه هیله کوم چې دغه کتاب دې هرومرو او ډېر ژر په همدې ډول خطاطي او آفسیت چاپ شي . تر چاپېدو وروسته به حتماً کره کتنې ورباندې شروع کېږي او لیکوال به یې په کلي توګه د څېړندود او محتوا دفاع وکړي . علمي کره اثار یو پر یو او ناڅاپي منځ ته نه راځي . علم هم ځانته د تکامل تاریخ لري . هره

علمي بریا (دست آورد) د میلونو میلونو انسانانو محصول وي ، شروع کېږي ، وده کوي نیمګړې وي ، تکمیلېږي او مخ پر وړاندې حرکت کوي .
اوس چې د ثور پرتمین انقلاب او بیا د انقلاب له نوي او بشپړتیایي پړاو سره د پوهنې او فرهنګ او تکامل لار په ډېره ګړندۍ او ښه توګه برابره شوې ده ، موږ د پوهنتون علمي او ذهني کارګران خپله دنده ګڼو چې په دې بهیر (پروسه) کې له خپلې وسې سره سمه بنسټیزه او اساسي ونډه واخلو او پوهنه د خلکو خدمت ته وړاندې کړو .

د زیار له زیارونو او کور ودانې سره سم – وړاندې د علم او فرهنګ د رښتیانۍ ودې پر لور !

پوهاند محمد رحیم الهام
د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د ژبپوهنې استاد

۱ - څپرکی

پښتو اوازپوهه (*Phonemics*)

PROPERTY OF ACKU 11228

۱ـ څپرکی

پښتو اوازپوهه (*Phonemics*)

۱-۱: دا برخه د پښتو پښويي (ګرامر) هماغه برخه ده چې يوازې ارزښتناك غږونه (اوازونه - فونيمونه) څېړي. څنګه چې د هر اواز پيدايښت له دوو اړخو، يا په بله وينا، د زېږ ډول او زېږځي له مخې څېړل کېږي او جوتېږي، نو دلته له يوې خوا پر دوو ګونو خوله ييزو او پزيزو وتوځو (۲-۳۲) سربېره پر زېږ ځيو (۲-۳۰) اوله بلې خوا پر زېږ ډولونو چې په څه زور او شدت يا د غږيزو غړو د پراخۍ او تنګۍ او داسې نورو اغېزو له مخې ترسره کېږي، رڼا اچول کېږي. دا دی، لومړی خپلواك او ورپسې بېواك اوازونه له بېلا بېلو ځانګړتياوو سره ترکتنې لاندې نيسو.

۱-۲: د خپلواکو اوازو منځته راتګ او ځانګړتياوې :

۱-۳: د ژبې د دريځ له مخې :

ژبه د خپلواکو د وينګ پروخت د خولې په دننه کې دوو لوريو ته خوځون کوي، يوله هوسا اکر (حالت)، يا په بله وينا ،له لاندېنۍ ژامې څخه د کومي لور ته، او بل د ژبې د بېخ له دريځ نه د

خولې مخنۍ برخې ته. په بله وينا، له وروستني دريځ څخه مخني دريځ ته چې بيا په دغو دوه گونو خوځېدنو کې درې بنې غوره کوي، په دې ډول :

۱-۳-۱: له کښته پورته :

د ژبې کښېنۍ، منځوال او پورتنی دريځ . کوم خپلواک چې د منځته راتگ پروخت يې ژبه کښېنی دريځ ولري، " کښېنی خپلواک " بلل کېږي، لکه : a - ā . که ژبه منځوال دريځ ولري " منځوال خپلواک " ورته وايي، لکه : ə - o - e او که ژبه پورتنی دريځ ولري، " پورتنی خپلواک " نومول کېږي، لکه : u - i .

۱-۳-۲: له وروسته مخ ته :

وروستنی دريځ، مخنی دريځ او منځنی دريځ . کوم خپلواک چې د منځته راتگ پروخت يې ژبه وروستنی دريځ ولري " وروستنی يا تياره خپلواک " نومېږي، لکه: ā - o - u او که ژبه منځنی دريځ ولري " منځنی خپلواک " بلل کېږي، لکه: ə - a . او که ژبه مخنی دريځ ولري، " مخنی خپلواک ".نومول کېږي، لکه : i - e .

۱-۴: د شونډو د دريځ له مخې :

د راز راز پښتو خپلواک غږونو د وينگ پروخت د ژبې پر دريځ سربېره د شونډو بڼه هم په پام کې نيول کېږي، په بله وينا، راز راز بڼې غوره کوي . يا عادي او ناگرده بڼه يا د هر خپلواک له ځانگړتيا سره سمه په بېلا بېله کچه گرده او يا کږې بڼه نيسي . په دې توگه " ناگرد خپلواک " او " گرد خپلواک " ډولونه سره توپيرېږي. ناگرد، لکه : ā - a - e - ə - i او گرد، لکه : o - u .

۱-۵-۱: د لاندېنۍ ژامې د تينگوالي او سستوالي له مخې :

د ځينو پښتو خپلواکو په رغېدنگ کې لاندې ژامه راکښېنکلې او ترينگلې نيول کېږي او تينگ اکر (وضع) لري، نوکوم خپلواک اوازونه چې په دې توگه ويل کېږي، تينگ (tens) ورته وايي، لکه : ā - o - e . نور خپلواک چې د وينگ پر وخت يې لاندې ژامه سسته وي، " سست خپلواک " بلل کېږي، لکه: ə - a - u - i.

۱-۵-۲: بل توپير يې دا دی چې کښېنکلي يا تينگ اوازونه تر سستو اوازونو اوږده ادا کېږي او د دې ځانگړتيا د ښوولو لپاره يې پر سر يوه پرته ليکه کښل کېږي . په پښتو کې چې څنگه سست " a " لنډ ادا کېږي او تينگ " ā " چې اوږد ادا کېږي، دوه بېلا بېل فونيمونه دي، نو په فونيمېکي

ليکنه کې د ټينګ " ā " پر سر باندې د اوږدوالي د پيلامې ليکل اړين دي، خو د " e " او " o " د ليکلو لپاره په پښتو فونيمېکي ليکنه کې د اوږدوالي پيلامې ليکل په کار نه دي. مګر په فونېټېکي ليکنه کې بيا دا توپير څرګندول په کار دي .

۱-۶: د غږيزو تارونو د رېږد له مخې :

د سا (وچې) مرۍ په لوړه برخه کې حنجرې (چنغرك) دواړو دننه دېوالونو ته څلورو يا دوو جوړو مرغېړيو (عضلاتو) ځاى نيولى دى چې له ډېرو ارتجاعي او نريو تارو څخه جوړ شوي دي . دغو تارو ته غږيز تارونه وايي . د غږونو د جوړېدو پروخت سا هوا د حنجرې له تشې نه د غږيزو تارونو له منځه تېرېږي . که د سا هوا د تېرېدو پروخت چې د غږ زېږ لپاره پر کار ولېږي، غږيز تارونه په عادي بڼه وي، په بله وينا ، يو له بله سره لرې وي، هوا له تارونو سره بې له کوم ټکره تېرېږي او تارونه نه رېږدي، نو داسې غږونه منځته راځي چې هېڅ راز بنګهار او موسقيت نه لري . دا راز اوازونو ته " ناغږن اوازونه " وايي . که د غږ د زېږ پروخت غږيز تارونه سره نژدې راوړل شي، په بله وينا ، د حنجرې تشه سره ورشي او د هغو مرغېړي سره راکښېکل شي، په دې توګه سا هوا تارونه پر رېږدا راوړي او داسې غږونه رامنځته کېږي چې بنګهار او موسقيت لري، دا راز اوازونو ته "غږن اوازونه" وايي. دا چې ټول پښتو خپلواك اوازونه د پيدا ايښت پروخت غږيز تارونه رېږدوي، نو له دې کبله ټول غږن دي (الهام ۵۲) .

۱-۷: معياري يا کره پښتو اووه خپلواك اوازونه لري چې د نومورو اړخونو، د غږيزو غږو د چارونو او اکرونو، په بله وينا ، د ژبې د اکرونو، د شونډو د بڼې او د ژامې د سستوالي او ټينګوالي له مخې هر يو بېلا بېل تر کتنې لاندې نيسو :

۱-۸: زور /a/ : کښېنى، منځنى، ناګرد او سست خپلواکغږ دى چې څه ناڅه لنډ ويل کېږي او زياتره د ګړو او وييو په منځ او پاى کې راځي، لکه : په اکر akár، کر kar، او پله plá کې .

۱-۹: الف /ā/ : کښېنى، وروستنى، ناګرد او ټينګ واول دى . زياتره د ګړونو او وييونو په منځ او پاى کې راځي، لکه : په ځار cār او – ورا wrā کې . د ګړ په سر کې يې ډېر لږ څرك ليدل کېږي، لکه : په آس ās، آر ār او آړ āṛ کې . د پارسي او نورو وييو په سر کې چې (ā) وي، هم زياتره په پښتو کې پر (a) اوړي، لکه : په اواز awā́z - ارزو arzó - ازادي azādī́ کې .

۱-۱۰: زورکى /ə/ : منځوال، منځنى، ناګرد او سست اواز دى چې بې له کندهاري ګړدود څخه په نورو ګړدودو کې زياتره يوازې د ګړ په منځ او پاى کې راځي . په سر او پاى کې لنډ او په منځ کې لږ څه اوږد ويل کېږي . په سر کې، لکه : اباګنى əbāganə́y، په منځ کې، لکه : مشر

(ə) په پښتو کې زیاتره mə́šər، کشر kə́šər، په پای کې، لکه : خوله xwlə - تره trə . خجنی ځپې جوړوي.

۱-۱۱: اوږده ي /e/ : منځوال مخنی، ناګرد او کښنکلی (ټینګ) اواز دی، دوه الوفونه لري . په سر او منځ کې ډېر اوږد او په پای کې لږ څه لنډ راځي . بېلګې يې دا دي : ډېر der، مستې masté، هېر her، شودې šodé او نور .

۱-۱۲: لنډه ي /i/ : پورتنی مخنی او ناګرد، سست اواز دی .

۱-۱۳: اوږد (و) /o/ : منځوال، وروستنی، ګرد او ټینګ اواز دی، چې څه ناڅه اوږد ویل کېږي . په پیل او منځ کې زیاتره د اوږده بلغږ او په پای کې زیاتره د لنډ بلغږ په بڼه راځي، لکه : په اور or ، کور kor او زانګو zāngó کې .

۱-۱۴: لنډ (و) /u/ : پورتنی، وروستنی، ګرد او سست اواز دی، چې بې له دوه ګونو بلغږونو څخه يې لنډ دا ډېر دود لري، لکه : په اوم um، زوم zum، ټټو ṭaṭú، اوږد úğd، روږد ruğd او اوریځ uryáz کې .

۱-۱۵: يادونه : له /a/ پرته نور پښتو خپلواك د شومره والي (کمیت)، یا په بله وینا، د اوږدوالي او لنډوالي توپیر کوم فونیمي توپیر نه، چې یوازې الوفوني (فونېتیکي) توپیر ګڼل کېږي . په دې مانا، چې که e، ē، i، i ... وویل شي، په ګړونو او وییونو کې مانیز ونجون نه پېښوي . د څرنګوالي (کیفیت) د توپیر له پلوه چې واز یا تړلی وویل شي، یوازې په ځینو ګړدودو کې فونیمي توپیر رامنځته کوي، لکه : په ننګرهاري لیکونکی likúnke او لیکونکې likúnke کې چې په لومړي کې نرینه وروستاړی دی او په دویم کې ښځینه . همدارنګه د o ، ō کمیتي توپیر فونېمېك ارزښت نه لري . لنډ پارسي o یا پېښن هم په پښتو کې زیاتره اوږد ویل کېږي، لکه : ګومان (ګمان) او کله هم په wə اوړي، لکه : ګل gwəl .

۱-۱۶: د خپلواکو لښتیلیك :

د ژبې دریځ	د شونډو بڼه / د ژامې اکر	مخنی ناگرد	مخنی گرد	منځنی ناگرد	منځنی گرد	وروستنی ناگرد	وروستنی گرد
پورتنی	سست	i					u
	تینګ						
منځوال	سست			ə			
	تینګ	e					o
کښښنی	سست			a			
	تینګ					ā	

۱-۱۷: د پښتو خپلواکو (واولو) خوله - تالوییز اوډون :

په خوله کې دننه د پښتو خپلواکو لاندیني څلور زنیز (ذوذنقه يي) اوډون په دې مانا، چې یا د ستوني خواته زېږون مومي، لکه u, o, ā، یا د تالو د چت په منځ ومیانه کې، لکه a , ə او یا د شونډو خواته، لکه i, e . په دې ډول لومړنیو درو ته وروستي تالوییز یا تیاره خپلواك وايي او د ویمنیو دوو ته منځتالوییز یا نیم روښان او وروستنیو دوو ته سختتالوییز یا روښان خپلواك . ځینې خپلواني ژبې، لکه پارسي (حقشناس ۱۰۷) ورته خپلواك څلور څنډېز اوډون لري او نورې ژبې درې څنډیز (مثلثي)، اوږد څنډیز (مستطیلي) او داسې نور .



a: لنډ الف (زور، فتحه)

ā: (اوږد) الف

u: لنډ (و)

o: اوږد (و)

i: لنډه (ي)

e: اوږده (ې)

ə: زورکی

یادښت:

(ū) اوږد معروف (و) او (i) اوږده معروفه (ي) يوازې په کندهاري ګړدود اړه لري، په عربي او پارسي کې هرګوره ډېر راځي .

۱-۱۸: تم ښواك اوازونه - بندشي - *Implosive* :

په پښتو کې له پور غږو (ف، ق ...) څخه پرته (۸) دي : ب – پ – ت – ټ – د – ډ – ك – ګ .

۱-۱۸-۱: ب /b/ : غبرګشونډيز، غږن تم ښواك دی، څه ناځه سپك ادا کېږي او سايېزه ځانګړتيا نه لري . "ب" له آره "پ" غږ نه ښه ده، ښېلګې يې دا دي: بر bar، برېت bret، خوب xob . " ب " د څپو، ګړو، ويېو او ترنګونو په سر، منځ او پای کې راځي . کله کله له نورو ښواکو اوازونو سره يو څپيز غبرګ غونډونه جوړوي . په پای کې يې وينګ کله سست وي او کله ټينګ تم.

۱-۱۸-۲: پ /p/ : غبرګشونډيز – ناغږن تم ښواك دی . څه ناځه پياوړی ويل کېږي . د وينګ پروخت کله پياوړې او کله کمزورې سايېزه لوښنه هم لري . که چېرې په ويي کې تر پياوړې خج لاندې راشي، نو سايېزتوب يې زيات وي او که تر سپك خج لاندې راشي، نو سايېزتوب يې څه ناځه کم وي. په دې توګه نوموړی ښواك دوه ښلغړونه لري . يو څه سايېز او بل يو څه ناسايېز - ښېلګې يې راوروسته دي : پور، رپا، چپ، پړانګ . " پ " د څپو، ګړو، ويېو او ترنګونو په منځ - او پای کې راځي او له ځينو نورو ښواکو او نيمواکو سره يو څپيز غونډونه جوړوي. د ويېو په پای کې يې وينګ دوه ډوله دی، کله يې تموالی ښېرته کېږي او کله نه.

۱-۱۸-۳: د /d/ : غاښيز غږن تم ښواك دی، څه ناځه سپك ويل کېږي او سايېزه لوښنه نه لري . " د d " له آره د " ت " غږن ډول دی، د څپو، ګړو، ويېو او ترنګونو په سر - منځ او پای کې راځي. د ويېو په پای کې په ازاد ډول کله له تموالي سره او کله بې تموالي ويل کېږي . له ځېنو نورو ښواکو او نيمواکو سره يو څپيز غونډونه هم جوړوي . ښېلګې يې، لکه : درې dre، دود dod، دام dām او نور .

۱-۱۸-۴: ت /t/ : غاښيز - ناغږن تم ښيواك دی، څه ناځه درونډ ادا کېږي او لږو ډېره سايېزه ځانګړتيا لري، چې له دې پلوه دوه ښلغړه لري - سايېز او نا سايېز - هغه دا چې که تر سپك خج لاندې راشي، سايېزه ځانګړتيا يې کمېږي . وينګ يې د ويېو په پای کې کله تموالی لري او کله نه .

بیلګې یې، لکه : تریخ، تار - بېلتون - توت . " ت " د څپو، ویېو، ګړونو، ترنګونو په سر، منځ او پای کې راځي. کله له څېنو نورو بېواکو سره یو ځپیز غونډ جوړوي .

۱-۱۸-۵: ټ /ṭ/ : اووریز - ناغږن - غبرګژبیز تمبېواک دی، دروند ویل کېږي او څه ناڅه سابیز دی . د وینګ پر مهال یې ژبه راغبرګېږي، یا په بله وینا، راکږې کېږي او د ژبڅوکې لاندې برخه له اووریو سره نښلي او بیا په خورا چټکۍ یوازې یو وار خوځون مومي . له دې لامله ورته یو واریز رپنده غږ هم ویلای شو . د څپو، ګړو، ویېو او ترنګو په سر، منځ او پای کې راتلای شي .

۱-۱۸-۶: ډ /ḍ/ : اووریز - غږن - غبرګژبیز - تم بېواک دی، لږو ډېر دروند ویل کېږي او څه ناڅه سابیز دی : "ډ" له آره د "ټ" غږن ډول دی، د وینګ پروخت یې ژبه راغبرګېږي او د ژبڅوکې لاندې برخه له اووریو سره نښلي او بیا په ډېرې چټکۍ سره یوازې یو وار خوځون مومي، له دې کبله ورته یو واریز رَپنده غږ هم وېلای شو .

بېلګې یې په دې ډول دي . ډول ḍol، بډه báḍa، ډنډ ḍanḍ . " ډ " د څپو، ګړو، ویېو او ترنګونو په سر، منځ او پای کې راځي . د نورو ډېرو بېواکو غوندې ځپیز غونډونه هم جوړوي، لکه : ډیل، ډال او نور.

۱-۱۸-۷: ګ /g/ : وروستی تالوییز (نرم تالوییز) غږن تم بېواک دی، څه ناڅه سپک ادا کېږي او سابیز رنګ لري . "ګ " له آره د " ک " غږن ډول دی . بېلګې یې دا دي : ګرم gram، ګر gar، لرګی laráy ، د څپو، ګړونو، ویېو او ترنګو په سر، منځ او پای کې راځي . کله کله له څېنو نورو بېواکو سره یو ځپیز خپلواک غونډونه جوړوي، لکه په ګرم gram کې . تموالی یې د ویېو په پای کې تر لارغې له مخه زیاتره بېرته کېږي او کله بیا نه .

۱-۱۸-۸: ک /k/ : وروستی تالوییز - ناغږن تم بېواک دی . وینګ یې څه ناڅه دروند دی، لږو ډېر سابیزوالی لري او له دې مخې دوه (سابیز او ناسابیز) بلغږونه لري . هغه دا چې که د درانه خج په ځای کې راشي، نو سابیزوالی یې زیات وي او که د سپک خج په ځای کې راشي، نو سابیزوالی یې څه ناڅه کم وي - تموالی یې د ویېو په پای کې تر لارغې له مخه زیاتره هیسته کېږي، خو که نورې څپې ورسره خجنې راشي، نو تموالی یې کله پاتې کېږي او کله نه. بېلګې یې دا دي : کور – کلک او نور. " ک " د څپو ویېو او ترنګو په سر، منځ او پای کې راځي د وینګ پروخت له څېنو نورو غږونو سره یو ځپیز غونډونه جوړوي .

۱-۱۹: مښښ یا مښلي (احتکاکي *Fricative*) ببواك اوازونه

په پښتو کې له پور غږونو (ف - ع - ح او نورو) پرته (۹) دي : س، ز، ش، ښ، ژ، ږ، خ، غ، ه .

۱-۱۹-۱ : س /s/ : اووریز ناغږن، مښلی ببواك دی . دا چې وینگ یې شپېلي ته ورته دی او د اذا کږلو پروخت یې د ژبې برنی مخ څه ناڅه، غوڅه بڼه غوره کوي، نو ورته (صفیري = ناوه یي) اواز هم وایي . (الهام، د پښتو گرامر طرح ۳۵۵ مخ) .

بېلگې یې دا دي : سر، سمسور، لاس او داسې نور . " س " د څپو، وییو، گړو او ترنگو په درې واړو ځایو کې راځي . کله له ځینو نورو بېواکو او نیمواکو په تیره له " پ " سره غونډونه هم جوړوي.

۱-۱۹-۲ : ز /z/ : اووریز، مښښ، غږن ببواك دی . دې غږ ته هم ځینې پوهان صفیري غږ وایي . له آره د " س : غږن ډول دی . بېلگې یې، لکه : زر zar، زیان zyān او نور . د څپو، گړو، وییو او ترنگو په درې واړو ځایو کې راځي او ځینې ببواك غونډونه جوړوي .

۱-۱۹-۳ : ش /š/ : اووری – تالوییز – ناغږن – مښښ – صفیري ببواك اواز دی . بیلگې یې دا دي : شل – شمېر – کشر او نور . " ش " د څپو، گړو، وییو او ترنگو په هره برخه کې راځي او په ځینو ځایو کې ببواك غونډونه جوړوي .

۱-۱۹-۴ : ژ /ž/ : تالوییز غږن، مښښ، صفیري ببواك اواز دی . بېلگې یې : ژبه žǝ́ba، ژوند žwand او نور .

" ژ " د څپو، گړو، وییو او ترنگو په هره برخه کې راځي او په ځینو ځایو کې ببواك غونډونه هم جوړوي .

۱-۱۹-۵ : ښ /x̌/ : دا غږ د پښتو په بېلا بېلو گړدودونو (لهجو) کې به بېلا بېلو ډولونو سره ویل کېږي . په کندهار یا سوېل لویدیزه پښتو کې یو ساییز – مختالوییز غبرگږبیز، ناغږن مښلی ببواك " š " دی . په سوېل ختیزه پښتو کې "ش" ویل کېږي . په ننگرهاری یا شمال ختیزه پښتو کې د " خ " غوندې ویل کېږي . په منځنۍ یا غلجۍ پښتو کې یو وروستی تالوییز ناغږن، مښلی، ببواك /x/ دی . د وینگ پروخت یې د ژبې وروستۍ برخه د تالو له وروستۍ برخې سره نښلي، او په دې توگه د سا هوا بهنگ د اواز په زېږ ځي کې مښښه او سولېدنه مومي، لکه : په بېلگو کې : پښتو، ښار، خوښ او نور .

د څپو، گړو، وییو او ترنگو په هره برخه کې راځي . کله کله ببواك غونډونه هم جوړوي .

۱-۱۹-۶: ږ /ǧ/ : دا اواز هم د " ښ " په شان د پښتو په بېلا بېلو ګړدودونو کې په بېلا بېلو ډولو ویل کېږي . او له آره د " ښ " غږ نه بېله ده . " ږ " په سوېل لویدیزه پښتو کې مخنی تالوُیز - غبرګژبیز - موښن ناغږن " ž " دی . په سوېل ختیزه کې " ژ ž " او په شمال ختیزه پښتو کې د " ګ " غوندې ویل کېږي . په منځنۍ یا غلجۍ پښتو کې یو وروستی تالوییز غږن، مبنلی، بېواک ǧ دی چې د وینګ پروخت یې د ژبې وروستۍ برخه د تالو له وروستۍ برخې سره نښلي او په دې توګه د سا هوا بهنګ د اواز په زېږ کې مښنه او سولېدنه مومي، لکه په بېلګو کې : ږلۍ ǧalə́y، ږدن ǧdən، وږږ او نور .
د څپو، ګړو، وییو او ټرنګو په هره برخه کې راځي، کله کله بېواک غونډونه هم جوړوي .

۱-۱۹-۷: خ /x/ : ژبی ییز - مبنلی - ناغږن بیواک اواز دی . د څپو، وییو او ټرنګو په هره برخه کې راتلای شي او په ځېنو ځایو کې له ځېنو نورو بېوواکو سره غونډونه جوړوي . بېلګې یې دا دي : خپل xpəl، خیرن xirə́n، مخ məx، سخوندر sxwandə́r او نور .

۱-۱۹-۸: غ /ɤ/ : ژبی ییز، غږن، مبنلی بېواک دی . " غ " له آره د (خ) غږن ډول دی . د ژبنیو توکونو په هره برخه کې راځي، لکه په دې بېلګو کې : غوا، غر، روغ او نور .

۱-۱۹-۹: هـ یا ه /h/ : ستونیز - ناغږن - سایيز – مبنلی بېواک دی. د څپو، وییو، ګړو او ټرنګو په هره برخه کې راځي، خو په زیاتره کارېدنه کې پر خپلواک (a) اوړي او یا ګرد سره نه ویل کېږي . بېلګې یې دا دي : هاند، هېر، هېڅ، پوه او نور .

۱-۲۰: اوبلن یا مایع بېواک اوازونه، په پښتو کې (۳) دي : ل، ر، ړ l, r, ṛ .

۱-۲۰-۱: ل /l/ : اووریز غږن اړخیز (lateral) مایع بېواک دی . د ژبنیو توکونو په هره برخه کې راځي او له یو لړ بېواکو او نیمواکو سره یو څپیز غونډونه جوړوي. بیلګې یې دا دي : لمر، لمونځ، لیار، لېله، ملا، لوړ او نور .

۱-۲۰-۲: ر /r/ : اووریز نااړخیز (nonlateral) رپاند بېواک دی . د وینګ پروخت یې د ژبې سر تالو ته ورنژدې کېږي او بیا ژبه څو پلا رپېږي . له همدې کبله دې غږ ته رپاند غږ وایي . د څپو، ګړو، وییو، ټرنګو په هره برخه کې راځي، له ځینو غږونو سره بېواک غونډونه هم جوړوي، لکه په دې وروسته بېلګو کې: ورور، ورځ، وروسته .

۱-۲۰-۳: ړ /r̤/ : غبرګژبیز، غږن ړپېدونکی یا پرپېدونکی (flapped) بېواك دی . په وینګ کې یې د ژبې د څوکې لاندینۍ برخه راغبرګېږي او له اووریو او مخني تالو سره لګېږي او بیا ژر په چټکۍ سره کښېته راخوشې کېږي . د ژبنیو توکونو په هره برخه کې راځي او لږو ډېر له څېنو غږونو سره یو څپيز بېواك غونډونه جوړوي، لکه : پړانګ – ورېم – ویاړ – شواړ او نور .

۱-۲۱: پزیز (انفي یا خیشومي) بېواك په پښتو کې " ۳ " دي : م، ن، ڼ .

۱-۲۱-۱: م /m/ : غبرګشونډیز غږن بېواك دی . د وینا د توکونو په هره برخه کې راځي او له څېنو نورو غږونو سره بېواك غونډونه جوړوي . بېلګې یې دا دي : مار، مرچ، لمر، مور، ورم، برم او نور .

۱-۲۱-۲: ن /n/ : غاښیز - ناغږن - پزیز بېواك دی . درې غوره بلغږونه یې په دې ډول دي :
که تر غاښیز غږ " ت - د " وروسته راشي، غاښیز (n) ادا کېږي، لکه په بند، ژوند، سنتره کې .
که تر واول یا اووریز اواز له مخه راشي، اووریز (n) ادا کېږي، لکه په انا، انار کې . او که تر وروستي تالوییز اواز (ګ - ك) له مخه راشي، نو بیا وروستی تالوییز (ŋ) ادا کېږي، لکه : په انګار، انګور، زنګون کې . پر بلغږونو سربېره " ن " کله کله پر (م) بدلېږي، هغه دا چې که تر "ب" له مخه راشي، لکه په تنبه، پونبه کې، نو تمبه، پومبه ویل کېږي .

۱-۲۱-۳: ڼ /n̤/ : غبرګژبیز - ناغږن - بېواك دی چې په وینګ کې یې د ژبې د څوکې لاندینۍ برخه راغبرګېږي او د تالو له مخنۍ برخې سره نښلي . سا هوا د پزې له لارې وځي، لکه په منه، بڼ او نورو کې . " ڼ " د ګړو، وییو او ترنګو په منځ او پای کې راځي، خو په سر کې یې نه . هرګوره د څپو په درو واړو برخو کې راتلای شي، لکه په پڼه، اتڼ، خورلڼه، کیڼ او کڼه کې .
له نورو غږونو سره ډېر لږ بېواك غونډونه جوړوي، لکه په دڼیا danyā́ اوښاو کې .

۱-۲۲: تم - مښلي بېواك (*Affricates*) څلور (څ، ځ، چ، ج) دي .
دغه غږونه د غږ پوهنې (اوا شناسۍ) له پلوه داسې ترښتي غږونه دي چې هر یو یې له تم او مښلي غږ څخه جوړ شوی دی . خو د اواز پوهې (Phonemics) له مخې هر یو ځانته یو یوازینی اواز بلل کېږي .

۱-۲۲-۱: څ /c/ : اووریز ناغږن تم - مښلی بېواك دی . وینګ یې داسې دی چې " ت " تم غږ او " س " مښلی غږ دواړه پر یوه وخت له یوه زېږ ځي څخه د یوه اواز (فونیم) په توګه راوځي، لکه: په څار، څاروي، څانګه، څرېکه، څوری، غوځ، لوڅ، څلېر او نورو کې .

" ځ " د ژبنیو توکونو په هره برخه کې راتلای شي او له ځېنو غږونو سره بېواکغونډونه جوړوي .

۱-۲۲-۲: ځ /j́/ : اوریز - غږن - تم - مبنلی - بېواك دی چې له غږ پوهیز پلوه له مبنلی (ز) او تم (د) څخه ګډ جوړ شوی غږ دی، خو د اواز پوهې له مخې یو یوازینی اواز (فونیم) بلل کېږي او د (ځ) غږن ډول دی . بېلګې یې، لکه : ځان، ځای، ځاځ (قهر)، ورځ، وریځ، ځمکه، ختیځ، لویدیځ، مینځ .... " ځ " د ځپو، ګړو، وییو او تړنګو په سر، مینځ او پای کې راځي او له ځېنو غږونو سره بېواکغونډونه جوړوي، لکه : ځوړ، ځوړند، ځوان ....

۱-۲۲-۳: چ /č/ : اووریز یا زیږ تالوییز - ناغږن تم - مبنلی بېواك اواز دی . په فونېټېکي ډول له مبنلی "س" او تم (ت) څخه رغېدلی دی، خو د پښتو اواز پوهیز (فونیمیك) نظام له مخې د نورو تم - مبنلیو غونډې د یوه یوازیني (افریکات) اواز بڼه غوره کوي . په وینګ کې "ت" او "س" له زېږځي څخه همممهال راوځي . د وییونو په پیل، پای او مینځ کې راځي او له ځېنو غږونو سره یو ځپیز بېواکغونډونه جوړوي، لکه چکوړ (د خوسي د راګرځولو غږ)، چوار (ځوړند) .

۱-۲۲-۴: ج /ǰ/ : اووریز یا زېږ تالوییز غږن - تم - مبنلی - بېواك اواز دی . د سپنپوهې یا غږ پوهې له پلوه د (ځ) او (د) له ګډون څخه یو رغېدلی اواز دی، خو د پښتو فونیمیکي غونډال (سېستم) له مخې یو یوازینی اواز (فونیم) دی . په وینګ کې یې (د) او (ځ) له یو وتوځي او زېږځي څخه یو وار غبرګ راوځي او له آره د (چ) غږن ډول دی . د ساري په ډول که په سست دریځ، لکه پای کې راشي، د (چ) غونډې ویل کېږي، لکه په خوزج (کار - بزرګ ومهم) یا جاج کې . د ځپو، ګړو، وییو او تړنګو په سر، مینځ او پای کې راتلای شي . بېواکغونډونه یې، لکه : جوال، جرنګنی (جرس)، جوار، جواری .

۱-۲۳: نیمواکغږونه - *Semi - Vowel*

هغه اوازونو ته ویل کېږي چې د خپلواکو او بېواکو اوازونو ترمنځ منځګړتوب کوي . په بله وینا، د دواړو ځانګړتیاوې لري . که د ځپې زړی (هسته) وګرځي، د خپلواك بڼه اخلي او که د ځپې زړی ونه ګرځي، نو د بېواك په بڼه څرګندېږي او د هغه چار پر غاړه اخلي . پښتو دوه نیمواکه لري : و = w او ی = y .

۱-۲۳-۱: و /w/ : خپلواك اواز - ناځپیز (غیرهجایی)، یا په بله وینا، بېواکه بڼه ده . دا مانا چې که دغه نیمواك و - w د ځپې زړی شي، نو خپلواك کېږي او که نه، نو بېواك کېږي . دا نیمواك د ځپو، وییو، ګړو او تړنګو په هره برخه کې راتلای شي او په وینګ کې یې دواړه شونډې سره نژدې

کېږي، لکه په دې وروسته ویيو کې : ور war، خوږين xwṛin، نو naw، ولور walwắr، خوله xwlə، شخوند šxwand ...

د /w/ نیمواك د څپو په پیل او منځ کې راځي او په پای کې یې یوازې غبرګغږ (دیفتونګ) د دویم غږي په توګه. /w/ د یوه غبرګشونډيز اواز په توګه یې په وینګ کې دواړې شونډې سره نژدې کېږي، مګر د "ب" غونډې بیخي سره نه نښلي.

۱-۲۳-۲: ی /y/ : نیمواك اواز، د "ی" خپلواکه ناڅېزه یا بېواکې بڼه ده. دا مانا چې که د څپې زړي وګرځي، یو خپلواك اواز دی او د (ی = y) په څېر ویل کېږي، خو که ګڼه د څپې د زړي په توګه ونه کارول شي او ځپه جوړه نه کړي، نو یو بېواك اواز دی. په وینګ کې یې د ژبې اړخونه تالو خواته هسك کېږي او د وینګ نورې ځانګړتیاوې یې له (ي = i) سره دومره توپير نه لري. (ی - y) هم د (و - w) غونډې د څپو په پیل او منځ کې راځي او په پای کې یوازې د غبرګغږ دېفتونګ) د دویم غږي په توګه راتلای شي، لکه په : یوه yaw، زیړ zyaṛ او سړی saṛáy کې.

۱-۲۴: غبرګغږونه - واکه های مرکب *Diphthongs*

پښتو غبرګغږونه د خپلواکو او نیمواکو اوازونو له پرله پسېوالي او یوځایوالي څخه منځته راځي. په بله وینا، هر پښتو غبرګغږ دوه فونیمي توکونه لري. لومړی توك یې خپلواك او دویم یې نیمواك وي. له همدې کبله پښتو غبرګغږونه د غبرګو اوازو په توګه څېړل کېږي، نه د پیوستو اوازو په توګه.

څنګه چې پښتو نیمواك (۱-۲۳) دوه دي، نو غبرګغږونه یې هم په دوو ډلو وېشل کېږي.

د و /w/ غبرګغږونه او د "ی = y" غبرګغږونه :

۱-۲۴-۱: د و /w/ غبرګغږونه په (لیکنی) پښتو کې له ورسره همرنګو غږونو (o، u) پرته له نورو ټولو خپلواکو سره جوړېدای شي، بېلګې یې په لاندې ډول دي :

۱) iw - لکه په تریو triw کې.
۲) ew - لکه په لیو lew کې :
۳) aw - لکه په لو law کې.
۴) āw - لکه په پړاو paṛā́w او لګاو lagā́w کې :
۵) əw - لکه په کټو kaṭə́w او بړو bağə́w کې.

دغه ټول غبرګغږونه د وييو په پای کې راځي. " aw " او " āw " پر دې سربېره په سر او منځ کې هم راځي.

۱-۲۴-۲: د " ی - y " غبرګغږونه په (ليکنۍ) پښتو کې له ورسره همرنګو خپلواکو (i، e) پرته له نورو ټولو خپلواکو سره جوړېدلای شي، دا لاندې بېلګې لري:

۱) " ay " لکه: په ايوان (حيوان) aywān، غويمه ɣwaymá، ميره mayrá، ميده maydá، پيل payl او وری wray کې.

۲) " āy " لکه: په ائينه āyná، ګای gāy (ويی)، پای pāy، پايله pā́yla او ځای zāy کې.

۳) " əy " لکه: په نړۍ narə́y، ډوډۍ ḍoḍə́y، ګولۍ golə́y، ډبلۍ ḍabalə́y او اوونۍ ownə́y کې.

۴) " uy " لکه: په خوي xuy، بوي buy او دوی duy کې.

۵) " oy " لکه: په زوی zoy، دوی doy (قانون) کې.

له دغو غبرګغږونو څخه ځينې يوازې د وييو په پای کې او ځينې يې په سر، منځ او پای کې راځي.

۱-۲۵: د پښتو ښواکو (Consonants) او نيمواکو (Semi-vowels) د زېږځيو او زېږ ډولو لښتيليك:

زېږځی / زېږ ډول		غبرګشونډیز bi-labial	غاښیز dental	اووریز alveolar	غبرګږېز retroflex	زیږتالوییز pre-palatal	نرم تالوییز post-palatal	زبې - تالوییز uvular	ستونیز glottal
تم exclusive	غږن	ب b	د d		ډ ḍ		ګ g		
	ناغږن	پ p	ت t		ټ ṭ		ك k		
مښلي fricative	غږن			ز z	(ږ ẓ̌)	ژ ž	ږ ğ	غ Ɣ	ه h
	ناغږن			س s	(ښ ṣ̌) (۱)	ش š	ښ x̌	خ x	
تم - مښلي affricate	غږن			ځ j		ج j			
	ناغږن			څ c		چ č			
اوبلن liquid	غږن			ر r	ړ ṛ				
	ناغږن			ل l					
پزیز nasal	غږن	م m							
	ناغږن		ن n		ڼ ṇ				
نیمواك semi-vowels	غږن	و w		ی y					
	ناغږن								

(۱) ښ - x او ږ - ğ په منځني کره ګړدود کې وروستی یا نرم تالوییز مښلي دي او د کندهار په ګړدود کې ساییز مختالوییز، چې ṣ̌ او ẓ̌ سېمبولونه لري او غبرګږېز دي یا په بله وینا، ږ (ẓ̌) او ښ (ṣ̌) د غبرګږېزو سېمبولونو په توګه په سوېل لویدیزو ګړدودو اړه لري خو ږ (ğ) او ښ (x̌) د نرم تالوییزو سېمبولو په توګه د منځنیو ګړدودو، یا په بله وینا د یوې - کره پښتو استازي کوي، که څه هم په ویاندۍ کې دواړه ډوله وینګونه دود لري، بې له دې چې د بېواکو ټاکلی شمېر (۲۹) له خرخښې سره مخ کړي.

۱-۲۶: پښتو غږیزه (فونیمیکه) ابېڅې (الفبې)

د یوې - کره پښتو د ۳۶ ګونو اوازونو (فونیمونو) غږیزه (فونیمیکه) ابېڅې د وسمهالو ختیځپوهانو له خوا د شلمې پېړۍ له شلمو کلو راهیسې رامنځته شوې او بیا په ځانګړې توګه پر ۱۹۶۲ کال د استاد مورګنستیرنې په مشرۍ د یوې ډلې ختیځپوهانو له خوا د افغانستان د ژبپوهنې اتلس (ALA) لپاره پر کار لوېدلې ده . دغه ابېڅې د پورتنیو ۳۶ اوازونو ښکارندویه ده، په دې مانا چې د هر فونیم لپاره یوه یووستوې نښه (توری) لري او په دې ډول یې د ټولو توریو شمېر ۳۶ ته رسېږي . اړوند لس غبرګغږونه (دیفتانګونه) هم له غبرګو توریو څخه رغېدن مومي .

کوم ادلون بدلون او زیاتون چې پښتو ټولنې پکې له ۱۹۷۶ ز . کال راهیسې راوستی او تراوسه یې د افغانستان د علومو اکاډمۍ په اډانه کې پر کار اچولې، د یوې کره پښتو له اواز پوهې (Phonemics) سره سمون نه لري، لکه د ج (j) او ځ (j) سېمبولونه سره ونجول او د اوږدو او لنډو واولو توپیرول . تر دې چې نومور پښتو پوهاند هربرت پنزل د j - j د دغه بېځایه وبله ونج په اړه پر ۱۹۷۸ کال له مشیګن پوهنتونه لیکوال ته د پښتو څېړنو د نړیوال مرکز د سروال په توګه په خپل غبرګون کې داسې کښلي ول : د ج لپاره د j پر سر نګښی (چنګک) په دې لاسوند سرباري شوی دی چې د اړوند زېږځي (تالو) انځورنه کوي، نه د ځ د زېږځي (او وریو) .

پاتې شوې له (ā - a) پرته د نورو واولي سېمبولو پرسر د اوږدوالي نښې، چې دا بیا د کره پښتو د اوو (۷) خپلواکو شمېر نژدې دوه ګرایه کوي، ان تر دې چې د دودیزو ژبپوهانو په پرمایښت د عربي زېر او پېښ خیال پکې هم ساتل شوی چې له پښتو اوازپوهې سره هېڅ اړخ نه لګوي . په کوشنۍ ترینو جوړو زباد شوي پښتو اوږد (و o) او اوږده (ې e) بې له هغې د اوږدوالي نښو ته اړتیا نه لري، څکه چې په وړاندې یې نور زیات لنډ څېلونه (بلغږونه) ګرد سره نشته او د لنډ (و u) او لنډې (ي i) اوږده وارینټونه بیا یوازې ګړدودي ارزښت درلودای شي، لکه په یو شمېر سوېل لویدیزو او سوېل ختیزو ګړدودو کې او دغلته هم کوم توپیر (contrast) نه شي رامنځته کولای، څکه ترمنځ یې کوشنۍ ترینې جوړې نه پیدا کېږي . هرګوره، د لیکوال له خوا د یوه لړ دیني، اداري یا علمي - فرهنګي عربي نومونو د منل شوي لیکدود په پام سره تر آر لیکلړ لاندې اتګوني عربي توري په احتیاطي توګه هم وړاندې شوي ول .

دا هم د یوې - کره پښتو ټولو ۳۶ خپلواکو او بېواکو او دوو غبرګغږونو (ی، ۍ) د سېمبولونو (توریو) لیکلړ :

نوم	دودیز	غربیز
زور (فتحه)	(فتحه، ع)	a
الف	آ	ā
بې	بې	b
څې	څ	c
چې	چ	č
دې (دال)	د	d
ډې (ډال)	ډ	ḍ
اوږده ې (مجهوله ې)	ې	e
زورکی	ə	-
ګې (ګاف)	ګ	g
ږې (ګغې)	ږ	ğ
غې (غین)	غ	γ
هې	ه (ح)	h
لنډه ي (معروفه ي)	ي	i
ځې	ځ	j
جې (جیم)	ج	ǰ
کې (کاف)	ك	k
لې (لام)	ل	l
مې (میم)	م	m
نې (نون)	ن	n
ڼې (نوڼ)	ڼ	ṇ
وو، اوږد و (مجهول و)	و	o
پې	پ	p
رې	ر	r
ړې	ړ	ṛ
سې (سین)	س (ث، ص)	s
شې (شین)	ش	š
تې	ت (ط)	t
ټې	ټ	ṭ
لنډ (و) (معروف و)	و	u

w	و	بېواك (يا معدوله و)
x	خ	خې
x̌	ښ	ښې
y	ی	بېواكه (ی)
z	ز (ض، ظ)	زې
ž	ژ	ژې
ay	ی	زوروالہ ی
əy	ۍ	زورکیوالہ ۍ

۱-۲۷ : كوشنۍ ترينه جوړه *Minimal Pair*

ژبه يو داسې غونډال سېستم دی چې هره ننبه (سېمبول) يا توك (عنصر) يې له بل هر بل هغه سره توپير لري . په دې توگه كه وغواړو، د يوې ټاكلې ژبې د يوه توك آروالی، يا په بله وينا ، د هغه ژبنی ارزښت جوت كړو ، نو له خپل ژبني چاپېريال سره يې له بل يوه داسې ژبني چاپېريال سره تر كتنې لاندې نيسو چې دواړه چاپېرياله نور له هره پلوه ورته وي، مگر يوازې يو توك يې ورسره بدوالی (تقابل) جوړوي او تر دا منځ مانيز توپير راولي، نو بيا وايو چې په دغو دواړو چاپېريالو كې نوموړي دوه توكه سره بدوالي يا مخامخي (تقابل) جوړوي، يا په بله وينا ، كه دغه دواړه توكه له دواړو چاپېريالو څخه واېستل شي، پاتې چاپېريالونه سره يو راز كېږي. دغسې دوه توكه (كوشنۍ ترينه جوړه) بلل كېږي.

د اوازونو (فونيمونو) كوشنۍ ترينه جوړه، لكه : /پ/ : /ت/ په دوو چاپېريالو (وييو)، " پور " او " تور " كې . څكه دلته وينو چې له يوه يوه اواز پرته نور اوازونه سره په دواړو وييو كې يو راز دي او يوازې په همدې توپيرېږي چې په يوه كې /پ/ ده او په بل كې /ت/ .

په همدې ډول وايو چې /پ/ او /ت/ دواړه د پښتو ارزښتناك غږونه (فونيمونه) دي. په دغه جوړه كې همهال اوږد و (o) او ر (r) هم همداسې زباد مومي . دلته كېداى شي، همدغه غږونه له ټولو پښتو غږونو سره جوړې رامنځته كړي خو يوه جوړه يې اړين بنسټيز آړ (شرط) گڼل كېږي . د ساري په ډول ژ / ږ د سرغږونو په توگه ښايي له يوې جوړې پرته بله ونه لري، لكه : ژوی، ږوی (غابنی، كوتل : گواه يا شاهد) كه دا جوړه هم نه وای، نو دواړه پر يوه يوازيني ارزښتناك غږ (فونيم، اواز) شمېرل كېدل، هغه هم پر /ژ/ څكه له /ز/ او نورو ډېرو غږونو سره هم جوړې جوړولای شي او پر دې سربېره په سوېل لويديځ كې هم زياتره " ږ " د " ژ " ټل غږ دی. دا چې پښتو واولونه له الف (ā) پرته نور اوږده واولونه (ē ، i ، ō ، ū) نه لري، په همدې لاسوند چې خپلمنځي او نورې

جوړې نه شي رغولای. ټول (۳۶) واړه کره پښتو اوازونه په همدې توګه جوړې منځته راوړي او زیاد مومي.

د ګړونو کوشنۍ ترینه جوړه، لکه: پلار او مور په پلارواکۍ او مورواکۍ کې. او همداسې نور لوی لوی ژبني یوونونه (واحدونه) (اولرینبن ۷۳ او ماریوپای ۱۵۴).

۱-۲۸: کړواوونه (تمرینونه):

۱: پښتو اوازونه پر کومو سترو ډلو وېشل کېږي، په غرېزه ابېځې یې ولیکئ.
۲: پښتو ټول څو اوازونه لري او خپلواك او بېواك یې سره څنګه توپیروئ؟
۳: د خپلواکو په زبر ډول کې د ژامې دریځ څو ډوله دی، ویې نوموئ!
۴: زورکی " ə " د ژبې او شونډو له پلوه څه ډول خپلواك دی؟
۵: زور او الف (a – ā) سره د زبر له مخې څه توپیر لري؟
۶: ایا په پښتو کې د خپلواکو لنډوالی او اوږدوالی کوم فونیمیکي توپیر
پېښولای شي؟
۷: پښتو بېواك د زبر ډول له مخې پر کومو ډلو وېشل کېږي؟
۸: په معیاري پښتو کې " ږ " او " ښ " څه ډول اوازونه دي او په کندهاري او
ننګرهاري ګړدود کې یې زبر ډول او وتوځی څنګه توپیروئ؟
۹: څ، خ، ځ، ج، چ، غ، ه، ږ او ژ په بېواکغونډونو کې وښیاست!
۱۰: پښتو د خپلو بېواکو اوازونو لپاره کوم کوم وتوځي لري؟
۱۱: پښتو غبرګغږونه څنګه جوړېږي، یوه بېلګه یې ولیکئ؟
۱۲: (ب = b) په " بر " او " خوب " کې څه توپیر مومي؟

۲ - څپرکی.

پښتو ګړپوهه - صرف - *Morphology*

۲ - څپرکی

پښتو ګړپوهه - صرف - Morphology

ګړپوهه د پښتويي ګرامر هغه برخه ده چې د ګړونو (مورفيمونو ۱ - ۳۲) له رغاونې، اوړون (ګردان) او د هغو له ځېلونو (ډولونو) سره کار لري .

څانګې : ګړپوهه د ګړونو د ډولونو له مخې پر دوو څانګو وېشل کېږي : يوه د اوړېدونيو (ګردانېدونکيو) ګړونو څانګه او بله د ناوړېدونيو ګړونو څانګه . د اوړېدونيو ګړونو څانګه بيا دوې برخې رااخلي :

۱ : نوم ګړپوهه .

۲ : کړ ګړپوهه .

لومړی برخه :

نوم ګړپوهه

په نوم ګړپوهه کې د نومونو ډولونه او د هغو اوړونونه (ګردانونه) څېړل کېږي .

نوم : هغه ویی دی چې د کړ په توپیر بې له زماني اړیکي د راز راز څیزونو او ښکارندو (پدیدو) څرګندونه کوي، لکه: تیږه، لرګی، سړی، سړیتوب، ښایست، روغ، روغتیا، روغوالی، زه، ته، دی، یو، دوه ... .

د نومونو ډولونه :

نومونه پر څلورو ډلو (ګروپونو) وېشل کېږي :

۱: څیز نومونه (اسمه) .

۲: ستاینومونه (صفات) .

۳: شمېر نومونه (اعداد) .

۴: نومځري (ضمایر) .

د نوم اوړون اړخونه :

نومونه په ټولیز ډول له درو اړخونو (وجوهو) له مخې اوړون مومي، لکه : نوږی، ګڼه، پېر، خو څلورم ډول (نومځري) یې پر هغو سرېېره د یو بل اړخ (وګړي) له مخې هم ګردانېږي . په دې لړ کې یو شمېر نومونه، په تېره نرینه څیز نومونه او ستاینومونه، نه یوازې ښېلا ښېلې پایلې راخپلوي، بلکې له منځخپلواکونج Ablaut سره هم مخامخېږي .

لومړی - نوږی (جنس) : چې نوم نارینه دی، لکه ګیدړ، سور، یا ښځینه، لکه : ګیدړه، سره .

الف - د نرینه نوم نښې یا پایلې :

دا وروسته نومونه زیاتره نرینه دي :

۱- چې وروستی اواز (فونیم) یې بېواک (کنسوننټ) وي، لکه : کور، ختیځ، هلك، غټ، ویاړ، هیواد ، غورځنګ، اورمېږ، لاس، پټ، چرګ ؛ بېدوده (مستثنی) زیاتره د خپلوانو نومونه، لکه :

خور، مور، ترور، نرور، ندرور. یا هغه ښځینه نومونه چې په وینګ کې زیاتره خپل پای خپلواك غورځوي، لکه : ستن، درغن، مېچن، قالین، منګول، خپر، څنګل، لار، ورېندار، تندار، کټو، لوښت، ترخځ، ورځ، اوریځ. ډز (ډزې) او مټ (مټې) یا موټر (موټرې)، وزر (وزرې)، لښکر (لښکرې) او داسې نور ناکره یا ګرډودي بلل کېږي.

۲- له زورکي والې "ی" (əy) او زورکي وال "و" (əw) پرته هر نوم چې په غبرګغږ (دیفتونګ) پای ته رسیدلی وي، نرینه دی، لکه : لرګی، سړی، وری، اړیکی، ځای، زوی، لوی، څارندوی، پیژندوی (مشهور)، بوي، خوي، کنډو، لو، جراو، پړاو، کړاو، نیاو، لیو، تریو. اړیکنومونه هم په همدې ډله کې راځي، لکه : کابلی، ننګرهاری ...

۳- هغه نومونه چې په زورکي پای کېږي، لکه : تره، وراره، پسه، زړه، لېوه، مرغه، کارغه. بېدوده، لکه : خوله، وياله، ترله، میره، لارغه (وقفه)، بلینډه (مشعل) ...

۴- هغه نومونه چې په لنډ " و " (u) پای ته رسي، لکه : چاکو، ټټو، یابو، ډېږو، اردو (پوځ)، لاټو، ماټو، لاهو، کاهو، ماکو، پټو، پېښاوو (مقلد)، ساندو (باجه)، ساهو (ازاد)، بازو.

۵- په لنډه " ي " (i) پای کېدونکي نرینه نومونه یوازې په چار نومونو اړه لري، لکه : درزي، موچي، ټوکي، چرسي، بنډاري، پنډي، جوالي، ربابي.

۶- ځینې کوشیننومونه چې پر اوږده " و " (o) پای مومي، لکه : کاکو، لالا، بلو (بلال ؟)، جمالو، ګلو، سدو، جانو ....

ب - د ښځینه نوم پایلې :

دا وروسته نومونه زیاتره ښځینه نښې (پایلې) لري :

۱- له زورکي او لنډ (و u) پرته هغه نومونه چې په خپلواکو (واولو) پای ته رسېدلي وي، لکه : ادې، ناوې، خوږه ولې، ښادي، وروري، بیاتي، ورانې، وداني، پېه، مېه، پزه، ښځه، رڼا، برېښنا، بېديا، لوړتیا، نڅا، څلا، ورا، خندا، غلا، ملا (کمر)، شا، ویسا، پښتیانا، آریانا، پیشو، زانګو، درخو، ببو، پېلبو، شادو، بیزو او ... بېدوده یو لړ هغه نومونه راځي چې په خپلوانو، ورهنګرو او یا هم په ځېنو پورويیونو اړه لري، لکه : دادا (پلار)، ماما، کاکا، لالا، ښړا، بډا (مقابل)، بوډا، بومیا، هوسا، جلیا، ملیا، کوڼا، ړوندا، سبا، مېلمه، کوربه، غوبه، لېربه، لاربه، ساده، بوده، څره، جره.

۲- د زورکي وال و (əw) په غبرګغږ پای کېدونکي نومونه، لکه : کټو (کټوه)، بړو (بړوه)، غرور- ې (کروکوديل یا تمساخ).

۳- په زورکي والې "ی" (غبرگغږ) پای کېدونکي نومونه، لکه: ډوډی، هوسی، کبلی، تری، ښخی (ناوه)، شړی، مړی، اډی (کرد خورد)، ډی (کلک دنده)، متی، گدی، کڅی، نجلی، مخی، نتکی، شپېلی ... .

دویم - د گڼې (عدد) نښې:

الف - د نرینه گڼې (جمعې) نښې یا پایلې په دا وروسته ډول دي:

۱- ان: زیاتره هغه نارینه نومونه ډېرگړي (جمع) کوي چې بېواکپاتی او سا والا وي، لکه: پړانگان، هلکان، مچان، کبان، چنگاښان. ځېنې خپلواك پای نرینه نومونه، لکه: لېوان، ټټوان، اسان (اسونه)، پسان (پسونه). بېدوده، لکه وړیان چې یوگړی (وړی) یې ډېر لږ دود لري، خو لښتیان، شونډان ... له کره پښتو سره هېڅ اړخ نه لگوي. د (لړمانان، امراگان یا امراگانان) غوندې د ډېرگړي هسې د ډېرښت یا سپکاوي لپاره راځي او معیاري ارزښت لري. موټرې، هوټلې، لښکرې ... هم همداسې دړواخله.

۲- ونه: زیاتره بېواکه بې سا نرینه نومونه ډېرگړي کوي، لکه: سیندونه، ډنډونه، منېزونه، کتابونه، لاسونه، نسونه، سرونه، پلونه، وزرونه، پلوونه، خوړونه، تویونه، ځایونه، پړاوونه، تیونه (تي) خوربیونه، وییونه (ویي).

ځېنې خپلواکپای نرینه نومونه، لکه: ترونه، وربرونه، زړونه. ځېنې سا والا بېواکپای نرینه نومونه، لکه: پلرونه د پلاران یا اسونه د اسان، پسونه د پسان ترڅنگه.

۳- له منځ خپلواکونج سره، لکه د ټوپك او دښمن زورونه پر زورکیو اوښتل.

۴- منځ خپلواکونج (Ablaut) + زورکی (ə): دا ډېرگړی ډول هغه نرینه نومونه رانغاړي چې په یوگړي بڼه کې یې (و، ی) راغلي وي او د ډېرگړي کېدو لپاره یې دغه منځ خپلواك پر (زور) یا (الف) اوړي او همزمان ورسره زورکي - پایله هم ملگري کېږي، لکه: پښتون - پښتانه، وروڼ - ورڼونه، لمونځ - لمنځونه، زیږ - زږه (زاړه)، تریو - تروه (تراوه)، تریخ - ترخه (تراخه)، مغز - ماغزه، لور - لرونه یا a پر ā، لکه وزر - وازره.

۵- زورکی (ə): ځېنې یو څپیز او دوه څپیز نرینه چې له دوو او درو بېواکو او یو یا دوو منځ خپلواکو څخه رغېدلې وي، ډېرگړي کوي، لکه: خره، غله، دښمنه، مله، مره.

۶- لنډه "ي" (i): هغه نومونه ډېرگړي کوي چې پر نرمه یا زوروالې "ی" (ay) پای وي، لکه: لرگي، سړي، خلمي، لښتي، غویي، ویي، توکي، پیاوړي، ژوي، گوي (ږوي = غابښي)، روي،

ږوي (شاهد)، کوي (چیچك). د دې وروستاړي په همچاري "ان" او "ونه" هم لړو ډېر راځي. لکه
څلمیان، غویان، تیونه، ویبونه، خوربیونه.

۷- یان : د "ان" بلګړ دی او ځینې غبرګغږپای او خپلواکپای نرینه نومونه ډېرګړي کوي. لکه
ملایان، میرزایان، اشنایان، کالخوایان، بډایان، خدایان.

۸- ګان : چې د " ان " همچاری " بلګړ " دی او ځینې خپلواکپای نرینه نومونه ډېرګړي کوي، لکه
سنډاګان، لاټوګان، کدوګان، ټټوګان، ماماګان، کاکاګان، لالاګان، ببراګان، بډاګان، بوډاګان،
ډیپوګان ... د امراګان یا امراګانان غوندې بیا ځلې ډېرګړې بڼې، لکه له مخه چې وویل شول. د
ډېرښت یا سپکاوي لپاره راځي او معیاري ارزښت نه لري.

۹- یو شمېر نرینه نوړنومونه چې یوګړی نه لري او تل ډېرګړي کارول کېږي. هم په دې لیکه کې
راځي، لکه : غنم، جوار، زر، درمل، تېل، نانځړه، غوړ، غوړي، چرس، بنګ، ویتامین،
واکسین، انتي بايوتيك ...

۱۰- " ي " (i) پای - (چار -) نومونه په (آن) ډېرګړي کېږي، لکه : دوزخیان، موچیان، دوبیان،
ټوپکیان، چرسیان ...

۱۱- له ښځینه نوړي سره ګډ ستاینومونه، لکه : زور - پای : بېچاره، بې موره، بېوزله، بېکوره،
ښایسته، ډاډه (مطمین)، ډاډه (ستي)، څړه، جره، ساده، بوله، بوده. یا الف - پای : الونیا، لګیا،
هوسا، جلیا ... یا لرغوني نومونه : آریا، یما، کنیشکا، اهورا، مزدا، بودا ....

ب - د ښځینه ګڼې (جمع) نښې :

۱- اوږده (ې) : هغه ښځینه نومونه جمع کوي چې په "زور" یا لږو ډېر "زورکي" پای ته رسي، لکه
منې، پزې، خولې، ویالې، وړانګې، څانګې، سانګې (نبزې)، پانګې، ډبوې، شونډې، سکروټې،
پلې، ټوکې ټکالې، ملې، غلې، خرې او ....

۲- زورکي واله " ۍ " (əy) : هغه ښځینه نومونه ډېرګړي کوي، چې په لنډه (ي) پای ته رسیدلي
وي، لکه: ودانۍ، خپلوۍ، ښادۍ، ناروغۍ، خوښۍ، نیکمرغۍ.

۳- وې " we " : هغه ښځینه نومونه ډېرګړي کوي چې په "الف" یا اوږده "و" پای ته رسي، لکه
ژراوې، خنداوې، ملاوې، نڅاوې، زانګووې، پېلبووې، ښکالووې، پېرزووې.

بل ناکره انډول یې "ګاني" هم راځي، لکه: شاګانې، نڅاګانې، برېښناګانې، زانګوګانې، بېزوګانې، تندارګانې، ورندارګانې، ندرورګانې .... کره بڼې تېنداري، ورېنداري او ندرندي يا ندروریاني راځي.

۴- آني : زیاتره هغه ښځینه نومونه ډېرګړي کوي چې پای ته یې لنډه "ي" راغلې وي، لکه: بېبیانې، شادیانې او د یوې بلې پایلې د انډول په توګه، لکه: دوبیانې، مزدورانې، ترورانې (ترینديې)، مورانې (میندي) ... چې دومره کره نه برېښي.

۵- یندي : هماغه ښواکپای خپلوان نومونه ډېرګړي کوي چې ورسره لنډون مومي، لکه : میندې، خوینديې، تریندي، ندریندي، نږیندي.

۶- نشت یا صفر دا مانا چې په زورکي واله (ی) پای نومونه بې له کومې جولېزې پایلې د ډېرګړي په توګه هم راځي، لکه: کرکی، بجلی، ډوډی، څپلی، ټټری (واسکټ) . بلګړ یې "- یانې" هم یو څه دود لري، خو کره نه ګڼل کېږي، لکه: کرکیانې، بجلیانې، کوچیانې، موچیانې، کبلیانې، کوشنیانې (کوچنیانې)، کچنیانې، جنکیانې، ترورياني (تروری)، ډوډیانې، څپلیانې، ناروغیانې ....
بېدوده (مستثنی)، لکه : نجونې او نجونه، لوڼې او یوڼې.

۷- یو لړ نور نه شمېرېدونکي نوږ نومونه هم ښځینه ډېرګړي دي، لکه : اوربشې، متیازې، اوبه، شنې، نکریزې.

یادښت :

۱- په پښتو کې ټول خپل او پردي ټبرنومونه ډېرګړي کارول کېږي. لکه : سهاك، غرغښت، سړبن، مومند، کورد، بلوڅ، تاجیك، هزاره، اوزبك، قرغز، عرب، یهود، اسرائیل، باسك، ساکان ... چې د یوګړي لپاره هم په همدا یوه بڼه کارول کېږي. یوازې یوګړی - پای هغه د یوه او ډېرو توپیر کوي، لکه : بېټنی - بېټني، شینواری- شینواري ... پښتون - پښتانه یا ګدون - ګدانه خو له آره دا توپیر لرلی دی.

۲- ټول ژبنومونه په دې ښځینه راځي چې په ښځینه پایلو (- و، - ي) پای ته رسي.

۳- ډېرګړي یا دوګړي پورويیونه، لکه: عربي معلومات، اخلاق، بين النهرين ... په پښتو کې ډېر ګړي بلل کېږي.

دريم - پېر يا حالت (*Case*) : چې نوم پخپل چاپېريال (غونډ يا غونډله) کې څه حالت لري، لکه پلوشې ډوډۍ وخوړه، د پلوشې ورور ناروغ دی، له يوه لاسه ټك نه خېژي . دلته ګورو چې (پلوشه - يو - لاس) څنګه خپل حالتونه او بڼې بدلوي . نومپېر له آره يَوه غونډله پوهيزه (نحوي) سکالو ګڼل کېږي .

د پېر نښې هماغه پايلې يا وروستاړي دي چې د نوم په پای پورې نښلي . له لومړنيو ياد شويو آرو يا رښتينو درو - پېرونو پرته نور پنځه پېرونه څکه په غبرګو لنديو کې نيول شوي چې آر يا رښتيني پېرونه نه، بلکې اړوندو پېرونو ته ورته بدلونونه، يا ناسيده دي چې د سربلونو او اوستربلو په ملتيا په نومونو کې رامنځته کېږي .

۱ - له کړند پېر (*Nominative*) سره له يو لړ شمېر ناوړيدونو يوګړونومونو پرته نور ټول نوم ډولونه بېلا بېلې اوښتې بڼې راخپلوي . کړند پېر (فاعلي حالت) په هغه کړند. (فاعل) اړه لري چې د تېر مهال لېږند يا کړي يا "حکمی متعدی" کړ ترسره کوونکی وي، لکه : يوه سړي يوه ښځه وليده يا يوې ښځې يو سړی وليد . دلته (يوه – سړي) او (يوې ښځې) کړند پېر لري .

۲ - بلنپېر يا ندائيه حالت (*Vocative*) په هغه نوم اړه لري او بدلون ورکوي چې غږ ورته کېږي او په يوګړي (مفرد) ډول اوړيدونی وي، لکه : (يه) هلکه ! يه پښتنانه ! يه تربوره يا تربره ! يه مېرمنې ! يه سړيه ! يه څارندويه ! يه نيکمرغې ! يه پښتنو ! يه مېرمنو ! .

په پښتو کې له لرغونو انګونو هندو اروپايي نومپېرونو څخه کړند پېر (فاعلي حالت Nominative) او بلنپېر (ندائيه حالت Vocative) لړو ډېر او لنډ کړی (Accusative) خورا لږ ژوندي راپاتې دي چې آر يا رښتيني اوښتي پېرونه (Oblique Cases) بلل کېږي . پاتې نورو يې خپل چارونه، سربلونو او اوستربلونو ته پرې ايښي دي . په پښتو کې د يوه نوم د لنډ کړي (Accusative) نومپېر څرك يوازې په وسمهالکړ کې له "ما" او "تا" څخه لګېږي، لکه : ته (ما) څارې، زه (تا) څارم .

۳ - لر کړی پېر يا باواسطه مفعولي حالت : لکه زمرك زمري ته ليکانی (قلم) ورکړ، غرزي ماته روسي ژبه رازده کړه، سنك ببري ته خبره وکړه . په دې غونډلو کې " زمري " " ما " او " ببري " درېواړه نومه لر کړي پېر ورته اوښتی پېر لري .

۴ - " لوښن پېر يا الي حالت " : دا مانا چې يو نوم د يوه کړن وسيله شي، لکه بياتي، ليکانی او کاشوغه په دې غونډلو کې : توريالی په بياتي ژوبل شو، بريالی په ليکاني ليك

وکښئ، گلخانه په کاشوغه ډوډۍ خوري . په دې ډول "په" سربل دغه اوښتون رامنځته کوي . که له "په" سره "سره" اوستربل مل شي، بيا نو "کاشوغه" او ډاسې زور - پای ښځينه دغه پايله پر "- ې" اړوي . او يا هم که "له - سره" جوړه دغه اوښتني (انسترومنتال) پازه پرغاړه واخلي .

۵ - " تولپېر يا اضافي حالت " : هغه نوم چې يو څه ورپورې اړه ولري، تولنوم (مضاف اليه) ګڼل کېږي او تولپېر (اضافي) پېر (حالت) لري، لکه : د ويالې اوبه ښې دي، د زمري کور ښکلی دی، د اوريځې څادر راخپور شو . دلته (ويالې، زمري او اوريځې) تولنومونه دي، يا په بله وينا، د تولي سربل " د " او د (د کره - لپاره) تراغېز لاندې دغه درېواړه نومونه له بدلون سره مخ شوي دي .

۶ - " وتون پېر، يا منشايي يا مفعول منه حالت " : دا مانا چې يو نوم د کار پيليځ (منشه) ګرځېدلی وي، لکه له کندهاره راغلم، له ښو ښه زېږي - له بدو وابښه زېږي . دلته (کندهاره - ښو او بدو) وتون پېر لري .

۷ - " تون پېر يا ظرفي يا مکاني او زماني حالت " : همدارنګه مفعول اليه يا استقامتي او معيتي حالت، هغه نوم چې د يوه کار ظرف وګرځي او يا پرې يو کار اړه پېدا کړي تولنوم بلل کېږي او په دې توګه بدلون مومي . دغه بدلون د (په – کې)، (پر - باندې)، (پر - سربېره)، (تر - لاندې)، (تر - پورې)، (سر - ته) زېږنده ده، لکه : په کوهي کې، پر غره باندې، پر ګټ سربېره، تر زني لاندې، تر غرمې پورې، تر مازيګره، تر کابله، په تياري پسې رڼا ده . . .

يادښت : که يو نوم په کوم پورتني پېر کې خپلې ښې ته بدلون ورکړی وي، اوښتی نوم بلل کېږي، يا په بله وينا، هغه نوم اوښتی پېر (مغبره حالت) لري او که اوښتنه يې نه وي موندلې نو آر نوم ورته وايي او حالت يې آر پېر (اصلي حالت) بلل کېږي :
۱- د نوم پېر (اسمی حالت) څېښې نښې يا پايلې له ګڼې (جمع) هغو سره سمون لري، لکه: ځلمی، د ځلمي - پلوشه - د پلوشې، شپون - د شپانه، غل - د غله....

۲- ډېرګړي (جمع) نومونه بيا په يو مخيز ډول اوښتی پېر په (و) ښيې، لکه : د ښځو، سړيو، هلکانو، خويندو، برېښناګانو . . . .

په دې توګه په "ان" ګان، ي، وې، ونه، انې، ګانې، يندې او د دوې په نورو همپازو روستاړو جمع کېدونکي نرينه او ښځينه نومونه له "تون پېر"، "وتون پير" او "بلن پېر" او څه ناڅه تونپېر (مفعول له) پرته نوره اوښتنه نه لري . البته په "وتون" او "بلن پېر" کې بېواکپای نومونه خپل پای په "زورونو" يا (فتحو) او "زېرونو" روستاړي کوي، لکه : يه هلکه ! يه مورې !، له " هلکه " له "موره"، تر موره، تر کوره .

۶ - " وتون پېر، یا منشایي یا مفعول منه حالت " : دا مانا چې یو نوم د کار پیلیځ (منشه) گرځېدلی وي، لکه له کندهاره راغلم، له ښو ښه زېږي - له بدو وابنه زېږي . دلته (کندهاره - ښو او بدو) وتون پېر لري .

۷ - " تون پېر یا ظرفي یا مکاني او زماني حالت " : همدارنگه مفعول الیه یا استقامتي او معیتي حالت، هغه نوم چې د یوه کار ظرف وگرځي او یا پرې یو کار اړه پېدا کړي تولنوم بلل کېږي او په دې توگه بدلون مومي . دغه بدلون د (په – کې)، (پر - باندې)، (پر - سرېېره)، (تر - لاندې)، (تر - پورې)، (سر - ته) زېږنده ده، لکه : په کوهي کې، پر غره باندې، پر گټ سرېېره، تر زنې لاندې، تر غرمې پورې، تر مازیگره، تر کابله، په تیارې پسې رڼا ده . . .

یادښت : که یو نوم په کوم پورتني پېر کې خپلې بڼې ته بدلون ورکړی وي، اوښتی نوم بلل کېږي، یا په بله وینا ، هغه نوم اوښتی پېر (مغېره حالت) لري او که اوښتنه یې نه وي موندلې نو آر نوم ورته وایي او حالت یې آر پېر (اصلي حالت) بلل کېږي :

۱- د نوم پېر (اسمی حالت) ځینې نښې یا پایلې له گڼې (جمع) هغو سره سمون لري، لکه: ځلمی، د ځلمي - پلوشه - د پلوشې، شپون - د شپانه، غل - د غله....

۲- ډېرگړي (جمع) نومونه بیا په یو مخیز ډول اوښتی پېر په (و) ښیې، لکه : د ښځو، سړیو، هلکانو، خویندو، برېښناگانو . . . .

په دې توگه په "ان" گان، ي، وې، ونه، انې، گانې، ینډې او د دوې په نورو همپازو روستاړو جمع کېدونکي نرینه او ښځینه نومونه له "تون پېر"، "وتون پیر" او "بلن پېر" او څه ناڅه تونپېر (مفعول له) پرته نوره اوښتنه نه لري . البته په "وتون" او "بلن پېر" کې ببواکپای نومونه خپل پای په "زورونو" یا (فتحو) او "زېرونو" روستاړي کوي، لکه : یه هلکه ! یه مورې !، له " هلکه " له "موره"، تر موره، تر کوره .

· لکه څنگه چې پاس ولېدل شول او وروسته د سربلو - اوستربلو په برخه کې هم څرگندتیا مومي، بشپړ ډېرى سربلونه او اوستربلونه له یو لږ کم - اوښتوني نومونو پرته نور هر راز نومونه (ځیز نومونه، ستاینومونه، نومځري او شمېر نومونه) اړوي، لکه په دې فارمول کې :

زه، ته، دی، دا ، څوك، سړی، ښځه، خپلوي، پښتون، هلکان (او بل هر ډېر گړی) . . . + سربلونه او اوستربلونه او همدا راز بلنپېر تېر لېږند یا غبرگون کړند پېر او برخیز (وسمهال کړی پېر " ما "، " تا ") = ما، تا (د وسمهال کړي پېر یا مفعولیت په گډون)، ده، دې، چا، سړي، ښځې، خپلوی، پښتنو، هلکانو (او بل هر ډېر گړی) له (- و) پایلې سره .

کم - اوښتي نومونه :

ځېني داسې نومونه شته چې په یوګړي بڼه په پېړونو کې کوم جولیز اوښتون (تغییر) نه مومي، بلکې ځېنې یوازې په وتون پېر او بلنپېر او یو څه تون پېر کې اوښتون مومي، او هغه دا دي :

۱ - الف – پاینومونه : لکه : کاکا، ملا، دادا، پښتیانا، اریانا، پکتیا، سبا، یما، کنېشکا، لوړتیا او ... چې په اتو واړو پېړونو کې اوښتون نه مومي .

۲ - و – پای نومونه : (لنډ یا اوږد)، لکه : زانګو، بیزو، درخو، ټټو، پېرزو .

۳ - ی - پای نومونه : لکه : نجلۍ، لېونۍ، ځوکۍ، سپوږمۍ .

۴ - زورکی پای نرینه نومونه : لکه : نیکه، تره، زړه، وراره، مرغه، واده ....

۵ - ځېني زورپای (ستای -) نومونه : چې هم ښځینه کارېږي او هم نرینه او څه ناڅه له پارسی سره ګډون لري، لکه : ډاډه، ډاده (بریان)، ښایسته، ساده، پیاده، شهزاده، مېلمه، کوربه، غوبه، بوده ... . دلته یوازې ځېنې نرینه انډول ښځینه نومونه بدلون مومي، لکه : شهزادګۍ، مېلمنې، کوربنې، غوبنې .

۶ - زیاتره بېواکپای ښځینه نومونه، لکه : یه مورې ! یه تروري ! یه خورې ! یا : له موره، له توره ....

۷ - وُی - غبرګغږ پای نومونه، لکه : یه زویه ! یه پوهندویه ! یه ساتندویه ! لویه ! بویه !، خویه ! یا : له زویه، له پوهندویه ....

۸ - ټول زور - پای یوګړي ښځینه نومونه د " په " او " په - کې " په ملتیا ناوړېدوني پاتې کېږي، لکه : په چاړه یا په چړه، په کوټه کې، او داسې نور .

د زیاتې څرګندتیا لپاره دا وروسته لښتیلیکونه پامور دي :

د نرینه ځیزنومونو اوړوني (تصریفي) لښتیلیك

په دې لښتیلیك کې (~) دا مانًا لري چې په اړوند ځای کې نوم په هماغه لومړي، تېره اوښتې بڼه پاتې کېږي . (a - , ~) په دې موخه کښل کېږي چې - a اوښتوني ځېل دومره کره نه دی او سپين پاتې ځای هم د اړوند نوم ، نه بدلون ، یا په بله وینا ، د پایلې نښتوالی راښیي :

نرینه پایلي	آرپېر (یوګړی) direct sg.	(رښتینی) اوښتی پېر oblique case			سربلي – اوستربلي (اوښتی) پېر pre – postpositional case				آر پېر ډېرګړی dir. pl.	اوښتی ډېرګړی obl. pl.
		کړند (تېر لېږند کړ) پېر nominative	لرکړی پېر (باواسطه مفعول حالت) dative	بلن (ندايي) پېر vocative	تولي (اضافي) پېر possessive	تون (ظرفي) پېر locative	وتون (مفعول منه) پېر ablative	لوښن (الي) پېر instrumentative		
			(و) – ته (له، لره)		د - . کره، لپاره . . .	له - سره په - پسې، پورې، کې تر- پورې، لاندې	پر – باندې له – څخه، راهیسې	په – سره له - سره		
بیواکپای له منځخپلواك ونج (Ablaut) او زورکي پایلي سره	plar پلار pǝ̌xtún پښتون پټون lmunj لمونځ lor لور xog خوږ daxmán دښمن topák ټوپك	~ - (pǝ̌xt-) āná - (pāt-) ānǝ́ - (lmānj-) ǝ́ - (lār-) ǝ́ - (xwāg-) ǝ́	~ ~ ~ ~ ~	- a ~ ~ ~ ~ ~ - a - a		(تر ...) a ، ~ ~ ~ ~ ~ - a - a	a ~ ~ ~ ~ ~ ~ - a - a	~ ~ ~ ~ ~ ~ ~ ~	-(plar-) úna -ān ~ -(patan-) úna -(imanj-) úna -(lar-) úna ~ daxmǝ́n topǝk	-(plar-) úno * -āno -(pǝ̌xt-) anó -(patan-) úno ** -(lmanj-) úno -(lar-) úno -(xwag-) ó -(dáxmǝn-) o -(topǝ́k-) o

u- لنډ (و) پای	کدو kadú نو nu ټټو ṭaṭú لډو laḍú لاټو lāṭú جادو بانړو bāṇú ساندو sānḍú برمانو بیدوده : ساهو، چمتو. جرگتو ...								(kadw-) ān - gān (tatw-) ān - gān - gān - gān	-(kadw-) āno - gāno -(tatw-) āno - gāno - gāno - gāno بېدوده: جارو، پارو، گوگوشتو. "بانړه" خپل يې تش اوښتی د برگري "بنو" لري
ə- زورکي پای	تره راغه زره لېوه واده وراره								-(tr) úna -(raɣ-) ~ -(zr-) ~ -(lew-) ān -(wad-) úna -(wrer-)úna	-(tr-)úno -(raɣ-) ~ -(zr-) ~ -(lew-) āno -(wad-) úno -(wrer-)úno

- o, -yā́no -(mray-) ó ā́no - ó - ó, - úno -(pə́ly-) o -eo	- i -yā́n ~ ~ ~ ~ - i, -úna ~	~ a ~ a ~ a ~ a ~ a	~ ~ ~ ~ ~ ~	~, - a ~, - a ~, - a ~, - a ~, - a	~, -a (تر...) ~ ~ ~, -a (تر...) ~, -a (تر...) ~, -a (تر...)	~ ~ ~ ~ ~ ~	~ ~ ~ ~ ~ ~	-(sar-) i -(mray-) ï -(laxt-) i -(way-) i - i - i	سری مریی لښتی ویی پلی لیکونکی	یای ی - ay
-(darz-) yā́no -(ṭok-) yā́no -(čars-) yā́no	-(darz-) yān -(ṭok-) yā́n -(čars-) yā́n	- a ~ ~	~, - a ~ ~	~, - a ~ ~	~, - a (تر...) ~ ~				darzí درزي ṭokí توکي čarsí چرسي	اِ-ي — یای چارنومونه (nomen agents)
- gā́no - yā́no - wo *** ←	- gā́n - yā́n								ماما، کاکا، لالا، دادا، سندا، بودا، بدا، بیرا ... بومیا، ملیا، گدا، اشنا، میرزا، ملا ... الونیا، هوسا، جلیا ... لگیا	الف — یای (د خپلوانو نومونه یا پوروړونه)

- anó #	- ānə́								غویه، گډبه، لېربه، وزبه، خسبه، مېلمه، کوربه، اسبه، اوربه، ختبه، خربه، کډبه، لاربه، لرگبه، بوتبه، اوښبه، ستنبه، رگبه...	a - پای چارنومونه (nomen agents)
- úno ##	- úna	- a		- a	- a				بوی، خوی ...	پای - uy
- o, úno - ā́no ###	- úna - āna	- a - a		- a - a	- a - a				توی، لوی، وربوی، دوی (قانون)، خارندوی پوهندوی گرخندوی ...	- وی پای - yo -
- úno, o ~ - ā́n, - o ←	- úna ~ - ān	- a ~		- a ~	- a ~				خای، چای، گای، دای، بدای، کالخوای، خدای ...	- ی پای - ay -

اوپای - aw -	کړاو، جړاو، پړاو، نیاو ... لو، کنډو، پلو ... لیو، دهو ...				- a ~ ~ ~	- a ~ ~ ~		- a ~ ~ ~	- úna ~ ~ ~ - ắn	- úno, - o ~ ~ ~ - ắno

* نور ورته گردانېدونکي الف منځي نرینه ، لکه : کال - کلونه - کلونو / خروار - خرورونه - خرورونو .

** نوېزونه : پوهنتون ، پاخون ، روغتون ... بې خپلواکونجه گردانېږي .

*** لرغوني نومونه (اریا ، یما ، کنېشکا ...) . شېرا ، غونجا ، لېنډا ، کوړا ، روندا هم په همدې لیکه کې راځي .

شهزاده ، خره ، جره ، ساده ، بوده ، شوده ، خوځنده (خزنده) ، پوونده ... له (ډېرگړي - گان ، -گانو سره) هم همداسې دړواخله .

په کندهارۍ گړدودي ډله کې زوی ، سوی هم د نورو ډلو د oy- په وړاندې په uy- ویل کېږي .

بېدوده : زوی - زامن چې ناکره زویان هم ویل کېږي .

د ښځینه څیزنومونو اوړوني (ګرداني) لښتیلیك

بښځینه پایلي	یو ګړی آر پېر (اصلي حالت) direct case	(لرغونی) اوښتی پېر (مغېره حالت) obl. case			سربلي – اوستربلي اوښتی پېر pre-postposition case				دېر ګړی آر پېر (اصلي حالت) dir. pl.	اوښتی پېر (مغیره حالت) obl. case
		کړند (تېر لېږند کړي پېر nominative	بلنپېر (ندائیه حالت vocative	لر کړی (باواسطه مفعول پېر (dative)	تولپېر (اضافي حالت) (possessive)	تونپېر (ظرفي حالت) (locative)	وتونپېر (مفعول منه) (ablative)	لوښنپېر (الي) (instrum.)		
			(آ، یه) - !	(و) – ته (له سره)	د - . ، کره لپاره ...	په، پسې، پورې، کې تر - پورې، لاندې پر - باندې	له - څخه ، له هسې	په - ... په - ، سره له - سره		
a - زور- بای	پزه ، páza منه maṇá	- e	- e	- e	- e	- e, - ... (کې)	- e	- e, - ... (په)	- e	- o
a - الف - بای	ملا ، mlā غوا Ɣwā								- we *	- wo ◀

o - اروږد (و) — ياى	bizó بيزو pišó پيشو perzó پېرزو								- gā̂ne - gā́ne - we **	- gā̂no - gā́no - wo
əy - ی — ياى	ḍodəy ډوډی naṛə́y نړی marγə́y مرغی šəṛə́y شړی guḍə́y ګوډی kablə́y کبلی								*** ~ -(kabl-) yāne	- o - yā́no
i - ي — ياى	byātí بياتي bibí بي بي čelamčí چلمچي wadāní وداني وروري، بنادي، خوبني ...	- ə́y	- əy	- əy	- əy	- əy	- əy	- əy	-(byāt-) yāne -(bib-) yāne - əy	- yā́no - yāno - əyo
e - ې — ياى	adé ادې nā́we ناوې خوره ولې xwaǧa-wə́le ليکونکې ... likúnke								- gā́ne - āne ~ ~ #	- gā́no - āno - o -(likúnk-) o ←

-(m-) yándo	-(m-) yánde		- a	- a (تر- ...)			- e		مور	۲-ر – پای خپلواک نومونه
-(xw-) yándo	-(xw-) yánde		- a	- a (تر- ...)			- e		خور	
-(tr-) yándo	-(tr-) yánde		- a	- a (تر- ...)			- e		ترور	
-(ng-) yándo	-(ng-) yánde		- a	- a (تر- ...)			- e		نږور	
-(ndr-) yándo	-(ndr-) yánde		- a	- a (تر- ...)			- e		نندرور	

۱ – یو گڼ شمېر ښځینه نومونه چې ډېر لږ یې د a - پایلې خرك لگي او په ډېرو گردودو کې پر ترلې خپه، یا په بله وینا، ببواك (کنسوننټ) پای ته رسي، خو بیا هم د a - پای نومونو غوندې اوړون مومي، لکه: لمن ، ستن ، برستن ، مېچن ، نغن ، درغن ، کوژدن ، بن ، مېرمن ، قالین ، چین ، (خو ورته "ښون" بیا نرینه دی) څنگل ، منگول ، کمبل ، کمپل ، خېږ ، اوربخ ، ورخ ، ږمنځ ، ترخځ ، زنځیر ، تبخ ، ترښځ یا تبنځ ، کلیز ، گومبز ، لېچ ، نجل ، مټ ، ډز ، کټو ، برو ، لوېشت ، میاشت ، ورندار ، تندار ، لار ، کندړ ، وندر ، غابنور ، بکر ، کنگر ، کچر . د " ډز " ترخنگه ډزه هم ښایي د همداسې پرمختیایي بهیر زېږنده وي .

۲ – دا چې په ټوله ژبه کې "لور" او "یور" په ډېرگړي کې پر "لوڼې" او "یوڼې" اوړي، ښایي، په منځنۍ پښتو، یا د اوسنۍ پښتو په لومړیو کې به د "لوړې" او "یوړې" په بڼه ډېرگړې کېدې او د پېړیو په پوړیو کې به ړومبی - ر - پر - ړ - اوښتې وي او بیا - ړ - پر - ڼ - باندې چې وروسته - ورونه یې تازه بېلگه کېدای شي ، مگر دا چې په نورو ورته - ر - پای خپلوانو نومونو (مور، خور، ترور، نږور او ندرور) کې هماغه - ر - پر " - ندی " یا (- یندې) اوښتې ، یا په بله وینا ، پر دغه راز پایلې اړول شوې ده ، ښایي دَ یوه بل اوږده مهالپېر بهیره اوسي !

۳ – دا چې د نجلۍ یا نجل ډېرگړی نجونې کره منل شوی ، ښایي آره یې نجن ولې اوسې چې وروسته پر نجل اوښتې او بیا ورپورې ښځینه پایله – ی نښلول شوې ده !

* گاني ناکره ډېرگړی گڼل کېږي. گنا ، سا ، پنا ، که یې (ه) وویل شي ، ښځینه بلل کېږي ، که نه نرینه .

** گاني له داسې یې سا نومونو سره کره نه برېښي .

*** په " – یاني " کره نه بلل کېږي .

له یې – سره رغېدلې a - یا ه – پای ستاینومونه د دواړو نوږیو لپاره راځي ، لکه : بې ژبې ، بې خولې ، بېځواکه ، بې سبکه ، بې جوړې، موسیقي او سترې مشي زیاتره ښځینه کارول کېږي .

یادښت: ډېرگړي نرینه او ښځینه نوږ نومونه د ناشمېر ورو ډېرگړو هغو غوندې په ټولو پېرونو کې ، سیده یا د خپلواکونج په ملتیا " o - و " پایله راخپلوي ، لکه : زر ، تېل ، غنم ، غوښت ، ږدن ، اوړه ، وربړه ، غوړي ... یا وریجې ، اوربشې ، شودې ، مستې .

د ستاينومونو اوړوني (تصريفي) لښتيليك

په پښتو کې ستاينومونه (صفتونه) د څيزنومونو غوندې د نوري، ګڼې او پېر له مخې اوړون (ګردان) مومي، مانا دا چې له ور ته رغاونو سره ورته خپلواکونج (واولي بدلون) يا پايلې او يا دواړه ډوله بدلونونه راخپلوي، لکه په لښتيليک کې:

پېرونه (حالتونه) Cases	آرپېر (اصلي حالت) direct sg.	لرغوني يا رښتيني نوموال اوښتي پېرونه			دويمني يا سربلي — اوسترېلي اوښتي پېرونه Secondary or pre-postpositional obl.			ډېرګړی آر پېر dir. pl.	اوښتی پېر obl. pl.
پايلې Endings		کړند پېر فاعلي حالت Nominative	کړی پېر	بلنپېر ندائيه حالت Vocative	په — کې په - ...	له — سره له - ... (څخه) بې - ...	په — پورې، پسې، سره د - ... ... - ته ترپايه		
بېواکپای له منځخپلواک ونج Ablaut او زورکی - ə پايلې سره	خپور، سپور، ووړ، موړ، سوړ، پوست، وروست، روڼ، کوڼ، روند، کوږ، پوخ، لوند، دروند، پروت، ترسکون، خوږب،	خپاره ...		~	~	~		~	خپرو ...
	خوږ تود	خواږه ... تاوده		~	~	~		~	خوږو ...
	تريخ تريو زيږ شين سور	ترخه (تراخه) تروه (تراوه) زږه (زاږه) شنه سره		~	~	~		~	ترخو ...
	پړ اوم مل پل (حلال، روا)	ə -		~	~	~		~	پړو ...

←

بیواکپای ستاینومونه له یوګړي اوبنتي پایلي a- او له ډېرګړي اوبنتي پایلي o- سره	تور، زېړ، زرغوڼ، برګ، سپین، روغ، روښان، وران، ودان، زړور، ترور، خرګند، حوت، ټینګ، ملك، ځلاند، لالهاند، ځولند			- a		- a		-و (-O)
	بل، غټ، لوړ، پېړ، پنډ، ټیټ، مالګین، وریت، ژوبل، بل، مل، ویښ، ډنګر، سوب، جړ، خړ، غوڅ، پخ							
-a پای یا -e پای له یوازي ډېرګړي اوبنتي پایلي o- سره	تېره، بې زړه، سپېره، ویده، خیري							و – (teró) – و (ciró) -
پای - ay	نری، ملګری، ګرندی، بېدیانی، غبنتلی، ښکلی، پخوانی، اوسنی، لرغونی، پرونی، نننی	- ۍ		- iya (-aya)	- i	- i	- i	-یو (-əyo)
پای - oy	لوی، پېژندوی، ګټندوی، ساتندوی، خرګندوی			- a		-a (له، بې)		-و (-o)
کم اوروني (-) a- پای له یوازي ډېر ګړي اوبنتي پېر سره	پوخلا، هوسا، جلیا، ساده، بوله، تکړه، ساهو، چمتو، ښایسته، نرینه، ښځینه، ښکاره، بدورده							-وو (-wo) ▲

ي - پای چارنومیز ډوله	چړچه يي، ډانګه يي، نامي جوړه يي، غرغره يي، سرسري، سراسري، ښېدیايي، سارايي، مېله يي، میداني، دېوالي ...							o - و

د ښځینه ستاینومونو اوړون بیا یو څه اسان او پر دود برابر دی . لومړی یې هغه زیاترینه برخه چې له منځخپلواکونج او a- پایلې سره له پورتنیو نرینه ستاینومونو جوړېږي، نور نو یې د یوه یوګړي اوښتي پېر او آر ډېرګړي لپاره هماغه پر e- اوړي او د ډېرګړي اوښتي بڼې لپاره یې هم د هماغې ډېرګړې بڼې - e پر اوړېده (و - o) بدلون مومي، لکه په دې پرله پسې ډول :
خپره - خپرې - خپرو / خوږه - خوږې - خوږو / ترخه - ترخې - ترخو / پړه - پړې - پړو / توره - تورې - تورو / تېره (ə-) - تېرې - تېرو / ځیرې - ځیرو / نرۍ - نریو / ملګرې - ملګرو / ګړندۍ - ګړندیو / لویه - لویې - لویو / پوخلا - پوخلاوو / تکړه - تکړه وو/ چړچه یي - چړچه ییانې - چړچه ییانو / میدانۍ - میدانیانې - میدانیانو / یا ځانګړې ښځینه ستاینومونه، لکه : بي بي - بي بیانې - بي بیانو / لولۍ - لولیانې - لولیانو ...

د نومونو څلورګوني ډلې

لومړی - څیز نوم (اسم)

څیزنوم چې دودیز ژبپوهان یې اسم بولي، یو داسې نوم دی چې نېغ پرنېغه د یوه څیز یا ښکارندې (پدیدې) نومونه (نامګذاري) او څرګندونه کوي او دا وروسته ډولونه لري :

۱ - پژ نوم (اسم ذات) : په یو ننګېرېدونکي (حس کېدونکي) څیز اړه لري . یا په بله، وینا داسې یو څیز نوموي چې زموږ په حواسو حس کېدای شي، لکه: ډبره، لرګی، اوبه، هوا، سندره، غږ، ښځه، سړی او داسې نور .

۲ - مانا نوم (مانا اسم) : په یوه نه ننګېرېدونکي (غیرمحسوس) څیز، یا په لنډه وینا، په یوې ښکارندې (پدیدې) پورې اړه لري او هغه نوموي، لکه : ښایست، ربښتیا، روغتیا، هیله، ننګ، پت، مېرانه، پیاوړتوب، رخه، سخه (عناد)، خوښي، خوږ (درد)، ویر، زغم، اندېښنه، لوبې، ستروي، درناوی، سپکاوی، ښېګڼه، بدي . . . .

۳ - ځانګړ نوم (خاص نوم) : یو ځانګړی څیز، پدیده، وګړی، یا ځای نوموي، لکه: پښتو ژبه، پښتونواله، خوازك، زرمینه، ننګرهار، کندهار، پکتیا، هند، ایران . . . .

۴ - ټولنوم (عام اسم) : ذاسې څیز یا ښکارنده نوموي چې ځانګړی او خاص نه وي، بلکې ډولونه او څېلونه ولري، لکه: ونه، هلك، نجلۍ، هېواد، څاروی، وګړی، ولس، ترون، ژمنه . . . .

۵ - نوږ نوم (جنس اسم) : په یوه نه شمېرېدونکي څیز (جنس) اړه لري، لکه : زر، اوبه، غنم، کوچ، غوړ، غوړي، چرس، بنګ، کوکنار، جوار، وابښه، سابه، کورت، درمل، ویتامین، هایدروجن. له زیاتره نوږ نومونو سره د ډېرګړي چلند کېږي . بېدوده، لکه : وسپنه، ختبه، بوره، شکره . . . که یو نوږ نوم ډولونه ولري، نو بیا هم ډېرګړي کېداې شي، لکه: ویتامین، درمل، واکسین . . . .

زیاتره نوږ نومونه ډېرګړي دي . د دا راز نومونو نرینه او ښځینه توپیر د پایلو له مخې کېږي . نرینه، لکه: غنم، غوړي، سابه (د سبو ؛ ښځینه، لکه: اوبه، اوربشې، نکریزې، شودې، مستې چې ګړدودي څېل یې "شوده" او "ماسته" ډېرګړي نرینه راځي .

ځېنې نوړ نومونه یا یوګړي راځي او یا هم ډېرګړي، لکه: خاوره، ایره، غله، مالګه، شکره، بوره چې کله ناکله ډېر ګړي کېدای شي، خو په ټولیز ډول یو ګړي نوړ نومونه د نه شمېرل کېدونکیو، یا په بله مانا، د کچې (مقدار) غوندې ورسره ډېرګړي ناټیکنومځري راځي، لکه نوره وسپنه، نوره خاوره، نوره غله، نوره خټه یا له " څه "، " ځینې "، " ټول "، "واړه" سره . دا چې بله خاوره، بله وسپنه، بله خټه ... ویل کېږي، موخه ترې بېلا بېل ډولونه دي . د همدغو ډولو له مخې ځېنې ډېرګړي نوړ نومونه پر یوګړي هم اړول کېږي، لکه : د غزني غوړی ښه دی، د کوندوز اوبه ښه ده، " غنمان "، توتان ... بیا د ډېرښت لپاره هم ویل کېږي .

۶ - غونډ نوم (جمع اسم) : یوه ډله او غونډ نوموي، لکه: ټولنه، ټبر، ټولی، ټولګی، ګوند، سازمان، ولس، ګورم (پاده)، رمه ... .

۷ - انګینوم (صوت اسم) : د طبیعي یا مصنوعي اوازونو انګې یا انګازه (پژواک) نوموي، لکه : درز، دروز، درزی، درزا، درزهار، ګړب، ګړوب، ګړبی، ګړبهار، ترپ، تروپ ... .

دویم - ستاینوم

ستاینوم (صفت) په خپلواک ډول څه نه نوموي، بلکې د یو څه ځرنګوالی نوموي؛ یا په بله وینا، یو ستاینوم په یوه ځیز نوم اړه لري او د هغه ځرنګوالی ښیي، لکه: تود، سوړ، غټ، ووړ، تور، سور، ښکلی، ښایسته، غښتلی، کمزوری، روغ، ناروغ ... .

په پښتو کې ستاینوم د لوړتیا د پوړونو ؛ یا د لړوالي، ډېروالي، سستوالي او توندوالي، بېلا بېلې ښکاره درې ګونې درجې نه لري، لکه په دري ژبه کې : به، بهتر، بهترین ؛ یا بزرګ، بزرګتر، بزرګترین .

له دې کبله یو پښتو ستاینوم د نورو وییو او وییکو (اداتو) په ملتیا خپل پوړونه، پوړۍ یا درجې او طبقې ښکاره کوي، لکه : ښه - ډېر ښه - لا ډېر ښه، یا سپین - ډېر سپین - خورا سپین - تر ټولو سپین - زښت زیات سپین او داسې نور. ټینګاري کړولونه (زښت، خورا، لا) یا ټینګاري ستاینومونه (ډېر، ښه، ښخرته، بې کچه ...) پر پورتنۍ دندې سربېره د ورپسې نورو ستاینومونو د ټینګتیا، پراختیا یا پیاوړتیا لپاره هم کارول کېږي .
په کره لیکنۍ پښتو کې د ستاینومونو د پوړیو د ښوولو لپاره له د تر - او ترین - روستاړو کارونه هم لږو ډېره دود شوې ده .

د ستاينوم ډولونه :

ستاينوم په دوه ډوله دی : ۱-: لنډ ؛ ۲-: لر .

۱ - لنډ ستاينوم : هغه دی چې تر څيز نوم له مخه او ورسره پتليز راځي او لنډ پر لنډه يې ستايي، لکه : توره دړه، روغ سړی، ښکلې نجلۍ . . . .

۲- لر ستاينوم : هغه دی چې تر څيزنوم وروسته راځي او له کړوالي برخې (مُسند) سره پيوستون لري. که څه هم هماغه څيزنوم ستايي، هغه هم په دې نوموالو غونډو کې، لکه : دړه توره ده، سړی روغ دی، نجلۍ ښکلې ده . . . هرګوره په کړوالو غونډو کې له کړ سره اړه پيدا کوي او په دې توګه پر کړول (قيد) اوړي، لکه : هلك (پلی) راغی - اسمان په ستورو (ښه) ښکاري - پلوشه (ښکلې) بريښي - زه کور ته (ډېر) ځم . . . .

د ستاينوم او ستايلي (صفت او موصوف) ګرداني سمون :

په پښتو کې ستاينوم (لنډ يا لر) او ستايلی ياً هغه څيزنوم چې ستايل کېږي، د نوم اوړون د دروګونو اړخو (نوږي - ګڼې - پېر) له پلوه سره زياتره سمون لري، لکه : ړوند غل، ړنده غله، ړانده غله، ړندې غلې، د ړانده غله، د ړندې غلې، د ړندو غلو . . . .

يا په نابشپړ ډول او يا لږ تر لږه د يوه يا دواړو خواوو له پلوه، لکه : لوی غل، لويه غله، لويې غلې، د لوی غله، د لويې غلې، يا سپين غل، سپينه غله، سپين غله، سپينې غلې، د سپين غله، د سپينې غلې، د سپينو غلو . . .

لښتيليك (جدول) کې :

شين خټکي	شنه خټکي
د شنه خټکي	د شنو خټکيو
شنه هندوانه	شنې هندوانې
د شنې هندوانې	د شنو هندوانو

مګر له " په " او " په - کې " سره دغه راز ښځينه نومونه له خپلو اړوندو ستاينومو سره له اوښتي پېر سره نه مخامخېږي .

يادښت : له ځېزنوم سره د ستاينوم اوړوني (ګرداني) سمون ځينې بېدودی هم لري :

۱ - په تولېز ډول ي - پای پور ستاينومونه اوړون نه مومي، لکه : علمي مرکز، علمي منځی، د علمي منځيو . . . د همدا راز پايلې والا نوي پښتو ستاينومونه، لږو ډېر بې اوړونه پاتېږي، لکه : پرمختيايي، بشپړتيايي، ببلښتي . . . .

۲ – که په یوه غونډ (عبارت)، سرلیك او یا (زیاتره نوموالو) غونډله کې یو ځیزنوم د څو ستاینومونو، تولنومونو (مضافونو)، یا شمېر نومونو (عددونو) لپاره ګډ وکارول شي، د نوري او ګنې له پلوه له هماغه وروستي ستاینوم، تولنوم یا شمېرنوم سره سمون خوري او هماغسې یو ګړی پاتې کېږي، یا په بله وینا، که د نوموالې غونډلې بنه ولري، اروند نوموال (to be) کړ ورسره هم یو ګړی (دی، وو) راځي، لکه : (یو ژوندی ولس او وګړي) له منځه تلای نه شي . زموږ په هېواد کې د یوه سړي او ښځې ربښتې سره برابرې نه دي، لکه :

- اتلسمه، نولسمه او شلمه پېړۍ (بده نه وه) . پارسي : سده های هژده، نوزده وبیست (بد نبودند) .

- د پوره څرګندتیا لپاره (درېواړه) ورسره هم کارول کېدای شي : ... پېړۍ درېواړه بدې نه وې .

- وړمه او بېګا شپه را باندې ارامه تېره شوه . د تېرې میاشتې ړومبۍ، دویمه او وروستۍ چهارشنبه مې وزګاره وه .

- ووړ او لوی اختر پوره تود وو . پارسي : عیدهای خورد وکلان کافی ګرم بودند .

۳ – همدا راز که په یوه غونډ، سرلیك یا غونډله کې یو شمېرنوم یا ستاینوم یا دواړه غبرګ تر دوو یا ډېرو ځیز نومونو له مخه راشي، له هماغه لومړني ځیزنوم سره اوړوني اړخ لګوي او نور ورسره عطف کېږي، لکه : یوه ښځه او سړی راغلل، یو پلونډ سړی او ښځه له کوره راووتل، یوه پښتانه هلك او نجلۍ سره واده وکړ . د سپین توکم او تولنې وګړي د تور توکم او تولنې له وګړو سره نه جوړېږي .

یوه تولنه او هېواد له پوهنیزې پرمختیا او پرمختګ سره پیاوړې کېږي .

- په تېر یوه کال او درو میاشتو کې یا په تېرو دوو کلو او یوه میاشت کې هېڅ اوربنت ونه شو . له تولې بشري پوهې او تخنیك څخه ....

درېیم - شمېر نوم (عدد) :

شمېرنوم هم د ستاینوم غونډې په خپلواك ډول کومه نومونه نه کوي، بلکې په یوه ځیزنوم اړه لري، خو د ستاینوم غونډې یې څرنګوالی نه، چې څومره والی او پوړوالی (تدرج) ښیي، لکه: یو، دوه، درې ... یا لومړی، دویم، درېیم ...

د شمېر نوم او شمېرلې (عدد او معدود) ګرداني سمون :

په پښتو کې شمېر نوم، لکه لنډ ستاینوم ترخپل اړوند ځیز نوم شمېرلې له مخې راځي او لړو ډېر ورسره اوړون مومي، هغه دا چې لومړي دوه شمېره (یو، دوه) ورسره د نوري او پېر له مخې ګردانېږي او نور پورته ورسره یوازې د پېر له مخې، لکه په لاندې لښتیلیك کې :

یو غل	یوه غله
یوه غله	یوې غلې
دوه غله	دوې غلې
دوو غلو	دوو غلو
درې غله	درې غلې
درو غلو	درو غلو
څلور غله	څلور غلې
څلورو غلو	څلورو غلو

د شمېر نوم ډولونه :

شمېر نوم دا وروسته ډولونه لري :

۱ - آر شمېر (اصلي عدد) : لکه یو - دوه - درې - څلور ...

۲ - پوړ شمېر (وصفي یا رتبي عدد) : چې د خپل شمېرلي پوړ او پوړۍ ښیي او د ستاینوم غونډې د ګڼې، پېر او نورېي له مخې اوړون مومي، لکه : یوم یا لومړی، دویم، دریېم، څلورم ... سلم، یوسل ویوم، دوه سوم ... ښځینه یې د a په زیاتولو سره رغېږي . ډېر ګړي ښځینه پایله یې e او د دواړو نورېو اوښتي بڼه په o جوړېږي .

۳ - وړ شمېر (کسري عدد) : چې د اړوند څیز نوم (شمېرلي) ماتوالی او برخه والی ښیي، لکه : دویمه - دریېمه - څلورمه ... سلمه، یوسل یومه ... لسیزه یا لسی (دهه)، سلیزه (سلی)، زریزه یا زری (هزاره) یو ډول ګروپي شمېر نومونه یا مهالپېرونه دي .

۴ - وېش شمېر (انقسامي عدد) : چې د اړوندو څیز نومونو وېشنه او جوړه جوړه کونه څرګندوي او په دې توګه د وړ شمېر غونډې له ډېرګړیو (جمع) څیز نومونو سره اړه لري ؛ نه له یوه سره، لکه : یو یو، دوه دوه، درې درې، څلور څلور ...

۵ - اټکل شمېر (تخمیني عدد) : د یوه څیزنوم (معدود) پرځای غبرګ غبرګ څیز نومونه ښیي، او یو هم نه ټاکي، لکه : یو دوه، یو درې، دوه درې، درې څلور، لس شل، دېرش، پنځوس شپېته ...

په دې توګه اړوند ځيز نومونه د دواړو شمېر نومونو ترمنځ اتکلېدای او امريدای (انتخابېدای) شي. يا لومړی يا دويم او يا د هغو ترمنځ جوړه جوړه شمېر نومونه پرله پسې وي، لکه: يو دوه - دوه درې او يا په ټاکلي او ټولمنلي واټن سره، لکه: اته لس يا لس شل. مګر ښايي هېڅ يو پښتون دوه ځلور، درې پنځه، ځلور شپږ ... ونه وايي. البته (يو) له هر پورته شمېر سره جوړه کېدای شي، خو هغه هم زياتره د پېژند (حرف تعريف) په توګه چې اټکل ورسره په ځېرمه (ضمني) ډول هم څرګندېږي.

ځلورم - نومځری (ضمير) :

نومځری هغه ويی دی چې د يوه ځيزنوم ښکارندويي کوي، د هغه پرځای راځي او يا يې ملګرتيا کوي. او د همدغې دندې له مخې د نومونو په ډله کې ځای نيسي. له نورو نومونو (ځيز نوم - ستاينوم - شمېرنوم) سره د نومځري توپير دا دی چې دا پر درې ګونو اړخو (نوري - ګڼې او پېر) سربېره د وګړي (لومړي، دويم او دريېم) له مخې هم اوړون مومي. (اولرېنس ۹۴۲)

د نومځرو ډولونه : نومځري د جولې او چار له مخې پر دې وروستيو ډلو وېشل کېږي:

۱ - ځانګړي نومځري (شخصي ضميرونه) : چې له شعر وادب پرته يوازې د انسانانو لپاره راځي، دوه ډوله دي: ۱ - غبنتلي؛ ۲ - کمزوري.

الف - غښتلي (منفصل) :

ګڼه / وګړی	يو ګړی			ډېر ګړی
۱	آر پېر		اوښتی پېر	موږ
	زه		ما	
۲	ته		تا	تاسې
۳	نرينه	دی هغه	ده هغهٔ	دوي هغوي
	ښځينه	دا هغه	دې هغې	

ب - کمزوري یا (متصل) :

وګړی / ګڼه	یو ګړی	ډېر ګړی
۱	مې	مو
۲	دې	مو
۳	یې	یې

۲ - تولنومځري (ملکي یا اضافي ضمیرونه) :

چې د وګړو لپاره بشپړ او له ناوګړو (څیزونو، پدیدو او ژویو) څخه یوازې دریېم وګړي لپاره کارول کېږي، تول (ملکیت) او اړوندي (تعلق) ښیي . دغه نومځري هم پر غښتلیو او کمزوریو وېشل کېږي :

الف - غښتلي (منفصل) :

وګړی / ګڼه	یو ګړی		ډېر ګړی
۱	زما		زموږ
۲	ستا		ستاسې، ستاسو
۳	نرینه	د ده	د دوی
	ښځینه	د دې	~

ب - کمزوري (متصل) : کټ مټ د ځانګړیو کمزورو هغو غوندې دی :

وګړی / ګڼه	یو ګړی	ډېر ګړی
۱	مې	مو
۲	دې	مو
۳	یې	یې

۳ - نغوتنومځري (اشاري ضمیرونه) :

هغه نومځري دي چې وګړیو یا څیزونو ته نغوته (اشاره) کوي او د هغو د نومونو ځای نیسي او یا ورسره لکه ستاینوم ملګرتیا کوي. نغوتنومځري د څیزونو، پدیدو او ژویو لپاره د ځانګړو نومځرو پرځای هم راځي . په بله وینا ، ځانګړي نومځري یوازې په وګړو (انسانانو) اړه لري .

نغوتنومخري د نوړي، ګڼې، پېر او یوازي دربیم وګړي او واتن (فاصلې) له مخې اوړون لري . په کندهاري ګړدود کې نغوتنومخري د واتن له مخې پنځه ډوله دي : ډېر نژدې (دا، ها، آ)، لږ نژدې (دغه، داغه)، لرې (هغه)، لالرې (هاغه، آغه)، ډېر لرې (هوغه) . (حبیبي، تعلیقات، تاریخ تلفظ وصرف پشتو ج ۲ ص ۲۷۳-۲۷۴) : :

وګړی / ګڼه			یوګړی		ډېرګړی	
		واتن / نومخری	آرپېر	اوښتی پېر	آرپېر	اوښتی پېر
۳- (یوازې دربیم وګړی)	لنډ	نرینه	دغه	دغه-ə	دغه	دغو
		ښځینه	دغه = دا	دغې دې	دغه	دغو
	لر	نرینه	هغه	هغه-ə	هغه	هغو
		ښځینه	هغه	هغې	هغه	هغو
	لالر	نرینه	هاغه	هاغه-ə	هاغه	هاغو
		ښځینه	---	--- ې	---	---
	ډېرلر	نرینه	هوغه	هوغه-ə	هوغه	هوغو
		ښځینه	هوغه	هوغې	هوغه	هوغو

یادښت : اروابناد علامه حبیبي (هماغه پارسي اخځ) له دغو ټولو نغوتنومخرو سره د یو لړ روستاړو په ملتیا منځته راغلي بېلنګونه (مشتقات) هم یو مخیز له دوه ګونو ګړدودي ځېلو سره په یوه لښتیلیک کې رانغښتي دي . حال دا چې له هغو څخه یوازې د (- سې) والا هغه (داسې، دغسې، هاغسې، هوغسې ...) د اړیکوییکو د پاڼې ترڅنګه د نغوتنومخرو چار پر غاړه اخلي او نور (دومره، دغومره، دورې، هغورې، دلته، دغلته، هغلته ...) کړولونه او اړیکوییکي بلل کېږي . په هر ډول دلته هغه لښتیلیک کټ مټ رااخلو :

اقسام	۱ نزدیکتر	۲ نزدیك	۳ دور	۴ دورتر	۵ دورترین
۱ – مجرد (اشاری، فاعلی، مفعولی، اضافی)	دا = ها = آ	دغه = داغه	هغه	هاغه = آغه	هوغه
۲ – کمی (مقداری)	دونی = دومره = هومره	دغونی = دغومره	هغونی = هغومره	هاغونی = هاغومره	هوغونی = هوغومره
۳ – کیفی (تشبیهی)	داسی = دسی = هسی	دغسی = داغسی	هغسی	هاغسی	هوغسی
۴ – طرفی	دوری	دغوری	هغوری	هاغوری	هوری
۵ – ظرفی	دلته = دالته دلې	دغلته = داغلته	هغلته	هاغلته = هلته	هوغلته = هولته

۴ - **پوښتنومخري (استفهامي ضميرونه – *Interrogative Pronouns*)** : له دويم وګړي څخه د يوه وګړي يا يوه څه د پوښتنې لپاره پر کار لوېږي . زياتره د پوښتغونډلو يا غونډو په سر کې راځي او يا هم د غونډلو د لنډون په توګه ځانته کارول کېږي چې په دې لاندې درو ډولو وېشنه مومي :

۱ – **څوك – چا (؟)** : د وګړي يا وګړو لپاره راځي چې څه يې کړي وي يا يې کوي يا پرې څه شوي وي يا کېږي . د پېر له مخې، لکه : څوك راغی ؟ څوك راغله يا راغلل ؟ څوك راغلې ؟ څوك ځي ؟ چا وويل ؟ څوك وايی ؟ چا ډوډۍ وخوړه ؟ څوك يې وواهه ؟ څوك يې ووهله ؟ څوك ووهل شو ؟ څوك ووهل شوه ؟ څوك وهل کېږي ؟ څوك د ناټيکنومخري په توګه هم کارول کېږي، لکه : څوك مې وليد ، نن يو څوك راځي چا ووهلم .

۲ - **کوم (؟)** : د وګړي يا وګړو، څيز يا څيزونو ترمخه راځي او د همدغو څومره والی، څرنګوالی، چارونقش يا نور څه پوښتي . کوم د دوو نورو پوښتنومځرو پرخلاف پر پېر سربېره د نوړې له مخې هم اوړون لري، لکه په دې وروسته غونډلو کې :

کوم سړی راغی ؟ کوم سړي وویل ؟ د کوم سړي رنګ ژیړ وی ؟ کومه ښځه راغله؟ کومې ښځې وویل ؟ کومو ښځو – سړیو وویل ؟ د کومو ښځو – سړیو رنګونه ژیړ وي ؟

۳ ــڅه (؟) : زیاتره د یوه څیز یا وګړي ترمخه راځي او څومره والی، څرنګوالی، چارونقش یا نورڅه یې پوښتي او زیاتره په ډېرګړي او نوږ نوم (جنس اسم) پورې اړه لري، بې له دې چې خپله بڼه واړوي، لکه: دا څه دی ؟، دا څه دي ؟، څه دې وکړل ؟، څه دې راوړل ؟، څه یې نرخ دی ؟، څه یې ارزښت دی ؟

یادښت :

د نورو ډېرو ژبو غوندې پښتنومځرو ترڅنګه یو شمېر پوښتکړولونه هم لري : مهالي، لکه : کله، توني، لکه : چېرې، څرنګیز، لکه ؛ څنګه، څومره ییز، لکه : څومره، استدلالي، لکه : ولې او داسې نور .

۵ - پلوي یا کړولي (سمتي یا قیدي وییکنومځري) :

هغه نومځري دي چې له آره د یوه کړ او چارلوری څرګندوي، خو په ترڅ کې د ځانګړ نومځرو کار هم ورکوي او هغه هم په بې چار (مفعولي) حالت کې . ټولې درې بڼې لري او هره بڼه یې د یوه وګړي (یو ګړي یا ډېرګړي) ښکارندویي کوي:

ګڼه / وګړی	یو ګړی	ډېر ګړی
۱	را	را
۲	در	در
۳	ور	ور

۶ - وییکنومځري (اداتي ضمیرونه) :

چې له وییکو (اداتو)، په بله وینا له سربلو په تېره اوستربلو څخه منځته راځي او د اړوندو اداتو له چار او دندې سره سم د نومځرو ځای نیسي :

۱ - **پکې (در آن - ها)** : چې د (ور کې) د همچاري په توګه دریېم (یو ګړی یا ډېر ګړی ښځینه یا نرینه) وګړی په ناوړېدوني په تون پېر کې ښیي، لکه :

باغ وای د ګلونو (پکې) ناست وای زه او ته
(خوشال)

د کندهار خواته یې پرځای (پکښې کې) او په یو نیم گړدود کې یوازې " کې " هم په همدغه جاج کارول کېږي .

۲ – **پسې** (**بسوی او - ایشان**) : چې د ورپسې د لنډېز په توگه دا هم د پاس په څېر دریېم وگړی په تون پېر کې ښیي، لکه : د زهرو گولی خورم (پسې)
(ملنگ جان)
" پسې " د مخکړ په توگه هم لکه د ځېنو کړونو پرله پسېوالی څرگندوي، لکه : پسې تلل .

۳ – **باندې** (**ورباندې**) : د " ورباندې " د لنډیز په توگه په هماغه پاسني ډول دریېم وگړی په تون او هغه هم په پورتني (استعلایي) پېر کې ښیي، لکه :
گل وای غوړیدلي (باندې) ملاست وای زه او ته
(خوشال)

۴ – **پرې** (**برآن – برآنها ...**) : دا هم "ورباندې"، یا په بله وینا ، "باندې" ته ورته دنده پرځای کوي، لکه : ما پرې سر کېښود ، پېسې مې پرې پور دي .

۵ – **پې** (**به آن**) : چې (په او پرې) هم ویل کېږي، په یوه لوښني (الي) پېر کې د یوه نوم ځای نیسئ او له (پرې) سره یې په دې غونډلو کې توپېر کولای شو :
زه (په پښتو = پې) لیکنه کوم (من به پښتو می نویسم)، زه (پر پښتو = پرې) لیکنه کوم (من درباره پښتو می نویسم) .

۶ – **ترې** (**از آن – از آنها ...**) : چې د ورڅخه (ورنه، ورځنې) د یوه لنډ انډول په توگه یو نوم په وتون او تون او هغه هم په کښتني (استفلایي) پېر کې ښیي، لکه: ما ترې لاندې یا کښته کېښود ، قلم مې ترې واخیست .

۷ – **ځنې** : کټ مټ د "ترې" او ورځنې (ورڅخه، ورنه) د هممانیز او همچاریز په توگه کارول کېږي چې په ناکره ډول له " ځېنې " یا په کندهاري وینگ " ځینې " سره یو رنگ کاریدنگ لري .
له پلوي نومځرو (را - در - ور) سره تړنگونه هم جوړوي .
۸ – **له (را – در – ور)** پلوي نومځرو سره د بېلا بېلو اوستربلونو په ملتیا تړښتي وییکونومځري، یه په بله وینا ، تړښتي پلوي نومځري رغوي، د لومړي وگړي لپاره، لکه : راسره، راکره، راڅخه، راځنې، راکې، راباندې، رالاندې، راپسې، راپورې، راته . همدا راز له "در" سره د دویم او له "ور" سره د دریېم وگړي لپاره.

۷ - اړیکنومځري (ارتباطي ضمیرونه *Relative Pronouns*) او پښتو (!)

پښتو د نورو نژدې خپلوانو ژبو په څېر د اروپايي ژبو ورته اړیکنومځري نه لري، بلکې پرځای یې له نومونو یا نورو نومځرو (ځانګړو نومځرو، تولنومځرو، نغوتنومځرو ...) څخه داسې کار اخلي چې زیاتره یوازینی اړیکوییکي "چې" یې له اړوندو ژبنیو یوونونو (واحدونو) لکه اېښیو (مسندالیه وو) او اېښونیو (مسندونو) سره تړاو ورکوي او په دې ډول له آرې غونډلې سره څېرمه غونډله ملګرې کوي چې همدغه څېرمه غونډله بیا اړیکغونډله بلل کېږي، لکه: ځلمی راغی چې زمری ووینې. دی راغی چې ما ووینې ... د کړولې (قیدې) اړیکو د ټینګولو لپاره په اړوندو ملو غونډلو کې له نومونو یا نومځرو سره یا غبرګ غبرګ کړولونه جوړه کېږي او یا په یوه کې "کړول" راځي او په بله کې یوازې "چې"، یا هم صفر، لکه "څنګه غر" (دی)، "هسې کربوړی" (دی)، "هغه سړی بیا "راغی"چې پرون مې" لیدلی وو. "ما دومره" کار وکړ، "څومره چې مې" کولای شو. "کله چې ته" راغلې، "زه هم" راځم. "زه هله" درځم، "کله، چې ته" راشې ....

داسې برېښي چې د اروپايي ژبو اړیکنومځرو هم له ورته اړیکوییکي پرمختیا موندلې وي، لکه واخلئ انګریزي that چې د اړیکوییکي پر پاڼې سربېره وګړیز او ناوګړیز تړاو هم پرغاړه اخلي، یا په بله وینا، هم د ناوګړیز اړیکنومځري which پرځای راځي او هم د وګړیز اړیکنومځري پرځای، لکه:

Where is the cheese that (= which) was in the fridge?

" هغه " پنیر چېرې دی "چې" په یخچال کې وو ؟

Do you know the woman that (= who) Tom is talking to?

ته " هغه " ښځه پېژنې " چې " تام ورسره غږېده ؟ [Murphy 184] .

هرګوره په دغو پښتو اندولو کې ځکه له نغوتنومځري "هغه" کار اخېستل شوی چې د انګریزي "the" غونډې پېژند (ارتیکل، حرف تعریف) نه لري. که څه هم سلاوي ژبې روسي، چکي، پولینډي ... هم ارتیکل نه لري، خو اړیکنومځري په بشپړ ډول کاروي. په هر ډول د دغو ټولو ژبو "لیکوالو" په دغه چم سره خپل کار اسان کړی او هغه داچې د غونډلو د ملتیا لپاره یوازې په هماغه یوه کې د اړیکنومځري په کارونه بس راوړي، نه دا چې زموږ غونډې په یوه کې یو اړیکوییکی (صله) راوړي او په بله کې بل اړیکوییکی (موصول). نو که په پښتو کې د دغو نومځرو رنډې پېښې وکړو، نو د اردو غونډې به تړې یوه خپللاسي (مصنوعي) ژبه جوړه شي. د بېلګې په توګه د پورتنیو انګریزي غونډلو تکي پر تکي ژباړه څومره بې مانا او بېخونده برېښي. که څه هم د ارتیکل پرځای له "هغه" هم کار اخېستل شوی دی او که نه نوره هم پسې مسخه کېده :

" هغه " پنیر چېرې دی، (کوم) چې په یخچال کې وو ؟

" هغه " ښځه پېژنې . (له چا سره) چې تام غږېده

په پښتو کې دا ډېلګې هم لږې نه دي چې د دويمې (آرې) پرځای د رومبۍ (څېرمې) غونډلې يا منځېښې (معترضه) په سر کې راشي او اړيکغونډلې رامنځته کړي، لکه په دې متلو کې:

"چې" ځي ځي، ابازو له به راځي. "چې" د رښتياوو وار راځي، دروغو به کلي وران کړي وي.

يا په دې څلور غونډله ييز متل کې چې لومړۍ او درېيمه پکې اړيکغونډلې دي:

"چې" ستړې يې، پر شا به دې کړم – "چې" نه (يې) خوري، څه په دې کړم.

او په همدې (لومړني) دريځ کې له ځان سره کړول يا څېز نوم او يا هم نومځرى هم مختاړي يا روستاړي اکوي، له کړول سره، لکه:

"چيرې چې" اوسې، په خوي به د هغو سې.

له څېز نوم سره، لکه:

(د) "مېړي چې" مرګ راشي، وازره وکړي.

له نومځري سره، لکه:

"څوک چې" خوب کوي، نر کټې زېږوي.

"څه چې" کړې، "هغه" به رېبې.

کله کله د اروپايي ژبو په پښتو ژباړه کې دېته هم اړتيا پېښېږي چې د اړيکنومځرو د تکي پر تکي را اړونې د مخنيوي لپاره له منځېښو او يا هم جلا جلا خپلواکو غبرګو يا ګډو غونډلو زيات کار واخېستل شي، لکه: زمرى چې کور ته راغى، پلار يې وليد يا زمرى کور ته راغى او پلار يې وليد ... ان د ډېرو کوشنيو ترليو غونډونو، يا په بله وينا، وييونو (نومونو) په را اړونه کې د سرباري اړيکغونډلو کارول هم اړين برېښي، که د منځېښو په بڼه وي او يا د پرله پسې جلا جلا څېرمو يا آرو غونډلو په بڼه. حال دا چې په اروپايي ژبو کې د يوه پېژند يا ارتيکل لکه انګريزي the او يا هم د يوه ننګښې (،) يا ښلنده ليکې (-) په مټ دغه راز اړيکي ټينګېږي، لکه:

Tom, the teacher, came out of the school.

پښتو ژباړه: تام چې ښوونکى دى، له ښوونځي راووت.

په پارسي کې، سره له دې چې د پښتو غونډې بې ارتيکله ده، تر ډېره ځايه د اړيکنومځرو له پېښو ډډه شوې ده او د پښتو "چې" انډول "که" يا "تا" د اړيکنومځري پرځاى کاروي. دا چې د پورتنۍ انګريزي غونډلې په بڼلګه پکې د يوې تيمې پېښې دود هم رامنځته شوى دى، بيا هم د ټاکلو اړيکنومځرو هومره زيان ورپېښ وي، لکه: د اکرم عثمان د "بازګشت" داستان په سر کې:

... چند روز ميشد که ببو، مادر واسع شوهرش را از دست داده بود (پخوا په پښتو او پارسي دواړو ژبو کې دغلته د ننګښې پرځاى له عربي "يعنى" کار اخېستل کېده).

په کره لیکنی پښتو کې کله کله د لنډیز او اسانتیا د آر له مخې د داسې غونډونو، ویینو ورته تړاو یو بل راز ترسره کېدای شي، لکه : د افغانستان په پلازمینه، کابل کې د زمري په کور، شېرشاه مېنه کې ...

چې د بېلګې په توګه د لومړي غونډ یا سرلیك انګریزي په دې ډول راځي :

In Kabul, the capital of Afghanistan.

پاس د راوړې پارسي بېلګې پښتو ژباړه هم داسې کره راځي :

... څو ورځې کېدې چې د واسع مور، ببو خپل مېړه له لاسه ورکړی وو، د صدیق کاوون دا پارسي پېښې " زوی ته مې برمل ته " داسې سمون موندای شي :

خپل زوی، برمل ته مې، یا : خپل برمل زوی ته مې .

په هره توګه په دغو بېلګو کې هم لېدل کېږي چې کړولي، (وګړیز یا ناوګړیز) څیز نومیز او نومځریز اړیکي هماغه "چې" ټینګوي، نه پخپله کړولونه، څیزنومونه یا نومځري. مانا دا چې بیا هم له اړیکنومځرو سره کار نه لرو. ان په وروستۍ بېلګه کې "هغه" نغوتنومځری چې د (څه) ناټیکنومځري استازي کوي، هم د اروپایي ډوله اړیکنومځري کټ مټ انډول کېدای نه شي . په "مېړي چې" او "څوك چې" كې "مېړی" او "څوك" هم اړیکنومځري نه شي ګڼل کېدای، ځکه چې د خپلو اړیکو واك يې د "چې" په لاس کې دي. همدا "چې" ده چې "مېړی" او "څوك" یې د اېښیو (مسندالیه وو) په توګه د دواړو ملو غونډلو له اېښونو (مسندو) سره نښلولي دي . څوك، هغه او داسې نور نومځري یا څیزنومونه د "چې" په مټ په دغه رلز یوه چاپېریال کې د اروپایي ناټیکنومځرو تشه ډکوي، نو غبرګون (تکرار) ته یې هېڅ اړتیا نشته .

په دې وروسته درې غونډله یېزه لنډۍ کې د ړومبۍ نیمه کې ړومبۍ ټوټه یوه اړیکغونډله ده او دویمه ټوټه آره او بیا دا دواړه د وروستۍ نیمکۍ، یا په بله وینا، غونډلې لپاره څېرمه یا اړیکغونډلې دي .

دلته څیزنوم له "چې" سره مل شوی او همدغه "چې" ورته هم له "مري" سره د ګړند په توګه تړاو ورکړی او هم یې ورته له بلې غونډلې سره تولي (اضافي) تړاو . له درېیمې غونډلې سره تړاو یې بیا هم د دویمې "چې" په وسیله شوی او د ناټیك (مُبهم) نومځري "دواړه" بر بنسټ یې د اړوند اېښوني (په یوه لحد کې خاورې شونه) د غبرګ اېښې یو ټوك ګرځولې دی :

"چې جانان" مري، ما یې کفن کړې

"چې" په یوه لحد کې دواړه خاورې شونه

دا چې په پښتو کې د اړیکنومځرو پرځای اړیکوییکي کارول کېږي، تر اړوندو (اروپایي) ژبو پکې د دغو وییکو رنګارنګي او ډېر پېښې زیاته ده او په جولیز او ناجولیز ډول د ورته دندې لپاره

وېړې لاړې چارې پر کار اچوي، نو اړوندې پښتنې يې ګرد سره غونډله پوهيزه (نحوي) ونګه ورمسخ کوي، لکه:

غرزی کندهار ته ولاړ، "څوك چې" هلته خپلوان وګوري.
~ ~ ~، "چېرې چې" هوا توده ده.
~ ~ ~، "له کوم ځايه" چې هېلمند ته ځي.
~ ~ ~، "کله چې" پر کابل واوره وشوه.
~ ~ ~، "له چا سره چې" ډېر کتابونه ول.
... ...

ما يو ليکانی واخېست، "کوم چې" ښه کار کوي.
~ ~ ~، "کوم يوه ته چې" مې اړتيا درلوده.
~ ~ ~، "په کوم چې" ليکل کوم.
... ...

کار وزيار مې خوښېږي، "کوم" يا "څه چې" نېکمرغي راوړي.
... ...

ما دوه مره غنم وپېرل، "څومره چې" مې پېرلای شول.
~ ~ ~، "کله چې" مې ورته اړتيا پيدا شوه.
~ ~ ~، "له کومو چې" ښې ډوډۍ پخېږي.
~ ~ ~، "په کومو کې چې" غاورې شګې نشته.

سمې بڼې يې:
غرزی کندهار ته ولاړ چې خپلوان وګوري.
غرزی "ځکه" کندرهار ته ولاړ "چې هلته" هوا توده ده.
غرزی "د دې لپاره" کندرهار ته ولاړ "چې بيا" هېلمند ته ولاړ شي.
يا: غرزی کندرهار ته ولاړ او له هغه ځايه بيا هېلمند ته ځي.
غرزی "هله" کندرهار ته ولاړ "چې" پر کابل واوره وشوه.
غرزی کندرهار ته ولاړ "چې" ډېر کتابونه ورسره ول.

ما يو ليکانی واخېست چې ښه کار کوي.
ما يو ليکانی واخېست چې مې ورته اړتيا درلوده.
ما يو ليکانی د دې لپاره واخېست چې پې ليکل وکړم؛ يا: ما يو ليکانی د ليکلو لپاره واخېست.

کار وزيار مې "په دې" خوښېږي "چې" نيکمرغي راوړي.

ما " دوه مره " غنم وېبړل " چې " مې پېږلای شول .
ما غنم " هله " وېبړل " چې " مې ورته اړتیا پیدا شوه .
ما " داسې " غنم وېبړل " چې " بنې ډوډۍ " ترې " پخېږي .
ما " داسې " غنم وېبړل " چې " خاورې شګې " پکې " نشته .

د اجمل ختك په خبر یوه وتلي ویناوال، ان په شعر کې، هم د انګریزي - اردو تراغېز لاندې په ناګاهانه ډول اړیکنومځری "څوك" له "چې" سره یوځای کړی دی. سره له دې چې په ړومبنی (آره) غونډله کې یې څېزنوم او نغوتنومځری هم راوړي او په دې توګه یې همدغه اړیکوییکی او اندول "چې" له څېرمې (اړیك -) غونډلې سره د تړاو لپاره بس ول او هسې بېځایه یې له "چې" سره "څوك" ملګری کړی دی:
څئ " هغه خوارو " ته جنت وګټو
" څوك چې " له موره دوزخیان پیدا دي

په اردو ځیلې کښېنی، په تېره ناپېیلې لیکنی پښتو کې دغه راز پېښو د یوې - کره لیکنی پښتو مخې ته تر نورو رغاونیزو او وییزو توپیرونو ډېرې کرکندې راغښتې دي او که همداسې پایښت وموومي، خبره به له ګړودي او لیکدودي بریدونو څخه وراوړوي او کورته به ژبني برید او ښېلتانه ته ورسي . [د زیاتې خبرتیا لپاره : د همدې کتاب د اړیکوییکو ځانګړې سکالو او د لیکوال نورې اړوندې لیکنې او کتابونه] .

۸ - غبرګون نومځري (انعکاسي ضمیرونه *Reflective Pronouns*) :

هغه نومځري دي چې د چار هم کړند اوسي او هم کړي . په پښتو کې دا راز نومځري له نومونو یا ځانګړنومځرو سره د " ځان " په ملګرتیا کولو لاسته راځي چې زیاتره په همدې یوه یو ګړې (مفرده) بڼه هرځای راتلای شي، لکه: ځلمي ځان ژوبل کړ؛ ځلمي او زمري "ځانونه" ژوبل کړل : هغه ځان ژوبل کړ، هغوی ځانونه ژوبل کړل . له ډېر ګړي څېزنوم سره د یو ګړي په توګه، لکه: پر لمبو باندې ځان ولې پتنګان ... (خوشال پ - ۱۸۴) .

د پوره څرګندتیا لپاره له "ځان" سره "خپل" هم ملتیا کوي، لکه : هغوی "خپل ځان" وژغوره . که څه هم "ځان" له آره د "خپل" ځایناستی او همپازی دی .

۹ - ناتیکنومځري (ابهامي ضمیرونه *Indefinite Pronouns*) :

چې د یوه ناجوت (نامعین) وګړي یا څېز پرځای راځي او که د نومونو مختاړې شي، پر ستاینومو بدلېږي او که بیا په اېښونی (مسند) کې راشي، نو د کړولو چار پرغاړه اخلي . ناتیکنومځري هله

یووستوی کارول کېدای شي چې ترمخه یې نژدې پر نژدې ځیز نومونه یا نور نومځري راغلي وي . د بېلا بېلو دندو له مخې په لاندې ډولو دي :

۱ – **هر** : چې زیاتره په یو ګړي اړه لري او د نورې او پېر له مخې لړو ډېر اوړون لري، لکه : هر ځلمی، هره پېغله، هر خت (کمیس)، هره ګنډۍ (کرتۍ)، هرې پېغلې ... . له ډېرګړي سره، لکه : هرلس هلکان او هرلس نجونې سره یوه یوه لوبډله جوړوي .

په اوښتي ډېر ګړي کې یې ګرداني – و ملګری کېږي، لکه : هرو پنځو شاګردانو ته یو لیکی ورسید . یا زه په هرو دوو ورځو کې (یوځل) لمبا ته ځم . له پېژند "یو" او ځینو نورو ناټیکنومځرو سره تړښتي هغه هم جوړوي .

۲ – **بل** : یوازې د شمېریدونکي یوګړي نوم پرځای راځي او یا ورسره د نغوتنومځري غونډې ملګرتیا کوي، لکه : بل ځلمی، بله پېغله، د بل ځلمي، د بلې پېغلې ... . که په یوه ژبني چاپېریال کې د اړوند نوم له مخه راغلې وي، نو "بل" ځانته هم راتلای شي، لکه : یو سړی راغی، پسې بل راغی .

۳ – **نور** : د بل سرچپه یوازې د شمېرېدونکي ډېرګړي او نه شمېریدونکي یوګړي او ډېرګړي نورې نوم (جنس نوم) ښکارندويي او ملګرتیا کوي او څه ناڅه اوړون لري، لکه : نور هلکان، نورې نجونې، نور غنم، نوره وسپنه، نوره خاوره، نورې اوبه، د نورو هلکانو، د نورو پېغلو، د نورو غنمو، د نورې وسپنې، د نورې خاورې، د نورو خاورو، د نورو اوبو ... .

۴ – **ټول** : زیاتره په ډېرګړي او (یوګړي او ډېرګړي) نورې نوم اړه لري، مانا دا چې د نورې، پېر او څه ناڅه ګنې له مخې اوړون مومي . او له کندهارۍ پښتو پرته هماغسې اوړون مومي، لکه: ټول هلکان، ټولې نجونې، ټول تېل، ټوله خاوره، ټولې خاورې، ټولو هلکانو، د ټولو هلکانو، د ټولو نجونو، ټولو نجون، د ټولو تېلو، د ټولې خاورې، د ټولو خاورو ... .

له ټولنوم ډوله او نه شمېرل کېدونکو یو ګړو نومو سره د "ګرد" یا "درست" په مانا د ستاینوم په توګه، لکه : ټول ولس، ټول ښوونځی، ټول ځان، ټوله ونه، ټول غم، ټول هېواد ، ټول کتاب، ټوله نړۍ، ټوله سیمه ... .

۵ – **واړه** : د ټول هممانیز دی، لکه : واړه هلکان، واړې نجونې، واړو هلکانو، واړو نجونو، واړه خاوره، واړې خاورې، دواړې خاورې، دواړو خاورو، د ستاینوم یا په بله وینا کړول په توګه، لکه د خوشال په دې شعر کې :

واړه عشق دی چې یې سر راته ګیاه کړ ... .

۶ – **دواړه** : تل د وګړی (تثنیه) دی او په نوري او پېر اړه لري. لکه : دواړه هلکان، دواړې نجونې، د دواړو هلکانو، د دواړو نجونو ...

۷ – **څه** : پر پوښتنومځري سربېره یو ناوړیدونی ناټیک نومځری هم دی. لکه : څه مې ولیدل. څه نشته. چې نه کار – هلته څه کار !

" **څه** " له نورو ناټیکنومځرو او ځینو ستاینومونو سره ترښتي ناټیك نومځري جوړوي، لکه : بل څه، نور څه، هرڅه، هېڅ څه (هېڅه)، لږ څه، ډېر څه : همدارنګه یې له پېژند (یو) سره ناټیکوالی یو څه راکمېږي، لکه : یو څه . د پېژندوییکي په دریځ کې له ډېرګړي یا نه شمېر کېدونکي سره، لکه : څه وګړي یا څه اندېښنه نشته . په متل کې : پر ما څه ورانه، څه ودانه .

۸ – **ځینې** : د ډېر ګړي شمېرل کېدونکي نوم ښکارندويي کوي. لکه: ځینې شاګردان، ځینې شاګردانې، ځینو شاګردانو ...

۹ – **هېڅ** : د یوه ناټاکلي څیز یا څیزونو نشتوالی ښیي او کوم اوړون نه لري. لکه: هېڅ هلك، هېڅ هلکان، هېڅ نجلۍ، هېڅ نجونې، هېڅ هلکانو، هېڅ نجونو، هېڅ غنم، هېڅ غنمو ... هېڅ له پېژند (یو)، او زیاترو ناټیکنومځرو سره د لومړي ټوك په توګه ترښتي (ترکیبي) ناټیکنومځري منځته راوړي، لکه: هېڅ یوه، هېڅه(هېڅ څه)، هېڅ کوم، هېڅ بل، هېڅ نور، هېڅوك (هېڅ څوك). یا په درې ټوکیزه ترنګ (درې جزئی ترکیب) کې، لکه: هېڅ کوم یو، هېڅ کوم څوك یا په څلور ټوکیز ترنګ کې، لکه: هېڅ کوم یونیم، هېڅ کوم یو بل ... په " هېچا " کې یې – ځ له چ سره همرنګ شوې او یکې مدغم شوې ده .

۱۰ – **څوك** : هم پر پوښتنومځري سربېره یو ناټیك نومځری هم دی چې هم د څیز نوم ښکارندويي کوي او هم د پېژند (ارتیکل)، لکه : نن څوك راځي، څوك یو کار کوي، څوك بل، چا مې لیکانی واخېښت، څوك سړی راروان دی، څوك ښځه مې ولیده . په اوښتي پېر کې، لکه : چا نه مې لیکی ورکړی دی . خو، اوس مې هېر دی، له چا نه مې لیکی واخېښت بیا مې هېر شو، خپل کار په چا نه کوم، زلمی له چا سره پر یوه لاره نه ځي، زه نه څوك وهم، نه پر چا کار لرم، څوك چې بل چاته کوهي کېني، پخپله یکې لوېږي، له ما سره د چا څه کار دی، په شپه کې چاته ورتګ ښه نه دی .... چا ښلوره مې د مینې نړۍ ورانه کړه، څوك دښنه راته په لار کې ناست دي .

له پېژند (یو) او ځینو نورو ناټیکنومځرو سره هم ترښتي (ترکیبي) ناټیکنومځري جوړوي، لکه : یو څوك، هر څوك، هېڅوك، بل څوك، نور څوك، څوك سړی، کوم څوك، کوم چا، یا لکه پېښوریان چې وایي : چا ظالم مې ژبه پرې کړه . د رحمان بابا په شعر کې یې هم څرك لګي .

۱۱ - **سړی** : پر ځیزنوم او ستاینوم سربېره یو ناټیکنومځری هم دی. لکه: سړی دې هڅه کوي چې ځوك ترې ونه ځورېږي. باید د سړي له لاسه دا ـپ کار ونه شي چې وروسته پرې پښېمان شي. دلته د سړي هره هیله نه پرځای کېږي. سړی دې سړي ته گوري او بیا دې ورسره هماغسې چلند کوي. لومړی دې سړی سړي ته پور نه ورکوي او که ور یې کړ، نو بیا دې ترې ژر نه غواړي. له څېنو نورو ناټیکنومځرو سره ترنگونه (ترکیبونه) هم جوړوي او په دې توگه یې نور هم پسې ناټیك او ناپېژندویه کوي. لکه: یو سړی دې خواته رادرومي، یوه سړي ته راز ویل په کار نه دي. هر سړی، (هو. هر سړی پیدا دی خپل خپل کار لره کنه - خوشال)، هېڅ سړی نه بنکاري. سړی سړی سم کار ته نه پرېږدي. له خوازك پرته بل سړی مې ونه لید. ځوك سړی زموږ خواته راځي. کوم سړی چې د سړي نه خوښېږي، څه په کار چې پرمخه ورځي. څه سړي غوندې رادرومي. یونیم سړی خپل ژوند ته پام نه لري، کوم نیم سړی مې ونه لید، کوم یونیم سړی رانغی . . .

۱۲- **پلانی او بیستانی** هم له عربي او دري (فلان - بستان) څخه پښتو شوی ناټیکنومځری گڼل کېږي.

نور بدلگري ناټیکنومځري چې له آره کړولونه، په تېره اړیککړولونه، پوښتکړولونه. پېژندچار پرځای کوونکی شمېر نوم (یو)، په یووستوې بڼه یا هم له دغو توکونو سره په ملتیا هم یو لړ ساده یا ترښتي ناټیکنومځري منځته راوړي.

۱۳- " **ځو** " : چې له آره زماني کړول او پوښتکړول دی، په دې غونډلو کې د یوه ناټیکنومځري پازه راخپلوي. لکه : "ځو" پېسې مې په کار دي، ځو کتابه مې په کار دي. له ناټیکنومځري "نور" او پېژند "یو" سره یو ترښتي ناټیکنومځری هم جوړوي. لکه : "ځو" مې واخېستل او "ځو نور" به وروسته واخلم. "یو ځو" کسه راغلل، "یو ځو نور" هم راځي.

۱۴- " **ځومره** " : بیا د اړیککړول او پوښتکړول د پازو ترځنگه کله ناکله د ناټیکنومځري پازه هم پرغاړه اخلي. لکه "ځومره" مې چې لگېدل، وامې خېستل. د "هر" ناټیکنومځري په ملتیا ترښتي ناټیکنومځری رامنځته کوي. لکه : "هرځومره" دې چې په کار وي.

۱۵- " **ډېر** " او " **لږ** " ستاینوم د ناټیکنومځري په دریځ کې هم هغه مهال راځي چې ترمخه یې اړوند ځیز نوم یا نومځری راغلی وي. لکه : " ډېره " لاړه، " لږ " ولاړه: "ډېر" ولاړل او نور هم پسې روان دي. له "نور" ناټیکنومځري سره. لکه : "نور ډېر" یا "ډېر نور" هم راغلل.

۱۶ - **نور ستاینومونه**. لکه : "بهرني" راغلل خو "کورني" لا نه دي راغلي.

۱۷ - **شمېر نومونه** هم که د مخنی نغوتې یا قرینې له مخې ځانته وکارول شي، پر ناټیکنومځرو بدلېږي. لکه: یو راغی بیا دوه راغلل، پسې درې شول، ځلور شول. هسې خو "یو" د ناپېژند

وييکی (نکرې) په توگه له هر شمېرنوم او ځيزنوم سره ناټيکنومځری رامنځته کوي. لکه: يو دوه، يو لس، يو زر ... (افغانی مې په کار دي) يا يو شمېر (کلي وران شول)، يو موټی (خاوره)، يوه برخه (کار)، يو اندازه (پېسې، اوړه ...) .

پر دغو پورتنيو آرو او څېرمه ناټيکنومځرو سربېره يونيم توکی او وييکی هم دغه دريځ راخپلوي - " دا " چې له آره يو نغوتنومځری (←) دی او د گڼې له پلوه ناوړېدونی، د انگريزي " it " يا جرمني " es " غوندې د يوې ړومبنی څېرمې غونډلې د يوه ناجوت (مُبهم) کړند (فاعل) په توگه داسې راڅرگندېږي :

" دا " ناشونې ده چې نن درشم .

" دا " به څومره نازغمه وي چې کلونه کلونه تا ونه وينم .

" دا " څه تيوکې نه دي چې ځان د زمري په خوله کې ورکړې .

همدارنگه بېلبنتي نغوتنومځری " داسې " هم درواخله، لکه :

" داسې " برېښي چې نن هوا ښه شي ...

۱۰ - گډ تولنومځری (اشتراکي ضمير) :

پښتو له "خپل" څخه پر نورو پازو سربېره د يوه تولنومځري (ملکي ضمير) کار هم اخلي او دا چې د درو واړو وگړو لپاره راځي، نو گډ تولنومځری (مشترك ملکي ضمير) بلل يې غوره دي، لکه شپون خپله رمه پيايي، رمه خپل شپانه وپېوله، هرڅوك په خپل کار کې خوښ دي، ځبنې خلك خپل ځان نه پېژني، ځلمی په خپله خونه کې کار کوي، خوازك خپل کورته ناوخته ځي، خوازك له خپل ورور سره ښار ته ولاړ، بري له خپلو ملگرو څخه مننه وکړه، بريالی له خپلې خوښې څخه نه اوړي، ځبنې په خپله گناه نه پوهېږي .

خپل د پېژند او ناټيك ستاينوم په توگه هم کارول کېږي، لکه: خپله لاسه، گله لاسه! چې بيا هم پکې د تول (ملکيت) جاج (مفهوم) پروت دی. په بيا ځلي ډول لکه په مخني بيت کې: (هو، هرسړی پيدا دی خپل خپل کار لره کنه) "خپل" د نورې او پېر له مخې بشپړ اوړون لري، خو د گڼې له مخې نه، له "ځان" سره غبرگون نومځری جوړوي، لکه: خپل ځان مې ژوبل کړ. او له دې سره سره د هماغه تولوالي او پېژندوالي دنده هم څرگندوي .

۱۱ - تول - ځانگړي نومځري (شخصي - ملکي ضميرونه) :

چې د غبنتليو تولنومځرو او غبنتليو ځانگړو يا نغوتنومځرو په يو ځای کېدو سره جوړېږي او په دې توگه پر يوه وخت د دوو دوو نومځرو دنده پرځای کوي، له همدغه امله دوه اړخيزه اوړون لري

او هغه هم د نوېږي. گڼې. پېر او وګړي له مخې چې ځانګړي نومځري ورسره يوازې په درېیم وګړي اړه لري. لکه:

۱ - تولنومځري + يو ګړي ځانګړنومځري :

ګڼه / وګړي	يو ګړی	ډېر ګړی
۱	زما دی - هغه (ده - هغه ∂) زما دا - هغه (دې - هغې)	زموږ دی - هغه (ده - هغه ∂) زموږ دا - هغه (دې هغې)
۲	ستا دی - هغه (ده - هغه ∂) ستا دا - هغه (دې - هغې)	ستاسې دی - هغه (ده - هغه ∂) ستا دا - هغه (دې - هغې)
۳	د ده دی - هغه (ده - هغه ∂) د هغه a دی - هغه (ده - هغه ∂) د دې دی - هغه (ده - هغه ∂) د دې هغه - هغه (ده - هغې)	د دوی دی - هغه (ده - هغه ∂) د دوی دا - هغه (دې - هغې)

۲ - تولنومځري + ډېر ګړي ځانګړنومځري :

ګڼه / وګړي	يو ګړی	ډېر ګړی
۱	زما دوی - هغوی	زموږ دوی - هغوی
۲	ستا دوی - هغوی	ستاسې دوی - هغوی
۳	د ده دوی - هغوی د هغه دوی - هغوی د دې دوی - هغوی د هغې دوی - هغوی	د دوی دوی - هغوی

۳ - تولنومځري + لنډ يو ګړي نغوتنومځري :

ګڼه / وګړي	يو ګړی	ډېر ګړی

١	زما دغه -	دغه ∂ - دغې	زموږ - دغه -	دغه ∂ - دغو
٢	ستا دغه -	دغه ∂ - ~	ستاسې دغه	دغه ∂ - دغو
٣	د ده دغه -	دغه ∂ - ~	د دوي دغه	دغه ∂ - دغې
	د هغه دغه -	دغه ∂ - ~		
	د دې دغه -	دغه ∂ – ~		
	د هغې دغه -	دغه ∂ - ~		

۴ - تولنومځري + لر يو ګړي نغوتنومځري :

ګڼه / وګړی	يو ګړی		ډېر ګړی	
١	زما هغه -	هغه ∂ - هغې	زموږ - هغه -	هغه ∂ - هغې
٢	ستا هغه -	هغه ∂ - ~	ستاسې هغه	هغه ∂ - هغې
٣	د ده هغه -	هغه ∂ - ~	د دوی هغه	هغه ∂ - هغې
	د هغه هغه -	هغه ∂ - ~		
	د دې هغه -	هغه ∂ – ~		
	د هغې هغه -	هغه ∂ - ~		

۵ - تولنومځري + لالر يو ګړي نغوتنومځري :

وګړی ګڼه	يو ګړی	ډېر ګړی
١	زما هوغه - هوغه ∂ - هوغې	زموږ هوغه - هوغه ∂ - هوغې
٢	ستا ~ ~ ~	ستاسې ~ ~ ~
٣	د ده ~ ~ ~	د دوی ~ ~ ~
	د هغه ~ ~ ~	
	د دې ~ ~ ~	
	د هغې ~ ~ ~	

او همداسې ملګري نغوتنومځري هم دېرګړي کېږي. خو يوازې له اوښتي دېرګړي پېر سره پايله بدلوي. لکه زما يا زموږ مېلمنو ډوډۍ وخوړه ؛ زما ، يا زموږ هغو هم وخوړه . دا دی د تول + ځانګړنومځرو د پوره ځرګندتيا لپاره ځو بېلګيزې غونډلې وړاندې کوو :

اېمل :	زما زوی ناروغ دی .
خوشال :	زما هغه هم ناروغ دی .
اېمل :	زما زوی ښوونځي ته ځي .
خوشال :	زما دی لاکوشنی دی .
اېمل :	زما وراره ښوونځی ووايه .
خوشال	زما هغه ∂ هم ووايه .
اېمل :	زما ماما آس واخېست .
خوشال :	زما هغه ∂ هم واخېست .
اېمل	زما ورور ځلمي ته يو ليکی ورکړ .
خوشال	زما ده هم هغه ∂ ته يو ليکی ورکړ - زما هغه ∂ هم هغه ته يو ليکی ورکړ .
اېمل :	زما زامنو ښوونځی پای ته ورساوه .
خوشال	زما " دغو " يا " هغو " هم پای ته ورساوه .
اېمل :	زما ليکی ځلمي واخېست .
خوشال	زما دا زمري واخېست. زما هغه زمري واخېست زما دا هم ده واخېست. زما هغه هم هغه واخېست
اېمل .	زما ورځنۍ ګټه سل افغانۍ ده .
خوشال :	زما دا دوه سوه افغانۍ ده .
اېمل :	د ده کور لرې دی .
خوشال :	د ده دا نژدې دی. د ده هغه هم لرې دی :
اېمل :	د هغه مور ناروغه ده
خوشال	د هغه هغه هم ناروغه ده (د هغې هم ناروغه ده)
اېمل :	د دې ورور زما ټولګيوال دی .
خوشال	ستا دی بيا زما ټولګيوال دی
اېمل :	زما مور وپلار مړه دي
خوشال	زما هغه ژوندي دي .
اېمل .	زما مور وپلار کوم رسمي کار نه لري .
خوشال	زما دوی هم کار نه کاوه (زما هغوی هم کار نه کاوه)
اېمل	زموږ کلی له ښاره لرې دی .

خوشال	زموږ دا هم له ښاره لرې دی
ايمل	زموږ هغه دومره لوی نه دی
خوشال	زموږ دا ستاسي له هغه څخه ډېر لوی دی
ايمل	د دويم ټولګي شاګردانو کتابونه نه دي اخيستي
خوشال	د لومړي ټولګي هغو هم نه دي اخيستي
ايمل	د درېيم ټولګي شاګردانو خپل کتابونه بېرته ورکړي دي
خوشال	د څلورم ټولګي هغوي خپل هغه بېرته نه دي ورکړي

کړاوونه :

۱ : ګړپوهه له څه نه غږېږي ؟
۲ : ګړپوهه لومړی پر کومو دوو څانګو وېشل کېږي ؟
۳ : د اوړېدونو ګړونو څانګه کومې برخې رااخلي ؟
۴ : نوم ګړپوهه له څه نه غږېږي ؟
۵ : د نوم اوړون (اسمی ګردان) اړخونه کوم دي ؟
۶ : نوم څه ته وايي او کومې څلور ډلې رااخلي ؟
۷ : څيز نوم او ستاينوم څه توپير سره لري ؟
۸ : نومځری څه ته وايي او په پښتو کې پرڅو ډلو وېشل کېږي .
۹ : نومځری (ضمير) د څو اړخو له مخې اوړون مومي ؟
۱۰ : په لاندې ټوټه کې هر ډول نوم نښه کړئ او ونوموئ !

بارك له ما څخه يو ليکی وغوښت، خو ما ترې وژغوره، ځکه ټولګی يې راڅخه ښېل دی. په ښوونځي کې د ده دا دريېم کال دی او زما (دا) دويم. له يوه ټولګيوال سره يې چال چلند سم نه دی. دی خورا چوغلګر دی او د يو بل خبريال. د يوه خبره يوه ته وړي او د بل، بل ته. کله يې له يوه سره اخ و ډوب وي او کله يې له بل سره. څوك ترې ارام نه دي. له هرچا سره چې يوځل کښېني، بيا يې ورته ويار او بد وايي .

د غله په غره کې ځای نشته. پر بد بوټي سپی هم متيازې نه کوي. هرسړي ته په کار دي چې خپل کار ته پام ولري او د بل په کار کې ځان ګډ نه کړي . ويښياران وايي :
د خوارې کونډې زويه – خپلې روټې زويه (ژويه) !

۱۱ : ناوښتوني نومونه کوم دي ؟
۱۲ : د نرينه نومونو پاېلې کومې دي ؟
۱۳ : ښځينه نومونه په څه پېژنئ ؟
۱۴ : آن، يان، ګان او آنې، ګانې سره څه اړيکي لري ؟
۱۵ : د ننډرور، پور، ترور، نړور، ډېرګړي وښياست !
۱۶ : د "مور او لور" ډېرګړي څه راز دي ؟
۱۷ : اوښتوني نومونه کومو نومونو ته ويل کېږي، څنګه او کله اوښتنه مومي ؟
۱۸ : (زما دا) يا (زما هغه) په کومو نومځرو کې راځي ؟
۱۹ : " ما " او " تا " کله د کړي (مفعول) دريځ راخپلوي ؟
۲۰ : ناټيکنومځري راوپېژنئ او وليکئ !
۲۱ : نغوتنومځري څنګه اوړون (ګردان) مومي ؟
۲۲ : (را – در – ور) څه راز نومځري دي او په کومو وګړو اړه لري ؟
۲۳ : په پښتو کې درملونه او ټېرنومونه يو ګړي دي که ډېر ګړي ؟
۲۴ : په پښتو کې معلومات او بين النهرين يو ګړي دي که ډېر ګړي ؟
۲۵ : په پښتو کې ژبنومونه ولې يو ګړي ښځينه دي ؟

دويمه برخه :

کړ ګړپوهه - د فعل صرف - *Conjugation*

په کړ ګړپوهه کې د کړ له راز راز ډولونو او اوړونونو (ګردانونو) څخه خبرې کېږي.

کړ : هغه ویی (لغت) دی چې د زمانې په چوکاټ کې د یو څه پېښېدنه څرګندوي.
دا چې د کړ جاج (مفهوم) بې د زمانې له ملګرتیا نه پوهېدل کېږي، نو ځکه کړ ته مهال ویی هم وايي

۲-۲۸: کړ نوماند یا کړنومی (مصدر) :

په پښتو کې یو کړ په مصدر (کړنوماند یا کړنومي) نومول کېږي. لکه چې وايو : د "وهل" کړ یو لېږند (متعدي) کړ دی. که نه په کار وه، هر کړ د خپلې ولی، لکه اوه - په نامه یاد شوی وای. عربي مصدر په اروپايي پېښو " ناپای " هم راپښتو شوی (پالوال ۵-۱۰ مخ) او هغه په دې لاسوند چې یو ناپای Infinitive کړ دی، یا په بله وینا ، یوه ټاکلې اوړوني بڼه (صیغه) نه راڅرګندوي، بلکې د نوم غوندې له زماني اړوندی ازاد دی او دا چې یوه ناپایه کړنه او پېښېدنه څرګندوي، نو ښايي له همدې لاسونده ورسره په پښتو کې د یوه ډېرګړي (نرینه) چلند کېږي او همداسې اوړون مومي .

د کړنوماند (مصدر) جوړښت او دنده :

په پښتو کې یو کړنومی په یوه یوګړیز (یو مورفمیز) روستاړي (- ل) پېژندل کېږي، دغه روستاړی چې لرو ډېر د دویم یا تېرمهال بنسټ د روستاړي په توګه هم راڅرګندېږي. په کړولی (فعلي ریښې) پورې سیده نښلي. په دې آړ (شرط) چې ګړ ساده، یا په بله وینا ، یو ګړیز یا یو مورفیمیز

وي او که بېلبنتي او ترښتي (اشتقاقي او ترکيبي) وي، نو په ستمې يا مونډ (stem) پورې نښلي، نه په کړ ولی پورې، لکه: موندل، وهل، خوړل په مونډ پورې، لکه : غورځول، اوبول، کښېناستل، پرېوتل، يوځای کول، لاس ته راوستل، تود تود کېدل، نبغ نبغ کېدل، پوخلا کېدل يا کول . . .

د کړنومي يا مصدر دنده همدا ده چې يو کړ ونوموي، کټ مټ، لکه: ونه، ډېره، سړی، کندهار ... دا چې مصدر د يو څه کړنه او پېښېدنه څرګندوي، نو د کړنې او پېښېدنې نوم دی، نه د کړ آره (منشا) يا "صدورځی"، ځکه زماني او نور اوړوني اړخونه نه لري دا چې دوديزو ژبپوهانو "مصدر" بللی او بيا يې له خپلې وييزي (لغوي) مانا سره سم د کړ د بېلا بېلو بنو (زېرند) او يا بنسټ بللی دی، يو بې سروبوله خبره ده. (ړښتين : ۱۳۲۷ او ۱۳۴۴)
د کړ بنسټ هماغه کړولی (فعلي ريښه) ده چې پخپله مصدر ترې د (- ل) په ورنښلولو جوړېږي

که مصدر په رښتيا سره د ټولو فعلي بېلونو او بڼو بنسټ او زېرند وای، نو بايد په هره بڼه کې روغ رمټ پاتېدای، حال دا چې موږ ګورو، يوازې کړولی (فعلي ريښه) په هره بڼه کې خپل شتوالی ساتلای شي، لکه : "وه" په "وهم"، وهو، وهې، وهي، وهئ يا وواهه، وهلی دی او داسې نورو کې له دې کبله د مصدر پرځای "کړ نومی" يا "کړ نوموونکی" ويل په کار دي، ځکه چې همدغه "نومول" يې دنده ده.

که د مصدر نومونه (اصطلاح) پر يوه کړ نوم واړوو، بنايي له نورو ډېرو کړ نومونو سره يې ګډون راشي، لکه خوړنه، خوړانه، خوړنګ، خوړونکی، خوړلی، خوړ، خوړين، خوروونکی، خورولی، خورند، خورنده، خورندی، خوری، خورکه او داسې نور چې د خوړل غونډې له "خوړ" او "خور" ولی ريښې څخه جوړ شوي دي

د ښښو مصدر د يوه نوم په توګه تل ډېرګړی نارينه دی او يوازې د پېر (حالت) له مخې اوړون مومي، لکه
ډېرو لوستلو ستومان کړم، يا د عبدالقادر خټک په لاندې شعر کې :
مه شه خوښ د پادشاهی پرتخت (ختلو)
همېشه يې غم کوه د (پرېوتلو)

د کړ اوړوني توکونه او اړخونه یا ټولۍ (کټېګوري) :

یو اوړون موندلی (ګردان شوی) کړ تر څوارلسو توکونو پورې په جولیز او ښکاره ډول یا ناجولیز او ناښکاره ډول پخپل ځان کې راځایولای شي، چې څه ناڅه د هماغو له مخې راز راز ښې او اوړون مومي او هغه ښې دا دي :

۱ - مخکړ Preverb : چې د کړ یو بشپړوونکی او پلو ټاکونکی توک (جز) ګڼل کېږي، لکه : کښې -. په "کښېناستل" او "کښېوتل" کې او "پرې" په پرېوتل او پرېولل یا پرېمینځل کې

۲ - کړولی یا کړ بنسټ *Verbal root* : چې د کړ رېښتینی بنسټ دی، لکه خور-√ یا خوړ -√ په خورم، خورو، خوري ... او وخوړ، خوړای، خوړلای او داسې نورو کې . خوړ - هم له آره خور دی چې د تېرمهال لپاره یې راوروسته " - ر " پر " - ړ " اوښتې ده . په بله مانا . دلته له غږیز بدلون سره ګړیز بدلون هم راغلی دی چې دې راز بدلون ته مورفو — فونیمیکي بدلون وایي

کړولی پر دوه ډوله ده : یوه لومړی یا وسمهال (حال) ولی، لکه : خور-√ او وین√ بله دویمه یا تېرمهال (ماضي) ولی، لکه: خوړ -√ او لید -√. دا دواړه (ولی) په ګډه د یوه راز کړ. اوړون (ګردان) بشپړوي. او سترمهال کړ (مستقبل فعل) کومه جلا ولی یا بنسټ نه لري، بلکې هماغه وسمهال ولی یا لومړی ولی ورسره شریکه ده. دویمه ولی، یا په سهې مانا، "بنسټ" پر دې سربېره چې ګرد تېرمهال کړونه ترې جوړېږي، د وسمهال او سترمهال بېچار کړونه (مجهول افعال) هم ترې جوړښت مومي. کړ نومونه بیا له دواړو ولیو څخه لرو ډېر منځته راځي .

د کړنومي یا مصدر جوړښت زیاتره له تېرمهال بنسټ څخه دود لري، لکه: خوړل، لیدل . دلته لیدل له لید -√ ولی څخه جوړ شوی چې دویمه یا تېرمهاله ولی بلل کېږي او لومړی یا وسمهال ولی یې وین - ده . د دغو ولیو پارسي انډولونه د ید-√ او بین -√ دي . په زړه پارسی کې د بین -√ پخوانی بڼه وین√ وه) .

۳ - ستېه *Stem* : ستېه یا مونډ د یوه ګردان شوي کړ هغه برخه ده چې له کړولی او یوه بل ګرداني توکه رغېدلې وي، په بله وینا، که له ګردان شوي کړ څخه مخکړ یا بل مخنی توك (لکه و -wa) او وګرېزه پایله لرې کړ شي، د کړ ستېه پاتېږي. پښتو کړپوهه، یا په بله مانا. کړ اوړون د نورو نومهالو آریاني ژبو غوندې د دوو ګورو (متقابلو) ستېو پربنسټ ټیکاو لري. یوه وسمهالې او بله تېرمهالې ستېه. وسمهالې ستېه یا یووستوې، یا په بله ژبه، له کړولی سره برابره وي، لکه: په خورم، خورو ... کې، یا یو ساده توك یا ښښه (- ېږ -) په نالېږند کړ (نخښېږم، کښېږم) یا لکه (او - aw) په لېږند کړ او لېږند چار کړ (اچولوم، اچوو ... یا نخوم، نخوو ...) کې تېرمهالې ستېه

هم، یا یووستوې. یا په بله وینا ، له کړولې سره برابره وي، لکه : په (و) پېره، (و)پېرل ... کې، یا یو ساده نبنه لري. لکه " – ید – " په نالېږند کړ، لکه (و)رسېدم، (و)رسیدو ... کې د ستې دغه رغنده توك چې له وسمهالي " – ېږ – " سره انډولتیا لري، په لېږند تېرمهال کړ کې پر (- ل - al) اوړي او په ښځنو ګړدودو کې دواړه غبرګ کاُرول کېږي، لکه په (و)رسېدلم، (و)رسېدلو ... کې ښځې یووستوې وسمهالې او تېرمهالې ستې سره یوازې په یوه ناڅیز مورفو- فونیمیکي بدلون توپیر مومي. یا په بله وینا ، کوشنۍ ترینې جوړې (⟵) رامنځته کوي، لکه خور-/خوړ- او مر- مړ- په وخوري / وخوړ او ومري / ومړ کې.

د مکنزي (۵۵۹ مخ) د اړوندو څرګندونو له مخې د تېرمهالې ستې نښه له آره په زړې ببچاړ کړ نوموالي (صفت مفعولي Perfect passive participle) پایلې (- ته - ta -) پسې څې چې هغه خجن (- ل - al -) دی او زیاتوي، سره له دې چې په پښتو کې تر بلې هرې هممهالې آریاني ژبې فونېتیکي پرمختیاوو د پخوانۍ غابنیزې ستې ببلتیا (ممیزه) ګردسره غورځولې او یا یې پر (- ل -) اړولې ده . خجن (- ل al – > اتي ati -) چې له کړنومیزې (مصدري) پایلې سره سمون خوري او په ټولیز ډول یې نالېږنده وسمهالې نښه (ېږ -) او ورسره لړو ډېر جوړه کېدونکې تېرمهالې انډول (- ید -) ښکارندویې کوي، له آره د تېرمهال ګرداني توك ګڼل کېږي، خو لړو ډېر د ګړدودي لاسوند او اسانتیایي آر له مخې په کره لیکنۍ پښتو کې ترکېدونه غورځول کېږي او پرځای یې خپلواکونج یا واولي بدلون (ablaut) د ګرداني پایلو لپاره بس ګڼل کېږي، لکه په دې وروسته ګردانونو کې . دلته د بېلګې په توګه ګورو چې د لېږند کړ (خوړ -) او نالېږند (راتل – راغل -) د بشپړ او نابشپړ تېرمهال یوګړی نرینه بې (ل -) اوړون مومي (وخوړ، خوړ او راغی، راته) او ښځینه هغه که یوګړی دی، که ډېرګړی، (- ل) توکی یوازې په نالېږند هغه کې غورځوي او په لېږند کې دا پېښنه ډېره لږه ده .

یا په بله وینا ، په بشپړ او نابشپړ لېږند تېرمهال کې د نرینه یوګړې پایله تل بې (- ل) راځي او ښځینه یوګړې او ډېرګړې هغه په ټولیز ډول له (- ل) سره راځي او هسې یوه نیمه بېدودي (استثنا) نبیي، په داسې اکر کې چې له نالېږند هغه سره یې بیا په سرچپه ډول نوموړی توك په ټولیزه توګه غورځي او چېرې یوه نیمه بېدودي رامنځته کړي، دغو لاندېنیو بېلګو ته ځیر شئ :

(و)رټله، (و)غندله، (و)ستایله، (و) کېنله، (و)کښله، (و)شنله، (و)څېړله، (و)وهله ... مګر : (و)ابسته، نه ابسته، (و)خوړه، (و)لیده، (و)کته، (و)لوسته، راوسته، راوړه، یووړه، (و)کړه، (و)رغېده ... راځي .

په " کښېناستل " کې " – ناست – ". یا په بله وینا ، " ناستل – " دویمه (تېرمهال) ستېه ده، او "کښې -" مخکړ دی . په "اخېستل" کې "اخېست –"، په "اغوستل" کې "اغوست –"، په "پاڅېدل" کې "پاڅېد –" او په "ثملاستل" کې "ثملاست –" ستې ګڼل کېږي چې زیاتره یې " – ل " نه ملګری کېږي. یا په بله مانا ترې لوېږي . مګر په : راغله، راتله کې هاغه ستېه بیا راڅرګندېږي.

ډېرګړی نرینه بیا په دواړو لېږندو او نالېږندو (او بشپړو او نابشپړو) تېرمهالو کې په ټولیز ډول پر (- ل) پای ته رسي او چېرې په یونیم ګړدود او بیا ځېنو کړو په تېره نالېږندو هغو کې (- ل) غورځي او یوازې اړوند زورکی یې پاتې کېږي. په لېږند کې، لکه: ما پنځه غله (و)لیده. (و)اخیسته. (و)نیوه. (و)کړه. (راکړه. درکړه. ورکړه). پرېوله. (و)اېسته.

په نالېږند کې. لکه: (خلك) پاځېده. (و)نځېده. (و)ګډېده. (و)شرمېده. څملاسته. کښېناسته. ولاړه. (و)لمبېده. (و)دربېده. (و)خاته. (و)زېږېده. وه (ول). (و)شوه یا (و)شو -(و)شول .... خو تر هرڅه له مخه یې له یوګړي سره د ګډون له کبله معیاري نه ګڼل کېږي. په (راغلل) او (راتلل) کې هرګوره د غبرګو "لامونو" راتګ ښایي د ترنمي موخې زېږنده وي. خو راوروسته لومړي "لامونه" د تېرمهال کړ بنسټ توك ګرځېدلي او دویمي د نرینه ډېرګړي د پایلې ښکارندویه دي چې په یو لړ ګړدودو کې غورځي او هماغه راپاتې ملګري زورکي یې استازي کوي. یا په بله وینا " راغله a " او " راتله a " ویل کېږي. ناویلې دې پاتې نه شي. په لنډ (قریب) او لر (بعید) تېرمهال کې چې له غځېدلي تېرمهال بېچار کړنوم (مفعولي حالت) څخه جوړېږي. (- ل) په ټولیز ډول د اړوند بېچار نوم د اړین رغنده توك په توګه خوندي پاتېږي او یوازې د یاد شویو (- ل) غورځوونکو کړونو تواني. اړوتي (شرطي)، ارماني او یوې نیمې بلې ناخبري بڼې (- ل) له لاسه ورکولای شي. لکه: (و)خوړای. (و)رسېدای. (و)کړای. (و)شوای. وای. که (و)ورېدای ... [د زیاتې شننې لپاره : مکنزي ۵۵۸ - ۵۶۲. سکېرو ۳۹۴ - ۳۹۶].

۴ - کړتړ : چې زیاتره د یوه خپلواك اواز په بڼه د مونډ او وګړیزې پایلې ترمنځ کله کله پېښېږي. لکه : (زورکی) په کښېناستم او پرېوتم کې.

۵ - دود ***Mood*** : د کړ د ځرګندولو ډول ښیي چې یا خبري وي یا ناخبري. خبري یا ګزارشي چې بې له اړینګ وخرخشې د یوه کړن خبر یا ګزارش ورکوي. لکه: ولاړم. څملاستم. ځم. څملم. ومې خوړ. خوړ مې. وخورم. ولاړ شم ... خبري کړ یا بشپړ (مطلق) وي. لکه: ولاړم. ولاړ شم. وخورم ... یا بشپړ (استمراري یا همپشنی). لکه: تلم. خوړ مې. ځم. خورم ... په ناخبري یا انشایي کې پوښتني. امري. تواني. ګوماني. ارماني. شرطي ... راځي چې یا بشپړوي یا نابشپړ.

۶ - ځېل ***Voice*** : چې د کړ (مُسند) او کړند یا کړي (مُسندالیه) ټاکنه کوي. په دې مانا چې کړ چاروال (معلوم) دی. که بېچار (مجهول). یا منځوال (انعکاسي) چاروال. لکه: ببرك زمری وهي. زمرك وهل کېږي. زمرك ځان وهي. په لومړۍ غونډله (جمله) کې کړ پر کړند (ببرك) استناد

کوي یا ډېره لګوي. په دویمه کې پر کړي (زمرك) او په درېیمه کې هم پر کړند او هم پر کړي، چې دواړه هماغه یو وګړی (زمرك) دی . څېل په جولیز او ناجولیز ډول د ستېې یو توك بلل کېږي.

۷ - لېږد : په دې مانا چې کړ لېږند (متعدي) دی، که نالېږند (لازمي)، لکه (سمندر وايي) او (سمندر راغی). لېږد په جولیز یا ناجولیز ډول د مونډ یوه برخه جوړوي. د لېږد جولېز توك د ستېې (→) پایله ده. یو نیم نالېږند کړ، لکه "پېڅندل" کېداې شي، د (را - در - ور -) په مټ پر لېږند واوړي.

۸ - اړخ *Aspect* : یا بشپړتیا او نه بشپړتیا (مطلقیت او نه مطلقیت) چې توك یې سرباړي (Augment) "و -" یا صفر دی . په دې مانا چې په ټولیز ډول له ساده بشپړو کړونو سره خجن (و - wə) مختاړی کېږي او له بېلبنتي او ترېنتي سره نه، بلکې پرځای یې د اړوند کړ لومړنۍ څپه خجنه کېږي. لکه په پرېمینځل، پرېوتل، پورېوتل، راتلل، راکول، درکول، ورکول ... او لاسته راوړل. ترسره کول ... کې څېنې ارکایېك (زاړه) بېلبنتی (مشتق) کړونه هم ترهمدې دود یا قاعدې لاندې راځي. لکه پاڅېدل یا څملاستل، که څه هم په یونیم ګړدود، لکه کندهاري هغه کې له پاڅېدم، پاڅېدو ... سره هم (و -) مختاړی کېږي .

۹ - مهال *Tense* : چې د کړ مهالي یا زماني اړیکی (ارتباط) څرګندوي، په دې مانا چې کړ په کوم مهال کې پېښ شوی دی، لکه : څوکری ولاړ، څوکری ځي، څوکری به ولاړ شي .

د پښتو کړ مهالونه په ټولیز ډول درې دي :

۱. تېرمهال : چې پر بشپړ، نابشپړ یا همېشني او روږدني، لنډ او لر وېشل کېږي.

۲. وسمهال : چې پر بشپړ، نابشپړ یا همېشني او روږدني وېشنه مومي

۳. وسترمهال : چې دا هم دوه ډوله دي بشپړ او نابشپړ .

د تېرمهال توك په ستېه کې راځي، لکه: په ودرېدم او درېدم کې دویم (- د -)، یا په ودرېږم یا ودرېږو کې (- ږ -) چې د یوه مورفونیمیکي بدلون ښکارندویه ده.

۱۰ - وګړي یا شخص Person : چې کړند یا کړی لومړی وګړی (متکلم) دی، دویم وګړی (مخاطب)، یا درېیم وګړی (غایب) دی . لومړی وګړی (زه - موږ) دویم وګړی (ته - تاسې) او درېیم وګړی (دی ... دوی) . د وګړي نښه چې وګړیزه پایله بلل کېږي، د کړ وروستۍ برخه جوړوي، لکه : (- م) او (- و) په " راغلم " او " راغلو " کې .

۱۱ - نوري يا جنس *Gender* : چې وګړی نرينه دی، که ښځينه . په پښتو کې يوازې د دويمې ولي په اوړون کې دغه توپير کېږي. لکه : شينکی راغله، ژېړی راغی : چې دلته ((زور)) او (- ی) نوريز توکونه دي : په دې توګه نوريز توك د وګړيزې پايلې يو ضمني توك ګڼل کېږي .

۱۲ - ګڼه يا عدد (افراد وجمع) *Number* : چې وګړی يوګړی (مفرد) دی. که ډېرګړی (جمع) . يوګړی، لکه : هلك راغی، ډېرګړی، لکه : هلکان راغلل . ګڼه يوازې په لومړي او دويم وګړي کې توپيرېږي نه په درېيم کې، لکه : هلك ځي. هلکان ځي

۱۳ - لېږند چار يا ضاعيت Causative : دغه کړ د لېږند کړ په څېر د aw- په پايله جوړېږي او يو لېږند کړ دويم ځلي لېږند (متعدي) کوي، لکه په پارسي خوراندن يا خواندن کې چې په دغه ژبه کې له (- ان) پايلې سره له هر کړ څخه جوړېدای شي . پښتو زموږ د څېړنې له مخې د ننګرهار ګړدود او خوشال خټك په لاسوند يوازې دوه لېږند چار کړونه لري، لکه : خورول (خواندان) او ويېول (ګوياندن) . په نورو کړونو کې دغه راز څرګندونه يوازې د وييکو (اداتو). يا په بله وينا . د سر بلي غونډونو (Phrase) په وسيله ترسره کېږي، لکه : ما پر ځلمي خپله خبره ومنله (من بر زلمی سخن خود را قبولاندم) . په دې توګه يو لېږند چار کړ دوه کړنده (فاعله) او دوه کړيه لري .

لکه په پورتنۍ بېلګه کې "ما" او "ځلمی". "کړندونه" او "خپله خبره" "کړی" ده او په يو مهال کې بيا "ځلمی" او "خپله خبره" دواړه "کړي" دي . څېړني "حکمي" لېږند کړونه بې له وييکو هم د لېږند چار دنده پرځای کوي، لکه : ما وژړوله، ما وخندوله او داسې نور . يا داسې هم ويل کېږي : ځلمي دورخانۍ پر خبرو راوسته . مانا دا چې خبرې يې پرې وکړې . واريګ دغسې دويم کس لکه "درخو" کړند نه، بلکې کړی او اړوند کړ بېچار بولي . په دې ډول په لېږند چار کې يو کړند او يو کړی راځي .

۱۴ - د (نفي يا نهي) توك، " نه " يا " مه " :

" نه " چې له امريه کړ پرته د نورو ټولو کړ ډولونو د نښې (نفي) لپاره راځي او زياتره، يا په بله وينا کره پښتو کې د مخکړ يا تړښتي او بېلښتي توك ترمنځ، لکه : په کښې نه ناست، پانه ځبد ، وانه خبست، رانغی کې " مه " چې په عربي يې د نهي حرف بولي، يوازې د دويم وګړي د منفي امر (نهي) لپاره د يوه نا تيرمهال کړ په سر کې راځي . له يوګړي نهي کړ سره، لکه : مه خوره. له ډېرګړي نهي کړ سره، لکه : مه خورئ .

کم اوړوني (حکمي متعدي) کړونه : پښتو داسې يوه ډله کړونه لري چې د نالېږند کړ غوندې کړند لري او کړی نه، خو په تېرمهال کې ورسره اړوند کړندونه کړند پېر راخپلوي. خو پخپله کړونه ورسره په هماغه يوه (نرينه ډېرګړي) بڼه اوړون مومي. لکه: (ما، تا، ده، دې ...ږ) ونخل، وګډل، وخندل، وژړل، وکتل، ولښل، ولمبل، وويل، ومنل، ودانګل، وترپلل، ولمبل، وځغاستل، وګوابښل ....

خو که نخېدل، ګډېدل، خندېدل، ژړېدل، لښېدل، ويېدل، مسېدل، ځغلېدل، ګوابښېدل ... وويل شي، بيا ورسره کړندونه هم پر آره بڼه يا پېر پاتېږي، لکه : ونخېدم، وګډېدم او داسې نور . [پښزل (۱۴۴ مخ) دغه راز کړونو ته "غيرشخصي متعدي فعلونه" وايي] .

د کړ اوړون پورتني ۱۴ ګوني اړخونه په لاندېنۍ بېلګه کې په يوځايي توګه ښوول کېږي :

راوګرځولم :

را -	- و - wə	...	ګرځ -	ول - awəl -	- کړتړ - ə -	- م
۱	۸	۱۴	۲	۵-۶-۷-۹.	۴	۱۰-۱۱-۱۲-۱۳
				۳		

اوړونونه (ګردانونه) :

لومړی - تېرمهال :

دا مهال له دويمې يا تېرمهالې ولۍ يا بنسټ څخه د نومړو څوارلسګونو توکونو او اړخونو په پام کې نيولو سره جوړېښت او اوړون مومي او لړو ډېر پکې (- ل) غورځي .

الف - له لېږند خوړ -، دويمې ولۍ يا بنسټ څخه .

يوم - خبري (*Indicative*) :

۱ - بشپړ تېرمهال (مطلقه ماضي) : دغه مهال د خوړ - له دويم يا تېرمهالي بنسټ " خوړ - " څخه زياتره د خجن " و " په مختاړي کولو، د وګړيزو پايلو په نښلولو او د ارګاتيف سېستم (۱-۱۲۲) په پام کې نيولو سره جوړېږي :

ځاروال

ګنه / وګړی	يو ګړی	ډېر ګړی
۱	ما وخوړ، وخوړه، وخوړل، وخوړې ...	موږ وخوړ، وخوړه، وخوړل، وخوړې ...
۲	تا ~ ~ ~ ~	تا ~ ~ ~ ~
۳	ده ~ ~ ~ ~	دوی ~ ~ ~ ~

بې چار

ګڼه / وګړی	يو ګړی	ډېر ګړی
۱	زه وخوړل شوم	موږ وخوړل شو
۲	ته وخوړل شوې	تاسې وخوړل شوئ - شواست
۳	دی وخوړل شو دا وخوړل شوه	دوي وخوړل شول دوی وخوړل شوې

غېرګوال

ګڼه / وګړی	يو ګړی	ډېر ګړی
۱	ما ځان وخوړ	موږ ځان وخوړ- ځانونه وخوړل
۲	ته وخوړل شوې	تاسې ځان وخوړ - ~ ~
۳	ده - دې ځان وخوړ	دوی ځان وخوړ - ~ ~

یادښت : لکه څنګه چې مو پاس ولیدل، د ارګاتیف سیستم (-) له مخې په تېرمهال کې چاروال کړ د بېچار کړ غوندې د کړي (مفعول) تابع دی، نه د کړند، لکه : ما ختکی وخوړ، ما ختکي وخوړل، ما هندوانه وخوړه، ما هندوانې وخوړې ... د بېچار هغه هم دلته د یادونې وړ ده چې د یونیم ګړدود او کره - لیکنې معیار له مخې په هر بېچار کړ کې ستاینوم پایله (- ی، - ې، - ي) غورځول کېږي او یوازې وګړیزې پایلې په مرستیال کړ (شول، کېدل) پورې بس ګڼل کېږي .

۲ - نابشپړ تېرمهال (استمراري ماضي) :

نابشپړ تېرمهال د بشپړوالي (مطلقیت) له (و -) پرته نور د بشپړ هغه غوندې جوړښت مومي. بېچار یې د بېچار کړ نوم په لنډون (خوړل) د مرستیال کړ (کېدل) په ملګرتیا جوړېږي او وګړیزې پایلې هم په دغه مرستیالکړ پورې نښلي:

چاروال

ګڼه / وګړی	يو ګړی	ډېر ګړی
۱	ما خوړ، خوړه، خوړل، خوړې	موږ خوړ، خوړه، خوړل، خوړې
۲	تا ~ ~ ~ ~	تاسې ~ ~ ~ ~
۳	ده، دې ~ ~ ~ ~	دوی ~ ~ ~ ~

بې چار

ګڼه / وګړی	یو ګړی	ډېر ګړی
۱	زه خوړل کېدم	موږ خوړل کېدو
۲	ته خوړل کېدې	تاسې خوړل کېدئ - کېداست
۳	دی خوړل کېده ∂ دا خوړل کېده a	دوي خوړل کېده ∂ - کېدل دوی چوړل کېدې - کېدلې

غبرګوال : ما څان خوړ، موږ څان خوړ ....

۳ - روږدنی (اعتیادي) تېرمهال :

دا هغه راز کړ دی چې د همېشوالي ترڅنګه د روږدتیا (اعتیاد) جاج (مفهوم) هم رااخلي، په دې توګه دې راز کړ ته روږدنی همېشنی کړ هم ویلای شو. له هسې عادي همېشني کړ سره یې توپیر دا دی چې تر کړوال غونډ له مخه پرې د (به) وییکی هم زیاتېږي:

چاروال

ګڼه / وګړی	یو ګړی	ډېر ګړی
۱	ما به خوړ، خوړه، خوړې، خوړل	موږ به خوړ، خوړه، خوړل، خوړې
۲	تا ~ ~ ~ ~	تاسې ~ ~ ~ ~
۳	ده ~ ~ ~ ~	دوی ~ ~ ~ ~

بې چار

ګڼه / وګړی	یو ګړی	ډېر ګړی
۱	زه به خوړل کېدم	موږ به خوړل کېدو
۲	ته به خوړل کېدې	تاسې به خوړل کېدئ، کېداست
۳	دی به خوړل کېده ∂ دا به خوړل کېده a	دوی خوړل کېده ∂ - کېدل دوی به خوړل کېدې، کېدلې

غبرګوال : ما به څان خوړ ...

۴ - لنډ تېرمهال (قریبه ماضي) :

د دې مهال کړ د چار او پېښنګ له مخې کله داسې وي چې په تېرمهال کې یومخیز بشپړ شوی وي او یا دا چې تر وسمهال هم څه ناڅه راغځېدلی وي . رغېدنګ یې دا ډول دی چې له بېچار کړ نوم یا ستاینوم (مفعولي – صفت) "خوړلی" سره مرستیالکړ (- ول) په وسمهال کې اوړون مومي

په بېچار کې يې پر دې سربېره دويم مرستيالکړ " کېدل " يا " شول " ورسره هم اوړون کوي او د دې لپاره چې وګړيزې پايلې په دواړو مرستيالکړونو پورې نښلي، نو د اسانتيا لپاره د بېچار کړ نوم پايلې ته اړتيا نه پاتېږي . همدا راز په لر تېرمهال بېچار کړ کې هم د بېچار کړ نوم (خوړلی) پای غورځي او د (خوړل) په بڼه پاتېږي چې ځينې دوديز پښويپوهان (ګرامر پوهان) يې له (مصدر) سره ګډوي، سره له دې چې د اړوندې پريکړې مخکښې همدوی پخپله ول :

چارول

گڼه / وګړی	یو ګړی	ډېر ګړی
۱	ما خوړلی دی، خوړلې ده خوړلي دي، خوړلې دي	موږ خوړلی دی، خوړلې ده، خوړلي دي، خوړلې دي
۲	تا ~ ~ ~ ~	تاسې ~ ~ ~ ~
۳	ده، دې ~ ~ ~	دوی ~ ~ ~ ~

بې چار

گڼه / وګړی	یو ګړی	ډېر ګړی
۱	زه خوړل شوی، شوې یم	موږ خوړل شوي، شوې یو
۲	ته خوړل شوی، شوې يې	تاسې خوړل شوي، شوې - یاست
۳	دی خوړل شوی دی دا خوړل شوې ده	دوی خوړل شوي دي دوی خوړل شوې دي

غبرګوال : لکه ما ځان خوړلی دی ....

۵ - لر تېرمهال (بعيده ماضي) :

د لر تېرمهال کړ ته هغه وخت اړتيا پرېوځي چې وروسته ترې بشپړ (کله هم نابشپړ) تېرمهال، يا لنډ تيرمهال کړ پېښ شوی وي . يا په بله وينا، لر تېرمهال کړ يو له دغو نورو ډلو تر کارېدنې وروسته کارول کېږي، لکه چې وايي :

ته پر لسو بجو راغلې (بشپړ) - او زه پر نهو بجو راغلی وم (لر)

يا ته پر لسو بجو راغلی يې (لنډ) ~ ~ ~ ~ ~ ~

د لر تېرمهال اوړون نور د لنډ هغه غوندې دی، خو دلته ورسره مرستيالکړ " ول " سم اوړون مومي:

چاروال

گڼه وګړی	یو ګړی	ډېر ګړی
۱	ما خوړلی وو، خوړلې وه خوړلي ول، خوړلې وې	موږ خوړلي وو، خوړلې وه، خوړلي ول، خوړلې وې
۲	ته ~ ~ ~ ~	تاسې ~ ~ ~ ~
۳	ده، دې ~ ~ ~ ~	دوی ~ ~ ~ ~

بې چار

گڼه وګړی	یو ګړی	ډېر ګړی
۱	زه خوړل شوی، شوې وم	موږ خوړل شوي، شوې وو
۲	ته ~ ~ ~ وې	تاسې ~ ~ ~ ~ واست
۳	دی خوړل شوی وو دا خوړل شوې وه	دوی خوړل شوي ول دوی خوړل شوې وې

غبرګوال، لکه : ما ځان خوړلی و ....

دویم - ناخبري (انشايي *Subjunctive*) :

ګوماني تېرمهال (احتمالي يا شکيه ماضي) :

په درست پښتو کړ اوړون کې يوازې لر تېرمهالکړ د شکيه وييکي "به" او د "ول" يا "اوسېدل" مرستيالکړ په اوړون او په ترخ کې د غاړې (لحن) په بدلون رغېدنګ مومي او په دې توګه يې همدومره له خبري هغه سره توپير کېږي . په داسې اکر کې چې د نورو ګردو تېرمهالو او ناتېرمهالو هغو لپاره د "به" پرځای جلا نحوي توکي (ګوندې . بنايي يا لکه چې) او يا هم کورته ځېرمه (چارتاکي ←) غونډله لاز هواروي، لکه څنګه يې چې بېلګې پرخپل خپل وار وړاندې شوي دي دا دی، دلته د همدغه لر تېرمهالکړ ګوماني اوړون په لاندې ډول مخې ته ږدو:

چاروال

گڼه وګړی	یو ګړی	ډېر ګړی
۱	ما به خوړلی، خوړلې، خوړلي، خوړلې وي (اوسي)	موږ به خوړلی، خوړلې، خوړلي، خوړلې وي (اوسي)
۲	تا به ~ ~ ~ ~	تاسې به ~ ~ ~ ~
۳	ده، دې ~ ~ ~ ~	دوی به ~ ~ ~ ~

	گڼه / وګړی	یو ګړی	ډېر ګړی
بې چار	۱	زه خوړل شوی، شوې (اوسم)	موږ خوړل شوي، شوې اوسو
	۲	ته به ~ ~ ~ اوسې	تاسې به ~ ~ ~ واست
	۳	دی خوړل شوی وي دا خوړل شوې وي	دوی خوړل شوي وي دوی خوړل شوې وي

غبرګوال : ما به ځان خوړلی وي ....

۲ - ارماني تېرمهال (تمنايي ماضي) :

چې د یوه ارمان څرګندونه کوي او د دود له مخې په بشپړ تېرمهال، نابشپړ تېرمهال، لر او ګوماني تېرمهال پورې اړه لري .

۳ - ارماني بشپړ تېرمهال (تمنايي مطلقه ماضي) :

چې د رغېدنې له مخې په بشپړ تېرمهال او د جاج او موخې (مطلب او مفهوم) له مخې په وسمهال پورې اړه لري . جوړېدنه يې د بشپړتيا (مطلقيت) "و -" (←) په مختاړي کولو او بيا د ټولو ګرداني بڼو لپاره چاروال د بېچار کړ نوم " مفعولي صفت " په اوړدولو او بېچار د پای په غورځولو او د مرستيال کړ " شول " د بېچار کړ نوم په اوړدولو " شوای " ترسره کېږي . دغه راز يې د زياتې څرګندتيا لپاره تر اېښني (مسنداليه) له مخه يا وروسته د (کاشکې) وييکی د یوه نحوي توک په توګه هم ملګری کېدای شي :

	گڼه / وګړی	یو ګړی	ډېر ګړی
چاروال	۱	کاشکې ما وخوړای	کاشکې موږ وخوړای
	۲	کاشکې تا ~	کاشکې تاسې ~
	۳	کاشکې ده - دې ~	کاشکې دوی ~

	گڼه / وګړی	یو ګړی	ډېر ګړی
بې چار	۱	کاشکې زه وخوړل شوای	کاشکې موږ وخوړل شوای
	۲	کاشکې ته ~ ~	کاشکې تاسې ~ ~
	۳	کاشکې دی، دا ~ ~	کاشکې دوی ~ ~

غبرګوال : کاشکې ما ځان وخوړای ...

۴ - ارماني نابشپړ تېرمهال :

چاروال يې بې د بشپړتيا (مطلقيت) له " و " د بشپړ هغه غونډې جوړېږي او بېچار يې بې له دغه " و - " د مرستيالکړ په بدلولو (شول پرکېدل) د بېچار بشپړ هغه غونډې راځي :

چاروال

گڼه / وګړی	يو ګړی	ډېر ګړی
۱	کاشکې ما خوړای	کاشکې موږ خوړای
۲	کاشکې تا ~	کاشکې تاسې ~
۳	کاشکې ده - دې ~	کاشکې دوی ~

بې چار

گڼه / وګړی	يو ګړی	ډېر ګړی
۱	کاشکې زه خوړل کېدای	کاشکې موږ خوړل کېدای
۲	کاشکې ته ~ ~	کاشکې تاسې ~ ~
۳	کاشکې دی، دا ~ ~	کاشکې دوی ~ ~

غبرګوال : کاشکې ما ځان خوړای ...

۵ - ارماني لر تېرمهال (تمنايي بعيده ماضي) :

چاروال يې داسې جوړېږي چې په بېچار کړنوم (مفعولي صفت) پسې د مرستيالکړ " ول " بېچار کړنوم اوږد " وای " راشي او بېچار يې د بېچار کړنوم په لنډولو او ورسره د " شول " په ګردانولو رامنځته کېږي :

چاروال

گڼه / وګړی	يو ګړی	ډېر ګړی
۱	کاشکې ما خوړلی، خوړلې، خوړلي، خوړلې وای	کاشکې موږ خوړلی، خوړلې، خوړلي، خوړلې وای
۲	کاشکې تا ~ ~ ~ ~	کاشکې تاسې ~ ~ ~ ~
۳	کاشکې ده، دې ~ ~ ~ ~	کاشکې دوی ~ ~ ~ ~

بې
چار

ګڼه / وګړي	يو ګړی	ډېر ګړي
۱	کاشکې زه خوړل شوی، شوې، شوي، شوې وای	کاشکې موږ خوړل شوي، شوې، شوي، شوې وای
۲	کاشکې ته ~ ~ ~ ~	کاشکې تاسې ~ ~ ~ ~
۳	کاشکې دی، دا ~ ~ ~ ~	کاشکې دوی ~ ~ ~ ~

غبرګوال : کاشکې ما ځان خوړلی وای ....

۴ - ارماني - ګوماني لر تېرمهال (تمنايي احتمالي ماضي) :

له عادي ګوماني لر تېرمهال سره د " به " په غورځولو د " وي " پر " وای " بدلولو او " کاشکې " په زياتولو توپيرېږي .

ګڼه / وګړي	يو ګړی	ډېر ګړي
۱	کاشکې ما خوړلی، خوړلې، خوړلي، خوړلې وای	کاشکې موږ خوړلی، خوړلې، خوړلي، خوړلې وای
۲	کاشکې تا ~ ~ ~ ~	کاشکې تاسې ~ ~ ~ ~
۳	کاکاشکې ده، دې ~ ~ ~ ~	کاشکې دوی ~ ~ ~ ~

اړوتی تېرمهال (شرطيه ماضي) : چې د يو اړوتي کړن لپاره اړ (شرط) څرګندوي . په دې توګه دا راز کړ د يو بل کړ لپاره اړ (شرط) برابروي، مانا دا چې که دغه کړ ترسره نه شي، هغه بل کړ هم کېدون نه لري، لکه: (که وريځ نه وي، باران نه کېږي)، يا که وريځ وي، (نو) باران کېږي، يا باران به وشي. دلته لومړی غونډله چې په اړ وييکي "که" پيلېږي، اړه څېرمه غونډله ده او دويمه اړوتې اره غونډله . ځنګه چې اړ (شرط) په هر کړ او کړن کې راتلای شي، نو د وسمهال غونډې په ټولو تېرمهالو کې راڅرګندېږي او هماغومره ډولونه لري :

۱ - اړوتی بشپړ تېرمهال : چې له خبري بشپړ تېرمهال څخه د " که " په مخکې کولو سره جوړېږي او په جاج (مفهوم) کې په وسمهال پورې اړه لري، لکه : که ما وخوړ، که موږ وخوړ، يا که ما وخوړای، که موږ وخوړای ....

۲ - اړوتی نابشپړ تېرمهال (شرطيه استمراري ماضي)، لکه : که ما خوړ، که موږ خوړ يا که ما خوړلای - خوړای، که موږ خوړلای - خوړای ....

۳ - اړوتی لنډ تېرمهال (شرطيه قريبه ماضي) : لکه : که ما خوړلی دی، که موږ خوړلي دي ....

۴ - اړوتی لر تیرمهال (شرطیه بعیده ماضي) :
لکه : که ما خوړلی وو، که موږ خوړلي وو یا که ما خوړلی وو، که موږ خوړلي وي ...
په دې توګه هر اړوتی تېرمهال په څېرمه (ضمني) ډول ګوماني، ارماني، هېښني ... هم کېدای شي.

تواني تېرمهال (امکاني یا اقتداري ماضي) :

چې د یوه کړ کېدون (امکان) یا نه کېدون ترې څرګندېږي . په پښتو تېرمهال کړ کې په ساده جولیز ډول یوازې بشپړ او نابشپړ هغه تواني کېدای شي او همدغه دوه ډوله تېرمهالونه په څېرمه توګه نور تېرمهالونه هم رانغاړي . رغېدنګ یې د بېچار کړ نوم د پای غبرګغږ په اوږدولو (خوړلای یا خوړای) او ورسره د مرستیالکړ (شول یا کېدل، یا دواړو) په ګردانولو ترسره کېږي .
۱ - تواني بشپړ تېرمهال : لکه ما وخوړلای شو - وخوړای شو، تا وخوړلای شو - وخوړای شو ...

۲ - تواني نابشپړ تېرمهال : لکه : ما خوړلای شو - خوړای شو، تا خوړلای شو - خوړای شو ...
۳ - اعتیادي : لکه : ما به خوړلای شو - خوړای شو، تا به خوړلای شو - خوړای شو ... په ناکره (کندهارۍ) پښتو کې - آی (-āy) پایله په آر او مرستیال دواړو کړو کې راوړي، لکه : ما به خوړای سوای ...

ټینګاري تېرمهال (تاکیدي ماضي) :

چې د کړ د ترسره کولو یا نه ترسره کولو ټینګار (تاکید) څرګندوي او یوازې په نابشپړ او لر تېرمهال کې راتلای شي :
۱) ټینکاري بشپړ تېرمهال : چې له چار کړنوم سره د "به"، "و" یا "وای" په ملګرتیا جوړېږي، لکه : ما به خوړلی وو یا ما به خوړلي وای او یا خوړلي به مې وو، خوړلي به مې وای . لکه چې پاس وویل شو، په کره لیکنۍ پښتو کې یوازې مرستیالکړ āy - آی پایله درلودای شي، نه آر یا آر او مرستیال دواړه. لکه څېنې چې وایې یا لیکي : ما به خوړلای وای ...
۲) ټینګاري نابشپړ تېرمهال : چې له اعتیادي سره په اهنګ کې توپیر لري، لکه: ما به خوړ، یا ما به خوړلای، ما به خوړای. کله کله یې "بویه" یا "باید" هم په سر کې راتلای شي او د پای لیکننبه یې هم ندائیه راځي، لکه: ما باید یا بویه خوړای.

۵ - هېښني تېرمهال (تعجبي ماضي) : چې په هېښنتیا (تعجب یا تحیر) سره څرګندېږي .
دا راز کړ یوازې په اهنګ کې له خبري هغه سره توپیرېږي، لیکننبه یې یوه بلننبه (ندائیه) ده . بېلګه، لکه : ما وخوړ!، تا وخوړ! ...

۶ - پوښتني تېرمهال (استفهامي ماضي) :

چې د یوه کړن پېښېدنه یا نه پېښېدنه پوښتي . دا هم له خبري کړ سره یوازې په اهنگ کې توپیر لري، په دې توگه چې د خبري کړ اهنگ له عادي خج یا اهنگ سره اوار پیل مومي او تېټ پای ته رسي او د پوښتني دا له یوه زیات پیاوړي خج، یا په بله وینا ، له یوه هوار اهنگ سره پیل مومي او په پای کې لوړېږي . پوښتني کړ په بشپړ تېرمهال، نابشپړ تېرمهال، لنډ تېرمهال، لر تېرمهال او تواني تېرمهال کې راتلای شي . پای لیکنښه یې یوه پوښتنښه (؟) ده .

۱) پوښتني بشپړ تېرمهال، لکه : ما وخوړ ؟ تا وخوړ ... ؟

۲) پوښتني نابشپړ تېرمهال، لکه : ما خوړ ؟ تا خوړ ... ؟

۳) پوښتني لنډ تېرمهال، لکه : ما خوړلی دی ؟ تا خوړلی دی ... ؟

۴) پوښتني لر تېرمهال، لکه : ما خوړلی وو ؟ تا خوړلی وو ... ؟

۵) پوښتني تواني تېرمهال، لکه : ما خوړلای شو ؟ تا خوړلای شو .... ؟

یا نابشپړ تواني، لکه : ما خوړلای شو ؟ تا خوړلای شو ... ؟

ب - نالېږند تېرمهالکړ :

نالېږند کړ (راتلل) له بشپړ اندو (سوپلتیفو) دویمو یا غبرگولو بنسټونو (راتل -)، (رات -) او (راغل -) او (راغ -) ځخه جوړېږي . " راغل - " او " راغ - " بشپړ (مطلق) او راتل – د نابشپړ (غیرمطلق) ستنه یا بنسټ هم بلل کېږي .

یوم - خبري :

چې له راغل - یا راغ - بنسټ ځخه جوړښت او اړوندن مومي .

۱ - بشپړ تېرمهال (مطلقه ماضي) :

گڼه / وگړی	یو گړی	ډېر گړی
۱	زه راغلم	موږ راغلو
۲	ته راغلې	تاسې راغلئ - راغلاست
۳	دی راغی (راغلئ) دا راغله	دوی راغلل (راغله) دوی راغلې(راغللې)×

×په لیندیو کې راغلې ځېلونه کره نه گڼل کېږي او یوازې په شعر کې راتلای شي .

۲ - نابشپړ تېرمهال (همېشنی یا استمراري ماضي) :

چې د " راغل - " له بشپړ اندې ملګرې یا غبرګولې ستې " راتل - " یا " رات - " څخه جوړېښت او اوړون مومي، په دې توګه چې وګړیزې پایلې په همدغه ولې پورې سیده نښلي :

ګڼه / وګړی	یو ګړی	ډېر ګړی
۱	زه راتلم	موږ راتلو
۲	ته راتلې	تاسې راتلئ - راتلاست
۳	دی راته (راتلو، راتلئ) دا راتله	دوی راتلل (راتله) دوی راتلې (راتللې)

۳ - لنډ تېرمهال : چې د لېږند کړي غوندې د بېچار کړنوم له انډول (راغلی) څخه د مرستیالکړ (ی -) او (د -) په ملتیا جوړېږي چې بېلا بېلې وګړیزې پایلې ورپورې نښلي :

ګڼه / وګړی	یو ګړی	ډېر ګړی
۱	زه راغلی یم، راغلې یم	موږ راغلي، راغلې یو
۲	ته راغلی، راغلې یې	تاسې راغلي، راغلې یئ، یاست
۳	دی راغلی دی، دا راغلې ده	دوی راغلي دي، دوی راغلې دي

۴ - لر تېرمهال (بعیده ماضي) : چې له لنډ تېرمهال سره په مرستیالکړ کې توپیر مومي، هغه دا چې دلته د " ول " ولې " و " پر کار لوېږي .

ګڼه / وګړی	یو ګړی	ډېر ګړی
۱	زه راغلی وم، راغلې وم	موږ راغلي، راغلې وو
۲	ته راغلی، راغلې وې	تاسې راغلي - راغلې وئ - واست
۳	دی راغلی وو، دا راغلې وه	دوی راغلي ول (وه)، دوی راغلې وې

۵ - روږدني تېرمهال (اعتیادي ماضي) : چې له نابشپړ تېرمهال څخه د (به) وییکی زیات لري، لکه : زه به راتلم، ته به راتلې ... .

دویم - ناخبري (انشايي Subjunctive) :

۱ - ارماني تیرمهال (تمنايي ماضي) :

چې په بشپړ، نابشپړ او لر تېرمهال پورې اړه لري او د موخې او جاج (مفهوم) له مخې زياتره په وسمهال پورې اړه نيسي . بشپړ يې له نابشپړ سره د بشپړتيا (مطلقيت) په " و- " توپيرېږي . بشپړ يې، لکه : (ولاړ لای) يا (ولاړ ای) . او نابشپړ يې، لکه : (تللای) يا (تللای) . لر يې د آر کړنوم د غبرگغږ د اوږدولو پرځای د مرستيالکړ " ول " هغه پر اوږده غبرگغږ اړوي . د يوه ارمان د پوره څرگندتيا لپاره د دواړو ډولو په سر کې د " کاشکې " وييکي د يوه نحوي توك په توگه هم راوړل کېدای شي .

۱) بشپړ ارماني :

گڼه / وگړی	يو گړی	ډېر گړی
۱	کاشکې زه (راغللای) راغلای	کاشکې موږ (راغللای) راغلای
۲	کاشکې ته ~ ~	کاشکې تاسې ~ ~
۳	کاشکې دی، دا ~ ~	کاشکې دوی ~ ~

۲) نابشپړ ارماني :

گڼه / وگړی	يو گړی	ډېر گړی
۱	کاشکې زه (راتللای) راتلای	کاشکې موږ (راتللای) راتلای
۲	کاشکې ته ~ ~	کاشکې تاسې ~ ~
۳	کاشکې دی، دا ~ ~	کاشکې دوی ~ ~

۳) لر ارماني :

گڼه / وگړی	يو گړی	ډېر گړی
۱	کاشکې زه راغلی، راغلې وای	کاشکې موږ راغلي، راغلې وای
۲	کاشکې ته ~ ~	کاشکې تاسې ~ ~
۳	کاشکې دی، دا ~ ~	کاشکې دوی ~ ~

۲ - توانی تېرمهال (امکانی ماضي) : چې په " تلل " غوندې نالېږند " کړ " کې په ساده ډول یوازې نابشپړ تېرمهال رااخلي او هغه هم په دې ډول جوړېږي چې د بېچار کړنوم انډول " تللی " پای غبرګغږ اوړدېږي او مرستیالکړ " شول " ورسره اوړون مومي .

ګڼه / وګړی	یو ګړی	ډېر ګړی
۱	زه (راتللای) راتلای شوم	موږ (راتللای) راتلای شو
۲	ته ~ ~ شوې	تاسې ~ ~ شوئ، شواست
۳	دی ~ ~ شو دا ~ ~ شوه	دوی ~ ~ (شول) شو دوی ~ ~ (شولې) شوې

۳ - ګوماني تېرمهال (شکیه یا احتمالي ماضي) : چې بشپړ، نابشپړ، لنډ او لر تېرمهال یې په دغو لاندې ډولو جوړېږي :

۱) بشپړ ګوماني : چې د " لکه چې " په ملتیا د خبري هغه غوندې جوړښت مومي، لکه :

ګڼه / وګړی	یو ګړی	ډېر ګړی
۱	لکه چې زه راغلم	لکه چې موږ راغلو
۲	لکه چې ته راغلې	لکه چې تاسې راغلئ، راغلاست
۳	لکه چې دی راغی لکه چې دا راغله	لکه چې دوی راغلل (راغله) لکه چې دوی (راغللې) راغلې

۲) نابشپړ ګوماني : چې له خبري نابشپړ تېرمهال څخه د " ګوندې "، " ښایي " یا " لکه چې " په ملتیا جوړېږي او د روږدني لپاره یې " به " هم ملګرې کېږي .

ګڼه / وګړی	یو ګړی	ډېر ګړی
۱	ګوندې، (ښایي یا لکه چې) زه راتلم	ګوندې، (ښایي، لکه چې) موږ راتلو
۲	~ ~ ~ ~ ته راتلې	~ ~ ~ تاسې (راتلئ) راتلاست
۳	~ ~ ~ ~ دا (راتلله) راتله	~ ~ ~ دوی راتلل (راتله) ~ ~ ~ (راتللې) راتلې

روړدني، لکه : زه به ګوندې (ښايي يا لکه چې) راتلم، ته به ګوندې راتلې ... (کږند لَه " به " سره تر شکيه توکو مخکې وروسته کېدای شي) .

۳) لنډ ګوماني : د بشپړ ګوماني غونډې په " لکه چې " يا " به " له خبري هغه سره توپېربړي .

ګڼه / وګړی	يو ګړی	ډېر ګړی
۱	لکه چې زه راغلی، راغلې يم	لکه چې موږ راغلي، راغلې يو
۲	~ ~ ته ~ ~	~ ~ تاسې ~ ~ (يئ) ياست
۳	~ ~ دی، دا ~ ~ ده	~ ~ دوی ~ ~ دي

يا : زه به راغلی يم ....

۴) لر ګوماني : چې له خبري هغه سره د " ګوندې "، " ښايي " يا " لکه چې " په سرباري کولو توپيربړي، لکه: ګوندې زه راغلی وم يا زه به ګوندې راغلی وم ....

۴ - تېنګاري تېرمهال (تاکيدي ماضي) : چې بشپړ، نابشپړ او لر راتلای شي او د موخې او جاج له پلوه زياتره په وسمهال اړه لري او د پوره څرګندتيا لپاره يې په سر کې " بويه " يا " بايد " هم ملګرى کېږي ؛ هرګوره " بويه " زياتره د کړ پرخای له مصدر سره راځي، هغه هم ترې وروسته :

۱) بشپړ تېنګاري : د " به " يا " بايد " په مختاړي کولو او د " - ای " په وروستاړي کولو له " راغلل - " يا " راغل - " څخه جوړېږي، لکه : زه به راغللای - راغلای، يا زه بايد راغللای، راغلای (راغای) .

۲) نابشپړ تېنګاري : چې د " به " يا " بايد " په مختاړي کولو او " - ای " وروستاړي کولو، له " راتلل " يا " راتل " څخه جوړېږي، لکه : زه به راتللای - راتلای يا - زه بايد راتللای - راتلای او داسې نور .

۳) لر تېنګاري : چې له خبري تېرمهال څخه د " به " په سرباري کولو د " به " ځای " بايد " يا " بويه " ونيسي، نو بيا د " ول " کړ نوم پای غبرګغږ ورسره، لکه ارماني هغه غونډې اوړدېږي، لکه:

زه باید راغلی وای - ته بویه راغلای وای، چې البته په درو واړو وګړو کې بیا نرینه او ښځینه سره توپیرېدای شي، د پای لیکښنه یې بلنښنه " ! " راځي .

۵ - پوښتني تېرمهال (استفهامي ماضي) : په دې مانا چې که په هر ډول تېرمهال کې پوښتنه راشي، نو پوښتني تېرمهال بلل کېږي . بشپړ، لکه : زه راغلم ؟ ؛ نابشپړ، لکه : زه راتلم ؟ ؛ لنډ، لکه : زه راغلی یم ؟ ؛ لر، لکه : زه راغلی وم ؟ او داسې پسې نور .

۶ - هېښني تېرمهال (تعجبي ماضي) : چې هېښتیا تري څرګندېږي او له پوښتني سره یوازې په اهنګ کې توپیر مومي، لکه : زه راغلم ! ته راغلې ! او همداسې په نورو تېرو مهالونو کې .

۷ - اړوتي تېرمهال (شرطیه ماضي) : چې په تېرمهال کې د کوم کړ پېښېدنه، یا نه پېښېدنه په یوه آړ " شرط " پورې تړلې وي . دا کړ نور تر پای پورې د خبري هغه غوندې رغېدنګ لري، خو په سر کې یې یو نحوي توك، آړ وییکي (شرطیه ادات) " که " راوړل کېږي، لکه : که زه راغلم، که زه راتلم، که زه راغلی یم، که زه راغلی وم ....

دویم - د وسمهال کړ اوړون (ګردان) :

وسمهالکړ دا مانا چې کړ هماغه مهال او یا یو څه وروسته پېښېږي چې یادونه یې کېږي . چاروال یې له لومړۍ ولۍ ستې څخه جوړېږي او بېچار یې له تېرمهال، یا په بله وینا ، له دویمې ولۍ یا ستې څخه چې په دواړو بڼو کې ورپورې ټاکلي اوړوني تاړي (تصریفي وندونه) نښلول کېږي . دغه تاړي د اېښې (مسندالیه) او د هغه د ګڼې څرګندونه کوي، نه د نوړي او مهال . دا مانا چې په چاروال لېږند او نالېږند ناتېرمهال کې نوړۍ نه توپېرېږي او مهال خو په خپلې ستې سره څرګندېدنه مومي .

الف - له لېږند خور -√څخه :

۱ - بشپړ وسمهال :

یوم - خبري :

چاروال خبري : چې له لومړۍ ریښې څخه زیاتره د بشپړتیایي (مطلقیت) "و -" په مختاړي کولو او د اړوندو نښلونو په زیاتولو لاس ته راځي، خو زیاتره د ناخبري (انشایي) کړونو لپاره پر کار اچول کېږي، لکه : که وخورم، باید وخورم، کاشکې وخورم، ګوندې وخورم، ودې خورم، ودې خوري، وخوره ! ... (←) . په ناخبري غبرګغونډلو کې، لکه : که دې خوښه وه، ډوډۍ سره

يوځای وخورو. کاشکې راشې چې ډوډۍ سره وخورو. گوندې ډوډۍ تياره وي چې ويې خورو ... په مرامي (فاينل) غبرگغونډله کې هم راځي، لکه: زه راغلم چې ستا غم وخورم :

گڼه / وگړی	یو گړی	ډېر گړی
۱	وخورم	وخورو
۲	وخورې	وخورئ
۳	وخوري	وخوري

بېچار : چې له دويمې ولې څخه د لاسته راغلي بېچار کړنوم په لنډون او له هغه سره د مرستيالکړ (شول) په اوړون جوړېنت مومي :

گڼه / وگړی	یو گړی	ډېر گړی
۱	وخورم	وخورو
۲	وخورې	وخورئ
۳	وخوري	وخوري

گڼه / وگړی	یو گړی	ډېر گړی
۱	وخوړل شم	وخوړل شو
۲	وخوړل شې	وخوړل شئ
۳	وخوړل شي	وخوړل شي

غبرگوال، لکه : ځان وخورم ....

دويم - ناخبري :

۱ - اړوتی بشپړ وسمهال (شرطی حال) : چې له خبري بشپړ وسمهال سره توپير يې يوازې د اړوييکي يا شرطيه ادات "که" په سرباري کولو څرگندېږي .

چاروال، لکه : که وخورم، که وخورې ....

بېچار، لکه : که وخوړل شم، که وخوړل شي ....

غبرگوال، لکه : که ځان وخورم، که ځان وخورې ....

۲ - **ارماني بشپړ وسمهال** : چې د (کاشکې) په مخکې کولو سره د خبري هغه غونډې رغېدنګ مومي :
چاروال، لکه : کاشکې وخورم، کاشکې وخورې ....
بېچار، لکه : کاشکې وخوړل شم، کاشکې وخوړل شې ....
غبرګوال، لکه : کاشکې ځان وخورم، کاشکې ځان وخورې ....

۳ - **پوښتني بشپړ وسمهال** : چې په رغېدنګ کې له خبري څخه یوازې د خج په پیاوړتیا او د اهنګ په لوړتیا کې توپیر لري . لیکنښه یې پوښتننښه ده :
چاروال، لکه : وخورم، وخورې ....
بېچار، لکه : وخوړل شم، وخوړل شې ....
غبرګوال، لکه : ځان وخورم، ځان وخورې ....

۴ - **هېښني بشپړ وسمهال** : له پوښتني هغه څخه یوازې په اهنګ او د غږېدونکي په اکر (وضع) بېلتون موندلای شي او لیکنښه یې د پوښتنې (؟) پرځای بلننښه (!) راځي .
چاروال، لکه : وخورم ! وخورې !
بېچار، لکه : وخوړل شم ! وخوړل شې !

۵ - **تواني بشپړ وسمهال** : چې له دویمې ولۍ څخه د لاسته راغلي بېچار کړنوم د پای غبرګغږ په اوړدولو او ورسره د " شول " په اوړونولو (ګردانولو) سره منځته راځي . د جولې له مخې له بشپړ تېرمهال سره کوم توپیر نه لري . چاروال او بېچار یې سره د کړند او کړي او نورو اړوندو توکو له مخې توپیرېدای شي . چاروال، لکه : زه غم وخوړلای شم ؛ بېچار، لکه : زه په غم وخوړلای شم ....

د آر کړ او مرستیالکړ پر بنسټ د چاروال او بېچار ګډ اوړون :

ګڼه / وګړی	یو ګړی	ډېر ګړی
۱	وخوړلای شم	وخوړلای شو
۲	وخوړلای شې	وخوړلای شئ
۳	وخوړلای شي	وخوړلای شي

۶ - امري بشپړ وسمهال : چې یوازې د دویم وګړي لپاره راځي، چاروال یې له لومړی ولی ځخه په ساده ډول او بېچار یې له دویمې ولی ځخه د لاسته راغلي بېچار کړنوم په لنډون او د مرستیالکړ " شول " په اوړون سره ترسره کېږي.
چاروال، لکه : وخوره ! وخورئ !
بېچار، لکه : وخوړل شه ! وخوړل شئ !

۷ - ټینګاري یا تاکیدي بشپړ وسمهال : چې له خبري هغه سره یې توپیر یوازې د ټینګار وییکي یا تاکیدي ادات (دې)، یا " بویه " او یا باید په ورزیاتولو ترسره کېږي.
چاروال، لکه : (له نومځرو سره)، لکه : زه دې وخورم ! ته دې وخورې ... !
بې نومځرو، لکه : ودې خورم ! ودې خوري ....
له باید سره،
بېچار، لکه : (له نومځرو سره)، لکه : ودې خوړل شم ! ودې خوړل شې !
بې نومځرو، لکه : ودې خوړل شم ! ودې خوړل شې !
له " بویه " سره، لکه : بویه وخورم، بویه وخوړل شم ...

۸ - غوښتني بشپړ وسمهال : چې د عایا ښېرا څرګندوي او یوازې په ناتېرمهال کې راتلای شي. د ټینګاري هغه او کله کله د امري هغه غوندې جوړېږي، خو پوره څرګندتیا یې په یوه غوند له (جمله) کې له نورو توکونو سره کېدای شي، لکه:
سر دې وخورم یا سر مې دې وخورم، سر دې وخوره ! یا په دغو متلو کې :
نه آشه ښه ده نه ګله، دوی دې وخوري یو تربله (میدان)
نه یوه ښه ده نه بله، دوی دې وخوري یو تربله (د هېلمند ناوه)

په پښتو کې زیاتره آر کړونه په ساده او یووستوي توګه د غوښتني لپاره راتلای نه شي او مرستیالکړونه او توکونه ورسره ملګري کېږي.
ساده، لکه : ومره ! ژوه ! (زنده باد).

ترښتي (ترکیبي)، لکه: ستړی مه شې ! خوار مه شې ! هرکله راشې ! خیر یوسې !
یا له (خدای) سره : خدای دې خوار مه کړه ! خدای دې وبښه، خدای دې ښه درسره وکړي ...

۹ - ګوماني بشپړ وسمهال : چې د اړنګ وییکو (شکیه اداتو) لکه " به "، " ګوندې " کړونو، غونډونو او یا ګرد سره غونډلو په مختاړي کولو له خبري هغه ځخه جوړېږي.

چاروال، لکه : ښايي چې و(به) خورم، گوندې و(به) خورم، لکه چې وخورم، کېږي چې وخورم، وبه خورم ..." به " دلته شکيه ويېکی راڅي چې په ترڅ کې تش په نامه وسترمهال (!) هم جوړوي.
بېچار، لکه : ښايي چې وخوړل شم، گوندې وخوړل شم، لکه چې وخوړل شم، گوندې وخوړل شم ....

۲ - نابشپړ وسمهال (غيرمطلق يا استمراري حال) :

يوم - خبري :

چاروال : چې بې له کوم مختاړي له لومړی کړولی سره د وگړيزو پايلو (ختامو) په ملتيا جوړېږي :

گڼه / وگړی	يو گړی	ډېر گړی
۱	خورم	خورو
۲	خورې	خورئ
۳	خوري	خوري

بېچار : چې له لنډ کړ شوي بېچار کړنوم " خوړل " سره، مرستيالکړ " کېدل " په وسمهال کې اوړون مومي، لکه :

گڼه / وگړی	يو گړی	ډېر گړی
۱	خوړل کېږم	خوړل کېږو
۲	خوړل کېږې	خوړل کېږئ
۳	خوړل کېږي	خوړل کېږي

غبرگوال، لکه : ځان خورم ....

دويم - ناخبري

۱ - اړوتی نابشپړ وسمهال : چې د آړ وييکي يا شرطيه ادات " که " په مختاړي کوُلو له خبري هغه څخه جوړېږي .
چاروال، لکه : که خورم، که خورې ....
بېچار، لکه : که خوړل کېږم، که وخوړل کېږې ....
غبرگوال، لکه : که ځان خورم، که ځان خورئ ....

۲ - **ارماني نابشپړ وسمهال** : چې د جولې له مخې له ارماني نابشپړ تېرمهال سره کوم توپیر نه لري، لکه : کاشکې ما خوړلای . په دې توګه يې له نورو ارماني (تېرمهال یا وسمهال) ډولونو سره د چاروال او بېچار توپیر، د دریځ او نومځرو له مخې کېدای شي .

۳ - **پوښتني نابشپړ وسمهال** : له بشپړتیایي یا مطلقه " وو " پرته نور د پرښتنې بشپړ وسمهال غوندې رغېدنګ لري، لکه خوړم ؟ .

۴ - **هېښني** : دا بیا له پوښتني سره یوازې په اهنګ او چاپېریال سره توپیرېدای شي او په لیك کې په بلننبنه، لکه : خورم !

۵ - **ګوماني نابشپړ وسمهال** : له بشپړتیایي" و- " پرته نور د بشپړ هغه غوندې رغېږي، لکه : ګوندې خورم یا : ګوندې خپل سر خورم ...

۶ - **تواني نابشپړ وسمهال** : د جولې له مخې له تواني نابشپړ تېرمهال سره کوم توپیر نه لري او یوازې د جاج او موخې (مفهوم أو مقصد) له مخې ترې توپیرېدای شي او هماغسې د چاروال او بېچار بېلتون د نومځرو په اوښتون سره راځي، لکه : ما خوړلی شوای، زه خوړلی شوای ...

۷ - **امري نابشپړ وسمهال** : چې کټ مټ د بشپړ هغه غوندې یوازې د دویم وګړي لپاره راځي، لکه : خوره ! خورئ !

۸ - **ټینګاري یا تاکیدي نابشپړ وسمهال** : چې د " دې " په ملتیا په دې وروسته ډول جوړېدنګ مومي .
چاروال : (له نومځرو سره)، لکه : زه دې خورم، ته دې خورې .
بې له نومځرو، لکه : خوړل کېږم دې ! خوړل کېږي دې !

ب - نالېږند له (ځ -√، ولاړ -√او تلل -√یا تل -√) څخه :

۱ - **بشپړ وسمهال** : چې له دویمې ولۍ یا ستنې "ولاړ -" سره مرستیالکړ "شول" اوړون مومي.

یوم - خبري :

وګړی / ګڼه	یو ګړی	ډېر ګړی
۱	ولاړ شم	ولاړ شو
۲	ولاړ شې	ولاړ شئ
۳	ولاړ شي ولاړه شي	ولاړ شي ولاړ شي

دویم - ناخبری :

۱ - اړوتی بشپړ وسمهال : چې د آړ وییکي یا شرطیه ادات " که " په مختاړي کولو د خبري هغه غوندې رغېدنه مومي، لکه : که ولاړ شم، که ولاړ شې ....

۲ - ارماني بشپړ وسمهال : چې د تولو وګړو لپاره له " ولاړ - " څخه د جوړ شوي کړنوم " ولاړلی " په اوږدولو جوړېږي او د پوره ځرګندتیا لپاره یې د " کاشکې " وییکي هم په سر کې راځي، او د جولې له مخې له ارماني بشپړ تېرمهال سره کوم توپیر نه لري، لکه :
کاشکې زه ولاړلای یا ولاړای، کاشکې ته ولاړلای یا ولاړای ....

۳ - پوښتنی بشپړ وسمهال : چې له خبري هغه سره یوازې په اهنګ کې توپیر لري، لکه :
ولاړ شم ؟ ولاړ شې ؟
- بدیعي پوښتنه (Rhetorical question) چې غبرګون نه غواړي، لکه څوك دی چې په خپله خوښه ګور ته ولاړ شي .

۴ - هېښني : چې له خبري، یا په بله وینا ، له پوښتني هغه سره د غږېدونکي په یوه ځانګړي اکر (وضعیت) او اهنګ کې توپیر مومي، لکه : ولاړ شم ! ولاړ شې !

۵ - تواني بشپړ وسمهال : چې له " ولاړ " سره مرستیالکړ " شول " اوږد غبرګغږي کړ نوم " شولای " یا " شوای " اوړون مومي او په دې توګه د جولې له مخې له تواني بشپړ تېرمهال سره سمون خوري :

گڼه / وګړی	یو ګړی	ډېر ګړی
۱	ولاړ شولای - شوای	ولاړ شولای - شوای
۲	~ ~ ~	~ ~ ~
۳	~ ~ ~ ولاړ ~ ~	~ ~ ~ ولاړې ~ ~

۶ - امري بشپړ وسمهال : چې یوازې په دویم وګړي پورې اړه لري، لکه : ولاړ شه !، ولاړ شئ !

۷ - ټینګاري بشپړ وسمهال : څنګه چې ټینګاری کړ له آره د دویم او درېیم وګړي لپاره راځي نو په بشپړ وسمهال کې یې له خبري هغه سره توپیر یوازې په "دې" توکي کېدای شي چې هغه هم زیاتره د درېیم وګړي لپاره راځي او دویم وګړی یې ډېری په امریه ډوله اهنګ او یا هم لړو ډېر له "بویه" یا "باید" سره جوتتیا مومي، لکه : (بویه) ولاړ شې !، (باید) ولاړ شئ !، ولاړ دې شي !، ولاړه دې شي !، ولاړې دې شي !

۸ - غوښتني بشپړ وسمهال : چې له "ولاړ -" څخه په سیده ډول ډېر لږ دود لري، لکه : مال دې ولاړ شه سر دې نه !، سر دې وخورم ! ګور ته ولاړ شې !

۹ - ګوماني یا احتمالي بشپړ وسمهال : چې له " ولاړ - " سره مرستیالکړ " شْول " د اړنګ وییکو (شکیه ادات) یا په بله وینا ، د اړنګ توکونو او لړو ډېر د اړیکوییکي " چې " په ملتیا اوړون مومي، لکه :
ښایي (چې) ولاړ شم، ګوندې (چې) ولاړ شم، لکه چې ولاړ شم، کېږي چې ولاړ شم ... (دلته لومړی او وروستی ببلګه چارټاکې غبرګغونډله ده) .

۲ - نابشپړ وسمهال : چې یوازې د ارماني او تواني لپاره " تل - " یا " تلل - " سته راځي څکه چې د جولې له مخې له تېرمهال سره سمون لري او نور پاتې ډولونه یې د " خ - " له ولی څخه جوړېږي چې د "تل - " یا "تلل - " او " ولاړ - "، سوپلاتیف (بشپړ اند) بلل کېږي .

یوم - خبري :

وګړي \ ګڼه	یو ګړی	ډېر ګړي
۱	ځم	ځو
۲	ځې	ځئ
۳	ځي	ځي

دویم - ناخبري :

۱ - اړوتی، لکه : که ځم، که ځې . . .

۲ - پوښتني، لکه : ځم ؟ ځې ؟

۳ - هېښني، لکه : ځم ! ځې !

۴ - امري، لکه : ځه ! ځئ !

۵ - ټینګاري، لکه : ځم دې، ځي دې (نورې بڼې له بویه یا باید سره رغېږي) .

۶ - ګوماني، چې د " ګوتدې " او " لکه چې " په ملګرتیا د خبري هغه غوندې جوړېږي، لکه : ګوندې ځم، لکه چې ځم .

۷ - غوښتني : دود نه لري .

۸ - ارماني : چې د " تل - "، یا په بله وینا، " تلل - " د چارنوم " تللی " په اوړدولو سره جوړېږي خو د نورو ارماني کړو په څېر له " کاشکې " سره ښه ترا جوتتیا مومي، لکه : زه تلای، ته تلای . . . .

۹ - تواني : چې د " تل - " یا " تلل - " له چارنوم " تلی " یا " تللی " سره د مرستیالکړ " شول " د اوړد چارنوم " شوای " په ملتیا جوړښت مومي، او د ټولو وګړو لپاره په همدې یوه بڼه راځي، لکه : زه تللی شوای، تللی شوای . . . .

درېیم - وسترمهال (مستقبل) کړ

که څه هم له پخوانۍ پښنوییزې نومونپوهنې سره سم تر تېرمهال او وسمهال کړ وروسته وسترمهال کړ درېیم ډول جوړوي . په دې مانا چې په ګانده (آینده) کې د یوه چار پېښښدنه څرګندوي، خو زیاتره ننني پښنوییپوهان د کړ دغه اوړوني ښه د جاج ومانا له پلوه له وسمهالې هغې سره ګډوي. که څه هم له جولیز پلوه ورسره یو بېلندویه نښه یا توکی ملتیا کوي، لکه په پښتو کې "به"، په پارسۍ کې "خواه -"، په عربۍ کې "س -" او "سوف -" په انګریزۍ کې will او shall او داسې نور. خو بیا هم پښتو "به" لکه د پارسي او انګریزي انډولو غوندې نورې پازې هم لري، لکه روږدني (اعتیادي) او ګوماني (شکیه) هغه په تېرمهال کړ کې (هغه به ته، هغه به تللی وي . . .) .

سره له دي چې همدغه "به" په ښکاره ډول له بشپړ وسمهاله بشپړ وسترمهال جوړوي (وبه خورم، ولاړ به شم) او له نابشپړ وسمهاله نابشپړ وسترمهال (خورم به، ځم به)، مګر د وسترمهالکړ په نامه دغه وروستی ډبېلګې په پرله پسې توګه د بشپړ وسمهالکړ ګوماني او روږدني بڼه هم راتداعي کوي. نو له همدي لامله نن سبا وسمهالکړ او وسترمهالکړ له ټولو بڼو يا ځېلونو سره په يوه غونډ نوم "ناتېرمهالکړ" بلل کېږي، لکه څنګه چې مېکنزي او تر‌ې هم همدغه نومونه کاروي. په هره توګه دا دی، د وسترمهال له دوديزي نوموني سره سم د وسترمهال هماغه کېدوني، يا دود کړ اوړونونه په بېلګو کې وړاندې کوو :

الف - له لېږند "خور - " او "خوړ - " څخه .

يوم - خبري :

۱ - بشپړ وسترمهال : چې اړوند "به" وييکی د سرباري يا بشپړتيايي (و -) او ګردانېدونکي کړ په منځ کې ورلوېږي :

اړوال

وګړی / ګڼه	يو ګړی	ډېر ګړی
۱	وبه خورم	وبه خورو
۲	وبه خوري	وبه خورئ
۳	وبه خوري	وبه خوري

بې چار

وګړی / ګڼه	يو ګړی	ډېر ګړی
۱	وبه خوړل شم	وبه خوړل شو
۲	وبه خوړل شي	وبه خوړل شئ
۳	وبه خوړل شي	وبه خوړل شي

غبرګوال : ځان به وخورم ....

۲ - نابشپړ وسترمهال :

وګړی / ګڼه	يو ګړی	ډېر ګړی
۱	خورم به (زه به خورم)	خورو به (موږ به خورو)
۲	خوري به (ته به خوري)	خورئ به (تاسې به خورئ)
۳	خوري به (دی به خوري، دا به خوري)	خوري به (دوی به خوري)

بې چار

وګړی \ ګڼه	یو ګړی	ډېر ګړی
۱	خوړل کېږم به (زه به خوړل کېږم)	خوړل کېږو به
۲	خوړل کېږې به	خوړل کېږئ به
۳	خوړل کېږي به	خوړل کېږي به

دويم - ناخبري :

اړوتی (شرطي) :

بشپړ : که به وخورم که به وخوړل شم ...

نابشپړ : که به خورم که به خوړل کېږم

ګوماني : ګوندې خورم به ګوندې خوړل کېږم به

تواني :
بشپړ : وبه مې خوړلای شو وبه خوړلای شم
نابشپړ : خوړای به مې شو خوړل کېدای به شم
پوښتني :
بشپړ : وبه خورم ؟ وبه خوړل شم ؟
نابشپړ : خورم به ؟ خوړل کېږم به ؟
هیښني :
بشپړ : وبه خورم ! وبه خوړل شم !
نابشپړ : خورم به ! خوړل کېږم به !
امري :
بشپړ : وبه خورې ! وبه خورئ !
نابشپړ : خورې به ! خورئ به !

د تېنګاري، ارماني او غوښتني وسترمهالکړ کوم ګردودي څرك نه لګېږي .

ب - له نالپړند ځ - √ او ولاړ - √ څخه .

یوم - خبری :

۲ - نابشپړ لکه :

وګړی \ ګڼه	یو ګړی	ډېر ګړی
۱	ولاړ به شم (ولاړه به شم)	ولاړ به شو
۲	ولاړ به شې، ولاړه به شې	ولاړ به شئ، ولاړې به شئ
۳	ولاړ به شي ولاړه به شي	ولاړ به شي ولاړې به شي

وګړی \ ګڼه	یو ګړی	ډېر ګړی
۱	ځم به (زه به ځم)	ځو به
۲	ځې به	ځئ به
۳	ځي به (دی - دا به ځي)	ځي به

دویم - ناخبري :

لېږند وسترمهالکړ :

اړوتی (شرطي) :

بشپړ : که به ولاړ شم

نابشپړ : که به ځم

ګوماني :

ګوندې ځم به

تواني :

بشپړ : وبه تلای شم

نابشپړ : تلای به شم

پوښتني :

بشپړ : ولاړ به شم ؟ (وبه درومم ؟)

نابشپړ : ځم به ؟

هېښني :

بشپړ : ولاړ به شم ! (وبه درومم !)

نابشپړ : ځم به !

د کړ رغاوني (ساختماني) ډولونه

د کړ تر بېلا بېلو ګرامري ډولونو او اړونونو (ګردانو) وروسته غواړو د ويي رغاونې (لغوي ساختمان) له مخې د هغه رغاونه او جوړښت تر کتنې لاندې ونيسو . په دې توګه له څلورو ډولو کړونو سره مخامخېږو :

ساده، بېلښتي (اشتقاقي)، شا پرشا يا خوا پرخوا، ترېښتي (ترکيبي) .

وروستي درې ډوله په يوه نامه، غونډيز يا فقره يي کړونه (Phrasal verbs) هم بلل کېږي :

۱ - ساده يا يوستوی کړ : چې ستېه يا بنسټ يې له يو ګرېزې (يوفورفيميزې) ولۍ څخه جوړېږي او اړوني مختاړي او وروستاړي وريوري سيده نښلول کېږي، لکه : " خور - " چې خورم، خورو، خورئ، خورې، خوري، وخوړ، خوړ ... او داسې نورې جوړونې ترې کېږي .

۲ - بېلښتي يا اشتقاقي کړ : چې ستېه يا بنسټ يې له يوګړې ولۍ او کوم تاړي (افيکس څخه جوړوي. په دې مانا چې د کړولۍ جاج (مفهوم) د يوه تاړي په ملتيا بشپړېږي او څرګندېږي . يا په بله وينا، دغسې يو تاړی د جاج او مانا له مخې د کړولۍ نه بېلېدونکی توک ګڼل کېږي . په دې توګه يې که له ولۍ يا ستېې څخه لرې کړو، تاکلی جاج يې اوړي او يا يې کورټ له لاسه

ورکوي، لکه : راغلل، درغلل، ورغلل، راتلل، درتلل، ورتلل، راکول، درکول، ورکول، کښېوتل، کښېناستل، کښېږ ایستل، کښېښوول، پرې وتل، پورې وهل، پورې اېستل، پورې کول ... دغه راز ډېر ستاینومونه او څیزنومونه هم د روستاړو په نښلولو نه د وسمهالکړ ستنه یا په بله وینا، بنسټ گرځي، لکه : لوېدل، غځېدل، تېریدل، کارېدل، اوبېدل، دودېدل، لاسېدل، لویول، غځول، تېرول، کارول، اوبول، دودول، لاسول ...

د بېلښتي یا اشتقاقي او مشتق کړ رغاونه داسې لنډون مومي :

۱) کړ ولی + مختاړي = راتلل، درتلل، ورتلل ...

۲) ستاینوم ولی + روستاړی = لوېدل، لوبول، غځېدل، غځول ...

۳) څیزنوم ولی + روستاړی = اوبېدل، اوبول، دودېدل، دودول ... له ستاینومو یا څیزنومو پرته له تېرمهالې یا دویمې ستنې څخه، لکه : پاڅېدل، نڅېدل ... په - یدل یا - ول زموږ دودیز ژبپوهان دغې ډلې کړونو ته (یدل والا مصدرونه) وایي چې یو ناپوهیزه نومونه ده، سمه نومونه یې تېرمهالې ستنه ده چې (- ل) ترې په اوړون کې زیاتره غورځي .

۳ - خوا پرخوا یا سست ترښتي (ترکیبي کړ) : هغه راز کړ ته وایي چې د کړ ستنه یا

بنسټ له دوو یا ډېرو خپلواکو گړونو (مورفیمونو) څخه هسې سرسري او یا بابزیو ځایوالی موندلی وي . په بله وینا، یو پوخ ترنگ (ترکیب) یې بللای نه شو، داسې چې سره یوځای شوي توکونه، نه خو له لاسه ورکوي او نه پایلې، او په دې یې پایلې سره جلا جلا خپله اوړوني (تصریفي لوښه (خاصه) راڅرگندوي، حال دا چې په یو پوخ یا رښتیني ترنگ کې د رغنده توکونو (اجزاوو) خجونه او تصریفي پایلې پر وروستي توك باندې پنډېدنه او یو کېدنه (تجمع او توحید) مومي .

د خوا پرخوا کړ رغاونه په دې لاندې څرگندنو (اصطلاحاتو) کې ښوول کېږي :

۱) څیزنوم + مرستیالکړ : زمری کېدل - کول، زمری کېدل، کول، زمري کېدل - کول، زمریانې کېدل - کول ....

۲) ستاینوم + مرستیالکړ : مړکېدل - کول، مړه کېدل - کول، مړې کېدل، کول ....

۳) چاروالکړ نوم + مرستیالکړ : سرخوړونکی کېدل - کول، سرخوړونکې کېدل، سرخوړونکي کېدل - کول، سرخوړونکی کېدل - کول ....

۴) بېچار کړنوم + مرستیالکړ : سرخوړلی کېدل - کول، سرخوړلې کېدل - کول، سرخوړلي کېدل - کول، سرخوړلې کېدل - کول ....

۵) شمېرنوم + مرستیالکړ : دوه کېدل - کول، دوې کېدل - کول ....

۶) ستاینوم + مرستیالکړ : لوده - شوده - بدمرغه ... کېدل یا کول

۷) بیا خلي ستاینوم + مرستیالکړ : لوده لوده - شوده شوده ... کېدل یا کول

۸) بیا خلي کړول + مرستیالکړ : پورته پورته - ښکته ښکته - وروسته وروسته کېدل یا کول ...

۹) بیا ځلي ستاینوم + مرستیالکړ : تود تود کېدل - کول، توده توده کېدل – کول، تاوده تاوده کېدل – کول، تودې تودې کېدل – کول ....

۱۰) سربل + څیزنوم + مرستیالکړ : ترلاسه کېدل – کول ....

۱۱) سربل + څیزنوم + اوستربل + آر کړ : تر سره کول، ترپایه پورې رسېدل - رسول ....

۱۲) څیزنوم + اوستربل + مرستیاُلکړ: مخ ته کېدل - کول، شا ته کېدل - کول ....

۱۳) څیزنوم + اوستربل + آر کړ : پای ته رسېدل - رسول، سرته ختل - خېژول ....

۱۴) څیزنوم + اوستربل + بېلښتي کړ : لاس ته راوړل، لاس ته راوستل ....

۱۵) پلوي نومځری + څیزنوم + اوستربل + مرستیالکړ : رامځته کېدل – کول، رامنځته کېدل – کول ....

۴ - ترښتي (ترکیبي) کړ : له خوا پرخوا کړ سره یې په رغاونه کې توپیر دا دی چې دلته مله یا یوځای شوي توکونه سره یو نه جلا کېدونکی یووالی منځته راوړي . په دې مانا چې مخني توکونه یې خپل خج او اوړوني تاړي او له دې سره مانیزه او ګرامري خپلواکي له لاسه ورکوي او یوازې وروستنی هغه یې د ګرد ترنګ په ښکارندویۍ یو غښتلی خج او اوړوني نښې نښانې ځان ته اخلي . البته مخني توکونه یې یا له آره ناوړېدوني وي (لکه آر کړولونه) او یا یې په همدغه ترنګ کې خپله اوړوني او ګرامري جوله او چارومانا له لاسه ورکړې وي .

ترښتي کړ هم د (خوا پرخوا) کړ په توپیر تر څرګندنو، په ګړنو (ایدیمونو) زیاته اړه لري، لکه په دې بېلګو کې :

۱) څیزنوم + مرستیالکړ : زړه کېدل (میل درلودل)، غلا کېدل – کول .
(خج پر مرستیالکړ) که نه پرخوا پرخوا کړ بدلېږي .

۲) څیزنوم + مرستیالکړ : زړه کول (جرئت کول) .

۳) څیزنوم + مرستیالکړ : توره کول (غیرت یا مېړانه کول) .

۴) ترښتي څیزنوم + مرستیالکړ : زړه نازړه کېدل (ټکنی یا متردد کېدل) .

۵) بیا ځلي څیزنوم + مرستیالکړ : سترګې سترګې کېدل (انتظار ایستل)، غوږ غوږ کېدل .

۶) څیزنوم + آر کړ : پښه نیول، لاس اخیستل، سرخوږېدل، ځان پرسول او داسې نور ....

کړاوونه :

۱ – کړ څه راز ګړ دی، څه او څنګه څرګندونه کوي ؟

۲ – مصدر له کړ سره څه اړیکي لري او دغه نومونه (اصطلاح) د څه لپاره کارول کېده او کارول کېږي ؟

۳ – د یو کړ بنسټ او اساس څه څیز دی او په څه نامه یادېږي ؟

۴ – یو اوړون مونډلی کړ څومره توکونه او چارونه درلودای شي ؟

۵ – مهال پر څو ډوله دی ؟

۶ – کړ نوړی څه ته وایي او پر څو ډوله دی ؟

۷ – وګړی او ګڼه سره څه توپیر لري ؟

۸ – چاروال، بېچار او غبرګوال یا منځوالکړ په یو یو ساري (مثال) راوپېژنئ ؟

۹ – کړ نوم یا حاصل مصدر څه ته وایي او څه ډول جوړېدای شي ؟

۱۰ – توانې کړ څنګه جوړېږي ؟

۱۱ – بشپړ (مطلق) او نابشپړ (غیرمطلق) کړ سره څه توپیر لري ؟

۱۲ – لر او لنډ کړ په یو یو ساري راوښیاست ؟

۱۳ – کوزاتیف یا لېږند چار کړ څه ته وایي له یو ساري سره یې وښیاست ؟

۱۴ – کړ ول څه ته وایي ؟

۱۵ – په دې متل کې د کړ خبري او ناخبري کړونه ونومېرئ :

نه آشه ښه ده، نه ګله

دوی دې وخوري یو تربله .

۱۶ – ستمه د ګردان شوي کړ کومه برخه ده ؟

۱۷ – تېرمهالي او وسمهالي ستې سره څه جولیز توپیر لري او د لېږند او نالېږند کړ ستې سره کومې بېلتیاوې لري ؟

۱۸ – د بشپړ او نابشپړ وسمهال بېلګې ولیکئ !

۱۹ – وسترمهال څه راز مهال دی، روږدنی (اعتیادي) اوړون یې څنګه راځي ؟

۲۰ – د لیېږند او نالېږند کړ توپیر په تېرمهال او وسمهال کې څنګه کوئ ؟

۲۱ – د ساده، بېلبنتي او ترښتي کړونو یوه یوه بېلګه وکاږئ !

د ګړپوهې (صرف) دویمه برخه :

ناوړېدوني ګړونه Indeclinable Morphemes

د ګړپوهې (مورفولوجی) په تېره برخه کې مو له نومونو او کړونو څخه خبرې وکړې او په هغه ترځ کې مو د هغو ډولونه او اوړونونه (ګردانونه) وړاندې کړل. په دې برخه کې غواړو، د ازادو یا ناوړېدونیو ګړونو (مورفیمونو) دویمه ډله ترکتنې لاندې نیسو. د دې ډلې ځانګړتیا دا ده چې د تېرې ډلې (نومونو او کړونو) په توپیر ناوړېدوني دي او ځانته کومه ازاده وییزه (لغوي) مانا نه لري، بلکې له خپلواکو ګړونو (نومونو او کړونو) سره یې چار او مانا جوتېږي. یا په بله وینا، د غونډلې (جملې) له مرستیالو توکونو څخه ګڼل کېږي او له همدې پلوه زیاتره د ګړپوهې پرځای په غونډله پوهه کې تر څېړنې لاندې نیول کېږي.
نا آر یا ستاینومیزه، څیزنومیز او غونډ ډوله کړولونه (⟵) بیا له نومونو او کړونو سره د آرو، یا خپلواکو ګړونو (مورفیمونو) ډله جوړوي.

ناوړېدوني ګړونه په دې وروسته توګه بېلا بېلې ټولې (کټېګورۍ) او ډولونه جوړوي :

۱ - کړولونه یا قیدونه *Adverbs* :

کړولونه هغه ژبني توکونه دي چې د یوه کړ د پېښېدنې څرنګوالی ښیي، دا څرنګوالی د کړ د پېښېدلو ځای یا مهال ټاکي او یا یې څرګندتیا، اړوندتیا، ټینګار او داسې نورې ځانګړتیاوې ښکاره کوي. په پښتو کې آر کړولونه ناوړېدوني دي، لکه : اوس، بیا، بېرته، ژر، ورو، هرګوره، هرومرو، زازو، ناڅاپه یا ناڅاپي، نابېره، کښته، پورته، لاندې، باندې، پاس، نن، پرون، لرغون، پخوا، وړاندې، وروسته، لرې، نژدې، دلته، هلته .... نا آر، لکه څیزنومونه او ستاینومونه او غونډونه (فقرې) چې په څرمه ډول د کړولونو په توګه کارول کېږي. البته ناوړېدوني نه بلل کېږي. په ټولیز ډول آر او په ترځ کې ورسره نا آر کړولونه دا وروسته وېشنه لري :

۱ - مهالي کړول : چې د مهال له مخې د یوه کړ پېښېدنه اغېزمنوي، لکه :
اوس، وروسته، مخکې، له مخه، پخوا، وړاندې، ، سم له لاسه، سملاسي، په سر کې، په پیل کې، په پای کې، پای ته، بیرته، سرته، ژر، ورو، ګړندې، ځنډیا په ځنډ، بې ځنډه، په بیړه، په تلوار، په چټکۍ، په چابکۍ، وړمه ورځ، نن، پرون، نن سبا، سبا، سبا ته، بل سبا ته، نن شپه، نن ګهیځ، نن غرمه، نن ماښام ....، ګهیځ، سهار، غرمه، ماسپښین، مازیګر (مازیګر چېرې وې لوی مه شې - ما په منګي کې شنه بادرنګ راوړي وونه)، له وخته، ناوخته، وختي، ناوخته، لمرخاته، لمر پرېواته، بل کال ته، ترڅو یا څو، په ځغاسته، په منډه، د منډې له مخې، په لنډو (کې)، د ولاړې له مخې او داسې نور آر او نا آر کړولونه.

بیا ځلي (تکراري)، لکه : ژر ژر، ژر تر ژره، اوس اوس، بیا بیا، کله کله، کله ناکله، وروسته وروسته، وار له واره ، مخکې له مخکې، لنډ پر لنډ یا لنډ پر لنډه، لاس پرلاس ... - " وسمهال " یا " په اوس مهال کې " د " اوس اوس، نن سبا، نن پرون ... " ناکره انډولونه دي. همدارنګه د " اوس " پر ځای " دا وخت " یا " دا مهال " هم دومره کره نه برېښي.

توني (مکاني) کړول : چې د یوه کړ پېښېدنه د ځای او چاپېریال له مخې اغېزمنوي، لکه :
دلته، هلته، دلې، هلې، دورې، هورې، مخکې، وروسته، شاته، مخ ته، بیرته، وړاندې، لرې، نژدې ... (دغه راز کړولونه زیاتره مهالي او توني دواړه کار ورکوي، یا په بله وینا ، هم مهالي او هم توني دي)، کښته، پورته، کښته پورته، لاندې، باندې، لاندې باندې، دننه، له دننه، له د باندې، اخوا، دېخوا، اخوا دېخوا، شاوخوا، له لرې، له نژدې، له ورا- یا له ورایه، له پاسه، له باندې، له لاندې، مخامخ، پشي شا، مخ پورته، مخ کښته، مخ پر وړاندې، مخ پرشا، ستوني ستغ یا ستوني ستاغ، سر پرځنې، ځای پرځای، لور له لوره، لورا لور، کورا کور ... او داسې نور آر او نا آر یا ساده او ترښتي توني کړولونه.

۳ - ځرګندني او ټینګاري کړولونه : چې د یوه کړ د پېښېدنې ځرګندتیا، حالت، ځرنګتیا یا ټینګار ښیي، لکه :
په ځغرده، په ډاګه، ډانګ پېیلې (ویل)، په ښکاره، په پټه، په ځرګنده، په غلا، په زیار، په خوارۍ، په مېړانه، په وېړه خوله، په زور یا په زوره، په خوښه، ورو یا په ورو (اواز)، په نره، په مرو سترګو، په ټیټو سترګو، په جګه یا هسکه غاړه، خوله پرخوله (،) غاړه پرغاړه، په کلکه، په ټینګه، د زړه له کومي، زړه نازړه (کول – ویل ...)، په ملاسته، هرومرو، زازو، په هر ډول، په هره توګه، هیڅ پر هیڅ یا هیڅ پر هیڅه، خوشې پر خوشې، په اوږدو، په لنډو یا په ساره، څه ناڅه، لږو ډېر، کټ مټ ... یا د اوږدو ګړنو په بڼه، لکه : له اوښکو ډکې سترګې، په سترګو سترګو کې، وابنه پرخوله رسۍ پرغاړه (ورتلل) ....

۴ - اړیککړولونه هغه دي چې د اړیکوییکو په چار کې راځرګندېږي. همدارنګه پوښتکړولونه هم دړواخله.

دويم - وييکي (ادوات *Particles*) :

دا هم د ناوړېدونو یا ازادو ګړونو (مورفیمونو) یوه غوره برخه ده او ښېلګې يې په دې وروسته ډول دي :

۱ - اړیکوییکي (ارتباطي ادات *Conjunctions*) :

چې د څومره والي او څرنګوالي یا ورته والي له مخې سرة آرې او څېرمه غونډلې (جملې) نښلوي او په دې توګه دوه دوه سره غاړه کېږي. له دويمې سره يې زياتره "چې" هم ملګرې کېږي. که څه هم "چې" د یوه ډېر چاري اړیکوییکي په توګه څانته بې .ورې هم راځي. د اړیکوییکو جوړې، لکه "څومره " او " هومره " په دې غبرګه غونډله کې : (- څومره) ديګ (هسې) تېپر. نورې جوړې، لکه : که څه هم – بیا هم. څومره چې – هومره یا هماغومره. چېرې - هلته (چېرې دې ښه، هلته دې شپه) : څنګه چې – هسې، (داسې، همداسې، همدا راز، هغسې، همدارنګه، هماغسې یا همهغسې). په کندهاري ګړدود کې " څکه " هم د " څنګه " پازه پرځای کوي، لکه چې وايي :
څکه چې ناروغ وم، نو درمل مې وخوړل. " که " بیا په اړیکوییکو کې یو آړ وییکی دی چې د دوو غونډلو ترمنځ یو آړ (شرط)، ټینګوي او " نو " یا بل کوم توك ورسره په اړونده غونډله کې غاړه کېږي، لکه : (که) ته راشې، (نو) زه به هم راشم.

۲ - تړوییکي (د عطف توري) :

چې دوه توکونه (ويي) یا غونډلې سره ملګرې کوي، لکه : او، و. دا تړوییکي له آره په اړیکوییکو کې راځي، خو د دوديز عربي او پارسي " حروف عطف " له نومونې سره سم ورته دغه ځانګړی نوم ورکړ شو، په دې ښېلګو کې :
باغ وای د ګلونو پکې ناست وای زه او ته ....
" و " او " او " سره هممانيز دي او یوازې غږيز (فونېتیکي) توپير سره لري. همدغه " او " دی چې د وییونو ترمنځ په زياته کارېدنه پر " و " اوړي، لکه : مور و پلار، خور و ورور. مګر که له خپلواکپای ويي سره بل ویی تړل کېږي نو په آره ښه راځي، لکه : کاکا او ماما، ښه او بد .... بل دا چې زياتره " او " يو نحوي تړاو ښيي او " و " یو لغوي تړون. هرګوره، د غونډ او غونډلو د تړاو لپاره تل "او" څېل کارول کېږي.

" سره " هم یو کړ ول ډوله تړوییکی دی چې د دوو نومونو د تړاو لپاره یا د " او " پرځای راځي او یا د ټینګار لپاره له " او " سره يوځای دغه دنده پرځای کوي. له نورو تړوییکو سره دا توپير لري چې

د ملګرو توکونو (وییونو یا غونډلو) ترمنځ نه، بلکې وروسته ترې راځي او هغه سره تړي یا ملګري کوي، لکه : څوکرۍ، ګنډېرۍ سره ورونه دي، څوکرۍ او ګنډېرۍ سره ورونه دي.

۳ - ناتړوییکي *disconjuctives* : هغه دي چې د تړوییکو سرچپه د تړاو پرځای نه تړاو،

یا په بله وینا، غوراوی (انتخاب) راڅرګندوي، چې له دوو یا ډېرو څیزونو یا پدیدو څخه یو ومنل شي او بل یا نور رد کړ شي او هغه "که" او "یا" یا ناکره "لیا" (لا) دي، لکه : نن وي، (که) سبا، دا وطن د زرغون خان دی.

(یا) به دې زلفې کمر بند کړم

(یا) به مې سر د غرغرې شمال وهینه

۴ - ورتني یا تشبیهي وییکي :

چې په دودیز ګرامر او ادبي فنونو کې یې (حروف تشبیه) بولي، هغه وییکي دي چې د دوو یا زیاتو څیزونو یا پدیدو ورته والی او مشابهت ښیي، لکه : غوندې، په څېر، په رنګ، په شان، په دود، په توګه، په ډول، په راز ... چې د " د " سربل (←) په وړاندې له " غوندې " پرته درغلي (کاذب)، یا په بله وینا، غونډ ډوله (فقره یي) اوستربلونه ګڼل کېږي.

۵ - سربلونه + اوستربلونه :

سربلونه prepositions او اوستربلونه postpositions هغه کوشني ناخپلواك او ناوړېدونې ډېر پېښني (کثیرالوقوع) او ډېر کارنده ژبني توکونه یا وییکي particles دي چې په یوه غونډله (جمله) کې یې د خپلواکو توکونو یا نومونو (صفتونو، ضمیرونو او شمېرنومونو) په ملتیا مانا او دنده څرګندېږي. سره له دې چې سربلونه او اوستربلونه د غونډلې (جملې)، یا په بله وینا، په ناخپلواکو او مرستیالو توکونو کې راځي او مانا او پازه یې د همدغو نومونو یا کړونو او کړولونو په ګاونډیتوب کې څرګندېدای شي، خو دا چې پر دغو آرو یا خپلواکو توکونو یو ډول اغېز لري او د هغوی دریځونه او پېرونه (حالتونه) څرګندوي، نو اداره کوونکي، چلوونکي یا واکمن توکونه هم بلل کېږي (په نحوي شننه کې به پرې هم خبرې وشي).

د رغاونې له مخې :

پښتو د پارسي، انګریزي او نورو ډېرو ژبو د یووستو سربلونو یا د هندي ژبو د یووستو اوستربلونو په وړاندې جوړه جوړه سربلونه او اوستربلونه لري. دا هره جوړه له آره یو(یوون unit)، یا په بله مانا، یوه ګرامري ټولۍ (کتېګوري) ګڼل کېږي. سربلونه تر نومونو (څیز نومونو، نومځرو، ستاینومونو او شمېر نومونو) له مخه او اوستربلونه وروسته راځي. زیاتره سربلونه څو څو اوستربلونه لري او په دې توګه په پښتو کې تر سربلونو څخه د اوستربلونو شمېر زیات دی. داسې چې د سربلونو کارونه اړینه ده او هېرول یې په کره لیکنې پښتو کې په کار نه دي، خو په

اوستربلونو کې کله کله یو نیم غورځېدای (حذفېدای) شي. هرګوره، په سربلو کې یوازې "و -" له معیاره لوېدلی او اړوند اوستربل "- ته" پرځای پاتې دي.

د سربلونو (او اوستربلونو) ښځایه کارونه ښایسته ډېرې ګرامري او مانیزې ښویېدنې منځته راوړي، د بېلګې په توګه وګورئ، په دې لاندې شعرو کې د (له) پر ځای (د) څومره مانیز بدلون رامینځته کړی دی !
تا به تل ساتم (د) پردو وطنه !
یا په دې بل کې :
ته خو به (د) زلفو کوځې جوړې کړې - زه په دا شلېدلي ګرېوان څه وکړم (خاطر)

پښتو سربلونه، که څه هم ټول یووستوي دي، خو دا چې له هر یوه سره تر اړوند نامه یا غونډ وروسته یو اوستربل د بشپړ اند " متمم " په توګه هم غاړه کېږي، د ساري په ډول د هر انګریزي سربل پښتو انډول یوازې یو ټاکلی سربل نه، بلکې یو سربل او یو اوستربل غبرګ راځي، نو په پوره مانا یووستوي نه بلل کېږي. سره له دې چې ترمنځ یې نوم یا غونډ ټیکاو لري او پتلېز سره نه ویل کېږي. له (بې) سربل سره د (له) ملګري کول هرګوره دومره اړین نه برېښي، همدا راز (سره له) د (باوجود) په مانا کېدای شي، پر غبرګ اوستربل (سره سره) واړول شي چې د غبرګو اوستربلو په توګه تر نوم وروسته راځي. یوازې د شعري اړتیا یا سپما له مخې کېدای شي، (بې له) او (سره له) د غبرګو سربلو په توګه وکارول شي. له دې کبله په جلا جلا ډول ټول پښتو سربلونه یووستوي وییکي دي او بل وېش نه لري، خو اوستربلونه پر درو رغاونیزو ډلو وېشنه وومي :
۱ - یووستوي، لکه : کې، سره، پورې، باندې، لاندې، وروسته، څخه (ځنې، نه)، پرته، ته، غونډې، کره.
۲ - بېلښتي (اشتقاقي) او ترښتي (ترکیبي)، لکه : لپاره، له مخې، دننه، د باندې، پسې، سربېره، راهیسې ؛ ترښتي، لکه : (سره سره) یا (سره له)، دننه دننه.
۳ - بدل یا درغلي اوستربلونه (pseudo-postpositions) چې په پښتو کې زیاتره د " د " سربل (←) په وړاندې تولي (ملکي یا اضافي possessive) پېر (حالت) جوړوي او ډېر د غونډو په بڼه راځي او دا چې " د " د یوه تولي (اضافي) سربل په توګه یو ډېر پېښنی سربل دی، نو د اړوند اوستربل غونډونه ورسره هم له شمېره وتلي برېښي، لکه :
په رنګ، په شان. په شانې (پشانې)، په شانته، په څېر، په ډول، په توګه، لپاره (له پاره)، په ګډون، په ملاتړ، په وینا، په بدرګه، په ننګه، په ملتیا، په ملګرتیا، په مرسته، له مخې، پر بنسټ، په ګناه، په اړه، په اړوندتیا، په اړوندی (په اړوند ناسم)، په نامه، په پار، په پته، په توپیر، په خوښه، په مینه، په مېرانه، په زور، له لاسه، له کبله، له پلوه، په یاد، په درناوي، په هرکلي کې، په درشل کې، په باب، په باره کې، مخامخ، پرخوا، په پلوي ....

د (له) سربل په وړاندې، لکه : آخوا یا هاخوا (هغه خوا) . دېخوا ، دې پلو، آپلو، پلوه، سره په ګډه، سره لاس پر لاس، سر اوږه پر اوږه، سره خوله پر خوله، سره غاړه پر غاړه، سره مخامخ، سره مخ پر مخ، سره شا پر شا ....

د (تر) سربل په وړاندې بدل اوستربلونه، لکه : پخوا ، له مخه، مخکې، ډېر، زیات، غوره، مینځ ....

د " و " (له معیاره لویدلي) سربل د اړوند اوستربل " ته " په ملګرتیا بدل اوستربل، لکه : ته مخامخ، ته درناوی، ته ورته (مشابه).

د (پر) سربل په وړاندې چېرې کومه بېلګه نیمه پیدا کېږي، لکه : پر ځان له پاسه (بل څوك نه غواړم). د بېلښتي (اشتقاقي) " راهیسې " اوستربل ترځنګه ناکره واړینتونه هم په بدلو اوستربلو کې راتلای شي، لکه : را په دیخوا ، په راهورې، په را دورې ....

که تولي (اضافي) سربل "د" پورتني اوستربلونه رامنځته نه کړي، یا په بله وینا ، کړولي (قیدي) یا ستاینومیز غونډونه جوړ نه کړي او یوازې له یوه تولنوم سره یو (یا زیات) تولي (مضافونه) ونښلوي، نو بیا مانا دا چې " د " یوازې یو تولغونډ (اضافي عبارت) مینځته راوړی دی او بله دنده یې نه ده پر ځای کړې، لکه : د ځلمي کور، د هلك پلار ومور، د اسمان ستوري، دوره کیلي، د سیند غاړه، د سرو تاویز ....

د دغه پورتنیو پازو او دندو له پلوه سربلونه او اوستربلونه په دې وروستیو ډولو وېشنه مومي :

۱) په : چې له (کې) اوستربل سره د اړوند نوم، تون یا ظرفي حالت څرګندوي، لکه : په (تولګي کې). له (پورې) اوستربل سره یو بل ډول تون پېږ، یا په بله وینا، یو تړاو او پیوستون ښیي، لکه : په ځان پورې، په تا پورې، ستا په خبرې پورې (به ارتباط ګپ شما). له " سره " اوستربل سره یو لوښنېپېر (الی حالت) راښیي، لکه : په بیاتي سره، په چړې سره، په وینا سره، په زور سره، په خوښی سره. له " پسې " اوستربل سره یو بل راز تونېپېر یا پرله پسې والی څرګندوي، لکه : په تا پسې، په سختې پسې اساني راځي، په ژمي پسې پسرلی دی. لکه په لښتیلیك کې چې لیدل کېږي. کله کله ترې " سره " اوستربل لویدای هم شي، لکه : په چاړه، په خوښه که په زور وي، له مظلوم به د ظالم لاس لنډېږي. په تا اړه نه لري (په تا پورې اړه نه لري). په لیکاني لیك کېږي (په لیکاني سره لیك کېږي). مګر (په کور) له (په کور کې) سره یو راز نه دی، ځکه (په کور) له آره (پر کور) دی چې ظرفي نه، بلکې استعلایي مانا ښندي. همدا راز په وخت، په کال، په

مازیگر، په بجو .... د پر وخت، پر کال، پر مازیگر، پر بجو ... ناسم، یا ناکره بڼې دي. همدا خبره ده چې موږ (په پښتو لیکل) او (پر پښتو لیکل) سره توپیروو.

۲) **پر**: یو باندیني (استعلایي) سربل دی چې یو اړوند اوستربل "باندې" یې زیاتره غورځېږي، لکه: پر مېز باندې یا پر مېز، پر ځمکه باندې یا پر ځمکه، پر زړه باندې یا پر زړه، پر سر باندې یا پر سر، پر زړه یو څه (او) پر خوله بل څه، پر وخت، پر کور، پر کابل، پر ورځ، پر شپه، پر مانبام، پر لسو بجو، پر ۱۳۵۶ کال او داسې نور. "پر میاشت" دومره نه ویل کېږي، بلکې "په میاشت" کې زیات کره برېښي.

"پر" هم د "په" غوندې زوړیای نومونه زیاتره پر اوښتي پېر نه اړوي. له کندهارۍ او تاریخي ادبي پښتو پرته نور زیاتره ګړدودونه "په" او "پر" سره ګډوي او پر یوه وخت دواړه په الي، ارتباطي، استعلایي او پرله پسې (تسلسلي) مانا کاروي. خو په یوه کره لیکنۍ پښتو کې د دغه دواړو سربلونو توپیر اړین دی. یو ژبنی آر هم دا دی چې دوه توکونه یا دودونه په تاریخي او اټېمولوجیک ډول هېڅکله هممانیز او همپازیز نه وي. د همدغه آر په ترڅ کې سمپایي آر هم سمبالېږي. که په ګړنۍ ژبه کې دغه آرونه دومره پرځای هم نه شي، مګر په لیکنۍ ژبه کې څو اړخیز ګټور نقش لري.

توپیر یا نه ګډون، چار وېش او سپما د نړۍ د هرې ژبې بنسټ جوړوي، په دې توګه په کار دي (په پښتو لیکل) داسې مانا، کړو چې یو څه په پښتو ژبه لیکل کېږي، نه په بله ژبه. (پر پښتو لیکل) دا مانا چې د پښتو په باره کې څه لیکل کېږي، نه د بلې ژبې یا بلې سکالو په اړه. همدارنګه (پر کابل اوسېږم) دا مانا چې د کابل ښار په شاوخوا کې اوسېږم. او (په کابل کې اوسېږم) دا چې دننه په کابل یا کابل ښار کې اوسم.

په پارسۍ کې هم د "به" او "بر" توپیر په زاړه ادب او اوسني ایراني ادب او لیکنه کې پوره څرګند دي. همداسې یې په هندي کې هم درواخله. د "بر" بل اوستربل "سربېره" دی چې ناکره ډول یې "برسېره" هم لړو ډېر دود لري. دغه اوستربل هېڅکله نه غورځول کېږي. که نه مانا یې له "باندې" سره ګډېږي او سره یو کېږي.

"پر" چې د وییکنومخري (اداتي ضمیر) "پرې" پرځای هم کارول کېږي او په کندهاري ګړدود اړه لري، هم د یادو شویو ژبنیو آرونو له مخې په ټولیزه لیکنۍ پښتو کې د منلو وړ نه برېښي. همداسې "تر" او "په" هم درواخله چې له "ترې" او "پې" یا "پرې" سره ګډول یې ګډوډي پېښوي.

۳) د : یو ډېر پېښنی تولي (اضافي یا ملکي) سربل دی چې له " کره " او "غونډي" پرته نور ساده او آر اوستربلونه نه لري، بلکې بې شمېره بدل، درغلي (کاذب) یا په بله وینا ښېلښتي، ترېنتي او غونډېز (فقره یي یا عبارتي اوستربلونه ( ) ورسره غاړه کېږي. له مهالنومونو سره بې له اوستربلونو کړولونه جوړوي، لکه : د شپې، د ورځې، د غرمې .... خو تر ټولو زیاته او بنستیزه پازه یې د دوو نوmونو ترمنځ د تول (اضافت، اړیکي ټینګونه ده.

۴) تر : چې د "پر " بڼه (مقابل) سربل دی، هغه دا چې "تر " تر هرڅه له مخه د " پر " غونډې د باندې " نه، چې د " لاندې " مانا ښندي، له دې کبله یې لومړی اوستربل " لاندې " دی چې، هېڅکله غورځېدنه، نه مني، لکه : (ترمېز لاندې) چې " ترمېز " بیا ګرد سره بله مانا ښندي او هغه توني او مهالي پیوستون دی، لکه : تر ننګرهاره، تر مازیګره چې اوستربل " پورې " یې هرومرو ملتیا نه کوي. دریېم اوستربل یې " وروسته " یا " راوروسته " کړول دی، لکه : تر غرمې وروسته یا تر غرمې راوروسته، تر ځلمي راوروسته زما وار دی .... له ځلورم اوستربل څخه (ځنې – نه) سره پرتلیز جاج ښندي، لکه : ترتا څخه زه ښه یم چې د دغه اوستربل په غورځېدو، " ترتا " هم سم راځي. د دې پرځای چې د نورو ژبو په پېښنو (سږنی کال د پروسږکال په نسبت ډېر ورندی دی، ووایو)، (سږنی کال تر پروسږکال ډېر ورندی دی) لنډ او کره راځي. " تر " پر دغه پرتلیزه (نسبي یا تدرجي) مانا له " له " سربل سره هممانیزه کېږي. خو دا چې (له څخه) تر هرڅه له مخه وتون پېر (منشائي) حالت ځرګندوي، نو یې بیا هم له (تر – څخه) سره ګډول په کار نه دي، یا لږ تر لږه ښېځایه دي، لکه : ننګرهاریان چې وایي : د کوره پهٔ سارا خوښ یم-- د وېشه په تالا خو دا چې په ګډه کره لیکنی پښتو کې دلته د پرتلې مانا موخه (مطلوب) ده، نو (تر کوره پر سارا خوښ یم - تر ویشه پر تالا) ترې سم بریښي.

دغه راز په شمال ختیزو ګړدودو کې د (په)، (تر)، (له) پرځای هم زیاتره (د) کارول کېږي چې دا هم له ژبني آرو معیار څخه چپ بلل کېږي، لکه : د ځلمي پسې، د ننګرهار پورې، د مېز لاندې، د ننګرهار نه، د ځلمي سره د کندهاره راغلم، د پښتو ټولنې د لغاتو د څانګې د خوا. یا د منځنیو ګړدودو " د تا نه یا ستا نه زه ښه یم ... ". یا خو دغلته هېڅ سربل نه کاروي، لکه : ځلمي سره، تا نه یا ستا نه .... کره ډول یې : په ځلمي پسې، تر ننګرهار پورې، تر مېز لاندې، له ننګرهاره، له ځلمي سره له کندهاره راغلم، د پښتو ټولنې د لغاتو د څانګې له خوا، تر تا (څخه) زه ښه یم ....

۵) " له " چې له (څخه، نه یا ځنې) اوستربل سره له آره د یو نوم (وتون پېر) یا منشائي حالت ځرګندوي، لکه له سیستانه یا له سیستان څخه، یا له سیستان نه او یا له سیستان ځنې. په دویمه " نسبتي " مانا یې کارول دومره کره نه بریښي، لکه پاس چې ورته ګوته ونیول شوه.

" له " له دويم اوستربل " سره " سره د ملګرتيا (معيت) جاج ښندي، لکه : له ځلمي سره تر هرات پورې ملګري وم او داسې نور. په دغه مانا يې اوستربل (سره) پر (څخه يا څه) اړول له ګډې کره ليکنې پښتو څخه چپ بريښي، که څه هم په ځېنو ګړودو او د خوشال په وينا کې " څخه د " سره " پرځای هم ډېر کارول کېږي. په هره توګه بايد (له ځلمي سره) او (له ځلمي څخه) په يوه مانا ونه کارول شي. د " سره " اوستربل غبرګون (تکرار) د " سره له " ترځنګه د " باوجود " مانا ښندي، لکه : " سره له " ناروغی لمبا ته ولاړم. يا : " له " ناروغی "سره سره " لمبا ته ولاړم. " سر له " د ترښتي سربل په توګه له " څخه " اوستربل سره غاړه کېږي او پيل ښوونډ کړول رامنځته کوي، لکه : سر له ننه، سر له مابنامه. توني، لکه : سر له همدې څپرکي .... درېيم اوستربل يې " وروسته " دی چې مهالي او توني کړول (قيد) ورسره جوړوي او له (تر) سره يې پاژه يو کېږي، لکه له غرمې وروسته کور ته ځم چې البته (تر غرمې وروسته) ترې زيات کره برېښي، په بله وينا، (وروسته) د " له " نه، بلکې د " تر " معياري اوستربل دی.

څلورم اوستربل يې " راهيسې " دی چې يو مهالي کړول ورسره جوړوي، لکه : له پروسږکال راهيسې، له ډېرو کلو راهيسې، له پخوا راهيسې ... په دې توګه "راهيسې" د يوه اوستربل په توګه بايد په (نوم يا نومغونډ) پورې سيده ونښلول شي او بل کوم زياتي اوستربل يا بل ژبنی توک ترې له مخه نه شي، په بله وينا ، (له ډېرو کلو څخه راهيسې) نه، بلکې (له ډېرو کلو راهيسې) وويل شي. (د ډېرو کلو را په دې خوا) يې هممانيز انډول دی، خو د پارسي (از سالها به اينطرف) ټکي پرتکي اړونه ده او دومره رواني او لنډون هم نه لري. د " له " پنځم اوستربل " پرته " دی چې د " سره " بېل او مقابل جاج ښندي، دا مانا چې د اړوند نوم ملګرتيا نه، چې بېلتا او نشتوالی څرګندوي، لکه : له بلليو پرته نابللي هم راغلي وو.

۶) **" بې "** : چې زياتره د " نا " غونډې يو ستاينوميز (صفتي) مختاړی دی، لکه: بې کوره، خو لړو ډېره سربلي ځانګړتيا هم لري او هغه هم زياتره د " له " په ملګرتيا او د يواځېنې اوستربل (څخه، نه يا ځنې) په درلودلو. لکه بې له تا څخه، بې له هغه څخه، چې (بې له تا) او (بې له هغه) هم ويل کېږي. د منځنې پېر په شعر کې يې " بېتا " د رديف په توګه هم کارول شوی دی.

۷) **" و "** : يو پخوانی سربل دی چې له " ته " اوستربل سره ورتلون پېر (مفعول له حالت) څرګندوي. پخوانی څرک يې په لويديزو (کندهاري) ګړودو کې پاتې دی او نورو ټولو ګړودو له لاسه ورکړی او د هغه اوستربل " ته " يوستوی کاروي، لکه : (و) تاته وايم، (و) ښوونځي ته ځم ....

د منځنۍ دورې شاعرانو هم ډېر کارولی او لا کله يې دويم ځلي تر نوم وروسته هم راوړی او له اوستربل " ته " سره يې بيا هم پتليز (جوخت) نښلولی، لکه رحمان بابا چې وايي:

خدای وما وته ښکاره کړ هغه لمر بیا.
ځینو بیا د پارسي "به" غونډې بې اوستربله هم کارولی دی، لکه پیرمحمد کاکړ چې ویلي دي:
سوز گداز د محبت وهسې مارا.
په هره توگه د ویونکو د ډېرښت په لاسوند تر (و - ته)، (ته) زیات معیاري ارزښت لري.

۸) "لکه": لکه "د "په برخه کې چې ورته نغوته وشوه، پر دې سربېره چې له دغه تولي سربل سره ډېر درغلي اوستربلونه رامنځته کوي، د یووستوي سربل په توگه هم له ځان سره یو لړ بېلا بېل ساده وییکي، لکه: غونډې، هومره، هسې ... ملگري کوي: (لکه) زمري (غونډې)، (لکه) غر (هومره)، (لکه) - گل (هسې)....

د کره لیکنی پښتو سربلونه او اوستربلونه په لښتیلیك (جدول) کې داسې ښوول کېږي:

۶ - بېلا بېل وییکي:

پر پورتنیو وییکو سربېره څېنې نور راز راز وییکي هم شته چې په غونډله کې بېلا بېلې پازې لري. په دوي کې د ځینو پازې صرفي بلل کېږي او د څېنو نحوي او د ځینو دواړه ډوله. صرفي، لکه "به" چې د نابشپړ او ناخبري (لکه گوماني) او اوسترمهالکړ یو ټوك جوړوي. یا "نه" او "مه" چې کړ نفي او نهي کوي. یا "که" چې هم ناتړوییکی ( ) دی او هم آړ وییکی؛ غونډله پوهیز یا نحوي، لکه "نه" د منفي ځواب په توگه. "سره" په صرفي ډول، لکه: سره تلل - په نحوي ډول، یا په بله وینا، د اوستربل په توگه، لکه: له ځلمي سره ولاړ. "بیا" د کړول او هم د اړیکوییکي په توگه. کورټ، سکوټ، بېخي، چور، سوچ، هډو، چورلټ، ورټ، رټ، بېخپوره، لا، ان، هن، ایله، په مټ، په مټې یا مټې ... د مرستیالکړلونو په توگه. و، یه، یا، آ، ای ... د بلن وییکو په توگه: "ایا" د پوښتوییکي په توگه چې تر بلن وییکو یې عربیوالی پوره څرگند دی؛ پارنوییکی لکه اخ، اوخ، وش، وېش و آه ... چې د ناځاپې خوښۍ یا وېرې او داسې نورو هیجانونو (پارېدنو) څرگندونه کوي او تر آرو او مرستیالو توکونو وروسته د غونډلې د رغنده توکونو درېیمه ډله جوړوي او پرخپل ځای څېرل کېږي. منښتي وییکي، لکه: هو، هوکې، آهو. نمښتي (انکاري)، لکه: نه (یه)، خو، مگر او داسې نور.

وینا واښتي:

وینا واښتي یا تکیه کلامونه، لکه: ماسکه، غوله یا غولې، مړه یا مړې، غوچې، چې دی ... کاکا گوري، ما گوري ... هم لږو ډېر په یوستوو او ترښتي وییکو کې راځي چې د پار - بلن وییکو یا پارنوییکو غونډې د نوموني پازه نه پرځای کوي، بلکې د غونډلې پرځای د وینا د توکونو په توگه راز راز ننگیرنې (احساسات) څرگندوي.

د پښتو ګړونو (مورفیمونو) د ډلبندۍ انځورلیک :

- ازاد
  - کړونه
  - نومونه
    - ځیزنومونه
    - ستاینومونه
    - شمیرنومونه
    - نومځري
  - آرکړولونه وییکي
- تړلي
  - اړیکوییکي
    - (تړوییکي)
    - سربلونه
    - اوستربلونه
    - آر(یووستوي)
    - کړولونه
  - تاړي
    - (مختاړي، منځتاړي، روستاړي)
    - اوړوني (تصریفي) اوړوني
    - بېلبنتي (اشتقاقي) اوړوني

یادښت : لکه مخکې چې پاس وویل شول، انګینومونه یا اصوت (ډز و ډوز، درب و دروب، غر و غور ...)، پارنوییکی (وخ، اخ، ویش ...) او داسې نور بیا د غونډلې څېرمه توکي بلل کېږي او له آره وینا توکي دي. له دوی څخه یوازې یوه برخه، هغه هم انګینومونه د ازادو ګړونو په ډله کې راځي او نور په تړلیو یا ناخپلواکو کې (←د غونډله پوهې اړونده سکالو).

کراوونه (تمرینونه)

۱ - سربل څه ته وايي او اوستربل څه مانا ؟ .
۲ - پښتو تول څو سربلونه او څو اوستربلونه لري او هغه کوم دي ؟
۳ - د دي لاندي غوندلو تش ځايونه په سمو سربلونو او اوستربلونو ډك كړئ !

... کابل گې د ژمي ډېر ساړه وي. ... زړه به دې يوه وي، درېښنه به شي بله. زه ... ليكاني سره ليكل كوم. زه ... انگليسي ... روسي ښه غږېداى شم. کوچيان د اوړي ... کابل وي او د ژمي ... ننگرهار ... اوسي. زما پر کاليو ... مه خانده ! سپين ... تور اوښتل يا بد لېدل. اوبه ... ډانگ ښېلول ... زده کړې پسې ملا وتړه ! په تا ... اړه نه لري. زه کور ... پنځو بجو ځم. ... غره باندې واوره اوري. ... ډېوې لاندې تياره ده. ... ځلمي سربېره زمرى هم راغى. ... ځلمي پرته نور تول ولاړل. ... تولگي دننه. ... تولگي د باندې سپوږمى ... منځ د اسمان راغله - يا خو خوب نشته يا خو ما ... نه راځينه. که غم ... شرمېدلاى - ... ما به نه راتلاى ځولى ځولى غمونه. ... تور تويك ويشتلى راشي - د بې ننگى اواز دې مه راځه مينه ! د يار ... پاره درمسال جارو كومه. ... گودر سور سالو ښكاره شو. اشنا مې سر ... وطن كېښود - ... تار د زلفو به کفن ورته گنډمه. که زما عمر ... ضروري وي تېر به شينه. ... لويو غرو د خداى نظر دي - ... سر يې واورې وروي چاپېر گلونه. که ولاړ شي ... بلخه - درسره ده خپله برخه. گلاب ... اصله شاهزاده دى - رامبېل چامبېل يې اردليان ورسره ځينه. ... گودر څه کانه راوشوه - چې کشره خور يې ورسره گودر ... ځينه ما ... په سرو زرو منظور دى - که د جانان ... لاسه خاورې ايرې وينه. خپه پرې نه يم ... جانان سره به يمه. ... خمارو سترگو دې جار شم - چې ... ژړا شي مرغلرې تويوينه. ... وچه ډاگه د لونگو بوي راځينه. زما ... تشه خندا مسته. ما به جانان ... لاس نيولى گرځونه. که شينكى خال مې د چرو ... ځوکو ځينه. چې ... سنگره پورې زه درسره ځمه. سپوږمى ... دې څه احسان دى - زما جانان ... د ديواله سيوري ته ځينه.

۳ - څپرکی

پښتو غونډله پوهه (نحو *Syntax*)

۳ - څپرکی

غونډله پوهه (نحو Syntax)

لکه څنګه چې د غږ پوهې د سکالو یوون (د بحث واحد) غږ دی او د ګړ پوهې هغه ګړ دی. نو د غونډ له پوهې د سکالو یوون غونډله (جمله ۱-۴۴) ده. په بله وینا، غونډله پوهه د غونډلو. دغه راز د غونډونو (فقرو) او ګړنو (ایدیمونو) جوړښت، اوډون او ډولونه تر کتنې او څېړنې لاندې نیسي

غونډله (جمله) :

غونډله د ګړونو او ویپونو یو داسې اوډلی غونډ (کُل) دی چې یو بشپړ جاج (مفهوم) او موخه (مطلب) پرې پوهول کېږي. له بله پلوه، دا چې خبرې یا وینا په غونډلو کېږي او بې غونډلو خبرې او وینا نه ترسره کېږي، نو داسې یې هم پېژندلای شو : غونډله د خبرو، وینا یا ګړهار هغه بشپړه خپلواکه ناشنونې رغاونه ده چې نرې بله ستره رغاونه نشته، په بله وینا : غونډله د خبرو او ویناوو تر ټولو لوی یوون (واحد) دی.

د پښتو غونډلې جوړښت :

پښتو یوه " کړند - کړی - کړ " اوړوني (تصریفي) او په دې ډول یې غونډله لومړی پر دوو برخو یا غونډونو (فقرو یا ګروپونو) وېشل کېږي چې یوه ته نوموال (اسمي) او بل ته کړوال (فعلي) غونډ وایي. د پازې له مخې نوموال غونډ ته ابنې (مسندالیه) او مبتدا. او کړوال غونډ ته ابنوني (مسند) یا خبر هم ویل کېږي. په ابنې کې یا کړند له خپلو اړوندو سره راځي (که په چاروال کړ اړه ولري) او یا کړی له خپلو اړوندو سره (که په بېچاړ کړ اړه ولري ، په ابنوني کړ او

کړې دواړه له خپلو اړوندو سره راځي، په دې آړ (شرط) چې کړ چاروال لېږندوي، که نه یوازې کړ له خپلو اړوندو سره راځي.

د کړند او کړي اړوندونه ستاینوم، شمېرنوم، تولنوم (مضاف الیه) تولوییکي، پېژندوییکي او داسې نور اړین وییکي کېدای شي او د کړ هغه کړولونه (قیدونه). په دې توګه ټول لوی او واړه یا خپلواك او ناخپلواك، یا ناوړیدوني ګړونه او توکونه په یوه غونډله کې راغونډېدای شي او د همدغو توکونو په کموالي او زیاتوالي سره وړې یا لویې غونډلې منځته راځي.

د یوې غونډلې د شتوالي لړه کی آړ یا بنیادي ټوك ګردان شوی کړ دی. که هرڅومره ژبني توکونه سره لړی شي او کړ ونه لري. غونډله جوړولای نه شي او په سرچپه ډول، یو یوازې ګردان شوی کړ د یوې غونډلې لړ کې کچه ده، لکه : خورم، څښنم، ځم او داسې نور. څېنې نادوده او یا غېرعادي غونډلې چې کړ یې غورځي او بیا هم غونډلې بلل کېږي، هغه بلن غونډلې یا ندائیه او ځوابیه غونډلې دي، لکه :

په پښتیانا !، یه ځلمیه !، دغه راز، هو، نه، ښه، څنګه، ولې او داسې نور وییکي او پوښتنومځري هم نیمګړي یا لنډ کړ شوي غونډلې دي، هغه هم د خبرو اترو او دیالوګ په بهیر کې لکه چې یو ووایي : ته ناروغ یې – بل یې داسې ځواب وایي : هو، نه، ولې، څنګه ؟ او داسې نور.

اوس د یوې پوره ساده غونډلې څو بیېلګې وړاندې کوو :

۱ - ځلمی راغی

....

اېښی اېښوونی

۲ - د ځلمي ورور راغی

....

اېښی اېښوونی

۳ - د ځلمي مشر ورور راغی

....

اېښی اېښوونی

۴ - د ځلمي یو ورور نن له کندهار څخه کابل ته راغی

....

اېښی اېښوونی

۵ - ځلمی لیک کاږي

....

اېښی اېښونی

۶ - یو هلك یو لیك کاږي

....

اېښی اېښونی

۷ - یو لیك کښل کېږي

....

اېښی اېښونی

په لومړۍ غونډله کې هم اېښی (مسندالیه) له یو ساده کړند څخه جوړ دی او هم اېښونی له یو ساده کړ څخه. په دویمه غونډله کې اېښی له داسې کړند (ورور) څخه جوړ دی چې (خلمی) ورسره د تولنوم (مضاف الیه) او " د " ورسره د تولوییکي په توګه اړوند (متعلق) بلل کېږي. خو اېښونی لا هماغسې یووستوی کړ " راغی " دی. د درېیمې غونډلې د اېښي کړند (ورور) یو ستاینوم (مشر)، یو تولنوم (خلمی) او یو تولوییکی " د " د خپلو اړوندونو په توګه له ځان سره ملګري کړي او په اېښوني کې کړ (راغی) له ځان سره یو مهالي کړول " نن " او یو توني کړول. یا په بله ژبه مفعول له (کابل ته) د خپلو اړوندونو په توګه ملګري کړي دي.

د څلورمې غونډلې په اېښي کې کړند (ورور) له ځان سره یو ناپېژند یا نکره (یو)، خلمی د تولنوم او (د) د تولوییکي په توګه ملګري کړي او په اېښوني کې یې کړ (راغی). یو مهالي کړول " نن " او دوه توني کړولونه (له کندهار څخه) او (کابل ته) په خپله اړوندی کې لري د لومړي توني کړول په درو توکونو کې (کندهار) د سربل او اوستربل (له - څخه) په ملتیا وتونېبر (مفعول منه حالت) موندلی دی او په دویم توني کړول کې (کابل) د اوستربل (ته) په ملتیا ورتلونېبر (مفعول له حالت).

سر له پنځمې څخه د پورتنیو څلورو غونډلو پرخلاف د نالېرند (لازمي) کړ ځای لېرند (متعدي) کړ نیسي او په دې توګه یې کړي (مفعول) ته اړتیا پیدا شوې ده. د پنځمې په اېښي کې کړند (خلمی) یوستووی راغلی دی او په اېښوني کې کړ (کاږي) له کړي (مفعول) سره ملګری شوی او په شپږمه کې اېښي د تولنوم (عام اسم) په توګه له (هلك) سره ناپېژند (یو) هم ملګری کړی دی او همدا راز د اېښوني له کړي (لیك) سره هم یو ناپېژند د لومړي هغه پرځای بل ډول ناپېژند (څوك یا کوم) او د دویم پېژند پرځای بل پېژند (کوم) هم راتلای شي، په بله وینا (یو هلك یو لیك کاږي)، (څوك یا کوم هلك کوم لیك کاږي) سره څومره بیز او څرنګیز (کمی او کیفي) توپیر نه لري. اوومه غونډله بیا د پنځمې او شپږمې غونډلې غونډې چاروال لېرند کړ، نه، بلکې بېچار

لېږند کړ لري. په دې توګه يې کړی (ليك) له خپل ناپېژند (يو) سره اړينې جوړوي او (کښل کېږي) د يو ترېښتي کړ په توګه اړينوني. دغه راز کړی (ليك) چې د کړند ځای نيسي او کړ ورپوري اړه (اسناد) پيدا کوي، په دوديزه نومونه " نايب فاعل " بلل کېږي.

دا دی د پوره څرګندتيا لپاره د څو بېلګو غونډلو انځورليك (ګراف) وړاندې کوو :

۱ - نالېږنده غونډله :



۲ - چاروالہ لېږنده غونډله :



۳ - بېچاره لېږنده غونډله :



د غونډلې رغنده توکونه :

پاس مو پر دوو برخو (اړښتي او اړښوني) د غونډلې وېشنه وکړه. دلته غواړو، په ټولیز ډول يې ټول رغنده توکونه تر کتنې لاندې ونيسو او د هغوي د شومره والي له مخې د غونډلې جوليز (شکلي) ډولونه ونوموو. دغه توکونه ټول ازاد يا خپلواك ګړونه او له ناخپلواکو يا تړليو ګړونو څخه يوازې وييکي رااخلي. البته (تاړي) د ازادو ګړونو د نه جلا کېدونکو توکونو (اجزاوو) په توګه د غونډلې سيده توکونه (عناصر) نه بلل کېږي، په دې توګه يې که ازاد توکونه اوړون مونډلي، بېلښتي (اشتقاقي) او تړښتي (ترکيبي) هم وي، د غونډ له پوهې (نحوې) له پلوه بيا هم د شننې وړ نه دي. بلکې هر يو د غونډلې يو يوازينی توك (جُز) يا توك (عنصر) او يا يوون (واحد) ګڼل کېږي، لکه : خورم، خورو، خوړلی، خوړونکی، خوړل، ورکوم، ورکوو، ورکړی، ورکوونکی، ورکول ... زمری کېدل - کول لاس ته راوړل او داسې نور. د ساري په توګه :

زه خپلو شاګردانو ته په درنه سترګه ګورم.

دغه غونډله په نحوي ډول اته توکيزه بلل کېږي چې څلور يې (زه، ته، په، سترګه)، ساده يا نااوړېدلي توکونه (ګړونه يا وييونه) دي او څلور يې (خپلو، شاګردانو، درنه، ګورم) د اوړونې (تصريفي) تاړو په درلودلو سره اوړېدلي (ګردان شوي) توکونه (ګړونه يا وييونه) دي. يا (ځلمي، يو، کتاب، تر، لاسه کړی دی)، په غونډله پوهيز ډول يو پنځه توکيزه غونډله ده چې يې (ځلمي، يو، کتاب، دی) ساده توکونه (ګړونه يا وييونه) دي او (ترلاسه کړی) يو غونډيز (فقره يي) توك دی، ځکه له شننې سره يې اوسنی يوازينی مانا له منځه ځي او غونډيز جاج له لاسه ورکوي. د غونډلې توکونه په لاندې ډول ډلبندي کېږي:

۱ - آر يا خپلواك توکونه : چې ټول خپلواك ګړونه رااخلي. نومونه (څيزنومونه، ستاينومونه، شمېرنومونه، نومځري)، کړونه (آر يا مرستيال او يا ساده، بېلښتي، خوا پرخوا، تړښتي) او ناآر کړولونه دي.

په دې لړ کې مرستيالکړونه، پر دې سربېره چې د يوې غونډلې دننه له آرو کړونو سره د اړوند کړن په بشپړونه کې مرسته کوي، له يوې آرې غونډلې سره د مرستيالې غونډلې په رغونې سره غبرګه غونډله هم جوړوي او په دې توګه د آرې غونډلې د اړوند آر کړ چار ورټاکي. له دې لامله دغه راز کړو ته چار ټاکي کړونه (Modal verbs) وايي او هماغه منځته راوړې غبرګغونډله يې چارټاکې غبرګغونډله ( ) بلل کېږي، لکه: ښايي، بويه، بايد، کول - کېدل (+ شول) ....

۲ - مرستيال توکونه : چې په دوي کې ناوړېدونې ګړونه (وييکي ←) راځي، لکه: آر کړولونه، آړوييکي، تړوييکي، سرېلونه، اوستربلونه او داسې نور.

۳ - په درېیمه ډله کې انګیوییکی، پارنوییکي یا هیجاني غږونه او چغې، بلن وییکي او داسې نور راځي.

لومړۍ ډله (آر توکونه یا خپلواك توکونه) د موضوع څرنګوالی، څومره والی، چاروالی (فعالیت) او داسې نور جاجونه (مفهومونه) نوموي او یا ورته نغوته کوي، یا په بله وینا ، هم وییزه (لغوي) مانا ښندي، هم پښنوییزه. دغه ډله له آرو کړولو (ژر، اوس، ورو، هرومرو ...) پرته ټول اوړېدلي ګړونه رااخلي.

دویمه ډله مرستیال توکونه د نومونې او نغوتنې پاژه، نه بلکې یوازې پښنوییزه مانا او چار لري. مرستیال ورته په دې وایي چې د غونډلې د آر توکونو، غونډونو او غونډلو ترمنځ اړیکي ټینګوي.

درېیمه ډله (پارنوییکي، بلن وییکي ...) د نومونې پاژه نه لري او د بېلا بېلو ځانګړو ننګېرنو څرګندونه کوي. پارنوییکي، لکه: د خوښۍ (واخ، وخ، اوخ ...) یا د خپګان، خواشینۍ یا اندېښنې او درد (وای، وی، وي، وې، وئ، آه، اوه، وش، هئ شو، الا، هله ...) او داسې نوري هیېجاي چغې، سورې او اوازونه. بلن وییکي د ځارویو، ژویو او مرغانو د بلنې او هڅونې یا رټنې او شړنې لپاره راځي، لکه: اوشه ! اخه ! کشي ! ټغه ! ډرې ! کچ کچ ! کورې ! ورکیش ! پیش پیش ! خخخه ... خې ! څکڅك ! کورکور (خرو ته)، ډیو ډیو (غوییو ته)، نتخه نتخه ... مګر انګیوییکي یا انګینومونه لړو ډېر بیا د نومونې پاژه ترسره کوي، لکه : بغ، بم، بو، غر، ګر او داسې نور بې مانا اوازونه چې د طبیعي پېښو په بڼه له خولې راوځي، په دوي کې ځېنو د آرو ژبنیو توکونو (څیزمونو) ارزښت هم پیدا کړی وي، لکه : درز، غرز ... (د غورځېدو اوازنه)، درب، دروب، ډب، ډوب .... (د وهنې اوازونه) او داسې نور (د څیزنوم ډولونه دي هم وکتل شي). [لودین، زېری ۱۳۵۱ ل].

اوډون (ترتیب) :

اوډون دا مانا چې په یوه غونډله کې بېلا بېل یاد شوي رغنده توکونه سره څنګه اوډون مومي. مخکې مو وویل چې د " یوې کړند - کړي - کړ " اوړوني ژبې په توګه د پښتو غونډله په لومړې دوه برخیز وېش کې د یوې غونډلې نوموال غونډ (اپښی یا پیل او مبتدا) له مخه او کړوال غونډ (اپښونی یا پای یا خبر) وروسته راځي، مګر په دغه هر یوه غونډ کې د بېلا بېلو توکونو ټاکنه او اوډنه د هرې ژبې یوه بېلندویه ځانګړتیا بلل کېږي.

لکه څنګه چې مو په تېرو بېلګه غونډلو کې څه ناڅه ولیدل چې که په لومړۍ برخه (اپښي) کې یوه نالېږند یا چاروال لېږند کړ والا غونډله وي، کړند (فاعل) ځانته یا له خپلو اړوندو توکونو

سره راځي او که بې چار کړ والا غونډله وي، کړی (مفعول) ځانته یا له اړوندو توکونو سره راځي او په اېښوونې کې کړ. که نالېږند او بېچار لېږند وي، کړی او نور اړوندونه، لکه : کړولونه، پېژندونه، تولنومونه، شمېر نومونه، او راز راز وییکي. په اېښې کې ټیکاو ومومي. یا د بېچار لېږند کړی کړند ترخپلو ټولو اړوندونو وروسته راځي، لومړی یې نژدې ټاکونکي، لکه : پېژند، ستاینوم، شمېرنوم، یا تولنوم او بیا د هغه ترمخه تولوییکي راځي، لکه په دې بېلګو کې :

یو سړی - راغی یا : یوه سړي - ډوډۍ وخوړه.

یو غټ سړی - راغی یا : یوه غټ سړي - ډوډۍ وخوړه.

د ځلمي مشر ورور - ولاړ یا : د ځلمي مشر ورور - وینا وکړه.

د ځلمي دوه ورونه - ولاړل یا : د ځلمي دوو ورونو - ویناوې وکړې.

د ځلمي دوه مشران ورونه - ولاړل یا : د ځلمي دوو مشرانو ورونو - ویناوې وکړې.

زما یو کشر ورور - کور ته ولاړ یا : زما یو کشر ورور - واده وکړ.

په اېښوونې کې کړ (آر یا مرستیال) تر نورو توکونو وروسته راځي. که دغه کړ، له دوو غبرګو (آرو او یا ناآرو) کړو څخه جوړ وي، نو آر ترمخه او ناآر (مرستیال) وروستې برخې او to be (استل، ول، اوسل یا اوسېدل) پای ته راځي.

تر کړ (آر یا مرستیال) له مخه کړی (که کړ چاروال لېږند وي) او کړی بیا له خپلو اړوندونو وروسته ځای نیسي. کړول (که چېري وي) زیاتره تر کړي له مخه راځي، خو که دوه کړولونه په یوه اېښوونې کې راغلي وي او یو مهالي او بل توني یا بل ډول وي، نو زیاتره مهالي له توني یا بل کړول او کړي څخه مخکې کېږي. توني یا بل کړول بیا کېدای شي، تر کړي وروسته ځای ونیسي، لکه په دې لاندې غونډلو کې :

زمري نن ازموینه ورکړه.

زمري (نن) (په بریالیتوب سره) ازموینه ورکړه.

زمري (نن) (له خپل ورور سره) (له کندهاره) (کابل ته) راغی.

په پاسنیو غونډلو کې (نن) مهالي کړول دی، (په بریالیتوب سره) او (له خپل ورور سره) څرګندني او (له کندهاره) او (کابل ته) توني کړولونه دي. همدا راز (ازموینه) او (خپله ازموینه) کړي (مفعولونه) بلل کېږي.

پا نادوده یا ناروږدني (غیرعادي) وینابیز بهیر کې کړی تر کړند له مخه راځي، لکه : لمر یا سپوږمۍ تندر نیولې ده، سړی پېریانو نیولی دی ....

د غونډلې بشپړ اند توکونه (نازنځيري يوونونه ۱-۲۰) :

يوه غونډله پر پورتنيو نومول شويو توکونو سربېره ځېنې بشپړ اند (متمم) توکونه هم لري، لکه : خج، اهنګ، بېلتون او پېوستون او د غونډلو د پای غاړه (لحن).

د غږ پوهې له مخې دغه ځانګړتياوې (توکونه) دويمې اواوزنه (فونيمونه) بلل کېږي چې د لومړيو يا آرو اوازونو، لکه: (ا، ب، پ، ت، ټ ... ی) غونډې د ګړهار په بهير کې د پړله پسېوالي يا تسلسل (لينيال) لوښه نه لري او د غونډله پوهې له مخې هماغسې مانيز او چاريز (تعاملي يا فنکشنال) نقش او اغېز لري، لکه : آر توکونه (ګړونه)، ځکه د غونډلو مانيز او پښوييز ډولونه سره توپيروي.
نو له دې کبله خج، اهنګ، بېلتون او پيوستون او د غونډلو د پای غاړه (لحن) د غونډلې بشپړ اند توکونه بلل کېږي .

۱: اهنګ

د غونډلو اهنګ څلور ډوله دی : خبري اهنګ، پوښتني اهنګ، هېښني، بلني اهنګ (تعجبي او ندايي اهنګ) او امري اهنګ. په بله وينا خبري، پوښتني، هېښني، بلني او امري غونډلې سره د خپلو ځانګړو اهنګونو په مرسته توپيرېږي [الهام : ۱۳۴۹] :
۱) د خبري غونډلې اهنګ هوار پيلېږي او بيا غورځيدلي پروت پای ته رسېږي، لکه : زمری راغی.

۲) د پوښتني غونډلې اهنګ ټيټ پيل مومي او بيا نېغ شوی پروت پای ته رسي، لکه : زمری راغی ؟

که په سرکې پوښتنومځری يا پوښتوييکی راشي، بيا نو اهنګ په سرکې لوړېږي.
۳) د هېښني، بلني، ګوماني او داسې نورو غونډلو اهنګ کابو يو راز راځي، او هغه دا چې ټيټ پيلېږي بيا پورته ځي او په پای کې ريب پای ته رسېږي، لکه :
زمری راغی !

۲: خج

لکه څنګه چې په غږپوهه کې ورته نغوته وشوه، غونډله يېز خج هماغه پياوړی خج دی چې د نورو ټوکونو په ترخ کې يې پر يوه راشي او هماغه خجن ټوک تر نورو ټوکوتو زيات موخن (مطلوب) وښيي. نور ټوکونه يې يا هېڅ خجن نه وي او يا د هماغه يوه پياوړي خج تر اغېز لاندې کمزوري ويل کېږي. په دې ډول درې رازه غونډله يېز خجونه سره توپيروو. پياوړی، لږ پياوړی او کمزوری، لکه د اولمير په دې سندره کې : (ستا د سترګو بلا واخلم، بيا دې سترګې ولې سرې دي) پر (ولې) پياوړی، پر(واخلم) لږ پياوړی او پر(سترګو) کمزوری خج اوربدل کېږي.

۳: بېلتون او پيوستون

بېلتون او پيوستون دا مانا چې د غونډو يا غونډلو د پای وپيونه سره پيوست او بې لارغې (بې مکثه) وويل شي او يا سره ناپيوست په لارغه. په دې توگه که کله د هماغو يو راز غونډو يا غونډلو ترمنځ بېلتون پر پېوستون بدل شي او يا سرچپه، نو هغه جاج او مانا يې سره نه توپيرېږي چې د ويونکي موخه وي. دا چې دغه بېلتون او پيوستون يوازې د نحوي يوونونو (واحدونو) ترمنځ نه، بلکې د غږ پوهيزو هغو ترمنځ هم نقش او اغېز لري، نو د خج، اهنگ او غاړې (لحن) غونډې بېلتون او پيوستون هم له آره دويمي اوازونه (فونيمونه) دي. بېلتون او پيوستون د ليکونکي په دې کړيو (بيتو) کې ښه ترا جوتېږي :

کړې که بخشش د وصل را زياره – زړه سوزول پرما ملنگ ښه دي.
بولي دي بې علمه شيخ کافر، زياره – پته د ښه بد خو پر محشر لگي

په لومړۍ کړۍ کې که (ز) له مخني ويې، يا په بله وينا، له مخني اواز (الف) سره پيوست وويل شي، مانا يې داسې راځي چې (په ياره) که ماته (د وصل راز) رابخشش کړې او که نه (ز) له (ياره) سره پتليزه وويل شي، يا په بله ژبه، د (الف) او (ز) ترمنځ بېلتون او لارغه راوړل شي، بيا دا مانا ښندي چې (په زياره !) که ماته د وصل بخشش راکړې. په دې توگه که مخنۍ مانا موخه وي، په کار ده، د (راز) او (ياره) وييونو، يا په بله وينا، د (ز) او (ی) ترمنځ په وينگ (تلفظ) کې لارغه او بېلتون، او له بله پلوه د (الف) او (ز) ترمنځ پېوستون راشي، او که وروستۍ مانا موخه وي، نو په کار ده، د (را) و (زياره)، يا په بله وينا، د (الف) او (ز) ترمنځ لارغه او بېلتون، او له بله پلوه د (ز) او (ی) ترمنځ پيوستون راشي.

په دې ډول نومورې نيم بيتی يا غونډله دوه رازه کارېږو : د لومړۍ مانا له مخې : کړې که بخشش د وصل راز – ياره !

د دويمې مانا له مخې : کړې که بخشش د وصل را – زياره !

په دې توگه په دويمه بېلگه کې هم يو مانيز بدلون ښېښېدای شي.

ليکنښې د تورو غونډې د همدا راز دويمنيو توکونو(خج، اهنگ، لحن، بېلتون او پيوستون ...) سېمبولونه بلل کېږي.

د اېښې او اېښوني سمون :

د اېښې او اېښوني ترمنځ هماغه سمون موخه دی چې د گڼې، نوږې او وگړي له مخې د کړند (يا کړې) او کړ ترمنځ راځي. د گڼې له پلوه سمون دا چې که کړند يو گړی وي، نو کړ ورسره يوگړی راځي او که کړند ډېرگړی، يا د ډېرگړي انډول (لکه جنس) وي، کړ ورسره ډېرگړی راځي.

د نوږې له پلوه دا چې که کړند ښځينه وي، کړ ورسره ښځينه کارول کېږي او که کړند نرينه وي، کړ ورسره نرينه کارول کېږي، او د وگړي له مخې سمون دا چې کړ بايد له هر يوه وگړي (لومړی،

دویم، دریم) سره سم وکارول شي. نه داسې چې د لومړي وګړي کړ د دویم وګړي لپاره پر کار واچول شي او داسې نور. لکه په ګړپوهه کې مو چې ولیدل، دغه دود (قاعده) دېره بېدودي (استثنا) لري، لکه د ارګاتیف (←) له مخې په چاروال لېړند تېرمهال کې چې کړ د کړند نه، بلکې د کړي (مفعول) اړوند (تابع) دی، په بله ژبه، د ګنې نوري او وګړي له مخې کړ له کړي سره سمون خوري، نه له کړند سره. همدا راز دغه سمون په وسمهال کې یوازې د ګنې او وګړي له پلوه څه ناڅه رښتینوالی مومي، مګر د نوريُّ له پلوه هېڅ نه.

همدغو ټکو ته پام سره له ټولو استثناګانو د اېنبې او اېنبوني ترمنځ سمون په دې وروستو غونډلو کې لیدای شو :

۱ - نالېړند تېرمهال :

زه - راغلم.

ته - راغلې.

دی - راغی.

دا - راغله.

تاسې - راغلاست.

دوي - راغلل.

دوې - راغلې.

۲ - لېړند تېرمهال (چاروال) :

ما - ختکی وخوړ.

ما - ختکي وخوړل.

ما - هندوانه وخوړه.

ما - هندوانې وخوړې.

تا - ختکی وخوړ.

تا - ختکي وخوړل.

تا - هندوانه وخوړه.

تا - هندوانې وخوړې.

او همداسې د درېیم وګړي لپاره.

۳ - لېړند تېرمهال (بېچار) :

زه - وخوړل شوم.

ته - وخوړل شوې.

همداسې تر پایه پورې.

۴ - نالېږند وسمهال :

زه - ځم.

ته - ځې.

دی - ځي.

همداسې ترپایه پورې.

۵ - لېږند وسمهال (چاروال) :

زه ډوډۍ خورم.

ته ډوډۍ خورې.

دی، دا - ډوډۍ خوري.

همداسې تر پایه.

۶ - لېږند وسمهال (بېچار) :

زه - خوړل کېږم.

ته - خوړل کېږې.

دی، دا - خوړل کېږي.

د ګڼې سمون او نه سمون : که په اېښني (مبتدا) کې کړندونه (یا کړي په بېچار کې) دوه یا زیات وي، په اېښنوني کې ورسره د ډېرګړو چلند کېږي، لکه :

ځلمی او زمری – راغلل – ووهل شول

ځلمی، زمری او بری – راغلل – ووهل شول.

مګر : نولسمه او شلمه پېړۍ – تېره شوه.

وشول. په اتلسمه یا : پر ۱۳۷۱، ۱۳۷۲ او ۱۳۷۵ کال (نه کلونو) په کابل کې سخت جنګونه، نولسمه او شلمه پېړۍ (نه پېړیو) کې نړۍ ډېر پرمختګ وکړ.

د نوږي سمون او نه سمون : لکه چې له مخه ورته نغوته وشوه، که په اېښني (مبتدا) کې لږ تر لږه یو نرینه او یا یوه یا څو ښځینه وي، په اېښنوني کې ورسره د نرینه ډېرګړي چلند کېږي، لکه :

ځلمی او زرمینه - راغلل - ناروغه شول.

زرمینه او ځلمی - راغلل - ناروغه شول.

زرمینه، زرینه او زمری - راغلل - ناروغه شول.
زمری، زرمینه او زرینه - راغلل - ناروغه شول.
یو زېړ ناك او یوه منه - پر سرك راورغښتل.
زما مشر او کشر زوی او مشره او کشره لور - لمبا ته ولاړل.
خو : پرون مازیگر او بېگا شپه – راباندې (ارام تېر شول) او هم (ارامه تېره شوه) دواړه ډوله دود لري.

په هر ډول، که وغواړو دوه یا زیاتې غونډلې، یا په بله وینا ، غبرگغونډلې (◄—) یا گډې غونډلې (◄—) په یوه کړ پورې وتړو، نو د نورې او گنې له پلوه د هماغې غونډلې د اېښې اړوند ېړې چې ورسره ملتیا کوي، لکه :
ځلمی – دولس کلن او زرمینه – لس کلنه ده.
ځلمی – دولس کلن دی او زرمینه لس کلنه.
زرمینه – لس کلنه ده او ځلمی – دولس کلن.
ځلمی او زمری – دولس کلن دي او زرمینه – لس کلنه.
ځلمی او زمری – دولس کلن دي او زرمینه او زرینه – لس کلنې ....
ځلمی، خوازك او زرینه لس کلن دي – زمری، غمی او زرمینه اته کلن (دي).
د شعر نړۍ پر خیال او د پوهنې بنسټ پر حقایقو ولاړ دی.
خو (هاندو هڅه مې وکړه)، په دې لاسوند وایو چې (هاندو هڅه) یو پوخ ترنگ (ترکیب) دی او د خپلې ښځینه پایلې په درلودلو سره یو یوازینی ښځینه ویی. نوځکه د یوگړي ښځینه ویي چلند ورسره کوو : که هڅه او هاند ووایو، نو بیا یې د ډېرگړي نرینه نوم په توگه کاروو :
هڅه او هاند مې وکړل.

نوموالـه او کړوالـه غونډلـه

که د یوې غونډلې په ایښوني کې د آر، یا مرستیالکړ (لکه خوړل، کېدل، شول) پرځای یوازې " استل + ول " یا " کړ، لکه : یم، یو، یې، یاست، دی، ده، دي، یا وم، وو، وې، واست، وو، وه، ول، وې راشي، هغه غونډله (نوموالـه) غونډله بلل کېږي، که نه کړواله غونډله، لکه : زرین، روغ دی یا وو؛ یا : هلکان – ناروغه دي یا ول ؛ زرینه – ناروغه ده یا وه ؛ یا : نجونې ناروغې دي یا وې ....

(to be)

د غونډلې مانیز ډولونه :

غونډلې د کړدود له مخې په خبري یا بیاني او ناخبري یا انشائي (التزامي) غونډلو وېشل کېږي.

۱ - خبري :

ببرك - ولاړ.

ببرك - تللی دی.

ببرك - تللی وو.

ببرك - ته.

ببرك - ځي.

ببرك - به ولاړ شي.

... او داسې نور.

۲ - ناخبري :

ببرك - ولاړ ؟ (پوښتني)

ببرك - ولاړ ! (هېښني)

ببرك - به تللی وي ! (گوماني)

(كاشكې) ببرك - تللی وای ! (ارماني)

ببرك - دې تللی وای ! (ټينگاري)

(كه) ببرك - تللی وي ! (اړوتی)

ببركه - ځه ! (امري)

ببرك - به ولاړ شي (گوماني او ټينگاري)

... او داسې نور.

د غونډلې جوليز ډولونه :

د جولې او څومره والي له مخې غونډله يووستوې وي، يا غبرگه، يا گډه او يا گډلې.

يوستووې غونډله : هغه راز غونډله ده چې له دوو غونډونو (اېښې او اېښوني) څخه جوړه وي، لكه :

ځلمی - يېوه كوي. يو غښتلی سړی - په ځغاسته راغی.

د كندهار انار - خواږه دي.

بوره - نشته.

او داسې نورې.

يوستووې غونډله د نورو ډولو بنسټ بلل كېږي.

۱ - آره یوستوې غونډله : چې اېښی له یوه (کړند)، یا (کړي) او اېښوونی له یوه (کړ) او د لېږند په ترڅ کې له یوه کړي او (کړ) څخه جوړوي، او د دود له مخې د دغو درو واړو توکونو (کړ - کړند - کړی) اړوندونه له دوو دوو توکو څخه تېری ونه کړي، لکه :

زمرك - ځي.

زرك - اوبه څښي.

یوه نجلۍ - یو لیکی لولي.

یوه ښکلې نجلۍ - یو پند لیکی لولي.

زما یو ملګری - هېڅکله خپل کورنی کار نه هېروي.

۲ - ارته یووستوې غونډله : چې په اېښي یا اېښوني یا دواړو کې د کړ - کړند یا کړي یا درو واړو اړوندونه تر دوو دوو توکونو تېری وکړي او په دې توګه پکې زیات ارتوالی راشي، لکه : د دوست هېواد هند مشر، اتل بېهاري واجپايي - به بله میاشت د افغانستان د جمهوري دولت له هېواد مشر، حامد کرزي سره د خبرو اترو لپاره پلازمېنې، کابل ته راشي.

۳ - غبرګغونډله :

غبرګغونډله هغه ده چې د یوه اېښي او یوه اېښوني پرځای دوه دوه اېښي او اېښوني ولري، یا په بله وینا، که د یوې موخې د بشپړتیا یا دوو اړوندو موخو د څرګندونې لپاره سره دوې غونډلې په کوم اړیکوییکي یا لارغه (مکث) غبرګې او ملګرې شي، یوه غبرګغونډله منځته راوړي. د اړیکوییکو د ډولونو له مخې سره ډول ډول غبرګغونډلې توپیرولای شو، د غبرګغونډلې په دواړو ببلا بېلو غونډلو کې یوه آره یا خپلواکه او بله څېرمه یا بېواکه غونډله بلل کېږي. آره یا خپلواکه په دې مانا چې آره موخه پکې څرګندېږي او ځانته پخپلو پښو درېدای شي. څېرمه یا بېواکه په دې مانا چې آره موخه پکې نه څرګندېږي او ځانته پخپلو پښو درېدای نه شي. په دې توګه په یوه غبرګغونډله کې بېواکه یا څېرمه له خپلواکې یا آرې سره د یوې موخې په څرګندونه کې مرستیاله او بشپړوونکې وي. د اړیکوییکو له مخې د غبرګغونډلې ډولونه په لاندې توګه ښوول کېږي :

۱ - تړ غبرګغونډله :

چې دواړه یووستوې غونډلې پکې په یوه تړوییکي " او " یا لارغې سره یوځای شوې وي، لکه :

زما زوی اووه کلن (دی) او لور مې شپږ کلنه ده.

یا زما زوی لس کلن دی او ستا لور دولس کلنه (ده).

۲ - اړوتي غبرګغونډله :

چې يې يوه (زياتره لومړۍ) يووستوې غونډله ښواکه او بله (زياتره دويمه) خپلواکه وي. په دې توګه دلته ښواکه غونډله آړ (شرط) بلل کېږي او خپلواکه اړوتې، لکه :

که ته راشي - زه به درشم.

که وريځ سپينه شي - باران کېږي.

که شمال نه وي - ونه نه ښوري.

د " که " په وړاندې د اړوتي غونډلې په سر کې د " نو " اړيکوييکي هم راتلای شي، لکه :

که شمال نه وي - نو ونه نه ښوري.

۳ - توسني (علتي) غبرګغونډله :

چې يې دواړه يووستوې غونډلې سره په يوه يا غبرګو توسنوييکو (ځکه، ځکه چې، چې، دا چې، په دې چې، نو ...) غبرګې شوې وي. په دې ډول خپلواکه توسني (معلوله) او ښواکه توسني (علتيه) غونډله نومېدای شي، لکه :

زه راغلم، ځکه تا بللی وم يا : زه راغلم، (په دې) چې تا بللی وم.

تا بللی وم، (نو) ځکه راغلم يا : ځکه راغلم، (په دې) چې تا بللی وم.

ځکه راغلم، چې تا بللی وم، ځکه راغلم، (په دې) چې تا بللی وم.

دا چې تا ويلي وه، نو راغلم يا : څنګه چې تا ويلي وه، نو (ځکه) راغلم ....

۴ - څرګندني (بياني *Final*) غبرګغونډله :

چې دويمه مله غونډله د لومړۍ هغې د زياتې څرګندتيا لپاره وي او د يوې پوښتنې ځواب وايي. د دغسې څرګندتيا د څرنګوالي له مخې يې دا لاندې کوشني ډولونه د يادولو وړ دي :

۱ - **موخنه يا مرامي څرګندني غبرګغونډله** : چې په خپلواکه غونډله کې د راغلي مطلب يا پېښې موخه په بله څرمه غونډله کې څرګنده شي، لکه :

سنګ ايران ته ولاړ، چې ځانته کار مزدوري پيدا کړي.

زه راغلی يم، چې تا ووينم ....

۲ - **مهالي څرګندني غبرګغونډله** : چې لومړۍ (ښواکه) غونډله د دويمې (خپلواکې) غونډلې د څرګند کړي چار او پېښې مهال او وخت ټاکي، لکه :

چې ته راغلې، زه به ولاړ شم يا : چې ته راغلې - نو زه به ولاړ شم.

کله چې ته راغلې، زه به ولاړ شم يا : کله چې ته راغلې - نو زه به ولاړ شم.

سم چې ما ور پرانيست، پر هغې مې سترګې ولګيدې.

زه به هله درشم – چې ته مې وغواړې.
ترڅو ته رانه شې، ترهغې زه نه راځم.
یا : زه به هله درشم، کله چې تا وغوښتم.
هومره به دې مړ نه کړم، څو دې رنګ د مړي نه کړم.
هله به خبر شې – چې تارو جبې له ورشې !
هله به دې په یاد شي، چې دې یو دیوال ته مخ بل ته دې شا شي !

۳ – توني څرګندني غبرګغونډله : چې څرمه غونډله یې د آرې لپاره تون (ځای) وټاکي، لکه :
چېرې دې ښه، هلته دې شپه !
چې نه کار، هلته څه کار یا : چې دې نه کار، هلته څه کار !
چې له کومې راغلی یې، پر هماغه ځه !
چېرې چې اوسې – په خوي به د هغو سې یا : چېرې چې اوسې – په خوي به د هغوی اوسې !
یا د پردیو ژبو په بې ځایه پېښنو (←اړیکنو مځري او پښتو)، لکه :
د هند جمهور رئیس اسلام آباد ته ولاړ (چېرې) چې له پاکستاني چارواکو سره خبرې کوي. دلته (چېرې) یو زیاتي توك دی، البته له (چې) سره بیا (کوي) نه، بلکې (وکړي) راځي.
د (تون) د زیاتې څرګندتیا لپاره له (چې) سره (هلته) هم ملګری کېدای شي، لکه :
د هند جمهور رئیس شوروي ته ولاړ چې هلته له شوروي مشرانو سره خبرې کوي.

۴ – وګړیزه څرګندني غبرګغونډله :
چې په دواړو ملو غونډلو کې راغلی کړند یا کړی یو (وګړی) وي، لکه : څوك چې خوب کړي، نر کټې به زېږوي.
یا د نورو ژبو په پېښنو په ناسم ډول :
ځئ هغو خوارو ته جنت وګټو – (څوك) چې له موره دوزخیان پېدا دي.
دلته دا پایله (نتیجه) اخیستلای شو چې (څوك)، (چېرې)، (کوم)، (څه)، (کله) او داسې څرګندني اړیکوییکو غوندې یوازې د هماغې څرمه غونډلې په سر کې له (چې) سره راتلای شي، چې تر آرې له مخه وي. دغه توپیر په دواړو ساریو (مثالو) کې ښه ترا لېدای شو.
۵ – څیزواله څرګندني غبرګغونډله :
چې په دواړو ملو غونډلو کې راغلي کړندنه یا کړي یو (څیز) وي، لکه :
څه چې کري، هغه به رېبي
څه چې وي، هغه به وي
۶ – کړولي (قیدي) څرګندني غبرګغونډله :

چې د دواړو غونډلو اړیکوییکي کړلونه وي، لکه :
لرې څه، ژر راځه.
یا د دې لنډۍ دویمه برخه :
پر لویو غرو د خدای نظر دی - پر سر یې واورې، پر لمن یې زېړ گلونه
۷ - پرتلیزه څرگندني غبرگغونډله :
چې د دواړو ملو غونډلو اینبني سره د اړیکوییکو په وسیله انډول، پرتله یا همځېر شوي وي، لکه :
څنگه دیگ، هسې تېپر یا : هسې یې تېپر (کړ پرېښوول شوی)
څنگه غر، هسې کربوړی (کړ پرېښوول شوی)
یو یې گتي، سل یې ښتي
سل دې ومره، یو دې مه مره.
یا : سل دې ومره، د سلو سر دې مه مره.
سل پتنگان سوځي، د یوې شمې ژړا سره.
۸ - اړپېچنه (متضاده) څرگندني غبرگغونډله :
چې د آرې او څرمې څرگندونې یا اینبني سره اړ پېچ یا بډوالي (تضاد یا تقابل) ولري، لکه :
که څه هم ما زیار ایستلی نه و، (خو) بیا هم بریالی شوم.
سره له دې چې ناروغ وم، پوهنځي ته راغلم.
یا : سره له دې چې ناروغ وم - خو بیا هم پوهنځي ته راغلم.
یا د یوې ارتې یوستوې غونډلې په بڼه :
له ناروغۍ سره سره پوهنځي ته راغلم.
له ولسه ووځه، له نرخه مه ووځه.
که غر لوی دی، پر سر یې لار ده.
خپل، خپل دی، پُردي په ډېرو نارو خپل دي.
دښمن به دې وخندوي، دوست به دې وژړوي.
شمه چې سوزېږي رڼا هم لري (گوره په خندا کې ژړا هم لري).
۹ - سرغاړې (منصرفه) څرگندني غبرگغونډله :
چې دویمه (څېرمه) غونډله یې د لومړۍ (آرې) له څرگندونې څخه سر وغړوي او نور زیات څه څرگند کړي، لکه :
ځلمی گرم نه دی، بلکې زمری گرم دی
یا ځلمی گرم نه دی، چې زمری گرم دی
۱۰ - بشپړ انده څرگندني غبرگغونډله :

چې دویمه (څرمه) یې د دویمې (آرې) د جاج (مفهوم) په بشپړولو یا پراخولو کې مرستیاله اوسي، لکه:

خوشال ختټك نه یوازې شاعر وو، چې تورزن هم وو.

یا : بلکې تورزن هم وو.

یا : خوشال ختټك یوازې شاعر نه وو، چې تورزن هم وو.

یا : بلکې تورزن هم وو.

یا : خوشال ختټك لوی شاعر و، چې لااتل هم وو.

دلته گورو چې (نه یوازې) د (چې هم) یا (چې لا هم) او یا (بلکې هم) په ملگرتیا د دواړو غونډلو اړیکي ټینگوي یا په بله وینا (نه یوازې) او (چې هم) یا (نه یوازې) او (چې لاهم) یا (نه یوازې) او (بلکې هم) د دواړو ملو غونډلو ترمنځ د بشپړتیا اړیکي څرگندوي. همدومره خبره ده چې که د پور ویي (بلکه یا بلکې) له کاروني څخه ډډه وشي، نو د سکینډې (جبران) لپاره یې په هماغه څېرمه غونډله کې د اېښي پر آر توك باندې یو پیاوړی خج راوړل په کار دي چې له همدغه خج سره اهنگ هم پټلیز لوړولی شي.

۷- چارټاکي غبرگغونډله: چې تر آرې غونډلې تر مخه څېرمه له یوه چارټاکي کړ (←) څخه رغیدلې وي. پښتو چارټاکي کړونه (Model verbs) له (ول، استل، اوسل یا اوسېدل)، یا په انگرېزي نومونه "to be" کړونو پرته نو ټول مرستیالکړونه رااخلي او په ترڅ کې یو شمېر آر کړونه هم چې ورته مرستندویه دریځ راخپلوي، د دغو کړونو له بېلابېلو مانیزو او پښوییزو چارونو سره اړوندي غبرگغونډلې بېلابېل ډولونه غوره کوي:

۱- توانې، چې د کول – کېدل (+شول) په مرسته جوړېږي، لکه:

ما (و) کړای شول، په خپل کار کې ستري برياوې تر لاسه کړم.

ما به وکړی شوای، خپلې چارې سرته ورسوم. زه به وکړای شم، ښې چارې تر سره کړم....

۲- گوماني(احتمالي، شکي)، چې د کېدون او نه کېدون پته یې سمه نه لگي، لکه: کېدای شي، نن واوري. ښایي، نن واوري. د آرو کړو په مرسته ملگرتیا، لکه: داسې ښکاري (برېښي یا اېسي) چې واوري.

۳- ټینگاري، چې زیاتره د ناوړیدوني" بویه " یا یې پارسي انډول " باید " په مرسته رغېږي، لکه:

بویه یا باید کار وکړي. باید نجونې ښوونځي ته ولاړې شي....

او یا هم د کړ غونډونو (فقرو) په مرسته، لکه:(په کار ده)، ښځې له نارینه وو سره اوږه پر اوږه کار وکړي. (دا اړینه ده) چې هر څوك لومړی زده کړه او بیا کار وکړي....

غوښتل له آره یو آر کړ دی، د ښکارېدل، برېښېدل، اېسېدل غونډې د ورته چار تاکي مرستیالکړ په توګه په ګړنی او لیکنی پښتو کې لړو ډېر کارول کېږي او زیاتره ټینګاري ځانګړتیا لري، لکه: زه غواړم، یو ګاډی واخلم. یا : زړه مې غواړي، واده وکړم ... خو دا چې کښښي (پېښوري) لیکوال یې له بل آر کړ سره مرستیالوي، انګرېزي- اردو پېښې برېښي، لکه : زه یو کتاب لیکل غواړم او داسې نور.

۳-۱۱-۳: ګډه غونډله :

ګډه غونډله هغې ته وايي چې په هغه کې تر دوو نه زیاتې غونډلې پرله پسې راغلې وي او څرګندونې یې سره یوه له بله کوم ډول اړیکي او اړوندي ولري. او دا چې هماغه یوه یواځېنی موخه یا سره څو اړوندې موخې د بېلا بېلو غونډلو له خوا بېلا بېل ډول څرګندېدنه موندلې وي، نو زیاتره یې یوه غونډله خپلواکه یا آره وي او نورې ټولې ملې ورسره بېواکۀ یا څېرمه وي.
په ګړنی (محاوروي) پښتو کې ګډې غونډلې زیاتره له دوو غبرګغونډلو څخه جوړې وي. چې په دې ډول په ډواړو یوځای شوو غبرګغونډلو کې د آرو او څرمو غونډلو شمېر یو پریو وي. لکه په دې لنډیو کې :

بنه دی چې سترګې دې وړې دي – که چېرې غټې وای خوړلای به دې ومه
یار مې د کوټ زه د تیرا یم - خدایه کوټ وران کړې چې جوړه تیرا له ځونه

په لومړۍ لنډۍ کې لومړۍ برخه (مسره) یوه غبرګغونډله ده چې آره غونډله پکې له مخه او څېرمه ورپسې ده. دویمه برخه (مسره) یوه بله غبرګغونډله ده چې څېرمه غونډله د آرې غونډلې ترمخه راغلې ده. دا چې په لومړۍ مسره کې دویمه (څېرمه) غونډله په څرګندنې وییکي (چې) پیل شوې، نو ټوله دویمه مسره یوه اړوتې غبرګغونډله ده. دواړې مسرې (غبرګغونډلې) سره بیا په یوه توسني اړیکي چې په لارغه څرګندېږي، یوه ګډه غونډله جوړوي. نو له دې پلوه زموږ پاسنی لومړۍ لنډۍ یوه توسني غبرګغونډله ده چې یې د غړیو غونډلو شمیر څلورو ته رسېږي او لومړۍ یې (بنه دی) آر غونډله بلل کېږي او که دغه لنډۍ ته د دوو غبرګغونډلو په سترګه وګورو، نو لومړۍ غبرګغونډله (لومړۍ مسره) آره او دویمه غبرګغونډله (دویمه مسره) څېرمه ده. د دویمې غبرګغونډلې بیا دویمه مله غونډله (خوړلای به دې ومه) آره یا اړوتې او لومړۍ هغه یې (که چېرې غټې وای) څېرمه (اړ) بلل کېږي.
او دا هم د لومړۍ (ګډې غونډلې) لښتیلیک (جدول) :

... اېښوونې اړیکوییکی اېښې/اېښوونې لارغه ... اېښوونې اړیکوییکی اېښې/اېښوونې

له پټ اېښې سره	څېرمه	له پټ اېښې سره څېرمه	آره

.... لارغه ....

لومړۍ څرګندنې غبرګغونډله	دویمه اړوتې غبرګغونډله

۳-۱۱-۴: ګډلې (مختلطه) غونډله:

ګډلې غونډله هغه ده چې د یوې یوستوې غونډلې په منځ کې یوه یا زیاتې څرمه غونډلې ورننوتې وي. دغه راز څرمه غونډلو ته منځیپښې (معترضه) غونډلې ویل کېږي.

جوړښت یې دا چې د آرې غونډلې تر اپښې (مسندالیه) یا د هغه تر کومې بلې برخې وروسته د هماغې اپښې یا برخې په اړه یوه یا زیاتې غونډلې په څرمه ډول راشي او بیا د آرې غونډلې پاتې برخه تر ټولو پای ته راووځي.

په ګړنی پښتو کې ګډلې غونډلې ډېرې لږې کارول کېږي او هغه هم په دومره ښېچلې بڼه نه. دا مانا چې نه آره غونډله پکې دومره ارته وي، او نه پکې منځیپښې تر یوې زیاتې وي. او هغه هم دومره ارته نه وي، که نه پر غبرګو او ګډو غونډلو اړول کېږي. دلته لومړی له ګړنی او بیا له لیکنی پښتو څخه د ګډلو غونډلو بېلګې رااخلو:

(۱) زه – چې کور ته ځم – رخصت اخلم.

(۲) ځلمی – چې پرون راغلی وو – ما ونه لید.

(۳) ما پروفیسور مورګنستیرنې – چې دا وروستی ځل کابل ته راغلی وو – ونه لید. یا د غبرګې غونډلې په ډول:

- ما دا وروستی ځل پرۆفیسور مورګنستېرنې ونه لید – چې کابل ته راغلی وو.

(۴) خوشال ختك – ترهغې پخوا چې په ګوالیار کې بندي شي – له اورنګزیب سره په داسې مېړانه – چې ساری یې نه درلود – جنګ وکړ.

دا یوه دوه اړخیزه ګډلې غونډله ده. په دې توګه د لومړی آرې غونډلې (خوشال ختك له اورنګزېب سره په مېړانه جنګ وکړ) دوه منځیپښې غونډلې راغلې دي چې لومړی برخه یې (په ګوالیار کې بندي شي) د اپښې (خوشال ختك) په ګوالیار کې بندي کېدل څرګندوي او دویمه یې (ساری یې نه درلود) د اپښوني (جنګ وکړ) یو کړول (په مېړانه) څرګندوي او پیاوړی کوي. (تر هغې پخوا – چې) او (داسې – چې) د درو واړو ملو غونډلو ترمنځ د اړیکوییکو دنده پرځای کوي، لومړی د زماني اړیکي او دویم د څرنګیز اړیکي.

دلته وینو چې د آرې غونډلې اپښی (خوشال ختك) له خپل اپښوني (جنګ وکړ) څخه یو نادوده لریوالی لري، نو په دې لاندې ډول دغه لریوالی له منځه وړلای شو:

خوشال ختك – تر هغې پخوا چې په ګوالیار کې بندي شي – له اورنګزېب سره په داسې مېړانه جنګ وکړ – چې ساری یې نه درلود.

د ننني پرمختللې علمي - تخنیکي نړۍ له غوښتنو او اغېزو سره دغه راز غونډلې په " لیکنی " پښتو کې مخ پر زیاتېدو او پېچلې کېدو دي، لکه:

۵ – د یونان نومیالي فیلسوف اپلاتون - چې په اسلامي نړۍ کې د لوی نامه خاوند شو – د لوېدیزې نړۍ لومړی پوهاند دی – چې د ژبې د بنسټ او څرنګوالي په باب یې فلسفي څېړنه کړې

ده - او له دي لامله د لوېديزې نړۍ د ژبپوهنې بنسټوال او د پرله غبنتي گرامر برسيرونى گڼل کېږي.
۶ - د يونان سترې جنگي بوللې يا حماسي (الياد او اودېسې) - چې سپېڅلې گڼل کېدې - په خورا لرغونو زمانو کې په داسي يوه ژبه او سبك ليكل شوې وې - چې کابو نابومه (نامانوسه) شوې وې. په پنځمه گډلې غونډله کې يوازې (د يونان نوميالى فيلسوف اپلاتون چې په اسلامي نړۍ کې د لوى نامه خاوند شو - د لوېديزې نړۍ لومړى پوهاند دى) رښتينى گډلې غونډله جوړه کړې، ځکه د يوې آرې ترمنځ يوې منځپېښې غونډلې ځاى نيولى دى، او ورپسې نورې دوې ورسره په څرگندني او توسني بڼه د زياتې څرگندونې لپاره ملگرې شوې دي.

ګړنې او څرګندنې - محاورې او اصطلاحات
Idioms and Expressions

په غونډله پوهه کې مو تراوسه د وینا بشپړ یوونونه (واحدونه)، یا په بله ژبه غونډلې وڅېړلې او په ترڅ کې مو واړه واړه غونډونه یا لغوي ګروپونه (فقرې) چې د ګړنو (ایډیمونو) او څرګندنو (اکسپرېشنونو) په نامه بلل کېږي.

هغه ځانګړې څانګه چې دغه غونډله پوهېزې ټولۍ(کټېګورۍ)څېړي،غونډ پوهه(Phraseology) بلل کېږي. څېنې ژبپوهان نن سبا دغه پوهه د ژبپوهنې د څېړنې کومه څېرمه څانګه نه ګڼي، بلکې د ژبپوهنیز الواك په یوه مرکزي ډګر (ساحه) کې ورته ځای ورکوي او وایی : د فرازیولوجۍ سکالو هغه ځانګړې ژبنې یوونونه رااخلي چې موږ یې د فرازیزلوګیزمونو ترنامه لاندې راولو.

دغه ټول یوونونه د خپل جوړښت له مخې تر یوه زیات ویپونه رااخلي او په یو لړ اکرو کې د ویې غونډ، تر پولو هم تېرې کوي او کولای شي، غونډله ییزه ځانګړتیا ترلاسه کړي. په دې توګه موږ په فرازیولوجۍ کې له ځانګړو ویې غونډونو او غونډلو سره کار لرو.

د دغو یوونونو ځانګړتیا د دوې په هغه مانا کې پرته ده چې دوی په څرنګیز (کیفي) توګه د " ازادو " ویې غونډونو او ازادو غونډلو له مانا څخه توپیروي او خپله څرګندونه په پرله غبنتیا او یا ګړنیزتیا کې ترلاسه کوي (کونیګ + وېرنر ۴ مخ).

پېژند (تعریف) له مخې :

یوه ګړنه یو داسې ویی غونډ دی چې له راز راز مانا لرونکو وییو او وییکو څخه منځته راغلی وي او په ژبه کې یو نااټکل کېدونکی لرغونتوب لري.

یوه ګړنه تل په جولیز ډول یو ناشوني غونډ ګڼل کېږي. په بله وینا، یوه ګړنه د داسې دوو یا زیاتو وییو غونډ دی چې په یوه غونډله ییز، یا په بله وینا، غونډله پوهیز (نحوي) چاپېریال کې ځانته بېلا بېله جولیزه خپلواکي او یووالی ساتلای شي. د ساري په ډول له هر راز اوښتني راوښتنې سره مخامخېدای نه شي او په ګډه چې کومه یوه یوازینۍ مانا منځته راوړي، نه شنل کېدونکې مانا بلل کېږي، دغسې یوه منځته راغلې ګډه مانا کله داسې وي چې د ټوکونو (اجزاوو) له بېلا بېلو ماناوو سره څه ناڅه ورته والی او اړیکې لري او د شنلو (تجزیه کېدلو) پروخت یې ګډه مانا کوږته له منځه نه ځي، د چا خبره یو څرک هومره یې لالګېږي، لکه برخه اخېستل، سر پرځنې کېدل، مقصد ته رسېدل، وروسته پاتېدل، خوله پرخوله کېدل، پرمخ تلل، لاسته راوړل، یا راوستل، له منځه وړل ... او نور. دغه راز جوړښتو ته بیا څرګندنې (اصطلاحات) هم ویل کېږي.
په دویم ډول ګړنو کې ګډه مانا داسې وي چې د بېلا بېلو ټوکونو ماناوې یې ښکارندوي نه شي کولای او له ټوټه کېدو سره هر ټوك خپلې ګوښې آرې مانا ته ورګرځي، کټ مټ، لکه د یو کیمیایي ترنګ ټوکونه. (د ساري په ډول هایدروجن او اکسیجن چې یو یې هم ځانته د خپل ترنګ "اوبو" ښکارندويي نه شي کولای). بیلګې یې، لکه : غوږ ربول، زړه مړېدل، زړه خوړل، زړه ماتېدل، زړه یخېدل، سپینې ښویېدل، تبنتېدل (سپېنې غوټه کېدل بیا زیات د څرګندنې په توګه کارول کېږي)، پزې ته رسېدل، سترګې ربېدل، لاس تر زنې لاندې کیناستل، لاس پرسر کېدل، لاس اخېستل او داسې نور کنایي او مجازي مانا ښندونکې کړ غونډونه.

درېیم هغه ګړنې دي چې د متلونو او بولنو (مقولو)، یا وراشو (وجیزو) په ډول وي، یا په بله وینا، یو راز غورې خبرې یا وراشې او یا وجیزه ډولې او مقوله ډولې ویناوې او یا متلونه وي. دا مانا چې کومې کیسې ته ګوته نیسي او هر یو د ګړهار بهیر کې د یوه نا شونکي ویي غونډ (لغوي ګروپ) په توګه لکه یوه ګړ نه کارول کېږي. کټ مټ د شاعرانه ارسال المثل غونډې، د بېلګې په ډول: د کبر جام - نسکور دی. پلانی او بیستانی سره نوك او اوورۍ دي. پلانی او بیستانی د یوې سورې ماران دي، یا د یوې باغچې ګلان دي. په یوه ګل نه پسرلی کېږي. دا هم په انارو. خوند یې باران وړی دی. د کوهي خټه پر کوهي لګي. وروري - خوري به کړو حساب ترمنځه. یوه بلا بلې ته وایي چې بو ! ښه ښه دي - بد بد دي. خپل عمل د لارې مل. د جولامنډه تر مړوې پورې ده. لرې څه - ژر راځه. مه کوه پرچا چې وبه شي پرتا ! لاس چې مات شي د غاړې بار شي یا غاړې ته ورځي. د چا پرتوګانې تبنتېدل (خجالت کېدل). پر پچه سپرېدل او کشمیر لیدل. لور پر لوټه تېره کول. اوبه له ورخه تېرېدل. اوبه په ډانګ بېلول.

له هسې عادي وراشو، بولنو او متلونو سره د دغه راز ګړنو توپير همدومره دی چې دلته وراشې، بولنې او متلونه په جلا او خپلواك ډول د وينا له بهيره بهر د يوې کړې يا شوې وينا د ټينګار، پخلي او جوتيا لپاره په ځيرمه او سرباري (اضافي) ډول نه، بلکې پخپله د آرې وينا يا يوه ويناييز يوون (غونډلې) د يو نه جلا کېدونکي ټوك او برخې په توګه کارول کېږي، له دې کبله د داسې تضمين شوي يا ګومارل شوي متل يا بولنې آره بڼه تل خوندي نه پاتېږي. خو په هر ډول د يوې ګړنې غونډې د وينا يا غونډلې دننه د مانا او جولې له مخې يو نه شنل کېدونکی ويی غونډ او برخه جوړوي، لکه : غرزي - لاس تر زنې کښېناست. په دې غونډله کې (لاس تر زنې کښېناست) ګړنيز غونډ دی چې د يوې غونډلې اېښونی يې جوړ کړی دی. نور ساري (مثالونه) يې، لکه :

درخو – ګوته پر غاښ ونيوله.

ځلمی - اوبه په ډانګ ببلوي.

ځلمی - له زانو کتهوري غواړي.

يا د يوه غونډ (اېښي - اېښوني) يوه برخه جوړوي، لکه : تور - (اوبه په ډانګ ببلول) غواړي.

او يا دواړه غونډه، يا په بله وينا، يو متل سمته غونډله جوړوي، لکه : نوك او وری - سره نه بېلېږي.

د پښويېز چار له مخې دوه رازه ګړنې سره توپيرېږي : نومواله ګړنه، لکه : د بوډۍ تال (سره زرغونه) يا د ګيدړ واده (آفتاب بارانك) : دويمه کړواله غونډله، لکه : غوږ ريول، په ډنډ کې خولې کېدل. بيا هم يوه نومواله ګړنه کېدای شي، د کړ په ملګرتيا کړواله شي، لکه : لاس تر زنې کښېناستل يا کېدل او داسې نور.

غونډله پوهيزه (نحوي) شننه :

د دې لپاره چې د غونډله پوهيزو يوونو (غونډلو او غونډونو) پرمانيزو او جوليزو جوړښتونو، اوډون او خپلمنځي اړيکو موښه ترا ړنا اچولې وي، دلته غواړو ځينې بيلګې يې تر شننې، ځيرنې (تجزيې) او سپړنې (تشريح) لاندې ونيسو. په دې ترځ کې به راته دا هم ښه ترا ځرګنده شي چې دغه راز شننه له غږ پوهيزې او ګړ پوهيزې شننې سره څه توپير لري.

١ – زما ورور – نن له کندهار څخه کابل ته راغی.

دا غونډله وينو چې له (٩) کوشنيو ټوکونو (زما، ورور، نن، له، کندهار، څخه، کابل، ته، راغی) څخه جوړه ده او د غونډله پوهې له پلوه تر دغې زياته نه شنل کېږي. که څه هم ځينې توکونه، لکه (زما) ساده ويی نه بلل کېږي او پر دوو توکونو يا ټوکونو توټې کېږي، مګر دغه راز ټوټه کېدنه يا شننه په ګړپوهې پورې اړه لري، نه په غونډله پوهې پورې، همداسې "راغی" هم دروا خله. دلته يوازې پر نهو توکونو شننه، د هغوی د اوډون او خپلمنځي اړيکي ښوول د غونډله پوهې وينه ده.

په دې توکونو یا ټوکونو کې څښنې بیا داسې دي چې د غونډله یېزو اړیکو له مخې سره غونډ غونډ یا جوړه جوړه کېدای شي، لکه:
زما ورور ـنن - له کندهار څخه کابل ته، راغی.

دلته بیا ګورو چې په دغو پنځو غونډونو (کړند، کړول، کړول، کړول، کړ) کې څښنې سره د بل ډول اړیکو له مخې پر دوو سترو غونډونو یا برخو ډله ډله کېږي چې یوې برخې ته یې نومول غونډ یا اېښي (مسندالیه) او بلې ته کړوال غونډ، یا اېښوونی (مسند) وایي، لکه: زما ورور — نن له کندهار څخه کابل ته راغی.

د اوډون له پلوه ګورو چې لومړی نومول غونډ راغلی او بیا کړوال غونډ. په کړوال کې د پښتو غونډله پوهې له دود او دوی (قاعدې او قانون) سره سم لومړی تولنومځری (زما) او بیا یې اړوند څېز نوم (ورور) او په کړوال غونډ کې لومړی د کړ اړوند توکونه او بیا پخپله کړ راغلی دی.

دا چې غونډله خبري ده، نو اهنګ یې هوار پیل کېږي او ورو ورو کښته لوېدلی پای ته رسېږي. ټوله غونډله یو پیاوړی خج لري چې ویونکی یې له خپلې موخې سره سم پر یوه ویي باندې راوړي، یا په بله مانا: پر هر ویي اوڅپه چې ویونکی ورته زیات ارزښت ورکوي، که نه په عادي او منطقي ډول یې یو لوستونکی پر کابل او بیا د (بل) پرڅپه راوړي. له دې کبله موږ یو غونډله ییز خج دوه ډوله پېژنو: یو عادي یا منطقي خج، لکه پر (کابل) او بل ځانګړی یا فوق العاده خج چې ویونکی یې د یوې ځاني خوښې یا فوق العاده موخې له مخې پر یوه بل ګوم ویي یا څپه راوړي. د ساري په ډول که د ویونکي موخه د (زما) ارزښت او اوچتوالی وي، نو پر (زما) باندې زور اچوي. بیا نو د ویونکي موخه داسې پوهېدل کېږي چې د بل چا ورور یې نه، بلکې خپل یې موخه دی او که پر (ورور) خج راوړي، دا مانا تري اخلو چې ویونکی له نورو اړوندو کسانو (خپلوانو یا ملګرو) څخه خپل ورور جلا کول او نومېړل (مشخصول) غواړي او همداسې یې پر نورو پاتې ویيونو باندې خج اچونه دروا خله.

کوم اړیکي چې په دغه غونډله کې د اېښي او اېښوونې ترمنځ لېدل کېږي، هغه یې سره د وګړي، نوري او ګڼې له مخې برابرښت او سمښت دی. په بله وینا، (زما ورور) چې یو اېښي دی، د اېښوونې له آر توك (راغی) سره د پورتنیو اړخونو له مخې سمون لري. داسې نه، لکه د وګړي له پلوه (راغلم یا راغلی) وویل شي، یا د نوري له پلوه (راغله) او یا د ګڼې له پلوه (راغلل) ناسم وویل شي او دا ځکه چې د تېرمهال نالېږند کړ په درېیم وګړي کې دغه درې اړخیزه سمون دود دی.

دا چې نن سبا د پرمختللې فرهنګي نړۍ په پېښنو، د نمانځنې له کبله د یو ګړي لپاره ډېرګړی کړ او نومځري کارول، لکه زرك، زمرك ته وایي: (تاسي له کندهاره کله راغلاست) یو پښتوییز دود نه، بلکې ټولنیز دود بلل کېږي. المانیان دغه راز نمانځنه په یو بل ډول څرګندوي او هغه دا چې د

مخامخ یوګړي وګړي لپاره د دریيم ډېرګړي وګړي نومځری کاروي. ختیځوال زیاتره د درو واړو یوګړو د نمانځنې له کبله ډېرګړي کاروي، لکه ستاسې پلار چېرې (ولاړل). په کندهاري ګړدود کې د دریيم وګړي ښځینه یوګړی د تېرمهال نالېږند کړ د کړند او یا د ببچار لېږند کړ د کړي په توګه ډېرګړی کارول کېږي: (ورمه راغلل) یا (ورمه مي ووهل) چې ټولنیزه یا درناویزه پېښه ورته ویلای نه شو، بلکې یو سیمه ییزه ګړدودي ځانګړتیا ده او له ټولیزې (معیاري) پښتو څخه یو سرغړاوی بلل کېږي.

زموږ ترڅېړنې لاندې غونډلې په اېښوني (نن له کندهاره څخه، کابل ته راغی) کې (نن) د (راغی) مهال ټاکي، په بله وینا، یو مهالي کړول دی. (له کندهار څخه) یو توني کړول دی او (کابل ته) یو بل توني کړول بلل کېږي. له بله پلوه (نن) یو ساده کړول دی او دا نور دواړه ترښتي کړولونه، یا په بله ژبه، کړولي غونډونه. په لومړي کړولي غونډ (له کندهار) کې (له) سربل او (څخه) اوستربل (کندهار) په وتون پېر Ablative کې اچوي. د همدغه وتون پېر له کبله (کندهار) پر (کندهاره) اوړي چې اړونده پایله (a) يې، هم د اوستربل "څخه" استازي کوي او هم د اوښتي پېر. خو که "څخه" ورسره وکارول شي، بیا يې نو پایله کره نه بلل کېږي. په دې توګه (کندهار) د سربل او اوستربل تر واکمنۍ لاندې دی او دا ټول کړولي غونډ (له کندهاره څخه) بیا پرکړ باندې واکمني لري، درې واړه کړولونه (نن، له کندهار څخه، کابل ته) د کړ اړوندونه دي او په یو مهال کې پر کړ (راغی) واکمنان.

د اوډون له پلوه د غونډلې ګرد ټوکونه پرځپل ځپل ځای راغلي دي. یوازې (نن) کولای شي، تر (له کندهار څخه) وروسته ځای ونیسي، بې له دې چې پکې پښوییز او مانیز ونجون پېښ شي.

۲ - خدایه ته په زړه کې اچوې دا میني - چې په ښکار دې مبتلا کړم ته مې ویني (د خوشال ختك د بازنامې د سر بیت).

دغه بیت یو ګډ غونډله ده چې که (خدایه !) جلا بلنې (ندائیه) غونډله ونه ګڼو، نو لومړی نیم بیتی يې یوه یووستوې غونډله ده او دویم نیم بیتی يې دوه یووستوې، یا په بله وینا، یوه غبرګغونډله ده، خو د موخې له مخې لومړی نیم بیتي غونډله د دویم نیم بیتي له لومړۍ غونډلې سره یو پرله غښتی (منسجم) یووالی یا غبرګه غونډله جوړوي او دریيمه (ته مې ویني) وروړې هسې یوه سرباري غوندې غونډله ملګرې شوې او د مخنیو دوو غونډلو د څرګندونې یوه بشپړوونکې او پخوونکې غوندې پایځوړ بلل کېږي. دا دی، لومړۍ یووستوې غونډله پرځپلو رغنده ټوکونو وېشو:

خدایه - ته - په - زړه - کې - اچوې - دا - میني

دغه اته ټوکونه سره د خپنو ګرامري اړیکو له مخې د وروستیو څلورو غونډونو په بڼه ډله کوو:

خدایه ته - په زړه کې - اچوې - دا میني

لومړی کړند غونډ (فاعلي گروپ) دی، دویم کړولی، درېیم کړ دی او ځلورم کړی غونډ (مفعولی گروپ). د دغو غونډونو شمېر بیا دوو سترو غونډونو (اېښي او اېښوني) ته راټیټېږو :

خدایه ته - په زړه کې اچوې دا مینې

د اوډون له پلوه د اېښوني کړي غونډ (دا مینې) د شعري اړتیا له کبله خپل ځای پری اېښی دی، که نه رښتینی ځای یې هم د اېښوني په سر کې له کړ ول غونډ (په زړه کې) له مخه او هم ترې وروسته ټاکل کېږي. دا غونډله که څه هم یوه خبري غونډله ده او په کار وه چې اهنگ یې ډېر ټیټ پای ته رسېدلی وای، خو دا چې شعري اړتیا اوډون ویجاړ کړی او کړی غونډ (دا مینې) تر کړ (اچوې) وروسته راغلی، نو اهنگ تر ځوړېدلو وروسته یوځل بیا لوړ شوی پای ته رسي.

خج پر (ته)، (اچوې) او (مینې) درو وارو وییو باندې راځي، مگر وروستی د زیات پیاوړتوب له کبله د غونډلې یوازینی پیاوړی خج بلل کېږي. دا گرده غونډله (یا مسره) د مانا او موخې له مخې یو بیخي بشپړ یووالی نه بربښي، بلکې "دا" د یوه اړیکوییکي په توگه د یوې بلې څرگندني څېرمې غونډلې غوښتنه کوي. له همدې کبله دا بله څرگندني غونډله ورسره په بل همغاړي اړیکوییکي یا څرگندني اړیکوییکي (چې) پیل کېږي. د آرې غونډلې د اړیکوییکي "دا" دا ځواب وایي چې څه ډول او کومه مینه. په دې توگه د دوارو غونډلو له ملگرتیا منځته راغلې یوه غونډله یوه غبرگغونډله بولو او هغه بیا یوه څرگندني غبرگغونډله.

دا هم د لومړۍ څېرمه غونډلې شننه :

چې - په - ښکار - دې - مبتلا - کړم

ټوله څېرمه غونډله شپږ ټوکه لري. لومړی ټوك (چې) یو څرگندني اړیکوییکی دی. دویم (په) یو سربل دی چې بې اوستربله (سره) لوښنه (الی) پازه ترسره کوي او (ښکار) ترخپل واك لاندې راولي او په لوښن پېر (الی حالت) کې، یي اچوي. (دی) د دویم یو گړي وگړي (مفرد مخاطب شخص) کمزوری نومځری (دې) او بیا یو کړند چې د گردې غونډلې اېښی جوړوي. (مبتلا) له (کړم) سره یو کړوال غونډ، یا په بله وینا، یو ترښتي کړ رامنځته کوي.

د پورتنیو پېښوییزو اړیکو له پلوه گرد ټوکونه داسې اوډو :

چې - په ښکار - دې مبتلا کړم.

(چې) خو، لکه چې وویل شول، له تېرې غونډلې سره د یوه څرگندني اړیکي چار پر غاړه لري. (په ښکار) یو توسني غونډ دی، په بله وینا، توسني سربل (په) د (ښکار) ځېزنوم ته توسنپېر ورکړی او په دې توگه پرې واکمني لري او بیا دا ټول غونډ (په ښکار) پر (مبتلا کړم) باندې خپله واکمني چلوي، کټ مټ لکه د یو کړول غونډې (دې) د یوگړي وگړي کمزوري وگړنومځري (د مفرد مخاطب شخصی متصل ضمیر) په بڼه د غونډلې کړند یا په بله ژبه (اېښی) جوړوي.

(مبتلا کړم) یو کړ غونډ یا ترښتي کړ دی چې له (په ښکار) سره د غونډلې اېښوونی جوړوي. په دې ډول گرده غونډله پر دوو بنیادي برخو (اېښي او اېښوني) وېشلای شو :
دې - په ښکار مبتلا کړم

د اوډون له مخې کومه نیمگړتیا نه لري. اېښی (دې) له پښوییز دود سره سم د اېښوني په منځ کې ورننوتی، ځکه د یو کمزوري نومځري په توگه یې په سر کې راتلل دود نه دي. که اېښوني منځنۍ برخه (په ښکار) نه درلودای، نو هرومرو بیا د کړ غونډ په منځ کې ورننوته (لکه مبتلا دې کړم). او که د دغه ترښتي کړ (مبتلا کړم) پرځای کوم یوستووی کړ (لکه، وخورم، وای، نو بیا، دې) بېخي پای ته واته (لکه، وخورم دې). بل ځېز چې په دې غونډله کې د یادولو دی، هغه د کړي (زه) نه راوړل دي او پرځای یې یوازې پر وگړیزې پایلې (- م) بسنه ده چې له همدې کبله یې دودیز پښویپوهان (متصل ضمیر) یا (کمزری متصل ضمیر) او یا (فعلي ضمیر) بولي.

دویمه ځېرمه غونډله (ته مې وینې) د منځنۍ غبرگغونډلې په بشپړتیا کې سیده برخه نه اخلي او یوازې یوه تکراري بڼه لري، نو که بیا یې هم مله وبولو. زموږ غبرگغونډله پر گډې غونډلې اوړي چې د غونډلو شمېر یې درو ته رسېږي. ړومبۍ آره، دویمه ځرگندني ځېرمه او وروستنۍ تړ (عطف) او بیا آره غونډله بلل کېږي. دغه وروستنۍ تړ آره غونډله لومړی په لاندې درو توکونو شنل کېږي :
ته - مې - وینې

(ته) یو کړند او بیا د تولې غونډلې (اېښی) دی. (مې) یو کړی دی او (وینې) د دویم یوگړي وگړي یوستووی او وسمهال کړ دی. دا چې کړی (مې) د کړ (وینې) له اړوند څخه گڼل کېږي، نو د اېښي (ته) په وړاندې په گډه یو اېښونی جوړوي، یا په بله ژبه توله غونډله پر دوو بنیادي برخو وېشو :
ته - مې وینې

۳ - د پښتو د فعلي اصطلاحگانو واحدونه چې د جوړښت له مخې به په دغې مقالې کې په صنف بندیو ووېشل شي، مهمې او د یادولو وړ نښې یې دا دي (د لودین له لیکنې څخه).
دا غونډله د دوو ملو غونډلو جوړه شوې گډلې غونډله ده. په دې ډول چې د آرې غونډلې د اېښي او اېښوني ترمنځ یو ځرگندني ځېرمه غونډله اچول شوې ده. څه چې دلته نابومه (نامانوسه) او نادوده برېښي، هغه د آرې غونډلې بیا پېښې (تکرار) دی او دا بیا پېښي او نادودي هله راځرگندېدای شي چې منځپېښي غونډله ترې واېستل شي. لکه: "د فعلي اصطلاحگانو واحدونه مهمې او د یادولو وړ نښې یې دا دي : ". ښاغلي لودین کولای شول چې دا توله گډلې غونډله داسې وکاږي :

(د پښتو د فعلي اصطلاحګانو د واحدونو مهمې او د يادولو وړ نښې چې د جوړښت له مخې به په مقاله کې ډلبندي (صنف بندي) شي، دا دي). خو دا ډول، ده ځکه نه غوښتل چې منځنۍ څرګندني څېرمه د آرې غونډلې په موخن توك يا مطلوب عنصر (واحدونو) پورې نه، بلکې په ناغوښتلي توك (نښې) اړه پيدا کوله. که ټوله ګډلې غونډله يې په غبرګغونډلې اړولی وای، لکه:

(د پښتو د فعلي اصطلاحګانو د واحدونو مهمې نښې او د يادولو وړ نښې دا دي چې د جوړښت له مخې به په دغه مقاله کې ډلبندي يا صنف بندي شي). په دې ډول کې بيا هم د مخنۍ ډول کانه کېده او د آرې غونډلې اېښونی (دا دی)، هم بېځايه ښکارېده. خو يوازېنۍ کره سمونه يې داسې کېده چې د آرې غونډلې د اېښونې برخه يې له (نوموالې)، يا په بله وينا، له تولوالي يا ملکيت څخه ژغورلی وای، لکه په دې ډول : (د پښتو د فعلي اصطلاحګانو واحدونه چې د جوړښت له مخې به په دې مقاله کې ډلبندي (صنف بندي) شي، دا مهمې او د يادولو وړ نښې لري :). په نوره پښتو، لکه : (د پښتو کړوالو ګړنو يوونونه، چې د جوړښت له مخې به په دغه ليکنه کې ډلبندي شي، دا غوري نښې لري :). (په صنف بنديو ووېشل شي) يوه خندا وړ تېر وتنه ده. (صنف بندي) پخپله د وېشنې مانا لري، وېشنه بيا څنګه ووېشل شي !

که څه هم ځېنې ليکوال چې په پښتو کې له ګډلو غونډلو سره کورټ ناباندې (مخالف) دي. پاسنۍ ګډلې غونډلې پر دوو، درو بېلا بېلو پرله پسې يوستوو غونډلو ټوټې کوي، خو دا کار د ژبې له سپمايي آر (اقتصادي اصل) څخه تېری دی. په دې مانا چې په هره ژبه کې دا هڅه کېږي چې تر وسې وسې پورې په لږو او پرله غښتو (منسجمو) جوليزو توکونو سره ډېره مانا او جاج (مفهوم) څرګند کړ شي، نه دا چې په سرچپه ډول، په ډېرو نا پرله غښتو جوليزو توکونو سره لږه مانا او جاج. نو که يو بشپړ او ناشونی يوون (واحد) په څو جوليزو يوونو (لفظي واحدونو) کې څرګند شي، له ژبنۍ دوی اوسول (قانون او منطق) څخه يو ښکاره سرغړاوی دی.

اوس ېبرته خپلې ګډلې غونډلې ته راځو چې بېلا بېل رغنده ټوکونه يې څه راز خپلمنځي اړيکي او اوډون لري.
د آرې غونډلې اېښی له پښتو دود سره سم اوډل شوی، د کړند (واحدونه) اړوند توکونه له مخه او پخپله کړند وروسته راغلی دی. دويم تولوييکی (د) کېدای شو چې وسپمېږي، ځکه پښتو د ستاينوم په توګه هم کارول کېږي. د دې آرې غونډلې بله برخه (اېښونی) د اوډون له مخې هم کومه نيمګړتيا نه لري. يوازې د (يې) زياتوالی پکې د ګوتنيوي (انتقاد) ټکی دی، چې له مخه مو پرې رڼا واچوله. دغه ټوله آره غونډله دواړو خواوو ته د څو اړوندو توکونو په درلودلو سره يوه آر ته. يوستووې، د اېښوني د آر توك په ډول د (دي) په درلودلو سره يوه نوموا‌له او له دود پلوه خبري غونډله بللای شو. دا بله منځپېښې څېرمه غونډله د اوډون له پلوه سمه ده، خو تونېر غونډ (په دغې مقالې کې) (دغه) او (مقاله) هسې بېځايه په اوښتې بڼه کښل شوي دي، ځکه په (ليکنۍ معياري) پښتو کې د ويونکو د ډېرښت په لاسوند (په – کې) د خپل اړوند ځيزنوم د

پایلي ونجون دود نه دی، لکه (په اسره کې)، (په کوټه کې) او یا د حمید مومند په یوه درست غزل کې :

پر مخ د صنم راغی، که سپوږمۍ شوه په هاله کې
دا يې غاښ په خوله کې زېب کا، که ژاله شوه په لاله کې

ترپایه.

کړاوونه

الف : دا وروسته پوښتنې راځواب کړئ :

۱ – غونډله پوهه څه ته وايي او له څه نه غږېږي ؟
۲ – د غونډلې پېژند (تعريف) څنگه کېږي ؟
۳ – یوه غونډله پر کومو دوو سترو برخو وېشل کېږي ؟
۴ – د غونډلې ډېر بنسټيز توك کوم دی ؟
۵ – نيمگړې غونډله څه ته وايي ؟
۶ – غونډ څه ته وايي ؟
۷ – د غونډلې رغنده توکونه (متشکله اجزا) کوم دي ؟
۸ – د پښتو غونډلې اوډون څه ډول دی او له دغه پلوه په کوم ځېل (ټيپ) ژبو کې راځي ؟
۹ – د کړاسري جار او مانا له مخې د غونډلې ډولونه وښياست !
۱۰ – غونډله د جملې له مخې په څو ډوله ده ؟
۱۱ – يووستوې غونډله په څو ډوله ده، بېلگې يې وښياست !
۱۲ – یوه ارته يووستوې غونډله په انځورليك کې وښياست !

ب : لږ تر لږه د جولي له مخې د هرې لنډۍ غونډله پیز ډول راوپېژنئ:

۱۳ - که په میوند کې شهید نه شوې - گرانه لالیه بې ننگۍ ته دې ساتینه

۱۴ - په تور ټوپك ویشتلی راشې - د بې ننگۍ اواز دې مه راځه مینه

۱۵ - اشنا مې سر پر وطن کېښود - په تار د زلفو به کفن ورته گنډمه

۱۶ - مخ دې ځراغ خوله دې غنچه ده - درته حیران یم چې پتنگ که بورا شمه

۱۷ - ولې به زه وریسي نه مرم - چې مور ته شا کړي، ماته شنه له خندا شینه

۱۸ - تورې کوه برې به مومې - که برې نه وي ځوانان تل پر وطن مرینه

۱۹ - اخر به وران شي پېښوره - د ننگرهار پېغلې ښېرا درته کوینه

۲۰ - له خمارو سترگو دې جار شم - چې په ژړا شي مرغلري تویوینه

ج : په دې لنډیو کې آرې (خپلواکې) او ځېرمه (ډېواکې) غونډلې سره توپیر کړئ:

۲۱ - که زه خبر وای چې ډېلتون دی - ما به مې یار ترلاس نیولی گرځونه

۲۲ - که راته گورې، درته گورم - که راته نه گورې، پروا دې نه لرمه

۲۳ - ډېلتون پر تنگه کوځه راغی - ما ویل سلام دی، ده ویل کور دې ورانومه

۲۴ - ما ته وعده د خولگۍ راکړه - څه که د تورو پر سر لار وي دربه شمه

۲۵ - مینه یم، منکره نه یم - که شینکی خال مې د چړو په څوکو ځینه

۲۶ - له لرې مرم، له نژدې سوزم - زه لیونی طاقت د دواړو نه لرمه

۲۷ - د خوشالۍ یاران مې ډېر وه - چې ښادي ولاړه، ټولو پورته کړل لاسونه

۲۸ - یاري خو تا کړه، ما خو نه کړه - چې تومت راغی، اوس پرما کړې منتونه

۲۹ - سپوږمۍ پرما دې څه احسان دی - زما اشنا د دېواله سیوري ته ځینه

۳۰ - سپوږمیه سروهه، راخېژه - زما اشنا د تورو شپو مزل کوینه

د : دا وروسته شعرونه له سم اوډون سره په نثر ولیکئ:

۳۱ - د مسلمان زړگي ازار چې اخلې - څه شول په دې چې کلیسا ته درومې

۳۲ - مرې د زیار خو دا یو سوال کړه ځواب - چې له ما درومې وایه چاته درومې؟

۳۳ - د سپېڅلو گروهو کچه مې له پاکو گناهونو - او د هیلو پیمانه مې نهیلو نه ویوښته!

۳۴ - پر ژوند پېښنو که د زیار په رښتیا خبرېدل غواړې - پرهرژلی نارام ژوند یې له شعرو نه ویوښته!

۳۵ که په مینه کې د یار ستي شوې زیاره - د یاد ځلی به دې جوړ شي له ایرو نه

۳۶ - ګړنه څه ته وايي او په دري او لاتيني يې څه بولي ؟
۳۷ - ګړنې د مانا او رغاونې له مخې څو ډوله دي ؟
۳۸ - څرګندنه او ګړنه سره څه توپير لري ؟
۳۹ - فرازيولوجي څه ته وايي ؟
۴۰ - د ګرامري چار له مخې د ګړنې ډولونه وښياست !
۴۱ - (له سره تېريدل) د پورته ډولونو له مخې څه راز ګړنه ده ؟
۴۲ - يو کنايي او مجازي مانا لرونکې ويی او ګړنه سره څه توپير لري ؟

د پښتو یې بشپړیزه

۱- د ناليږند کړسته (۸۹ -۹۱ مخ) د دوه گونو(تېر مهالو او وسمهالو) او بيا يووسنوو او غځيدلو ډولونو په لړ کې دا وروسته زیاتون پاموړ دي:

۱) د وسمهالي ستړي توك (- ېږ-) په يو نيم کړکې غورځي او له ولۍ سره برابرېږي يا په بله وينا ، دغه کړونه غبرگي ستړي لري لکه: پاځېږم- پاځم، رسېږم- رسم، خوځېږم- خوځم، ښورېږم-ښورم، ارمانېږم-ارمانم، رپېږم-رپم، رېږديږم- رېږدم، لېږدېږم- لېږدم، رغېږم-رغم....

۲) "تل –" يايې موندۍ بڼه" ت –" تېر مهالي ساده ستړه له مورفو – فونيميكي بدلون سره سمه په وسمهال کې له ځ – سره همغاړي کېږي، لکه: تلم – ځم ، پر تلم يا (و -) پر تم – پر ځم (د اندړو په گړدود کې د پر ځېدم يا وپرځېدم پر ځای)، (و-) پرتلم يا (و-) وتم وځم. پرېوتم – پرېوځم. ننوتم ننوځم. کښېوتم-کښېوځم، جاروتم - جاروځم ......
په ختل. کوتل (حلالول)، متل (متياز کول) او ښايي يو نيم بل ورته کړ کې بيا د تېر مهالي ستړي وسمهال اندول " ژ " راځي، لکه په (و -) ختم – (و -) خېژم. (و – کوته – (و -) کوژم. (و –) متل (و –) - ميژم کي. " کتل – کړ بيا په وسمهال کې " ليدل ". "وينل" "گورل " يا " کسل " له ځان سره اندولوي، که څه هم کېدای شي همدا وروستی اندول يې همريښه اوسي، يو نيم گړدود ، لکه وزيري هغه يې په وسمهال کې هم د کتم، کتي .... په ډول هم گردانوي.
"تتل " " يا" رتل"، " ترتل " ... خو په يو مخيز ډول په تېر او وسمهال کې بشپړ اوړون لري. کومه ليکدودي شخړه چې د "ز" او "ځ" په اړه رامنځته کېږي، څخه نا څه د پورتنيو بېلگو له مخې سپيناوی موندلا شي.

۲- کمزوري ځانگړي نومځري(۶۷ مخ) په يو لړ غونډلو کې همزمان په ځېرمه توگه د کمزورو تولنو مځرو دنده هم پر غاړه اخلي، لکه: بستره "مې" جوړه کړه = "خپله" بستره "مې" جوړه کړه = ما خپله بستره جوړه کړه.

ډوډۍ دې وخوره؟ = " خپله" ډوډۍ "دې" وخوره؟ = تا خپله ډوډۍ وخوره؟ "يې" او يو نيم بل ځانګړی کمزوری کېدای شي، په يوه غونډله کې د کړند او کړي دواړو استازي وکړي، لکه: پلوشې مورته ورغله اويوه ډالۍ "يې" ورکړه.

مګر دا چې په ځينو منځنيو ګړدودو. کې دواړه ډوله کمزوري نومځري خوا پر خوا کارول کېږي. دومره معياري ارزښت درلودای نه شي، يوه دا چې غونډله پېچلې کوي او بله دا چې د ټولو وګړو او ګڼو لپاره بشپړ او روڼ نه.لري او له دې سره يې د ګډون (التباس) کېدون هم شته، لکه په دې غبرګه غونډله کې: د نارنج مانۍ په اړه مې اورېدلي وو. خو تصوير او انځور "مې يې" لا تر دې دمه نه و ليدلی (ګوربت، يوويشتمه ګڼه ۴۹ مخ). د ننګرهار خواته دغلته د دويم کمزوري (تولنومځري) پر ځای "ورته" کاروي چې يو څه غوره ګڼل کېدای شي، لکه: ... انځور "مې" "ورته" لا تر دې دمه نه و ليدلی. همداسې (درته، راته) هم کارول کېږي، خو بيا هم کره نه ارزول کېږي، بلکې د دې اړتيا پېښېږي چې له اړوندو غبرګو کمزورو نومځرو څخه يو پر غښتلي بدل شي.

۳- پښتو د انګرېزي ناټيکنو مځري يا مبهم ضمير (۹۳ مخ) "one pl. ones" سيده انډول نه لري، لکه:

دا ښه دی. This is the nice one .

دا ښه دي. These are the nice ones.

پارسي يې په وړاندې بيا د درېيم يو ګړي وګړي (مفرد غايب) ناټيکنو مځری کاروي، لکه:
اين خوبش است. يا: اين از خوب هايش است.
له همدې کبله "د کابلې "پښتو والاهم د پارسي (- ش) تر اغيز لاندې داسې وايي:
ښه يې دی، يا: ښه يې دي. يا هم د "دا" له ملتيا سره سره:
دا ښه يې دی، دا ښه يې دي.

۴- کله کله پښتو د انګريزي ناټيکنو مځري (۷۶ مخ) "it" او جرمني "es"... په وړاندې د "دا" پر ځای د درېيم وګړي کمزوري ناټيکنومځري "يې" پر کار اچوي، لکه په داسې غونډله کې:

نن "يې" وروي. It rains to day.

(= نن اوري) Es regent heute.

په ګړنيز يا ځرګنديز غونډ (Idiomatical or expressional phrase) کې، لکه: ډېره يې توده مه خوره! Take it easy.

Wie geht es?

څنګه تېرېږي؟ څنګه يې؟

دا څومره وخت نيسي؟ How long does it take?

Wie lange geht es?

۵- په پښتو کې د پارسي، انګرېزي، جرمني او نورو ډېرو ژبو په توپير هېڅکله يو لېږند (متعدي) کړ(۹۴ مخ) بې کړېه(مفعوله) راتلای نه شي،
لکه:
پارسي: او مينويسد.
انګرېزي: He writes.
جرمني: Er schreibt.
خو لکه څنګه چې يو نيم پښتون يې د کابلي پښتو په پېښو همداسې را پښتو کوي: دی يا هغه ليکي. کره پښتو: دی يا هغه يو څه ليکي يا ليکل کوي.

۶- بېلابېل وييکي (۱۳۳ مخ)

۱) " هن" د " دا دی " او پارسي" اينك" په مانا د " ګوندې، ګنې، کاشکې... غوندې د چارټاکو کړونو ورته چار پر ځای کوي، لکه:

"هن" ما خو درته وويل چې ما ستا لاره کتله

اوس ته وايه رښتيا چې تا د چا لارې کتې

۲) چك (په زورکي) يو بل وييکی (Interjection) يا هيجاني غږ (مخ). دی چې په ځېنو ګړدودو کې د "نه" ځواب په توګه کار ېدنګ لري، لکه:
يو پوښتي: ډوډۍ دې وخوړه؟
بل يې ورغبرګوي: چك!

۳) "کنه" د ويناو ابنتي او ټينګار وييکي په توګه کارول کېږي، خو د نورو وييکو په توپير د غونډلی په سرکې نه، بلکې په پای کې راځي.
د رديف په توګه:

توره چې تېرېږي، خو ګوزار لره ((کنه))

زلفې چې ولول شي، خو خپل يار لره ((کنه))

که جلا وليکل شي، کړولي جاج "وګرنه" ښندي چې د "ګنې" يوه مانا همداسې ده او بله يې له "ګوندې" سره برابره ده.

۴) "هډو" کوزه خوا زياتره د "هېڅ" کړول پر ځای کارول کېږي، لکه:

ګنډېر "هډو" سړی نه دی.

له "هېڅ" سره يوترېښتي ټينګاري کړول رامنځته کوي، لکه:

دلته "هېڅ هېڅ" اوبه نشته.

د ناټيکنو مخري "څه" په ملتيا هم ټينګاري کړول رامنځته کوي، لکه:

دلته "هېڅ څه" اوبه نشته

۸- چارټاکي کړونه يا Modal verbs (۱۵۷مخ):

۱) "توا" د (ته وايي) يا (ته به وايې) او پارسي "ګويا" د "ښايي" "بويه، بايد"... غونډې له کړ رغنده ټوکونو، يا په بله وينا چارټاکو کړونو څخه شمېرل کېږي او له "ارکاييك" والي سره سره په کندهاري ګړدود کې په همدې بڼه ژوندی پاتې دی چې د غبرګغونډلي د لومړنی (څېرمه) غونډلې په توګه د دويمې (آري) هغې پرتليز او ورتني چار او جاج ورټاکي، لکه دښکارندوی په بوللـه (پټه خزانه ۵۲ مخ) کې:

... ته وا، راغله له ختنه کاروانونه.

۲) "ګڼه" هم زياتره د "توا" په څېر جاج ښندي او کله هم د "ومنه، باور وکړه، که نه، ګڼې" په مانا کارول کېږي، لکه د خوشال په دې شعر کې:

... ګڼه، ما به د مغول ګرېبان پاره کړ

۳) "ګورې!gwáre" د پارسي "زنهار، هشدار!" دانډول په توګه يوبلنوييکی(interjection) دی چې هم د ګواښنې (اخطار،جاج ښندي او هم د "پام!" يا "پام کوه!". لکه:

ګورې، ما درته خو خله وويل!

ګورې، ناروغه نه شې!

۴) "پام!" د "پام کوه!" د لنډيز په توګه د "ګورې" غونډې دګواښنې او سپارښتنې جاج او چار پر ځای کوي.

۵) "پرې" يا "پرېږده!" د "اجازه راکړه" او "هيلې" جاج او چار را اخلي، لکه د استاد حمزه شينواري په دې شعر کې

پرېږده، چې لفظونه د دروغو دې رښتيا کړم

ته را ته سبا سبا کوه زه به بېګا کړم

(پای)

پایڅور

د ژبپوهني بنسټونه
او
غږپوهه

۱ - څپرکی

د ژبپوهنې بنسټونه

نیولیک

(پایڅوړ : د ژبپوهنې بنسټونه او غږ پوهه)

سرلیك | مخګڼه

سرلیك	مخګڼه
۱ - **څپرکی** : د ژبپوهنې بنسټونه	۶
ژبه	۶
ژبه څنګه لومړی ځل منځته راغلې ده؟	۶
اندو ژبه	۷
ژبه یوه ټولنیزه پدیده ده	۷
ژبنی چار څنګه ترسره کېږي؟	۸
آر او رښتیني ژبني توکونه	۸
غږ و ژبه ، غږپوهنه او ژبپوهنه	۹
د غږ او لیك ، یا ژبې او لیك اړیکی	۱۰
توری ، ابېڅې (الفبې)	۱۱
لیکدود ، ژبه او ګړهار	۱۱-۱۲
د وینا توکونه ، ګړدود ، کره ګړدود	۱۲
زنځیري یوونونه (واحدونه)	۱۳
اواز ، خپلواك (واوېل) ، بېواك	۱۳-۱۴
نیمواك ، غبرګغږ ، بلغږ	۱۴
خج ، زېروبمي	۱۵
اهنګ ، بېلتون وپیوستون ، څپه	۱۶
وازه - ترلې څپه ، ګړ (مورفیم)	۱۶-۱۷
ازاد - ترلی ګړ ، بلګړ	۱۷
ګړ اواز ، ګړپوهه (صرف) ویی	۱۸
وییپوهنه ، پورویی ، غونډله (جمله)	۱۸-۱۹
غونډ ، غونډله پوهه (نحو) ، د غونډلې توکونه	۱۹-۲۰
نومونه ، ځیزنوم ، پژنوم ، مانا نوم ...	۲۰
ستاینوم (صفت)	۲۱
شمېر نوم	۲۲
نومځری (ضمیر)	۲۳
کړ	۲۴

	مخکښه
سرلیك	۲۵
کړنومې ، کړولې ، کړول	۲۶
اېښې ، اېښونې ، وييکې (ادوات)	۲۷
سرېل	۲۷
اوسترېل ، تاړی	۲۸
ژبپوهنه ، ژبه او ژبپوهنه	۳۰
نښپوهه ، ماناپوهه ، پښتپوهه ، ژب-ادبپوهنه	۳۱
گړدود پوهنه ، پښويه (گرامر)	۳۲
آرپوهه	۳۳
بېچار پېر (ارگاتيف)	۳۴
کړاوونه (تمرينونه)	۳۶
۲ - څپرکی : غړپوهه	۳۷
د غړپوهې او اوازپوهې اړيکي	۳۸
غړپوهه او ډولونه	۳۹
همرنگي او ډولونه	۴۰
(منځ -) خپلواکونج	۴۱
وينايير يا گړهاري غړي	۴۱
سايېز غړي	۴۳-۴۲
انځورونه	
غړنتيارغي غړي	۴۴
د ناغړنتيا اکر (حالت)	۴۴
ويند غړي ، تمبزي ، د ستوني تشه	۴۵
د خولې تشه ، زبر ډولونه	۴۶
د خولې ، ژبې او شونډو انځورونه	۴۷
تم (انسدادي) غړونه	۴۸
پزيز ، مبښن ، رغښتي ، يوړپي	۴۸
اړخيز ، نامبښن ، زبرځي ، زبر غړي	۴۸
وتوځي ، کومکي وتوځي	۵۰-۴۹
کړاوونه (تمرينونه)	۵۰
نوموني (اصطلاحات)	۵۲-۵۱
اخځليك	۶۴

۱- څپرکی

د ژبپوهنې بنسټونه

۱-۱ : ژبه (*Language*) :

د غږیزو او اوریزو پیلامو (سېمبولو) یو داسې کسبي او اتفاقي غونډال (سېسټم) دی چې د یوې ټولنې وګړي یې یو له بله د پوهولو او راپوهولو لپاره پر ژبه راوړي او یو بل ته یې اوروي .

یا په بله وینا :

ژبه د یو لړ اختیاري ویېزو او اوریزو سېمبولونو (پیلامو) یوه ټولګه ده چې هر یو سېمبول یې زموږ د یوه ذهني انځور ښکارندویي کوي .

دا انځورونه د انساني چاپېریال او مهال ځېزونه، ځانګړتیاوې، پېښې او کړه وړه رااخلي . په دې توګه ژبه د انسانانو ترمنځ د پوهولو راپوهولو یوه آله او وسیله ګرځي .

۱-۲ : ژبه څنګه لومړی ځل منځته راغلې ده ؟

ژبه له ټولنیز ژوند سره سمه منځته راغلې ده . داسې چې د ټولنیز کار په بهیر کې لومړی د نغوتو او اشارو او ورپسې د جړو پړو ولولیزو او هیجاني غږونو په بڼه غږېدا پیدا شوې او بیا له هغو څه د پرله پسې ټولنیزې اړتیا په توګه ژبه منځته راغلې ده . په دې توګه د نړۍ د بېلا بېلو لومړنیو (ابتدایي) ټولنو ترمنځ بېلا بېلې ژبې رارغېدلې دي . په دې مانا چې د نړۍ ژبې هم د بېلا بېلو انساني ټولنو یا توکمونو غوندې یوه ګډه آره (منشا) نه لري .

ژبه د انسان د فکري بشپړتیا تر هرڅه زیاته ځلانده او نژدې پیلامه ده . یا په بله وینا، ژبه د پوهاوي راپوهاوي هغه سېمبولیکه غږیزه - اوریزه وسیله یا اوزار دی چې ودې یې بشر د انسانیت

بشپړتیایي پړاو ته رارسولی او د لیك ایجاد یې بیا د مدنیت او هخابه پرمختیایي پړاو ته، تر دې چې تر دغه ایجاد ترمخه بشري تاریخ تر تاریخي پېره بهر (ماقبل تاریخ) بلل کېږي.

۱-۳: اندو ژبه : د انسان فکر چې هر ډول وي، د غږېدلو یا لیکلو او یا انځورولو پر وخت همېشه او هرومرو له وییو (کلمو) سره ملګري وي . وییي (کلمې) د اندونو (فکرونو) مادي استر ګڼل کیږي. شعور یوازې د دغه مادي استر په مرسته راتلونکو توکمونو ته د لېږد وړ دی .

انسان یوازې د وییونو په مرسته وکړای شول او کولای شي، خپل اندونه او د څیزونو او مادي پدیدو، موخو او لیدتوګو آګاهانه غبرګونونه (انعکاسات) ثبت کړي، له خپلو همځېلو سره ازمېښت او الواك (نظر) وونجوي، د یوې موخې لپاره پر ټولنیز او ګډ کار لاس پورې کړي او د یوه پښت یېبرى (برياوې) راتلونکي پښت ته ورولېږدوي . ژبه د ځانخبری یا شعور په وده او د مجرد او تیوریك اند په راپیدا ایښت کې ستره اغېزه لري .
د ژبې پیدا ایښت او بشپړتیا چې د انسان ټولنیز کار دی، د انساني شعور له بشپړتیایي بهیر سره نه شلېدونکې اړیکي لري .

د زېږند کار په بهیر کې بشر څیزونه او پدیدې او ګډ لاملونه (عوامل)، خوځښتونه او اوښتونونه نومولي دي او جوت او مجرد جاجونه (مفاهیم) یې منځته راوړي او په دې توګه یې خپل شعور بډای کړی او بشپړ کړی دی له همدې کبله وایو :
ژبه له آره له وییونو نه رغبدلې ده چې هر یو د یوې بهرنۍ غږیزې بڼې او یوې مانیزې منځپانګې لرونکی دی . یوازې تش غږونه له مانا پرته ویي او ژبه کېدای نه شي . د عیني واقعیت انګازه د وییونو په مانا کې مونډای شو او دا مانا د ویي په غږونو کې ځای نیسي او خوندي کېږي او د ټولو همژبو وګړو لپاره اړوندویي ټولنیزه او ټولپوهیزه (عام فهمه) مانا پیدا کوي چې د هغې په وسیله خپلې ګروهې او موخې څرګندوي او نورو ته لیږدوي .

په لنډ ډول درې څیزه او کړنه – کار، اند او ژبه د ټولنیز زېږندویه کار پر بنسټ هممهال منځته راغلل او بشپړتیایې وموندله . دغه درې واړه یو له بله یو نه شلېدونکې یووالی لري په دې ترڅ کې کار د دغه دیالکتیکي یووالي بنسټ جوړوي .

۱-۴: ژبه یوه ټولنیزه او دنده یې پدیده ده

ژبه د نښو، پیلامو (سېمبولو) د یوه غونډال (سېستم) په بڼه یوازې انسان پخپله ټولنه کې زده کوي چې د هغې په مرسته خپل اندونه (فکرونه)، غوښتنې، انګېرنې او ننګېرنې (خیالات او احساسات) نورو همځېلیو (همنوعانو) ته څرګند کړي او په دې توګه سره د پوهولو او راپوهولو اړیکي وساتي . د همدې له مخې وایو چې :

ژبه یوه دنده یي (کسبي)، تړوني (اتفاقي) ټولنیزه او مدني پدیده ده، نه فطري او طبیعي او عضوي چې مخکې له مخکې د انسان په خټه کې اخښلی چار اوسي، لکه سهیز، ساییز او وژیز (هضمي، تنفسي او عصبي) جوړښتتونه او د هغو چارو نه . دا چې موږ د خپلو غړو، لکه د (ژبې، اووریو، غاښونو، شونډو، تالو، ستوني، مری، سږو او داسې نورو) په وسیله غږېږو او په دې توګه یې غږیز، یا ژبني غږي بولو، دا مانا نه لري چې ګوندې دغه غړي له آره د همدې دندې لپاره جوړ شوي دي، بلکې هر یو ځانته جلا - جلا بیولوجیکي او طبیعي دندې لري، لکه خوراك، څښناك، ساایستنه او داسې نور. او ژبنۍ دنده یې څېرمه او ضمني دنده بلل کېږي، هغه هم په کسبي ډول په کړاو (تمرین) سره.

۱-۵: ژبنۍ چار (عملیه) څنګه ترسره کېږي ؟

کله چې یو څوك (غ) وغواړي. یو څه (څ) پر ژبه راوړي، لومړی یې په مغزو کې یو غږ انځور (ځ) جوړېږي، چې یو روحي چار دی، ماغزه غږیز غړي پر کار اچوي چې دغه (ځ) د سا هوا او بیا بهرنۍ هوا په مرسته د غږ پر څپو بدل کړي . په دې توګه د هماغه غوښتنې یا موخې (څ) ذهني غږ انځور (ځ) د ویلو او اورېدلو وړ ګرځي او ګړنی یا ژبنی چار ترسره کېږي . نو که غږېدونکی (غ) غواړي، هماغه (څ) بل یو چا (ا) ته څرګند کړي، په بله وینا (ا) د (غ) خبرې واوري، همدا چار په سرچپه ډول پیل وپای مومي :
له غوږ نه یې مغزو ته د (ځ) فزیولوژیکي لېږد او بیا یې په مغزو کې له (څ) سره د (ځ) روحي سازښت . مانا دا چې که اورېدونکی (ا) پر خپل وار هم وغواړي له غږېدونکي (غ) سره وغږېږي، نو د ده (ا) له غوږه د غږېدونکی (غ) تر غوږ پورې به هماغه لار وهي، لکه پاس چې څرګنده شوه، نو په دې توګه دا سکالو یا خبرې اترې په لاندې ډول انځوروو :



۱-۶: آر او رښتیني ژبني توکونه

د ژبې آر او رښتیني توکونه هماغه غږونه او غږ غونډونه دي چې څرګندني، لېږدني (مخابروي)، شعوري او سېمبولیکه ځانګړتیا ولري. پارنغږونه یا هیجاني چغې که څه هم څرګندني کېدای

شي. مگر سېمبولیك ورته ویلای نه شو. د درد یا خوند، خواشیني یا خوښي ... غږونه او دغه راز د انگیویپو (طبیعي اصواتو) پېښې سوچه شعوري نه شي گڼل کېدای، بلکې یوازې د ټولنې له خوا په "اتفاقي" ډول د یوه څه څرگندولو لپاره ټاکل شوي دي. که چېرې یو، یووستوی غږ د ژبني توك ځانگړتیا ولري، هغه به هرومرو د دوو یا څو غږونو لنډیز وي. لکه: پښتو (آ)، یا انگلیسی (a) چې د (یو) مانا ورکوي او هغه هم له آره د an (= one) لنډیز گڼل کېږي.

۱-۷: ژبنۍ څېړنه د غږونو په څېړنه پیل کېږي.

غږ او ژبه، غږ پوهنه او ژبپوهنه:

ژبپوهان په ټولیز ډول ژبه د داسې مجردو او ذهني نظامونو د یوه پېچلي غونډ (مجموعې) په ډول راپېژني چې د انساني مغزو له زېږندو څخه گڼل کېږي او د وگړو ترمنځ د اړیکي ټینگولو لپاره په کارېږي.

د دغې پیژند (تعریف) له مخې ژبه یوه مانیزه او ناتوکیزه (غېرمادي) پدیده ده. له بلې خوا دا چې غږ هوایي څپې دي، نو مادي گڼل کېږي. له دې کبله وایو: غږ یوه توکیزه ښکارنده (پدیده) ده چې د غوږ له لیارې ننگېرل کېږي او نه شي کېدای چې د ژبې د ذهني نظام یو توك وشمېرل شي. له دې ټولو څرگندونو سره غږ د یوه داسې توك په توگه له ژبې سره اړیکی پیدا کوي چې ژبني نظامونه پکې راڅرگندېږي. په دې ډول ویلای شو چې: د غږ او ژبې ترمنځ هماغه ډول اړیکی دی، لکه د یوې موسیقي آلې د یادښتونو (نوټونو) د غونډ (ټولگې) او د هغې د ترسره شوې بڼې ترمنځه، په بله وینا، غږ د ژبې د مانیزو (مجردو) ذهني نظامونو لپاره یوه ننگېرلې (محسوسه) توکیزه او گړنۍ ننبه ده.

څنگه چې د ژبپوهنې په څېړنو کې د ژبې د مجردو او ذهني نظامونو پوهېدنه په عملي توگه په ژبنۍ ماده کې، د دغو نظامونو له ښکارندویي پرته کیدونې نه ده، نو هرومرو ژبنۍ څېړنې د ژبې د غږونو له څېړنې سره پیل کول په کار دي. له دې کبله غږ پوهنه باید د ژبپوهنې د هغو سریزو په لړ کې وشمېرل شي چې لوستنه یې د ژبنیو پلټنو لومړی آړ (شرط) بلل کېږي.

پر دې سربېره څنگه چې په غږ پوهنه کې د غږیزو پلټنو ډگر پر هغه ډلې غږونو پورې راچاپېرېږي یا محدودېږي چې یوازې په ژبه کې پر کار لوېږي او ناژبني غږونه له آره په غږ پوهنه کې تر څېړنې لاندې نه راځي. باید وویل شي چې غږ پوهنه په ژبپوهنې پورې تړلې پوهه ده. په دې ډول ژبه یوه یوازینۍ ذهني پدیده ده، له دوو بیلا بېلو مادي څرگندونو سره چې یوه وییزه بلل کېږي او بله اوریزه.

۸-: د غږ او لیك، یا ژبې او لیك ترمنځ اړیکې

لیك هم لکه غږ د یوه داسې توك (مادې) په توګه چې غږیز نظامونه رانغاړي، له ژبې سره اړیکې پیدا کوي . د همدې ټکي له مخې له لیك سره د ژبې اړیکې هماغسې یو اړیکې دي، لکه د غالۍ دنقش او د هغې داوبدلې بنې ترمنځه اړیکې . مګر دا اړیکې له هغه اړیکې سره توپیر لري چې د غږ او ژبې ترمنځ شتوالی لري . ځکه د غږ او ژبې ترمنځ اړیکې سیده او بې واسطه دي، هغه هم په دې وروسته لاسوندونو (دلیلونو) :

۱ - د هر ډول لیك تر نوښتنې (اختراع) له مخه، ژبې په سلونو او ښایي په زرونو کلونو له غږیزو نښو څخه د خپل یوازیني مادي څرګند ځای په توګه کار اخیست، په داسې حال کې چې د لیکنیو نښو (سېمبولو) کارونه څه ناڅه یوه نوې پدیده ده چې تاریخچه یې تر پنځو زرو کلونو څخه تېرې نه کوي .

۲ - لیك د ژبې د غږیزو نښو د لیکنې لپاره رااېستل شوی او له همدې کبله، لکه چې، له مخه وویل شول، لیکنۍ نښې د غږیزو نښو له لارې په ناسیده ډول له ژبې سره اړوند ېږي.

کوم لاسوندونه چې د دغې خبرې د پخلي لپاره وړاندې کېدای شي، دا دي چې هرکله په یوه ژبه کې ستر غږیز بدلونونه رامنځته شوي دي، د هغې ژبې د لیکنیو نښو بدلون ته هم اړتیا پیدا شوې ده . که څه هم دغه کار په ډېرو ژبنیو ټولنو کې له ځنډونو سره مخامخ شوی ؤ ی . چې غوره بېلګې یې انګلیسي او پرانسي لیکني سېستمونه دي او هغه دا چې یې لیکونوله ژبنیو بدلونو سره هېڅ کوم بدلون نه دی موندلی او ستونزې یې رامنځته کړې دي، په نورو خپلوانو ژبو لکه الماني، اسپانیي، ایتالیي، روسي، بلغاریي ... کې بیا څه ناڅه له ژبنیو بدلونونو سره لیکني سمونونه هم راغلي دي او تر دا منځ واټن کم شوی دی . خو په سرچپه ډول داسې هېڅکله نه دي شوي چې لیکنی بدلون پر ژبني غږیز نظام کوم اغېز ښندلی وي. له دې کبله ویلای شو چې لیکنۍ نښنه د ژبنۍ غږیزې نښې لپاره لیکنۍ نښنه ده . یا په بله وینا ، که غږ د ژبې ښکارندوی دی، نو لیك د غږ ښکارندوی دی .

۳ - د لیکنیو نښو (تورو) پر کار اچولو لپاره کېدای شي، د انسان له بدني غړو پرته له نورو وسیلو څخه هم ګټه واخېستل شي . په داسې حال کې چې د غږیزو نښو کارونه له غږیزو غړو پرته کېدون نه لري . له دې کبله بې ځایه نه ده چې ومنو، د ژبنیو غړونو کارونه ډېره اسانه او بې سرخوږه ده او لکه توري په کاغذ ، قلم او نورو وسیلو پورې تړلې نه ده . نو باید غړونه ترلیك له مخه او پخواني وي . بله دا چې لومړني انسانان د لوبښو (ابرازو) له پلوه تل په تنګسه کې ول او تر لیکه ورته غږیدا اسانه وه، که څه هم پخپله ژبه هم یو لوبښی ګڼل کېږي او د نورو لوبښو له جوړېدنې او پرمختګ سره یې سمه رغېدنه او پرمختګ موندلی دی .

۴ - غږيزې نښې د ژبنيو نظامونو په څرګندونه کې زياتې دقيقې دي او په دې برخه کې داسې وړتياوې يا امکانونه لري چې د لنډو تنګو ليکنيو نښو له هغو سره په هيڅ ډول د پرتلې وړ نه دي . همدا خبره ده چې د ساري په توګه يوه ليکلې غونډله (جمله) په هره ژبه کې کېدای شي، په بېلا بېلو جولوله بېلا بېلو ماناوو سره ولوستل شي . په داسې ډول هره غونډله چې ويل کېږي، يوازې په يوه بڼه ليکل کيدای شي . نو په دې توګه وينا په هره ژبه کې تر ليکنې زياته ژوره او دقيقه ده .

له همدې لامله ژبپوهان په خپلو څېړنو کې وينا ته زيات ارزښت ورکوي چې له غږيزو نښو څخه جوړه شوې ده . او له ليکنې څخه تروسې - وسې ډېره کوي چې له ليکنيو نښو څخه رغېدلې ده . بيا هم دا لاسوند (دليل) دی چې په ژبپوهنه کې د ژبې ګڼنی اړخ تر ليکنې هغه غوره دی او د ژبې ژوندی بڼه ګڼل کېږي . او په دې لړ کې د يوې - کره غږ پوهنې، پښنويې او ليکلارې تر ټولو باوري او اړينه سرچينه ده .

۵ - همدا اوس په نړۍ او بيا په ځانګړي ډول زموږ پخپل هيواد کې لاډېرې ژبې شته چې ليك نه لري او د ژونديو ژبو په توګه د خلکو ترمنځ ويل کېږي او شتمن ګڼنی ادب لري، لکه نورستاني، دردي او يا پاميري ژبې .

۱-۹: توری (حرف) : هغه ليد وړ انځور دی چې د يوه اواز (←) يا څو اوازونو ښکارندويي کوي .

۱-۱۰: ابېځې يا الفبې (الفبا) : د هغو ټولو توريو ډلې ته وايي چې د يوې ژبې د ټولو اوازونو انځورنه کوي . بشپړه ابېځې هماغه ده چې د هر يوه اواز لپاره يوه نښه (توری) ولري دغه راز ابېځې ته غږيزه يا فونيميکه ابېځې وايي .

۱-۱۱: ليکدود : املاء يا آرتوګرافي د يوه ټاکلي الفبايي سېستم په چوکاټ کې دننه د يوې ژبې د وييونو (کلمو) کښنګ، ليکدود او ډول ته وايي . د ساري په توګه په اوسني پښتو الفبايي سېستم کې ځينې توري د يوه ويي په هره برخه کې له بل توري يا توريو سره يوځای ليکل کېږي او ځينې پکې په نيمګړې توګه يو له بل سره نښلول کېږي . سم ليکدود هماغه دی چې تر کېدنه پورې د يوې ژبې وييونه داسې انځور کړای شي چې په لوستلوکې يې تېروتنې ونه شي . په بله وينا، د توپير او نه ګډون (عدم التباس) آر (اصل) پکې پرځای شي. ليکدود که څه هم تر ژبې زياته ټړوني (قراردادي) بڼه لري او څنګه يې چې اړوند ژبپوهان او ليکوال وټاکي، هماغه د اړوندې ژبې ليکدود بلل کېږي، مګر لکه څنګه چې ژبنی نښې (سېمبولونه) د توپير او نه ګډون پربنسټ منځته راغلي دي، نو په ليکدود کې هم دغه آر (اصل) پرځای کول اړين دي .

۱-۱۲: ژبه او ګړهار - (Language (Langue) and Speech (Parole)

لکه څنګه چې په (۱-۱) (۱-۲) او (۱-۳) کې وویل شول، ژبه د انسانانو ترمنځ د پوهاوي یا مخابروي وسیلې په توګه د تړوني (قراردادي) غږیزو او اوریزو نښو یا سېمبولونو سېستم دی. مګر د نوې ژبپوهنې استادان چې سوسیور یې په سر کې دی، تردغه نامه لاندې دوې نومونې سره توپیروي، یوه پخپله ژبه د یوې ګوښې (مجردې) پدیدې او بله د ژبني چار (ګړهار) په توګه، په دې ډول:

ژبه یا لنګویج (لانګ) هغه انساني اړتیا ده چې د هغې په مرسته غږېږي.

او وینا، ګړهار - سپیچ (پرول) ګړنی چار (عملیه) او جوته (مشخصه) څرګندونه ده (اولرینس ۱۰۷).

ماریوپای (۱۶۰) وینا یا پرول داسې راپېژني: په یوه ټاکلي اکر کې د یوې ټاکلې یو ګړې (فردي) ژبې کارونې (استعمال) ته وینا یا پرول وايي.

۱-۱۳: د وینا توکونه - اجزای کلام - Parts of speech

هغه ټولۍ (کتیګورۍ) دي چې په هغو کې د یوې ژبې وییونه (←) ډلبندي کېدای شي. څه که دغه ډلبندي په غونډله ییزه رغاونه (←) کې د هغې د چار (فنکش) له مخې وي او یا د هغې د بڼې، اوړون ډول (طرز ګردان) او داسې نورو له مخې (ماریو - پای - ۱۶۱). په وینا توکیو کې د غونډۍ له توکو په توپیر ناسېمبولیك توکونه، لکه ولولیز یا هیجاني او طبیعي غږونه یا انګینومونه (۱-۵) هم رااخېستل کېږي.

۱-۱۴: ګړدود - ګویش یا لهجه - Dialect : د یوې ژبې هغه ځانګړې بڼه ده چې په

یوې ټاکلې جغرافیایي سیمې، تاریخي پېر (دورې)، ټبر یا ټولنیز پوړ (قشر) او یا پاړکي (طبقې) پورې اړه لري. د نړۍ هره ژبنۍ کورنۍ له آره له یوې لرغونې مورنۍ ژبې څخه منځته راغلې ده. داسې چې د هماغې مورنۍ ژبې بېلا بېل ګړدودونه د مهال او چاپېریال له بدلون سره پر بېلا بېلو خپلواکو ژبو اوښتي او په دې ډول یې یوه ژبنۍ کورنۍ رامنځته کړې. د هرې کورنۍ دننه بیا نورې ګړدودي ډلې ټپلې یا ځانګې او ښرانګې وده وش مومي او په پای کې ژبني دریځونه راخپلوي.

۱-۱۵: کره یا معیاري ګړدود: که د یوې ژبې د ټولو ګړدودو له منځه یو ګړدود د ټولنیز،

وتېز، فرهنګي، سیاسي، کولتوري او سیاسي دریځ د لوړوالي له پلوه د دغې ژبې په ښکارندویۍ د ورځني لیکني کارونګ لپاره وامرل (انتخاب) شي، لیکنی، ادبي، رسمي، ټولیز یا په لنډ ډول یو یوازینی کره ګړدود ګڼل کېږي او د دې په وړاندې نورې بڼې ناکره ګړدودونه. که څه هم دا

ګړدودونه د کره ګړدود په پراخوالي او بشپړوالي کې بې برخې نه دي . د زمانې په تېرېدو سره کره ګړدود د اړوندې ژبې تر هر یوه ګړدوده زیات بشپړ او بډای کېږي . نور ګړدودونه ورو - ورو تر اغېزې لاندې راوړي او په پای کې یې نشتوي، یا په بله وینا، هغه ټول په خپل ځان کې ځایوي او بیرته یو تقریبي ګړدودي - ژبنی یووالی منځته راوړي، ځکه هغه مهال بیا ګړدودي بریدونه (وییز، ګړنیز، ګرامري او لېکزیکي توپیرونه) پخپله ړنګېږي او بیرته یوه ټولیز ګډ سېستم (ژبې) ته اوړي.

د پرانسې نومیالي ژبپوهاند خبره، نن سبا ګړدودي توپیرونه د یووالي خوا ته روان دي او تر وېش یا انشعابه یې د یووالي کېدون ډېر دی . (اندرې مارتین ۵-۱۴) .

رښتیا هم اوسنی علمي او تخنیکي پرمختګ د دې لامل شوی دی چې نه یوازې د یوې یوازینۍ ژبنۍ ټولنې د غړو ترمنځ، بلکې د ټولې بشري نړۍ د اوسیدونکو ترمنځ اړیکې ټینګ شي او د دې پر ځای چې دا راز توپیرونه زیات شي، په سرچپه ډول ورو ورو لږېږي .

۱-۱۶ : زنځیري یوونونه (واحدونه)

هغه دي چې د ګړهار په بهیر کې پرله پسې او پیوست راځي، په بله وینا : که ګړهار د خپلې لوبنې له مخې یو زنځیر وګڼو، نو دغه راز یوونونه پکې د بیلا بېلو کړیو په څېر پرله پسې او پرله پېیلي راڅرګندېږي او هر یو یې د جلا غړ په نامه بلل کېږي . له همدې کبله دغو غړونو ته زنځیري یوونونه (واحدونه) هم ویل کېږي (حق شناس ۶۹) .

۱-۱۷ : نازنځیري یوونونه

هماغو (رنګارنګیو) ته وایي چې بې له ژبني آر (پرله پسیوالي) منلود غړونو، وییونو او نورو ژبنیو ټوکونو (اجزاوو) ترمنځ پېښېږي او په دې توګه د مانا بیلا بېل تیاره اړخونه څرګندوي. یا په بله وینا، داسې ژبني یوونونه (واحدونه) دي چې د ګړهار په بهیر یا زنځیر کې جوت ځای نه لري، بلکې کولای شي، خپل ځای وونجوي (عوض کړي) او د ځانته جلا (مستقلو) زنځیري یوونونو په شمار کې را نه شي، لکه : فشار یا خج، اهنګ، بیلتون او پیوستون (فصل ووصل)، زیروبمي، وزن یا ریتم او داسې نور .

۱-۱۸ : اواز، واج = واک - *Phoneme*

د ژبې تر ټولو کوچني غړیز توک (عنصر) ته وایي چې پخپله کومه مانا نه لري، مګر په مانیزو توکونو (وییونو) کې مانیز توپیر پېښوي، د ساري په توګه : (ت) په پښتو کې یو اواز دی چې یو

ویی یې لکه (تور) له یوه بل ویي، لکه (پور) څخه توپیر کړی دی . پښتو له ۳۶ اوازو څخه جوړه ده . اواز د زېر له مخې لاندې ډولونه لري .

۱-۱۹ : خپلواك - ویل - *Vowel*

هغه اواز ته وایي چې راپیدا کېدل یې بې له کوم ستر هوایي بندیزه ترسره کېږي، لکه : ا، و، ی .... پښتو ۷ خپلواکه لري .

۱-۲۰ : بېواك - همخوان - کنسوننت - *Consonant*

هغه اواز ته ویل کېږي چې له راپیدا کېدو، یا په بله وینا، له خولې څخه د راوتو پروخت د سا هوا له بندیز سره مخامخېږي، لکه: ب، پ، ت، ټ، گ، ك .... د پښتو بېواکو شمېر ۲۹ دی .

۱-۲۱ : نیمواك - نیم واکه - Semi Vowel

هغه اواز دی چې د خپلواك او بېواك دواړو دنده پرځای کوي او د دواړو ځانگړتیاوې لري . یا په بله وینا، که په یوه څپه (۱-۲۹) کې د زړي یا هستې (حرکت) کار ورکړي، د خپلواك بڼه غوره کوي، که نه د بېواك . لکه منځنی اواز په بېل (bel) او بیا (byā) کې، یا لکه (و) په گل gol او gwəl کې . پښتو نیمواك اوازونه (و-w) او (ی -y) دي .

۱-۲۲ : غبرگغږ - واکه مرکب - *Diphthong*

هغه ته وایي چې د خپلواك او نیمواك په ملگرتیا منځته راځي او لکه یوستووی اواز یووار پتلیز له خولې راوځي د یو غبرگغږ لومړی ټوك یو خپلواك او دویم ټوك یې یو نیمواك اواز وي، لکه زورواله ی (ay) او زورکي واله ی (əy) اوداسې نور .

۱-۲۳ : بلغږ - واجگونه - *Allophone*

د یوه یوازیني اواز (۱-۱۸) بېلا بېل ډول یا بڼې ته وایي چې د راز - راز څپو په بېلا بېلو برخو (پیل - منځ - پای) یا د څېنو اوازونو په گاونډ کې رامنځته کېږي، لکه : (ب) چې په (بر) کې یو راز (سایېز) ویل کېږي، په (غبرگ) کې بل راز (لږ سایېز)، په (خوب) کې بل راز (ناسایېز) او په یوه تړلي یا بېواکه غونډ (کلستر) لکه (برم) کې یو ډول (لږ سایېز) او په وازه څپه کې، لکه (به) کې بل ډول (سایېز) . په دې توگه یو یوازینی اواز (فونیم) څو څو ډولونه (بلغږونه) درلودای شي .

۱-۲۴: ځینې خپلواك یا واویل واز او یا تړلي بلل کېږي . واز دا مانا چې په وینګ کې یې شونډې ناګردې وازې پاتې کېږي او داسې نښنه کېږي : a (à)، è، o (ò)، u (ù) ... تړلي دا مانا چې په وینګ کې یې شونډې په روړدې توګه وازې وي او داسې نښنه کېږي : á، é، ó، ú . په پښتو کې یوازې واز è، هغه هم شمال ختیځ خواته ویل کېږي چې تش یو ګړدودي ارزښت لري، لکه په (لرګې larg è) کې .

۱-۲۵: خج یا فشار - تکیه - *Accent = Stress*

هغه چار (عملیې) ته وایې چې د ژبنیو توکونو په لړ کې یو توك په زیات زور او شدت وویل شي په بله وینا ، خج (فشار) د زېږ له پلوه د هوا په فشار د بدلون د ځانګړتیاوو له تړنګ یا ترکیب، د زیروبمۍ له کچې یا درجې او په خپلواکیز (واولي) راکښون کې له توپیر څخه منځته راځي او د اوربدنګ له پلوه زیات رساوالي ته وایي . دا مانا چې په زیاته څرګنده او رسا توګه یو ژبنی توك واورېدل شي . په هر غږیز بهیر کې هغه څپه خجنه بلل کېږي چې د زېږ پروخت تر نورو ګاونډیو څپو څخه په زیاته کچه پورتنۍ ځانګړتیاوې ولري . د ژبنیو توکونو یا غږیز زنځیر د زیاتوالي او کموالي له پلوه درې ډوله خجونه یا فشارونه سره توپیرولای شو :
غونډله ییز (جملوی) خج - وییز (لغوي) خج او څپیز (هیجایي) خج، لکه په (زه پوهنتون ته ځم Zə pohəntún ta jəm-) کې پر لنډو (u) خج راغلی دی چې که ټوله غونډله (جمله) په پام کې ونیسو، غونډله ییز خج (فشار) بلل کېږي . که اړوندویې (پوهنتون) په پام کې ونیسو، نو څپیز (هیجایي) خج (فشار) نومول کېږي، په بله وینا ، په لومړۍ برخه کې وایو ، دغه غونډله (زه پوهنتون ته ځم) د نورو غونډلو په ترڅ کې یوه خجنه غونډله ده چې په دویم ډول کې د (پوهنتون) ویی د نورو وییو (زه - ته - ځم) ترځنګه یو خجن ویی دی او په همدې توګه (- تون) د ویی د نورو څپو (پو - هن) په لړ کې یوه خجنه څپه ده .

۱-۲۶: زیروبمي - *Pitch*

زیروبمي له پرله پسیوالي، ډېر پېښېدنې (تواتر) او د ریږدا له پلوه له پراخوالي څخه منځته راځي هرڅومره چې د تواتر شمېر زیات وي، غږ هغومره زیر- او هرڅومره چې لږ وي، غږ هغومره بم اورېدل کېږي . له بله پلوه چې د ربږدا لمن هرڅومره پراخه شي، غږ هغومره رسا او هرڅومره چې لنډه تنګه شي، غږ هغومره نارسا اورېدل کېږي . په دې توګه غږ یا زیر وي یا بم، منځنی، یو ډوله ولېدونکی یا جګېدونکی او داسې نور .

۱-۲۷: اهنگ - *Intonation*

اهنگ د زیروبمي یو ډول دی . دا مانا کله چې د ګړهار په بهیر یا اوږدو کې د زیروبمي پراختیا لمن د غونډلې (جملې) په کچه وي، هغه زیروبمي اهنګ بلل کېږي . اهنګ په پښتو کې ژبنی ارزښت لري . د ساري په توګه خبري او ناخبري غونډلې سره توپیر وي ؛ د خبري هغې اهنګ ولېدونکی او د پوښتني هغې جګېدونکی ... دی . (حقشناس ۱۲۷) .

۱-۲۸: بېلتون او پیوستون - فصل ووصل یا درنګ

بېلتون او پیوستون دا مانا چې د ژبنیو توکونو په لړ یا د ګړهار په بهیرکې دوه غړه (اوازه)، دوې څپې، دوه ګړونه، دوه وییونه، دوه غونډونه (فقرې) یا دوې غونډلې سره پټلیزې (پیوستې)وویل شي او یا ناپټلیزې . یا په بله وینا ، د دغو ژبنیو توکونو په لړ کې د دوو توکونو پای او پیل سره نښتي او بې ځنډه وویل شي، یوه ټاکلې مانا ښندي او که په ځنډ او لارغې سره یوله بله جلا وویل شي، یوه بله مانا منځته راوړي. د ساري په توګه که په(باري چتك راغی)غونډله کې(باري چتك) پټلیز ولولو یا ووایو، نو (چتك) له (باري) سره یو نوم جوړوي، که نه (چتك) کړول ګرځي .

۱-۲۹: څپه - هجا- *Syllable*

څپه هغه ژبنی یوون (واحد) دی چې یا یو خپلواك (۱-۱۹) وی او یا له یوه یا څو ښواکو(۱-۲۰) څخه جوړوي او په یو ځایي ډول له خولې راوځي، لکه په (ابا) کې چې دوه زړې (خپلواکه) لري، لومړۍ څپه (الف) او دویمه (با) ده . یا شخوند (šxwand) چې یو زړی (a) لري او پنځه ښواکه او په دې توګه په پښتو کې اوږدترینه څپه ګڼل کېږي. هرڅومره ښواك اوازونه چې سره یوځای شي او خپلواك اواز ورسره د زړې په توګه ملګری نه شي، څپه جوړولای نه شي، ځکه بې له دغه زړې څخه هډو ویل (تلفظ) کېدای نه شي. په پښتو کې د څپو اوږدوالی او لنډوالی کوم ژبنی ارزښت نه لري: نه مانیزونجون پېښوي او نه پر شعري وزن کوم اغېز ښندلای شي. هسې خو بې له هغې هره څپه هرومرو ماناواله نه وي . د ساري په توګه (اغی - ز - ه) په (اغیزه) کې دریواړه څپې هر یوه ځانته جلا جلا مانا نه لري، بلکې په ګډه یو مانیز توك (ویی) جوړوي. مګر (کور) یوه ماناواله څپه ده. یا په بله وینا ، یو ویی (۱-۳۹) دی او له دې سره یو ګړ (۱-۳۲) هم دی.

حقشناس (۱۳۷) څپه یا هجا داسې راپېژني:

څپه یو مرکب غږیز یوون (واحد) دی چې له یوه یا څو زنځیري (۱-۱۶) او یو یا څو نازنځیري (۱-۱۷) یوونونو څخه رغېدلې وي. څپه یا وازه وي یا تړلې.

۱-۳۰: وازه څپه : هغې څپې ته وایې چې له یوه خپلواکه جوړه وي او یا پر یوه خپلواك پای ته رسیدلې ـي، لکه : ا - به - ته - شنه - بیا - غوا - پرې - هو.

۱-۳۱: ترلې څپه : هغې ته وايي چې پر يوه بېواك پاى شوې وي، لکه : کور، خوند، شخوند، ورځ، خوړ، خوړين، خپل، برگ، غبرگ.

۱-۳۲: گړ - واژك *Morpheme* : گړ يا مورفيم د ژبې تر ټولو کوشنی مانيز توك (عنصر) دی چې د څو اوازو (۱-۱۸) له يوځای کېدو څخه لاس ته راځي او له شنل کيدو څخه يې ساده اوازونه، يا په بله وينا بې مانا توکونه. که يووستوي ساده اواز مانا ولري، هم گړ بلل کېدای شي، خو هغه به هرومرو د يو پخواني (اواز غونډ) لنډيز وي (۱-۶). په بله وينا، گړ (مورفيم) د ژبې هغه کوشنی ترين مانيز توك يا مانيز يوون (واحد) دی چې که وشنل شي، بې مانا اوازونه (فونيمونه ۱-۱۸) ترې لاسته راځي او په دې توگه خپله مانا له لاسه ورکوي.

ژبنۍ شننه هم له آره په گړونو کېږي، نه په بې مانا غړيزو توکونو (اوازونو). ځکه د ژبې له مانيز جوړښت سره چې رښتينی ژبنی جاج (مفهوم) او رغښت (ماهيت) جوړوي، اړيکی نه لري. يو گړ پر زنځيري يوونونو (۱-۱۶) سربېره نازنځيری (۱-۱۷) هم په خپل جوړښت کې لري، لکه فشار او داسې نور.

گړونه پر ازادو او ترليو گړونو ويشل کېږي:

۱-۳۳: ازاد گړ : چې په ژبني بهير کې په ازاده او خپلواکه توگه يوه مانا ښندي، لکه : کور، اور، اوبه، مالگه ... ؛ نومونه، کړونه او کړولونه (قيدونه) د ازادو گړونو ډولونه جوړوي.

۱-۳۴: ترلی گړ :چې د گړهار په بهير کې يا د يو مانيز يوون(ويي) يو ټوك وي، لکه (- وال) په کليوال، (- ين) په خاورين، (- يز) په اړخيز کې او داسې نور تاړي، او يا د ويي ټوك نه وي، بلکې چار او مانا يې د خپلو گاونډو خپلواکو يوونونو (وييونو) په ملگرتيا سره څرگندېږي، لکه : ته، نه، و، او، سره او داسې نور وييکي.

۱-۳۵: بلگړ - واژگونه *Allomorph*

بلگړ (الومورف) د يوه يوازيني گړ (۱-۳۲) بيلا بېل ډول يا بڼې ته وايي، لکه : (- يي) په "بيدايي" کې چې د "دښتي" غوندې په يوه ويي کې د (ي) يو بلگړ بلل کېږي، يا لکه (- يم) په " اتيايم " کې چې د " څلورم " غوندې په يو ويي کې د (- م) بلگړ گڼل کېږي. دلته بنسټيز يا آر (اصلی) گړ هم (əm -) دی. همداسې " - يز " او " - ييز " هم دړواخله، لکه په " دوديز " او سيمه‌ييز " کې.

بلګړونه د یوه ګړ غړي دي چې د یوې ګرامري قاعدې (کټیګوری) څرګندوی وي او دغه توپیر د غړیز چاپیریال له کبله منځته راځي. یا په بله وینا، کله چې په یوه څپېز یا سیلابیك جوړښت کې دوه ګړونه سره یوځای کېږي، د ژبې هڅه دې ته وي چې د بېږاکو یا خپلواکو د ګنې ګوڼې یا پرله پسیوالي د مخنبوي لپاره په منځ کې خپلواك یا بېواك اواز ورولېږي، لکه په (بېلول) کې (- ول) د (جلا کول) د (- کول) په وړاندې او یا د (څوانان) او (خانان) د (ان) ترڅنګه د (ملایان) او (میرزایان) (- یان) او د (بوډاګان) او (بېراګان) (ګان) او داسې نور دي، په دې مانا چې دلته ډېرګړی (جمع) - وروستاړی له آره (ان) دی او (- یان) او (- ګان) یې بلګړونه دي.

۱-۳۶: ګړاواز - مرکزتك واژه – *Morpho - phoneme*

هغه اوازونه چې د یوه ګړ د بیلا بېلو غړیو (بلګړونو) په توګه یو پر بل اوړي. او یا یو د بل ځای نیسي. دا راز اوښتونونو ته مورفوفونیمیکي بدلونونه وایي.

۱-۳۷: ګړاوازپوهه - مرکزتك واژه ها - *Morpho-phonemics*

د ژبپوهنې هغه څانګه ده چې په هغه کې د یوې ژبې ټول ګړاوازونه او مورفوفونیمیکي اوښتونونه (همرنګي ـ ناهمرنګي ...) ترڅېړنې لاندې نیول کېږي. په هغو ژبو کې چې نوموړي اوښتونونه دومره زیات نه وي، نو دغه ویینه (بحث) د ګړپوهې (←) په ترڅ کې راځي، لکه واخلې په پښتو او دري کې.

۱-۳۸: ګړپوهه - صرف - *Morphology*

ګړپوهه د پښویې هغه برخه ده چې د ګړونو (مورفیمونو ۱-۳۲) ډولونو او څېلونو، رغاونې او اوړون سره کار لري.

۱-۳۹: ویی - واژه (لغت یا کلمه) - *Word* : ویی د غړ پوهنې (←) له مخې د یوه مرکب غړیز یوون (واحد) په توګه پېژندلای شو چې یو خوا له یوې یا څو څپو او بل خوا له یوه یا څو ګړونو څخه رغیدلی وي. یو ازاد ګړ (۱-۳۳) چې له یوې یا څو څپو څخه جوړ وي، یو یوستووی او ساده ویی هم دی.

څېنې ژبپوهان ویی هغه خپلواکه مانیزه ټوټه یا یوون بولي چې پر زیاتو وړو مانیزو ټوټو یا یوونونو، نه شنل کېږي،یا یې د دود له مخې څوك شنل نه غواړي. لکه: کور، مور، ښوونځی، کورنی، پوهنتون، پاك زړی، پیمخی، شېرشاه مېنه، سید نورمحمد شاه مېنه او داسې نور.

۱-۴۰: ویی پوهنه - علم اللغت - واژه شناسي - *Lexicology*

د یوې ژبې د ټولې ژبنۍ زېرمې (ویی پانګې) مانا پوهیزې (سېمانتیکي) یا ګړپوهیزې (مورفولوجیکي) څېړنې ته وایي، په بله وینا، ویي پوهنه د ژبپوهنې هغه څانګه ده چې د یوې ژبې یا ژبو د ویي پانګې (vocabulary) بېلا بېل (جولیز - مانیز - منشایي) اړخونه څېړي. سیند (قاموس) کښنه (lexicography)، کښندود او ډولونه یې هم د ویپوهنې یوه څانګوړې شمېرل کېږي.

۱-۴۱: پورویی (مستعار لغت): هغه دی چې له نورو ژبو څخه یوې ژبې ته ورننوتی وي.

پور وییونه هرومرو په آره جوله او مانا په پورورې ژبه کې نه پاتېږي، لکه: سوله (صلح)، بزګر (بذرګر)، ماشوم (معصوم) د کوشني په مانا.

۱-۴۲: غونډله یا جمله *Sentence* :

غونډله یا جمله یو داسې مرکب غږیز یوون (واحد) دی چې له یوه یا څو وییو (کلمو) څخه رغېدلی او د یوه یا څو نازنځیري (۱-۱۷) یوونو په مرسته یکې یو ډول یووالی څرګند شوی وي (حقشناس ۱۴۲).

یا په بله وینا، غونډله د یووستوو یونونو (ګړونو) یو داسې اوډلی (منظم) ټول (کُل) دی، چې یو بشپړ جاج (مفهوم) او موخه (مطلب) پرې لېږدول کېږي او پوهول کېږي. له بلې خوا، دا چې خبرې اترې یا وینا (ګړهار) په غونډلو ترسره کېږي، په بله ژبه، وینا لومړی ځل په غونډلو شنل کېږي، نو غونډلې ته د وینا (←) یوون هم وایي.

۱-۴۳: غونډ - فقره، ګروه یا عبارت - *Phrase*

غونډ دیوې غونډلې (۱-۴۲)بېلا بېلې ټوټې ته وایي چې له یو یا څو ازادو (۱-۳۳)او تړلو ګړونو (۱-۳۴) څخه رغېدلې وي، او راز راز ډولونه لري، لکه نوموال غونډ، کړوال غونډ، کړول غونډ او داسې نور.

۱

۴۴-: غونډله پوهه - نحو - *Syntax*

لکه څنګه چې د غږ پوهې د ويينې يوون (د بحث واحد) غږ دی او د ګړ پوهې هغه ګړ دی. نو د غونډله پوهې د ويينې يوون غونډله (جمله ۱-۴۲) ده. په بله وينا ، غونډله پوهه د غونډلو. دغه راز د غونډونو (فقرو) او ګړنو (ايديمونو) جوړښت اوډون، او ډولونه ترکتنې او ويښنې لاندې نيسي

۱-۴۵: د غونډلې توکونه (اجزای جمله) : د غونډلې توکونه (اجزا) پر آرو او مرستيالو توکونو ويشل کېږي.

۱ - **آرتوکونه** : لکه: نومونه (ځيز نومونه، ستاينومونه، شمېرنومونه او نومځري)، کړونه يا فعلونه (آر او مرستيال، اشتقاقي او ترکيبي) او نااوړېدني، يا آر او اوړيدوني، يا ستاينوميز کړولونه (قيدونه).

۲ - **مرستيال توکونه**: په دې ډله کې ټول نااوړېدوني (نه ګردانېدونکي) ګړونه، يا په بله وينا، وييکي (ادوات)، لکه اړيکوييکي (حروف ربط)، تړوييکي (حروف عطف)، سربلونه او ستربلونه، بلنوييکي (حروف ندائيه) او داسې نور راځي .

۱-۴۶: نومونه - اسما - *Nouns*

هغه ازاد اوړېدوني ګړونه يا وييونه (۱-۳۹) دي چې بې له زماني اړيکي څخه يې مانا ځرګندېدای شي، لکه : کور، اور، اوبه، تور، سپين، يو، دوه، زه، ته او داسې نور. نومونه يا نومواله ډله پر لاندې ټوليو (کټېګوريو) وېشنه مومي:

۱-۴۷: ځيزنوم - اسم - *Substantive*

ځيزنوم يو داسې نوم دی چې نېغ پر نېغه د يوه ځيز يا ښکارندې (پديدې) نومونه (نامګذاري) او ځرګندونه کوي او دا وروسته ډولونه لري :

۱-۴۸: پژنوم - اسم ذات - *Concrete Noun*

هغه نوم ته وايي چې په ننګېرېدونکي (محسوس) ځيز اړه لري، په بله وينا ، يو داسې ځيز نوموي چې زموږ په پنځګونو حواسو حس يا ننګېرل کېدای شي، لکه: ډبره، لرګی، اوبه، غوا، غږ، بوي او داسې نور.

۱-۴۹: مانا نوم - اسم معنی - Abstract Noun

هغه نوم دی چې په یوه نه ننګېرېدونکي (غیرمحسوس) څیز، یا په لنډه وینا، په یوې ښکارندې (پدیدې) اړه لري او هغه نوموي، لکه: د روغ، رښتیا، پت، هیله، مېرانه، رخه، سخه (عناد)، خوښي، ویر، اندېښنه، درناوی، بدي، نیکي او داسې نور.

۱-۵۰: ټولنوم اسم عام - Common Noun -

داسې څیز یا ښکارنده نوموي چې ځانګړې او خاص نه وي، بلکې ډولونه او ځیلونه ولري، لکه: ونه، هلك، نجلۍ، هېواد، ښاروی، وګړی، اولس، ترون، ژمنه او نور.

۱-۵۱: ځانګړ نوم - اسم خاص - Proper noun or name

چې یو ځانګړې څیز، پدیده، وګړی یا ځای نوموي، لکه: پښتو ژبه، پښتنواله، خوازك، زرمینه، ننګرهار، کندهار، پکتیا، هند، ایران او نور.

۱-۵۲: نوږ نوم - اسم جنس - Mass Noun

چې په یو نه شمېرېدونکي څیز اړه لري، لکه: زر، اوبه، وسپنه او نور.

۱-۵۳: غونډ نوم - اسم جمع - Collective Noun

چې یوه ډله او غونډ نوموي، لکه: ټولی، ټولګی، ګوند، ټبر، ګورم (پاده)، رمه او داسې نور

۱-۵۴: انګینوم - اسم صوت - Onomatopoeia

چې د طبیعي یا مصنوعي اوازونو انګې یا انګازه (پژواك) نوموي، لکه: درز دروز، درزی، درزا، درزهار، ګرب، ګروب، ګربی، ګربهار، ترپ تروپ ...

پارنوم یا پارنویی (هیجاني غږ) چې د راپارېدنې یا هیجان پروخت د انسان له خولې نابېره راوځي، له درده، لکه اوه، اخ، اوخ، له ویرې، لکه وییي، ویي، له خوښۍ، لکه: وخ، واخ، هاها ...

۱-۵۵: ستاینوم - اسم صفت - یا Adjective

چې په خپلواك ډول څه نه نوموي، بلکې د یو څه ځرنګوالی نوموي، یا په بله وینا، یو ستاینوم په یوه څیز نوم آړه لري او د هغه ځرنګوالی ښیي، لکه: تود، سوړ، غټ، ووړ، تور، سور، ښکلی، ښایسته، غښتلی، کمزوری، روغ، ناروغ او نور.

د ستاينوم ډولونه دوه دي : ۱- لر او ۲- لنډ.

۱-۵۶: لنډ ستاينوم : هغه دي چې تر څيز نوم له مخه او ورسره پتليز راځي او لنډ پر لنډ يې ستايي. لکه : توره دړه، روغ سړی، ښکلې نجلۍ او ... دلته توره، روغ، ښکلی ... لنډ ستاينومونه دي.

۱-۵۷: لر ستاينوم : هغه دی چې تر څيز نوم وروسته راځي او له کړوالي برخې (مسند) سره پيوستون لري. که څه هم هماغه څيز نوم ستايي، لکه : دړه توره ده، سړی روغ دی، نجلۍ ښکلې ده .... دلته هماغه ستاينومونه (توره، روغ، ښکلې ...) لر ستاينومونه دي. که کړواله. يا په بله وينا، اړونده غونډله نوموالی نه، بلکې کړواله وي، نو بيا هغه ستاينوم د کړول (قيد) چار پرځای کوي، لکه زلمی "پلی" راغی.

۱-۵۸: شمېر نوم - اسم عدد - *Numeral or number*

شمېرنوم هم د ستاينوم غونډې په خپلواك ډول کومه نومونه، نه کوي. بلکې په يوه څيز نوم آړه لري. خو د ستاينوم غونډې يې څرنګوالی نه، چې څومره والی او پوړوالی (تدرج) ښيي، لکه: يو، دوه، درې ... يا لومړی، دويم، دريم، څلورم ....

۱-۵۹: آر شمېر - اصلي عدد - *Cardinal Number*

لکه يو، دوه، درې، څلور ...

۱-۶۰: پوړ شمېر - وصفي يا رتبي عدد - *Ordinal Number*

چې د خپل شمېرلي پوړ يا پوړی ښيي، لکه لومړی يا يوم، دويم، دريم، څلورم ... يوسل ويوم، دوه سوه يوم ...

۱-۶۱: ووړ شمېر (کسري عدد)

چې د اړوند څيز نوم (شمېرلي) ماتوالی او برخه والی ښيي، لکه دويمه، دريمه، څلورمه ...

۱-۶۲: وېش شمېر (انقسامي عدد)

چې د اړوندو څيز نومونو، وېشنه او جوړه، جوړه کېدنه څرګندوي او په دې توګه د ووړ شمېر غونډې له ډېر ګړيو (جمع) څيز نومونو سره اړه لري، نه له يوه سره، لکه : يو يو، دوه دوه، درې درې، څلور څلور ....

۱-۶۳: اټکل شمېر (تخميني عدد)

چې د یوه څیز نوم پرځای غبرګ، غبرګ څیز نومونه ښیي او یو هم نه تاکي، لکه : یو دوه، دوه درې، یو درې، درې څلور، لس یوولس، شل دیرش، څلوېښت پنځوس، پنځوس شپېته ... سل دوه سوه، زر یونیم زر، دوه درې زره ....

۱-۶۴: نومځری - ضمیر - *Pronoun*

هغه ویی دی چې د یوه نوم ښکارندویي کوي، د هغه پرځای راځي او یا یې ملګرتیا کوي او د همدغې دندې له مخې د نومونو په ډله کې ځای نیسي له نورو نومونو (څیزنوم - ستاینوم، شمېرنوم) سره د نومځري توپیر دا دی چې دا پر درې ګونو اړخو (نوږي، ګنې او پېر) سربېره د (لومړي، دویم او درېیم) وګړي له مخې هم اوړون مومي (وینفرید اولریښ ۹۴۲)

۱-۶۵: وګړیز یا وګړ نومځری - ضمیر شخصي - *Personal Pronoun*

هغه نومځري ته وایي چې یا د غږېدونکي یا غږېدونکیو (لومړي وګړي) څرګندویي کوي یا د هغه چا (دویم وګړي) چې ورسره خبرې کېږي او یا د هغه چا (درېیم وګړي) چې ترې خبرې کېږي دغه راز نومځري په غښتلیو (زه، ته، دی ....) او کمزوریو(مې، دې، یې ...) وېشنه مومي

۱-۶۶: تولنومځری) - ضمیر ملکي یا اضافي - *Possessive Pronoun*

چې تول (ملکیت) او اړوندي (تعلق) ښیي، دا هم په غښتلیو (زما، ستا، د ده) او کمزوریو (مې، دې، یې) وېشل کېږي

۱-۶۷: نغوتنومځری - ضمیر اشاره - *Demonstrative Pronoun*

چې وګړي، څیز او یا پدیدې ته نغوته (اشاره) کوي، یا د هغو د نومونو ځای نیسي او یا ورسره لکه ستاینوم ملتیا کوي پښتو دا یوازې د درېیم وګړي او واټن (لنډ. لر. لالر. ډېر لر) له مخې اوړون مومي. لکه : دغه، هغه، هاغه، هوغه ....

۱-۶۸: پوښتنومځری - ضمیر استفهامي - *Interrogative Pronoun*

چې د یوې مخامخ پوښتنې لپاره پر کار ولېږي او د وګړي، مهال، تون، څرنګوالي او څومره والي له مخې ډول ډول دی.

۱-۶۹: پلوي یا کړولي نومځری یا (ضمیر سمتي یا قیدي)

چې له آره د یوه کړ (فعل) او چار لوری یا پلو څرګندوي، خو په ترڅ کې د یوه وګړي ښکارندویي یا استازي هم کوي، لکه : را، در، ور

۱-۷۰: وییکنومځری (ضمیر اداتی)

چې له وییکو (ادواتو) څخه منځته راځي او د اړوندو اداتو له چار او دندې سره سم د نومځرو او ورسره ورسره د ملګرو وییکو (اوستربلو) ځای نیسي، لکه: پکې، باندې، لاندې، ترې، پرې، راسره، درسره، ورسره ....

۱-۷۱: غبرګون نومځری - ضمیر انعکاسي - *Reflexive Pronoun*

هغه نومځری دی چې د یوه چار هم کړند اوسي او هم کړی، لکه: "ځان" په "ځان مې ژوبل کړ" کې.

۱-۷۲: ناټیکنومځری - ضمیر غیرمعین یا مبهم - *Indefinite Pronoun*

چې د یوه ناجوت (نامعین) وګړي یا څیز لپاره راځي، لکه: هر، بل، نور، ټول، واړه، دواړه، څه، څو، ځینې، هیڅ، څوك ....

۱-۷۳: اړیکنومځری - ضمیر ارتباطي - *Reflexive Pronoun*

چې په یوه غونډله (جمله) کې د تېرې یا راتلونکې غونډلې له یوه څیزنوم یا نومځري سره راز راز اړیکي ټینګوي. پښتو په جولیز ډول یو اړیکوییکی "چې" د بېلا بېلو اړیکنومځرو پرځای کاروي چې هم د څیز لپاره راځي هم د وګړي، مهال او تون لپاره.

۱-۷۴: کړ - فعل - *Verb*

کړ تر نومونو وروسته د غونډلې له آرو ټوکونو، یا په بله وینا، ازادو ګړونو (۱-۳۳) څخه ګڼل کېږي. کړ (فعل) هغه ویی دی چې د مهال (زمانې) په چوکاټ کې د یوه څه پېښېدنه څرګندوي، دا چې د کړ جاج (مفهوم) بې د زمانې له ملګرتیا، نه پوهېدل کېږي، نو ځکه ورته مهال ویی یا (زماني لغت) هم وایي، لکه: ومې خوړ، خورم ....

۱-۷۵: آرکړ - فعل اصلي - *Main Verb*

هغه کړ ته وایي چې په خپلواکه، یا په بله وینا، د غونډلې د بنسټیز ټوك یا زړي په توګه د غونډلې خبر جوړولای شي.

۱-۷۶: مرستیالکړ - فعل معاون - *Auxiliary Verb*

هغه کړ ته وایي چې له آر کړ سره د غونډلې د خبر په څرګندونه کې مرسته کوي او د یوه کړ یا چار بېلا بېل اړخونه څرګندوي، لکه: کول، کېدل، اوسېدل، استل، ول، "غوښتل". په مرستیال کړ کې توانې کړ یا مرستیال توانې کړ هم راځي چې په پښتو کې د دري (توانستن) یا انګلیسي

(can) غونډي جلا جوړښت نه لري، بلکې له کړولی یا بنسټ سره د (- لای) یا په کره توګه (- آی) او مرستیالکړ "شول" له اوړون سره جوړیدای شي. لکه زه لمبلای شم. کول او کېدل او د "شول" له ګرداني بڼو څخه د (- آی) په وروستاړي سره چې یوه څېړمه غونډله رامنځته کېږي او بیا د وریسې آري غونډلې هر آر کړ " تواني " چار راڅپلوي، لکه : زه کولای شم، منډه ووهم، کېدای شي، نن باران ووري . لکه : کولای، کېدلای (شي). نن سبا پارسي آري " توانېدل " هم لړ و ډېر دود موندلی دی.

۱-۷۷: کړ نوم - مشتق فعلي یا حاصل مصدر- *Verbal Noun*

هغه نوم ته وايي چې د کړ له بنسټ یا له ولی (ریښې) څخه جوړېږي، لکه : خوړونکی، خوړلی، خورنده، خورندی ...

۱-۷۸: کړ نومی - مصدر - *Infinitive*

یو کړم نوم چې په پښتو کې زیاتره له کړولی (۱-۷۹) او (ل) وروستاړي څخه جوړېږي او د دود له مخې پرې کړ نومول کېږي، بې له دې چې د (ګردان شوي) کړ غونډې له کومې زمانې، وګړي یا نورو سره اړوندي وومي، لکه خوړل، تلل، څښل ...

۱-۷۹: کړولی - ریشه فعلي - *Verbal Root*

د کړ هماغه زړي یا هستې ته وايي چې په ټولو بڼو او اوړونونو(ګردانونو) کې روغه رمته پاتېږي، لکه : خور - یا خوړ - په " خورم " " خوړل کېږي " کې او داسې نور.

۱-۸۰: کړول (قید - *Adverb*)

هغه ژبنی توك دی چې د یوه کړ د پېښېدنې پر څرنګوالي یو ډول اغېزه اچوي یا د مهال او ځای له پلوه او یا يې د څرګندتیا ، ټینګار او داسې نورو ځانګړتیاوو له مخې. آر، یا نا وړېدونې، لکه : ژر، اوس، بیا ، تل، ورو. ناآر یا اوړېدوني، لکه : چټك، سست، توند ، په بله وینا چې له آره نومونه، یا په بله وینا ، ستاینومونه وي .

۱-۸۱: وییککړول (اداتي قید)

چې د وییو یا وییکو پر بنسټ پخوا رغېدلي وي، لکه : دلته، هلته، وروسته، چېرته، ببرته، کښته، پورته، مخکې، لاندې، باندې، وړاندې، پخوا ، پرله پسې .

۱-۸۲: مرستیالکړول

چې د یوې ښښې او کړن خانګړتیا یا اړینوالی او نااړینوالی انځوروي، لکه: ښايي، بویه، هرومرو، باید، په خوښه، په زور ...

۱-۸۳: اړښنی (مبتدا یا مسندالیه - *Subject*)

غونډله (جمله) لومړی پر دوو برخو وېشل کېږي: لومړی برخې ته یې اړښنی وايي، چې په هغه کې کړند او ور پورې اړوند توکونه راځي او کړ پرې ډډه لګوي یا استناد کوي.

۱-۸۴: اړښونی - خبر یا مسند - *Object, Predicate*

د غونډلې دویمې برخې ته وايي چې کړ، کړول او نور ور پورې اړوند توکونه رااخلي. څنګه چې په دې برخه کې کړ راځي او کړ د غونډلې بنسټ جوړوي، نو په نشتوالي یې نه یوازې اړښونی، بلکې اړښنی هم ارزښت نه شي پیدا کولای. که نه نیمګړې او لنډکې غونډله ورته ویل کېږي. لکه څنګه چې په متلو او شعرو کې ښنې کړونه په تېره "استل + ول" کړ لوېږي یا له ورتېرې ملې غونډلې سره عطفېږي.

۱-۸۵: وییکي - حروف یا ادوات - *Particles*

وییکي د کوشنیو، ناخپلواکو او ناوړېدونیو ګړونو (→) یوه غوره برخه ده، په دې وروسته ډول

۱-۸۶: اړیکوییکي (حروف یا ادوات ربط - *Conjunctions*)

هغه وییکي دي چې د څومره والي یا څرنګوالي یا ورته والي له مخې سره آرې او څېرمه غونډلې (جملې) نښلوي او په دې توګه زیاتره دوه - دوه سره غاړه کېږي. لکه (څومره) دیګ - (هومره) تېپر، که څه هم - بیا هم، څنګه چې - نو (ځکه) ... یووستوي لکه: چې، که، هم، او، و ...

۱-۸۷: ورتني وییکي (حروف یا ادوات تشبیهي)

هغه وییکي دي چې د دوو یا زیاتو څیزونو یا پدیدو ورتوالی او همرنګوالی (مشابهت) ښيي، لکه غوندې، په څېر، په دود، لکه، په رنګ، په ډول ... په "توګه" بیا کورټ او بشپړ یو رنګوالی راڅرګندوي. دغه ورتني وییکي له "لکه" پرته د "د" سربل په وړاندې درغلي (کاذب) تړښتي او ستربلونه ګرځي.

۱-۸۸: تړوییکي (حروف عطف)

چې دوه توکونه (ویي - غونډلې) سره ملګرې کوي، لکه: او، و ...

"که " او " یا " بیا امرني (انتخابي) یا د ترویيکو سرچپه " ناترویيکي " disconjunctives بلل کېږي

۱-۸۹: تولوییکي (حروف اضافت)

چې خیزونه یا پدیدې یو له بله سره اړوندَوي . پښتو په جولیز ډول یو تولوییکی (د) لري. لکه د کندهار انار ...

۱-۹۰: سربَل - پېشینه - *Preposition*

هغه وییکی (۱-۸۵) دی چې تر یوه نوم له مخه راځي او په یوه غونډ یا غونډله (۱-۴۲) کې د هغه نوم، پېر او دریځ ښیي، لکه : (په) په (په کور کې)، (له) په (له کوره) یا(له کور سره)، (تر) په (تر گوره پورې) کې او داسې نور .

۱-۹۱: اوستربل - پسینه - *Postposition*

هغه وییکي دي چې ترنامه وروسته راځي او له سربَل سره د اړوند نوم پېر ټاکي. لکه (کې) په (کور کې)، (سره) په (له زلمي سره)، (پورې) په (په تا پورې) کې او داسې نور .

۱-۹۲: تاړی - وند - *Affix*

هغه تړلی گړ دی چې شتوالی، چار او مانا یې له یوه یا ډېرو ازادو گړونو(۱-۳۳)یا وییونو(۱-۳۹) سره په یوځایوالي او پیوستون څرگندیدای شي . د یوه تاړي، په نښلونې سره یو ازاد گړ یا ویی یوه نوې جوله او مانا پیدا کوي او یو بیلنگ؛ (مشتق) منځته راوړي . د ازاد گړ یا بلگړونو او یا وییونو، یو نه جلا کېدونکی ټوك گڼل کېږي او په ویي رغاونه کې ستره برخه لري . درې ډوله دي

۱-۹۳: روستاړی - پسوند - *Suffix*

هغه تاړی دی چې د اړوند گړ یا ویي په پای پورې نښلي او د نورو - تاړو غونډې یو نوی بیلنگ (مشتق) منځته راوړي، داسې چې جوله او مانا یې له هغه بنسټیز گړ یا ویي سره توپیر لري. لکه (- نی،) چې له (کور) څخه (کورنی،) جوړوي .

۱-۹۴: مختاړی - پیشوند - *Prefix*

هغه تاړی دی چې د اړوند گړ یا نوم په سر پورې نښلي او د نورو تاړو غونډې له نوې جولې او مانا سره یو نوی بیلنگ (مشتق) رامنځته کوي، لکه :(ور -) په (ورکول)، (پرې -) په (پرېوتل) (پر -) په (پرسد)، (بې -) په (بېسد) کې او داسې نور .

۱-۹۵: منځتاړی - میاوند - *Infix*

هغه تاړی دی چې د یوه کړ یا ویي په منځ کې ځای نیسي او له نوې جولې او مانا سره یو نوی ښلنگ (مشتق) منځته راوړي او که دوه جلا وییونه سره ونښلوي، یو نوی ترنگ (ترکیب) جوړوي . په پښتو کې یوازې دا وروسته ډول نوموال منځتاړي شته، لکه: (الف) په (بیلا بېل)، (پر) په (کور پرکور)، (تر) په (لږ تر لږه)، (نا) په (زړه نازړه) او (ما) په (شورماشور) کې .

۱-۹۶: ژبپوهنه - زبانشناسي - *Linguistics*

هغه پوهنه ده چې ژبه او د هغې څرنگوالی، رغاونه او راز راز ژبنی سکالووې (مسالی) ترڅېړنې او کتنې لاندې نیسي . څه چې په ژبپوهنه کې څېړل کېږي، هغه به یوه ژبه وي او یا څو ژبې، خو له ژبې او ژبنیو سکالوو نور څه د ژبپوهنې وینه (بحث) نه شي کېدای .

د ژبپوهنې نړیواله نومونه (اصطلاح) لینگویستیکه بلل شوې ده چې انگلیسي بڼه یې لینگویستیکس (Linguistics) ده . بنسټ یې لینگوه (Lingua) لاتین دی چې مانا یې ژبه (لسان) ده، او روستاړی یې استیکه (Astica) ورسره له یوناني څخه یوځای شوی دی چې دا د (پوهنې) مانا رااخلي . پخوا یې ژبپوهنې ته فېلالوجي (Philology) ویله .

۱-۹۷: ژبه او ژبپوهنه - زبان وزبانشناسی- *Language and Linguistics*

ژبه او ژبپوهنه سره دوه بیلا بیل واقعیتونه دي، داسې باید ونه پوهېدل شي چې ژبپوهنه گوندې د ژبې د زده کړې مانا لري . ژبپوهنه د دې لپاره لوستل کېږي چې د ژبې په باب یوه تولیزه پوهه ترلاسه شي او په الواکي (تیوریکي) ډول پرې د یوې بشري پوهنې په توگه علمي تنده ماته شي . د ژبې پیدایښت څرنگوالی، جوړښت، دنده، اوښتنه، پرمختیا، پراختیا، ډېرښت، د بیلا بېلو ژبو کورنۍ، ځانگې او ښرانگې (گړدودونه) او نور اړیکي سره د ژبې د زده کړې او داسې نور نظري او علمي مسایل یې وڅېړل شي . هرگوره له یو لړ نورو وگړ پوهنو او ټولنپوهنو ، لکه سا پوهنې، فلسفې، توکمپوهنې ... سره نوې پوهنیزې ځانگې هم رامنځته کوي . په هر ډول د ژبې زده کړه او د ژبپوهنې زده کړه سره توپیر لري. په دې توگه باید د ژبې زده کړه او د ژبپوهنې زده کړه سره گډه نه شي . دا چې وایو پلانی ژبپوهاند دی، دا مانا نه لري چې هرومرو به په ډېرو ژبو پوهېږي او پرې غږېږي . که څوك په ډېرو ژبو پوهېږي، بې له دې چې ژبپوهنه یې لوستې وي یا پرې په پوهنیز ډول پوه شي، ډېر ژبی (پولي لینگوال) یا دوه ژبی (بیلینگوال) یې بللای شو، نه ژبپوهاند . په پارسي ژبه کې لومړي ته (زباندان) او دویم ته (زبانشناس) وایي او په پښتو ورته (ژبپوهاند) او ژبپېژاند هم ویلای شو.

۱-۹۸: د ژبپوهنې څانګې

په ژبپوهنه کې يو ګڼ شمېر څانګې او ښرانګې راځي چې غوري يې دا دي : غږ پوهنه Phonetics، پښويه (صرف ونحو)، وييپوهنه، آرپوهه (اپټيمولوجي)، مانا پوهه، ګړدود پوهنه (Dialectology).

۱-۹۹: د ژبپوهنې ډولونه

ژبپوهنه د ژبپوهاند او ژبڅېړونکي د موخې او کار اسانتيا لپاره پر بېلا بېلو څانګو وېشل کېږي، خو لومړۍ پر دوو سترو الواکي (نظري) او کاروني (تطبيقي) وېشنه مومي .

۱-۱۰۰: الواکي ژبپوهنه - زبانشناسي نظري

دا څانګه په ټوليز ډول ژبني آرونه (پرنسيپونه) او عموميات څېړي چې د نړۍ پر هره ژبه کارول کېداى شي .....

۱-۱۰۱: کاروني ژبپوهنه - زبانشناسي تطبيقي - *Applied Linguistics*

هماغه توکونه او معلومات چې الواکي ژبپوهنې رامنځته کړي وي، په ژبښوونه، پښويه (ګرامر) او نورو اړتيا وړو ژبنيو چارو کې پرکار اچول کېږي او ترې ګټه اخېستل کېږي .

۱-۱۰۲ : د الواکي ژبپوهنې څانګې – شعبه هاى زبانشناسي نظري تيوريکي

الواکي ژبپوهنه دا وروستنۍ څانګې لري :

۱-۱۰۳: سرياندې ژبپوهنه - علم ماوراواللسان - *Meta - Linguistics*

د ژبپوهنې هغه ډول دى چې په هغه کې له ژبې سره د ناژبني واقعيت د ښکارندو (مظاهرو) اړيکي څېړل کېږي. لکه د غږېدونکي او اوريدونکي له اند او اکر (تفکر او وضع) سره، له فرهنګ سره، له ټولنې سره د عيني واقعيت په توګه څېړل کېږي. د بيلا بېلو ژبو غږېدونکي انسانان د واقعيت په بيلا بېلو نړيو کې ژوند کوي (اولريښ ۷۲) .

په لنډ ډول، سرباندې ژبپوهنه د ژبې د دننۍ رغاونې او څرنګوالي او نورو ژبنيو مسالو پرځاى، د هغې په شاوخوا کې څېړنې کوي .

۱-۱۰۴: هممهالې ژبپوهنه- زبانشناسى همزمانى - *Synchronic Linguistics*

چې څېنې خلك يې سپړيزه يا تشريحي (توصيفي) ژبپوهنه هم بولي، د يوې ژبې رغاونه او څرنګوالى په يوه جوت ټاکلي مهال پېر (زماني دور) کې تر کتنې لاندې نيسي

۱-۱۰۵: ناهممهاله ژبپوهنه- زبانشناسی درزمانی- *Diachronic Linguistics*

یوه ژبه په بیلا بېلو اوښتونکو مهالپېرو (دورو) کې څېړي، ځینې یې تاریخي ژبپوهنه هم بولي .

۱-۱۰۶: پرتلیزه ژبپوهنه- زبانشناسی مقایسی- *Comparative Linguistics*

دلته د بیلا بېلو ژبو او خپلوانو ژبو ورتوالی او ناورتوالی څېړل کېږي .

۱-۱۰۷: نښپوهه - علم العلایم - نشانه شناسی - *Semiology*

د ژبپوهنې په دغه څانگه کې د نښو ټولیز غونډال له ترافیکي څراغو او پخوانیو مخابراتي سېستمو نیولې تر نومهالومولتي مخابراتي او انفارماتیکي تخنیکي نښو یا پیلامو او بیا ژبنۍ نښې (سېمبولونه) ترڅېړنې لاندې نیول کېږي .

۱-۱۰۸: ماناپوهه - معنا شناسي - *Semantics*

په دغه څانگه کې د ښووند او ښوولی یا نومند او نومولي (دال او مدلول) ترمنځ اړیکي، یا په بله وینا ، ژبني سېمبولونه (وییونه، کړونه، څرگندنې او گړنې ...) او د هغو مانیز ونجونه څېړل کېږي .

۱-۱۰۹: ځېلپوهه - گونه شناسی - *Typology*

په ژبپوهنه کې دغه څانگه د نړۍ د بیلا بېلو (خپلوانو یا ناخپلوانو) ژبو څانگړي رغاونې ترکتنې لاندې نیسي او د همدغه رغاونې، ځېلونو (تیپونو) له مخې ژبې سره ډلبندي کوي .

۱-۱۱۰: پښتپوهه - شجره النسب - *Genealogy*

په ژبپوهنه کې دغه څانگه، ژبې د خپلوۍ له مخې څېړي، په بله وینا ، له ژبنیو کورنیو او خپلوانو ژبو سره کار لري . په دې توگه د نړۍ ژبې سره د کورنۍ او خپلوۍ له پلوه ډلبندي کوي، لکه : هندو اروپایي ژبنۍ کورنۍ، حامي او سامي کورنۍ، د راویدي ژبنۍ کورنۍ، التایي (تورکو مغولي) ژبنۍ کورنۍ او داسې نورې .

۱-۱۱۱: ژبادبپوهنه - *Philology*

دغه نومونه (ترم) له مخه د ژبپوهنې په مانا کارول کېده، خو اوس د ژبپوهنې هماغې تاریخي برخې ته وایي چې زاړه ادبي متنونه تر ژبنۍ څېړنې لاندې نیسي . په بله وینا ، په ژبادبپوهنه کې هم (زاړه) ادبي اثار څېړل کېږي او هم (زاړه) ژبني اثار، لکه : ساکي، اوستایي، ویدي، پارسي، سوغدي، کوشاني او داسې نور هغه (واریگ)

۱-۱۱۲: ژبوګړپوهنه :

دلته د ژبپوهنې او وګړپوهنې ترمنځ اړیکي او یو پر بل اغیز څېړل کېږي (ماریو- پ ای ۶۸) .

۱-۱۱۳: ژبټولنپوهنه - جامعه شناسی زبانی - *Socio Linguistics*

دا څانګه د ژبې ټولنیز اړونه (شرایط)، ژبزده کړه او ژبنی مخابره (افهام او تفهیم) رااخلي. دغه راز له ژبني چاپېریال سره د یو ګړي (فرد) اړوندي (تعلق) او همداسې نورې خبرې څېړي (اولریښ ۱۰۶) .

۱-۱۱۴: ژبفلسفه یا ژبنی فلسفه - فلسفه زبانی

هغه پوهه ده چې د ژبې ماهیت آره (منشا)، رواني، عقلي او هغه تاریخي خواکونه چې پرې اغېز ښندي، د ژبې او اند او ژبې او ژوند (هستی) ترمنځ اړیکي – څېړي (اولریښ ۱۰۹) .

۱-۱۱۵: ژبسا پوهنه - روانشناسی زبانی

دغه څانګه د ژبزده کړې او ژبکارونې او داسې نورې مسالې د رواني پېښو له مخې څېړي .

۱-۱۱۶: ځمکژبپوهنه - زبانشناسی جغرافیایی

دغه څانګه د ژبې پراختیا او د ژبنیو پدیدو بریدونه ترکتنې لاندې راوړي (ماریوپای ۱۲۴) .

۱-۱۱۷: ګړدود پوهنه - ګویش شناسی (لهجه شناسی)

د ژبپوهنې دغه برخه د یوې ژبې (۱-۱) راز – راز سیمه ییزې، ټبریزې، ټولنیزې او داسې نورې بڼې او ګړدودونه څېړي .

۱-۱۱۸: پښویه - دستور زبان - ګرامر - *Grammar*

لاتین بڼه یې ګراماتیکه Grammatica چې ژبپوهنه مانا لري، په یوناني کې د ګراماتیکې Grammatike په بڼه د یوې ژبې د توکونو (تورو – لیك – غونډلې) د پوهې په مانا کارول شوې دی (واریګ) .

په ټولیزه توګه پښویه د تطبیقي او بیا سپړیزې (تشریحي) ژبپوهنې یوه غوره څانګه ده چې د یوې ټاکلې ژبې رغاونه او دویونه (قواعد) او یا په لنډ ډول، د یوې ژبې رغاوني سېستم ترکتنې لاندې نیسي . څنګه چې هره ژبه ځانته جلا رغاوني غونډال (سېستم) او ویی پانګه لري، نو د یوې ژبې د پښویې په لیکنه او برابرونه کې د هماغه ژبې خپله رغاونه، دویونه او ویي پانګه په پام

کې نیول کېږي . د یوې ژبې پښویه د بلې ژبې لپاره پرکار اچول یا د یوې ژبې پښویه هوبهو د بلې ژبې د پښویې په پېښو کښل ژبپوهنیز نه بلل کېږي .

یوه پښویه په دودیز ډول په ښوونځیو او زده کړځیو (کورسو) کې د اړوندې ژبې، یا د هغې د معیاري لیکنۍ ښې د زده کړې د اسانتیا لپاره لوستل کېږي، او د هغې په مرسته پردۍ ژبې یا ټاکلې ژبې په اسانه زده کولای شي او پخپله د مورنۍ ژبې والا د هغې په مرسته د خپل ځانګړي اړوند ګړدود (لهجې) پرځای عمومي معیاري لیکنۍ ژبه زده کوي او کاروي . پښویه یا ګرامر لکه د یوه دېموکراتیك ټولنیز قانون غوندې د خلکو له ژبې رااېستل کېږي او بېرته پرهغو یو برابر او بې توپیره کارول کېږي (تطبیقېږي) او بیا څوك دا ویل حق نه لري : " زما ګړدود دغه دی او لکه څنګه چې غږېږم، همدغه زما ګرامر دی او د عمومي ګرامري قاعدو یا اړوندې کره لیکلارې غاړه ایښوونې ته اړ نه یم ! ".

۱-۱۱۹ : د پښویې ډولونه

پښویه لکه د عمومي ژبپوهنې غوندې د څېړونکو د موخې (هدف) له مخې پر ټولیزې (معیاري) ګړدودي، تشریحي، تاریخي، پرتلیزې، ښوونیزې (تعلیمي)، اخځي (-Reference)، رغاونیزې یا (Structural)، زېږندې یا زایشي (Generative)، جوله ونجې - زېږندې پښویې (Transformational - Generative Grammar) او داسې نورو ډولو ویشنه مومي .

۱-۱۲۰ : د پښویې څانګې

د پښویې څانګې هم د هغو توکونو له مخې وېشنه مومي چې ژبه له څه او څنګه رغېدلې ده، یا په بله وینا، د ژبې رغنده توکونه (متشکله عناصر) کوم دي . ژبه د غونډو (عباراتو) او غونډلو (جملو) له ترتیب او ترکیب څخه رغېدلې او جملې د ویېو (کلمو) او نورو ټاکنده توکونو، او ټاکنده توکونه د انساني غږونو له اوډون او تړون (ترتیب او ترکیب) څخه جوړېږي او دغه اوډونونه او تړونونه په هره ژبه کې ځانته بیلا بېل دودونه، دویونه (قاعدې) او غونډال (نظام) لري، په دې توګه که وغواړو، د یوې ژبې رغاونه (ساختمان) وڅېړو، پر دغو درو څانګو یې وېشو :

۱- اواز پوهه یا فونیمپوهه، ۲- ګړپوهه (صرف)، ۳- غونډ له پوهه (نحو) .

۱-۱۲۱ : آرپوهه یا ریشه شناسي *Etymology*

د ژبپوهنې هغه څانګه ده چې په یوه ژبه کې د ژبنیو توکونو آره او تېر مهال څېړي او د هغو لومړنی لرغونی بنسټ جوتوي . (ماریو- پای) .

د اولرینښ له مخې له یوناني مانا (رښتیا او لرغونتیا) سره سمه هغه یوه پوهه ده چې د ژبنیو نښنو له آرې (منشا) او د ویي رغاونیز جوړښت له مخې د هغو اړوندي څېړي . په بله وینا ، له اتمولوجیکي خپلوۍ، ولیو (ریښو) او بنستیزې مانا څخه خبرې کېږي . همدارنګه له تاریخي پلوه د هغو له غږیزو بدلونونو، غږیزو دودونو او مانیزو بدلونونو څخه . لکه پښتو سر غږونه (غ - ل - و) په لرغونو سرتمغږونو (ګ - د - ب) پسې ځي .

په اتمولوجیکي ډول زړه - دل، لری - دور - تېل (تېلوېژن) یا پلار - پدر - فادر - فاتر - پاتر ... سره خپلوان بلل کېږي .

۱-۱۲۲: بېچار پېر - حالت مجهول - *Ergative Case*

ارګاتیف یو نوموال پېر یا اسمي حالت دی چې د هغې له مخې د لېږند کړ (متعدي فعل) کړی (مفعول) یا د نالېږند کړ (لازمي فعل) کړند (فاعل) سره بدلېدونکي وي . په دې ډول اړوند کړ ته بېچار یا ارګاتیف کړ ویل کېږي او اړوند پېر (حالت یا صیغې) ته بېچار یا ارګاتیف پېر وايي او یا په لنډه او تولیز ډول ارګاتیف سېستم هم نومول کېږي . دغه سېستم یا پېر په باسك او اسکیمو ژبو کې ډېر لیدل کېږي او د انګرېزۍ په ګډون (کولېنز ډیکشنري) په نورو ژبو کې څه ناڅه رامنځته کېږي . په پښتو کې تېر مهال لېږند کړ یو مخیز ارګاتیف پېر لري، په دې مانا چې دغلته کړ د کړند (فاعل) پرځای د کړي (مفعول) اړوند (تابع) دی، لکه " ما ډوډۍ وخوړه ؟ سره له دې چې " ما " ورسره کړند پېر لري، خو د کړ اېښي (مسندالیه) کړی (ډوډۍ) راځي .

په نا تېر لېږند کړ کې د ارګاتیف څرك همدومره لګي چې د " ما "، " تا " غوندې اوښتي نومځري، یا په بله وینا، د کړند له ښو سره سره د کړي (مفعول) دنده پر غاړه اخلي، نه د اېښي (مسندالیه) او کړند هغه، لکه په (زمرك " ما " وهي)، (ببرك " تا " وهي) کې .

۱-۱۲۳: برسېرن او ژور جوړښت - *Surface and deep structure*

برسېرن جوړښت هغه ته وايي چې له یوې (ګړپوهیزې یا وییپوهیزې) ستهې سره اړوند روستاړي، یا په بله وینا ، له یووستوو وییونو سره نور ویي هسې بابز نښلول شوي وي او د ستهې یا یووستوي ویي پای یا تړ - خپلواك هماغسې روغ رمټ پاتې وي، لکه برخه وال barxa-wāl . ژور یا آر جوړښت هغه دی چې ستهه یا یووستوي ویي له اړوندو توکو سره بې له کوم خپلواکه نښلول شوي وي، لکه برخوال barx-wāl .

نورې جوړه جوړه بېلګې، لکه : پوهنه تون - پوهنتون، ژوی بڼ - ژوبڼ، پانګه وال - پانګوال، ځمکه وال - ځمکوال . سیمه وال، یا سیمه ییز او داسې نور ورته جوړښتونه ځکه همداسې برسېرن پاتې کېږي چې د خپلواك په غورځېدا سره یې په مانا کې بدلون راځي .

۱-۱۲۴: کړاوونه (تمرینونه) :

۱ - ژبه څه ته وایي ؟
۲ - ژبه څنګه منځته راغلې ده ؟
۳ - ژبه ولې یوه ټولنیزه او دنده یي (کسبي) پدیده ده ؟
۴ - ژبنی چار څنګه ترسره کېږي ؟
۵ - ژبه توکیزه پدیده ده، که مانیزه ؟
۶ - ژبه او لیك سره څه اړیکی لري ؟
۷ - توری او غږ سره څه توپیر لري ؟
۸ - لیکدود څه ته وایي ؟
۹ - ابېڅې (الفبا) څه ته وایي ؟
۱۰ - د ژبې او وینا توپیر سره څنګه کولای شئ ؟
۱۱ - د وینا ټوکونه کوم دي ؟
۱۲ - ګړدود څه ته وایي ؟
۱۳ - معیاري ګړدود څنګه راپېژنئ ؟
۱۴ - زنځیري او نازنځیري واحدونه څه مانا ؟
۱۵ - اواز (فونیم) څه ته وایي او څه ارزښت لري ؟
۱۶ - اواز په څو ډوله دی ؟
۱۷ - فشار یا خج له ډولونو سره په یوه جمله کې وښیاست ؟

۱۸ - څپه یا هجا څه مانا ؟
۱۹ - ګړ (مورفیم) څه ته وایي او کوم ډولونه لري ؟
۲۰ - ویی څه ته وایي ؟
۲۱ - غونډله (جمله) څه راز ژبنی یوون (واحد) دی ؟
۲۲ - په غونډله کې کوم ټوکونه راځي ؟
۲۳ - نومونه په څو ډوله دي ؟
۲۴ - نومځري په څو ډوله دي ؟
۲۵ - کړ ول څه ته وایي ؟
۲۶ - تاړي څو ډوله دي ؟
۲۷ - ژبني یا غرېز غړي څه ته وایي ؟
۲۸ - وییکي څه ته وایي او کوم ډولونه لري ؟
۲۹ - ژبپوهنه څه ډول پوهنه ده ؟
۳۰ - د ژبپوهنې څانګې راوپېژنئ ؟
۳۱ – پښویه د ژبپوهنې په کومې برخې پورې اړه لري او د څه په اړه غږېږي ؟
۳۲ – بېچار پېر یا ارګاتیف څه ته وایي، په پښتو کې یې بېلګه راوښیاست !
۳۳ - له لومړني څپرکي څخه مو څه زده کړل ؟

۲ - څپرکی

غږپوهه ـ آوا شناسی - *Phonetics*

۲ - څپرکی

غږپوهه (*Phonetics*)

۲-۱ : غږ پوهه (سپنپوهه) - آوا شناسي (خن شناسي) - *Phonetics*

دلته هر راز ژبني غږونه په تولیز ډول څېړل کېږي . که دغه غږونه زنځیري (۱-۱۶) وي، که نازنځیري (۱-۱۷) او یا ژبني (فونیمېکي) ارزښت ولري او که نه. دا مانا چې هرومرو یو داسې غږیز یوون (واحد) اواز نه شي کېدای چې د یو مانیز توك په جوړونه کې کومه اغېزمنه برخه ولرلای شي، بلکې د یوه یوازیني غږ (اواز) توکونه یا بلغږونه (۱-۲۳) ګڼل کېږي .

نن سبا غږ پوهه، آوا شناسي، فونولوجي او فونېټېکس په یوه مانا کارول کېږي او بیا د هغه په دننه کې د فونېټېکس او فونیمېکس توپیر کوي . دا دی، تر دې وروسته سرلیك لاندې به پرې پوره رڼا واچول شي .

۲-۲ : د غږ پوهې او اوازپوهې اړیکي

د ژبې غږونه کولای شو، له دوو بېلا بېلو اړخونو څخه ترڅېړنې او سپړنې لاندې ونیسو . زموږ موخه دا ده چې وګورو، په یوه ژبه کې غږونه څه ډول رازېږي، د هغو په منځته راتګ کې کوم غږیز غړي پر کار اچول کېږي او فزیکي لوښنه (خاصه) یې څه راز ده، کوم فزیکي لاملونه د یوې ژبې غږ د بلې ژبې له غږ سره توپیروي، غږونه څنګه اوښتل کېږي، یا یې په یوځای کیدنو کې څه ډول بدلون راځي او بیا هغه څنګه راځي او داسې نور، دغه راز څېړنو ته غږ پوهه وایي . نو په غږ پوهه کې زموږ موخه د غږ زېږ او فزیکي لوښې پېژندنه ده، یا په بله وینا، د هغه موند نه ده .

له بله پلوه ښایي د غږونو له څېړنو څخه مو موخه دا وي چې وپوهېږو، په یوه ځانګړې ژبه کې هر یو غږ څه چار (نقش) پرغاړه لري . کوم یو غږ په یوه ځانګړي غږیز غونډ کې د بل یو غږ پرځای

وکارول شي او یا د یوه ژبني بدلون لامل شي (د ساري په توګه، مانا وونجوی) او کوم یو غږ چې د بل پرځای وکارول شي، کوم بدلون نه پېښوي، او یوازې په وینګ (تلفظ) کې ګډوډي راولي. غږونه د کومو ژبنیو دودونو (قواعدو) له مخې سره ترڼګ مومي او لازیات ستر جوړښتونه، لکه څپه، ویی یا عبارت منځته راوړي، څه راز غږیز ترڼګونه په یوه ژبه کې کېدون لري او څه راز ترڼګونه کېدون نه لري او دودونه دویونه یې څه دي . دغه راز پلټنو ته اواز پوهه (فونیم پوهه) وایي .

په دې توګه اوازپوهه د ژبې د غږیز نظام څېړنه ده او د غږونو د زېږ، فزیکي لوښې او منځته راوړنې له څرنګوالي سره کار نه لري .

له پورتنیو خبرو څخه دا پایله (نتیجه) اخېستلای شو چې د غږپوهې سکالو (غږ)، یا په بله وینا، یوه فزیکي او عادي پدیده ده، خو د اوازپوهې سکالو غږیز غونډال (نظام) او په هغه کې د غږونو چار (نقش)، یا په بله مانا، یوه ذهني او مجرده پدیده ده . د ژبې غږیز غونډال د همدغې ژبې د بېلا بېلو غونډالونو یوه برخه جوړوي، نو اوازپوهه د ژبپوهنې یوه برخه ده. د غږپوهې څېړنه د اوازپوهې په برخه کې د څېړنې یوه سریزه ده، په دې مانا، ترڅو چې لومړی په غږپوهه کې د ژبې د غږونو پېژندنه ترسره نه کړو، نه شو کولای، په اوازپوهه کې د یوه داسې نظام چې د غږونو ترمنځ شته دی او هغه دویونه (قاعدې) چې پرهغه نظام واکمني لري، ترڅېړنې لاندې ونیسو .

غږ پوهه (Phonetics) دا وروسته درې څانګې رااخلي :

۲-۳: زېږېزه یا تولیدي غږپوهه - *Articulatory Phonetics*

چې پکې د ژبې د سپنهونو یا غږونو sounds څېړنه او سپړنه (تشریح) د غږیزو غړو او د هغو د تولیدي نقش له مخې ترسره کېږي .

۲-۴: اکوستیکه (آزمایښتي یا لابراتواري) غږ پوهه- *Acoustic Phonetics*

دلته د غږ پنځېوهې یا صوت فزیك په مرسته هغه غږونه چې د غږیزو غړو په وسیله جوړېږي او په ژبه کې کارول کېږي، د فزیکي څانګړتیا له پلوه سپړنه مومي او ډلبندي کېږي .

۲-۵: اوریزه غږ پوهه - *Auditory Phonetics*

د ژبې غږونه (سپنهونه) چې څنګه د اورېدونکي له خوا اورېدل کېږي، څېړي . لکه څنګه چې لیدل کېږي، په دې لړ کې تولیدي غږ پوهې تر دوو نورو زیات پرمختګ کړی او ډېره کارول کېږي او اکوستیك (آزمایښتي) غږ پوهه لابراتواري لوښو او سامان ته اړتیا لري .

۲-۶: مورفو- فونولوجيکي اوښتني- *Morpho - Phonological Changes*

مورفو - فونولوجيکي اوښتنې دې ته وايې چې يو اواز په يوه څپه يا ويي کې له مخکې يا وروسته اواز سره همرنګی شي . که له دغه غړيز بدلون سره ګړيز بدلون هم رامنځته شي، مانا دا چې مانيز بدلون هم راولي، نو دغه بدلون ته مورفو - فونيميکي (فونولوجيکي) بدلون وايي، لکه : پښتو خوړ - چې آره بڼه (خور -) يې د وسمهال د ولي په توګه پاتې ده او بدله بڼه (خوړ -) يې د تېر مهال کړولي ګرځېدلې ده .

۲-۷: پرمختګې همرنګي - *Progressive Assimilation*

چې په يوه څپه، ګړياويي کې يو اواز له مخني اواز سره همرنګی شي، لکه د بخښل خ + ښ چې په شمال ختيزو ګړدودو کې سره يو په بل کې مدغم (خ + ښ = خ) شوي او بخښل پر بخل اوښتی دی .

۲-۸: پر شا تګې همرنګي - *Regressive Assimilation*

چې په يوه څپه، ګړ يا ويي کې يو اواز د وروستي اواز تراغېز لاندې راشي او د هماغه په رنګ شي، لکه په پومبه او تمبه، يا پورويو اګبر (اکبر) کې او داسې نور.

۲-۹: ګاونډه همرنګي

چې اواز په خپل چاپېريال کې له خپل مخني يا وروستني اواز سره همرنګي ومومي، له (مخني) سره، لکه (بخل) چې پرمختګې ګاونډه همرنګي جوړوي اوله وروستي سره، لکه په (پومبه) کې، پرشاتګې ګاونډه همرنګي منځته راوړي.

۲-۱۰: ناګاونده همرنګي

چې په يوه ګړ، ويي يا څپه کې يو اواز د يوه داسې (مخني يا وروستني) اواز تراغيز لاندې راشي او د هغو همرنګی شي چې په ګاونډ کې يې نه وي، لکه : (ن) له (ل) سره په نونس (نولس) کې. په دغه بېلګه کې چې وروستی اواز له مخني اواز څخه اغېزمن شوی پرمختګې ناګاونډه همرنګي بلل کېږي . د پرشا تګې ناګاونډې همرنګی، لکه په يو نيم ګړدود کې چې زنځير پر ځنځير اوښتی دی.

۲-۱۱: ناهمرنګي - ناهمګونی - *Disassimilation*

د مورفو - فونولوجيکي اوښتنې هغه ډول دی چې په يوه ژبني چاپېريال (ګړ – ويي – څپه) کې همرنګ اوازونه سره ناهمرنګی شي، لکه: په لمونځ کې (ل) او (ن) . البته ناهمرنګي هم پرمختګې او پرشا تګې او له دې سره ګاونډې او ناګاونډې کېدای شي .

۱۲-۲: اوړن - قلب - *Metathesis*

هغه غږ بدلون ته وايي چې د یوه ګړ، ویي یا څپې د اوازونو په اوډون (ترتیب) کې پېښېږي، لکه په څمکه - مځکه، روږ - ورځ، ږغ - غږ کې.

۱۲-۲: غورځن - حذف یا کاهش - Omission

چې له یو ګړ، ویي یا څپې څخه یو اواز وغورځي او کم شي، لکه پېږ (پېړړ)، رړه (زړه) او چرخول (چرګ خول) کې.

۱۳-۲: ډېرن - افزایش - *Addition*

هغه پېښې ته وايي چې په یوه ژبني چاپېریال (ګړ، ویي یا څپه) کې یو اواز هسې د یوه خواږه اهنګ یا (Euphony) په توګه زیات شي، بې له دې چې کوم مورفو- فونولوجي ونجون پېښ کړي، لکه د (ن) زیاتېدل تر (ګ) له مخه په منګر (مګر) او مونږ (موږ). یا د (د) زیاتېدل په (ن) پسې، لکه په چمند (چمن)، سیند (سین)، دروند (درون)، او ارماند (ارمان) کې.

۱۴-۲: ساندهي یا غونډ له غږونج - Sandhi

چې له آره په سانسکریت پورې اړه لري، خو کېدای شي په پښتو کې یې هم کوم څرك ولګي. د ساندهي مانا پیوستون دی او په دې اند چې په یوه غونډله کې د څېنو ویيونو د پای غږونه او وریسې ویيو د پیل غږونه یو له بله اغېزمن شي. په دې توګه یې موږ په (غونډله غږونج) ژباړو.

۱۵-۲: منځخپلواکونج - *Ablaut*

Ablaut چې له آره یوه الماني ژبپوهنیزه نومونه ده، د کړوالي یا نوموالي ستې د څپې یو خپلواك پر بل خپلواك اوښتنې ته وايي او په دې توګه د نورو ډېرو هندو اروپايي ژبو غونډې د پښتو نوم اوړون او کړ اوړون هم یوه په زړه پورې لیاره ګڼل کېږي. موږ په پښتو کې هم په همدې جاج " منځخپلواکونج " راژباړلی دی. په دې ترڅ کې کېدای شي، یو کړ یا نوم داسې اوړون ومومي چې هېڅ پایلې (خاتمې) ته هم اړتیا پیدا نه کړي، لکه د تېر مهال " کوت " لپاره د کت - Kat منځخپلواك - a - پر - o - اوښتل یا د " ټوپك " او " دښمن " ډېر ګړی (جمع) د وروستنیو څپو د a په زورکې a کولو رامنځته کېږي. خوږ، سپور، پښتون، لمونځ او داسې ورته نومونه بیا د اوړون لپاره پر منځخپلواکونج سربېره نورې اوړونې پایلې هم په ځان پورې نښلوي، لکه پښتون، پښتانه، پښتنو یا لمونځ، لمانځه، لمنځونه او لمنځونو (همدا راز د ګړپوهې اړوندې سکالووې)

۱۶-۲: هیات *Hiat*

یو بل راز غږونج او هغه هم خپلواکونج دی چې په پښتو او نورو ډېرو ژبو کې پېښېږي . داسې چې په یو ویي کې دننه یا دوو پرله پسې ویيو د پای او پیل (زیاتره همرنګه) خپلواکه یو په بل کې ادغام شي او هماغسې یو اوږد خپلواك منځته راوړي، لکه اړخ - آړخ په (اړخ پاړخ) کې د ننګرهار خواته چې له آره به اړخ پر اړخ وو .

۲-۱۷: ویناییز یا ګړهاري غړي - اندامهای گفتار- *Organs of speech*

لکه څنګه چې ورته لا له مخه نغوته وشوه، ژبني غږونه د زېږېدنګ او اوریدنګ له مخې څېړلای شو. په تولیدي غږپوهه (۲-۱) کې ژبني غږونه په تولیز ډول د ګړهاري غړو له پلوه پېژند (تعریف) مومي . داسې چې هر یو غږ د ګړهار یا وینا د بهنځ (مجرا) په کوم ځای کې زېږي او د زېږ پروخت یې ګړهاري بهنځ څه اکر (حالت) غوره کوي . په دې توګه د هر یوه غږ په پېژند کې ګړهاري غړو ته لږ تر لږه دوه ځلې نغوته کېږي . یوځل د غږ زېږ ځي او بل ځل د غږ زېږ په بهیر کې د غړو د څرنګوالي له پلوه . د ساري په ډول د (ب) غږ د پېژند څرنګوالي او دا چې زېږند غړي یې دواړې شونډې دي او زېږځی یې د دواړو شونډو پیوستون ټکی دی، نو ورته غبرګشونډیز غږ. یا په بله وینا، اواز (۱-۱۸) وایو. له بلې خوا څنګه چې د "ب" له زېږ سره دواړې شونډې د وتونکې سا هوا بهنځ بندوي، نو دغه اکر (حال) ته تمبنت (انسداد) وایي او په دې توګه د "ب" په پېژند کې وایو: "ب" یو غبرګشونډیز تم غږ یا اواز دی .

د دغې څرګندونې پربنسټ غږونه د بېلا بېلو غړو په نامه نومول کېږي. (شونډیز- غبرګشونډیز- غاښیز...) او له دې سره غړي هم په بېلا بېلو نومونو وېشنه مومي.

دلته د مخنۍ وینا (۱-۴) بیا یادول په کار دي چې غږیز، ژبیز یا ګړهاري غړي دا مانا نه لري چې ګونډې هغه له آره په پنځیز (طبیعي) ډول د همدې پازې (ګړهار) لپاره پیدا شوي دي، بلکې د ساري په توګه ګورو چې شونډې، غاښونه، خوله، ژبه او داسې نور ځانته جلا جلا فېزیولوجیکي پازې لري او غږ زېږ یې تشه یو څېرمه پازه ګڼل کېږي چې انسان یې په کړاو او تمرین سره ترسره کوي.

غږیز یا ګړهاري غړي د غږ زېږ په برخه کې د بېلا بېلو ونډو او نقشونو درلودني له پلوه پر دغو وروستو درو ډلو وېشل کېږي :

۲-۱۸: ساییز (تنفسي) غړي - اندامهای تنفسی *Respiratory Organs*

په دې ډله کې سږي، مرۍ، کرنکې (د سږو نلونه) راځي. د سا اېستنې میکانېزم د دې لامل کېږي چې هوا سږو ته له بهره ورننوځي او بیا ترې بېرته رابهر شي. دغه دواړه بهنګه په تېره دویم دا په

غړ زړې کې پرکار ولېږي. سایيز غړي د غړ زړ په هڅه د خوځند څواك د زړ لپاره داسې وړ میکانېزم رامنځته کوي چې د هغه په وسیله نور ګړهاري غړي پرخوځېدو راولي . (۱ – ش)

۱- ش : سایيز غړي



ش (۱) سایيز غړي



ش (۲)



ش (۳) د غږ نوالي حالت





ش (۵) د تم حالت

۲-۱۹: غږنتیا رغي غړي - اندامهای واك ساز - *Phonatory Organs*

دغو غړو د حنجرې (چنغړك) په نامه په یوه کړ پندیزه تشه کې ځای نیولی دی او د مرۍ په پورتنۍ برخه کې پراته دي. په چنغړك کې دوه شونډیز ډوله او ډیرې نرمېدونکې پردې په پراته (افقي) ډول ځای لري چې غږیز تارونه بلل کېږي (که څه هم تار ډوله نه دي). د غږیزو تارونو ترمنځ تشه، ججوره یا کومی (glottis) نومېږي. د غږیزو تارونو فېزیولوجیکي پاژه د وازېدنې او بندېدنې په وسیله د سا ایستنې او ننه ایستنې اوډون (تنظیم) دی. بل دا چې د درنو څیزونو د جګولو په وخت کې سږو ته د هوا د تګ او راتګ په مخنیوي سره د ګوګل د کښته ولېدنې او ماتېدنې مخه نیسي. (۲ - ش)

د زېږیزي (تولیدي) غږ پوهې له مخې د غږنزېږو غړو ستر چارونه (نقشونه) په وروسته ډول دي:

۲-۲۰: غږن زېږ - تولید واك - *Articulation of Voice*

د غږنوالي د زېږ لپاره سره غږ تارونه نژدې کېږي، ترهغې چې د وتونکې سا هوا په بهیر کې یو څه آړ (مانع) رامنځته شي. د وتونکې سا هوا تېرېدنه د دې لامل کېږي، غږ تارونه چې سره یو تربله ورغلي دي، په رېږدا شي. (۳ - ش) له همدې رېږدا څخه غږنوالی جوړېږي.

واك (غږنوالی) له پرله پېیلو (منظمو) څپو سره یوه غږ Sound یا اواز (Phoneme) ته سندریزه (موسیقاري) لوښه ورکوي. د غږ همدغه ځانګړتیا ده چې سندرغاړي ترې د سندرې په کښنه کې ګټه اخلي.

د غږ د زېږو بمي، رساوالي او نارساوالي کچه زیاتره د وتونکې سا هوا په فشار او د غږ تارونو د رېږدا په پرله پسېوالي، لوړوالي او پراخوالي پورې سیده اړه لري. د غږنوالي د زېږ پروخت د غږ تارونو اکر (حالت) ته د غږنتیا رغونې اکر وایي. هغه غږونه چې د زېږ پر وخت یې، غږ تارونه د غږنتیا رغونې په حالت کې دي، غږن بلل کېږي، لکه: د "ز" غږ او هغه غږونه چې د زېږ پروخت یې غږ تارونه د غږنتیا رغونې په حالت کې نه دي، ناغږن ګڼل کېږي، لکه د "س" غږ. او له همدې کبله "ز" ته د "س" غږن ځېل یا وارینت وایو.

۲-۲۱: د ناغږنتیا اکر - حالت بېواکی - *Breath Position*

دا هغه اکر دی چې غږ تارونه یې د طبیعي کښنې پروخت ځانته غوره کوي. په دغه اکر کې غږ تارونه یو له بله جلا درېږي، چنغړك بېرته (۲ – ش) او د وتونکې سا هوا بهنګ بې له خنډه له کومې (چاکنای) څخه تېرېږي او په چنغړك کې هیڅ راز کوم غږ نه زېږي. د ژبنیو غږونو د یوې ځانګړتیا په توګه د غږنوالي غوندې له ناغږنوالي څخه هم ګټه اخیستل کېږي. او له دې کبله ورته په غږ پوهنه کې پاملرنه ډېره اړینه ده.

۲-۲۲: د گونګوسي زېږ - توليدنجوا - *Whisper Position*

د ګونګوسي زېږ لپاره د غږ تارو یوه برخه سره ورځي او بله برخه یې سره یوله بله جلا پاتېږي داسې چې کومی (چاکنای) نیم تړلې او نیم پرانېستې وي (۴ - ش). په دې توګه د سا کښنې بهنځ (مجرا) تنګېږي او د وتونکې سا هوا بهنګ له دغې تنګې څخه په وتوکي د کومې د هماغې پرانېستې برخې پر دېوال سولېږي او يو "هه" ته ورته مبتلی غږ زېږي چې که د غږ پرځای د وينا لپاره په کار ولېږي، هغې وينا ته ګونګوسی وايي .

۲-۲۳: د تموالي اکر - حالت انسداد - *Stop Position*

په دې حالت کې غږ تارونه سره ورځي او کومی د يو څه شيبې لپاره بېخي بندېږي. (۵ – ش) د ګړهار بهنځ بيخي تړل کېږي او د هوا بهنګ بېخي بندبنت مومي. داسې چې د وتونکې سا هوا فشار ددغه بندبنت د چاودنې لامل کېږي او داسې غږ رازېږي چې ورته تم کوميز plosive glottal وايي چې د عربي همزه په نامه يې يادوو .

۲-۲۴: ويند غړي - اندامهای ګويا - *Articulatory Organs*

ويند غړي د ستوني، خولې او پزې له درو ګونو تشو (جوفو) څخه رغېدلي دي چې ټول د چنغړك (خنجرې) له پاسه ځای لري . (۶ – ش) د دغو تشو چار د اړخيزو غړونو زېږ دی چې له غږنوالي او يا آرو غړونو سره ګډون مومي او د هغو د بنګهار او توندوالي لامل کېږي . ويند غړي بيا په غږ زېږ کې ځانته نور چارونه (نقشونه) لري چې په وروسته ډول څېړل کېږي :

۲-۲۵: تميزي - خيشوم - *Nasal Cavity*

تميزي تر نوړو دوو تشو لږ غځېدونکي دي، نو په دې توګه له دومره ونجونو (تغييرونو) سره نه مخامخېږي چې د راز - راز غړونو د پيدايښت لامل شي. يوازې ژبې (ملاز) چې د درو واړو تشو په ګډ بريد کې ځای لري، له نېغ درېدو سره د تمېزو خوله بندوي او له دې سره په غږ زېږ کې هيڅ برخه نه اخلي او د هغو غړونو په برخه کې چې دغلته زېږي، بې اغيز وي . کله چې ژبې لاندې راوړل شي، د تميزو خوله پرانېستل کېږي او وتونکې هوا يا غږنوالی پر تميزو ورننوځي، او پزيز (خيشومي) غږ رامنځته کېږي . په غږ آړليك (ترانسکرپېشن) کې د پزيز غږ نښه هغه کوچنی (مد) دی چې پر اړوند توري سرباري کېږي، لکه (a) . پزيز غږ ته غونه يي غږ هم ويل کېږي

۲-۲۶: د ستوني يا کومي تشه - حفره حلق يا حلقوم - *Pharyngal Cavity*

د ستوني يا کومي ديوالونه کېدای شي، سره ټينګ يا سست شي. په دې توګه کومی له تمېزو څخه زيات غځېدونکی دی، کله چې د ستوني ديوالونه سره ورغلي (منقبض) وي، د ستوني يا کومي تشه (حلقوم) تنګېږي . له دې سره د ستوني د وتونکې سا تېرېدنه د يو ډول ځانګړې مبتنې

یا بنگھا د پیداکېدو لامل کېږي چې کومیزه ځانګړتیا ورته وایي. غږن منبلی کومیز غږ عربي (ع) او ناغږن یې (ح) ده. کومیز شوي غږونه، لکه: "ط" او "ظ".

۲-۲۷: د خولې تشه - حفره دهان - *Oral Cavity*

دغه تشه په ویندو غږو کې تر ټولو زیاته غځېدونکې اوله دې سره تر ټولو زیاته کارنده او غوره ده. د خولې نرمښت (انعطاف) د نرم تالو د خوځېدا، د شونډو او خوله ییزو دیوالونو د بېلا بېلو بڼو، د لاندینۍ ژامې د ګرد خوځون او تر ټولو زیات د ژبې د هر اړخیزو خوځېدنو زېږنده ده. له هر ډول خوځېدا سره یو جلا غږ زېږي، د زیاترو غږونو په پیداښت کې د ژبې ونډه دومره اغېزمنه ده چې د نړۍ زیاترې ژبې په همدې نامه، یا په بله وینا، بشري ګړنی ځواك "ژبه" بلل شوې ده.

دا چې د راز راز غږونو په پیداښت کې د خولې کارونه ډېره زیاته ده او د دې لپاره چې په خوله کې بېلا بېل راپیدا کېدوني غږونه تعریف او ډلبندي شي، نو په کار ده، خوله پر بېلا بېلو ځایونو یا غږ زېږ ځیو وویشل شي، هغه هم د چت (تالو) له مخې چې ناخوځنده (ثابت) دی (۷ - ش).
دغه راز، ژبه د یوه ډېر خوځنده غړیز غړي په توګه پر بېلا بېلو برخو وېشنه مومي، لکه په (۸-ش) کې.
همدارنګه شونډې هم کولای شي، د راز راز بڼو په غوره کولو سره راز راز غږونه رامنځته کړي یا د هغو په پیداښت کې برخه واخلي، لکه د دواړو شونډو ترل کېدل، نیم ترل کېدل یا بیخي بېرته کېدل (حقشناس ۵۱-۵۲).

۲-۲۸: زېږ ډولونه - شیوه های تولید - *Manner of articulation*

هغه اکر (حالت) چې ویند غړي یې د یوه غږ د زېږ پروخت ځانته غوره کوي، د هغه غږ د زېږ ډول په نامه نومول کېږي. غوره زېږ ډولونه په لاندې ډول دي.



ش، ٦: وينډغړي



ش، ٧: ز پرځي

١- غير گشونه يز
٢- شونډه غابنيز
٢- ورېنز- تالوييز
٣- تالوييز- اوريز
٤- مختالوييز
٤- تالوييز
٤- اوسترتالوييز
٥- نرم تالوييز
٦- ژبې ييز
٧- سترنيز
٨- كوميز



ش ٨: د ژبې ويش

۲-۲۸-۱: تم - انسدادي (انفجاري - بندشي) - *Plosive*

دغه راز زبړ ږول هله رامنځته کېږي، چې په يو زبړ ځي کې سره دوه غړي داسې يوله بله اړيکه (تماس) ومومي چې د ګړهار بهنځ يوه لنډه شېبه وتړي او هوا تمه شي، لکه : د "پ" او "ب" په وينګ کې .

۲-۲۸-۲: پزيز - خيشومي (ش - ۶) - *Nasal*

دغه زبړ ږول هغه مهال منځته راځي چې د ژبي له کښته کېدو سره د تمېزو لاره ببرته پاتې شي، په داسې توګه چې ټوله يا لږه سا هوا له تمېزو څخه بهره شي .

۲-۲۸-۳: مښن يا مښلي - سايشي (احتکاکي) _ *Fricative*

کله چې په يوه زبړ ځي کې دوه غړي سره داسې نژدې شي چې د ګړهار بهنځ د يو څه شېبې له مخې دومره تنګ کړي چې له هغې تنګې څخه هوا د تېرېدو پر وخت په غړو پورې ومښل شي يا وسولول شي او يو غږ رامنځته کړي، مښلي ږول ترلاسه کېږي . مښلي ږول کله کله د ژبې د ښې له مخې پر ناوه يي (شپېلکي يا صفيري) او پاشلي ږولو وېشل کېږي، لکه د (س) او (ز) د پيدا ايښت پروخت . د پاشلي ږول له پيدا ايښت سره ژبه ناوه کېږي نه، بلکې هوا په ټولې تنګې پورې سولېږي، لکه : د "خ" او (ځ) له پېدا ايښت سره .

۲-۲۸-۴: رغښتي - غلطان (لرزشي) - *Rolled (trill)*

که د هوا بهنګ يو ويند غړی د يو څه شېبې لپاره داسې پر رېږدا راوړي چې له هغه رېږدا څخه په غږ کې يو رغښت (لغزش) رامنځته شي، رغښتي ږول لاس ته راځي. دغه ږول د ژبې په زبړځي کې د ژبې له رېږدا سره او په اووريز هغه کې د ژبې د سر له رېږدا سره ترسره کېږي، لکه د پښتو (ر) يا پرانسي (r) د پيدا ايښت پروخت .

۲-۲۸-۵: يو رپي - زنشي (تك ضربي) - *Sub-standard*

دغه زبړ ږول هغه مهال راپيدا کېږي چې د هوا بهنګ يو ويند غړی تش يوځل ورپوي (وربږدوي) او د رغښتي غونډې يوازې په ژبې يېز او اووريز زبړځي کې پېښېږي، لکه د "ر" وينګ په امريکايي انګريزۍ يا "ړ" په پښتو کې .

۲-۲۸-۶: اړخيز - کناري - *Lateral*

کله چې د ژبې يوه برخه له يوه زېږ ځي (۲-۳۰) سره داسې ولګي چې د ګرهار بهنځ يوازې په منځ کې وتړي، مګر د خولې يوه خوا (وښکی) يا دوې خواوې بېرته پرېږدي، اړخيز ډول راپيدا کېږي، لکه د "ل" په پيدا ينبت کې.

۲-۲۸-۷: نامښن يا نامښلی - ناسوده - *Friction Less*

که دوه غړي سره داسې نژدې شي چې د يوه غږ، غريزه لوښه بدله کړي، خو د تم مښلي د رېږدا (رپا) يا اړخيزتوب لامل نه شي، نامښلی زېږ ډول رامنځته کېږي، لکه له "ی y" او "و w" سره.

زېږ ډولونه د زېږځيو (۲-۳۰) غونډي ترښتي (ترکيبي) لوښه لري. داسې چې که د يوه غږ په پيدا ينبت کې دوه زېږ ډولونه، لکه تم او مښلي پېښ شي، نو تم مښلی بلل کېږي، لکه: "چ" او "څ" همدارنګه تم مښلي ناوه يي، لکه: ځ - ژ ....

۲-۲۹: پور غږ (مستعار صوت): هغه غږ يا اواز (فونيم) ته وايي چې له آروينګ سره له يوې ژبې څخه بلې ته ورننوتی وي، لکه عربی (ق) په ځېنو ګرډودو يا (ف) د افغان او افغانستان په معياري پښتو وينګ کې.

۲-۳۰: زېږځي: د غږيزو غړو (←) هغو برخو ته ويل کېږي چې د ژاولنتيا (ارتجاعيت) وړتيا يې په پرتليز ډول ډېره لږه وي اوڅه ناڅه غلې او ناخوځنده وي، لکه پاسنی شونډه، پاسني منځغابونه، (مخنی، منځنی، روستی) تالو، اوورې، ستونی او داسې نور. کوم ښواك غړونه چې له نومورو زېږځيو څخه راوځي، د هماغه زېږځي په نامه يادېږي، لکه شونډيز ښواك، غاښيز ښواك او داسې نور.

۲-۳۱: زېږ غړي: هغو ته ويل کېږي چې د ژاولنتيا وړتيا يې زياته وي او څه ناڅه خوځنده وي، لکه: لاندينی شونډه، ژبه او د هغې څوکه، منځ او بېخ.

۲-۳۲: وتوځی: کله چې د ښواکو غړونو د زېږ پروخت غږ زېږي غړي (←) په زېږځي (۲-۳۰) پورې ونښلي يا ورته نژدې شي، د نښتنې يا نژدې کېدنې دغه ځای ته "وتوځی" وايي، په دې توګه پښتو ښواك دا لاندې وتوځي لري:

غبرګشونډيز: چې دواړه شونډې سره ونښلي او غږ ادا شي؛

غاښيز: چې د ژبې څوکه له اووريو سره ونښلي او غږ وزېږ وي؛

تالويز: چې د ژبې بېلا بېلې برخې د تالو له مخنی، منځنی او يا وروستنی برخې سره ونښلي او ښواك رامنځته شي.

۲-۳۳: د سا هوا له مخې د غږونو ډولونه : د وینا غږونه له آره د سا هوا له رېږدا او ویجاړتیا څخه رامنځته کېږي . د غږ زېږ ډول دا مانا چې د وینا غږونو د زېږ پروخت د انسان په اراده څه راز پېښېږي د سا هوا پر بهنګ راوړل کېږي . په دې توګه پښتو ښواک پرتمو، مښلو، تم مښلو، اوبلنو یا مایعو، پزیزو یا ګړنسي او یا غنه یي وېشنه مومي .

۲-۳۴: کومکي وتوځي : هغو څېرمه ییزو چارو (فعالیتونو) او کومکي پېښنو ته وایي چې د انسان په وېلاړ (اراده) ترسره کېږي او د وینایيزو غږونو له جوړښت سره آره او سیده اړه نه لري، لکه : له خولې یا پزې او یا هممهاله، له خولې او پزې دواړو څخه د سا هوا ایستل .

که د یو غږ د زېږ پروخت یوازې د خولې لار بېرته او د پزې هغه بنده وي، هماغه غږ "خوله ییز ښواک" بولو؛ که د یو غږ د زېږ پروخت یوازې د پزې لار بېرته او د خولې هغه بنده وي، راوتی غږ "پزیز ښواک" بلل کېږي او که د کوم غږ په زېږ کې د خولې او پزې لارې دواړه بندې وي، نو بیا ورته " ګړنسي یا غنه یي ښواک " وایو . الهام (۶۲-۶۴ مخ) .

۲-۳۵: کړاوونه (تمرینونه) :

۱: غږپوهه له څه غږېږي ؟
۲: آوازپوهه څه ته وایي ؟
۳: د غږ پوهې ځانګې کومې دي ؟
۴: مورفو - فونولوجیکي اوښتنې له ډولونو سره راوپېژنئ !
۵: همرنګي څو ډوله ده ؟
۶: بخښنل ولې ښښل یا بخل شوی دی ؟
۷: روغ - ورخ او کښته - ښکته څه راز بدلون دی ؟
۸: وینایيز یا ګړهاري غړي څه دنده لري ؟
۹: ویند غړي او وینایيز غړي سره څه توپیر لري ؟
۱۰: زېږځي او وتوځي سره څنګه توپیروئ ؟
۱۱: زېږ غړي کوم دي ؟

نوموني - اصطلاحات - Terms

٥١ ٢٢٧

نوموني - اصطلاحات - *Terms*

اټکل	گومان، حدس، تخمين
- شمېر	تخميني يا غيرمعين عدد
اخځ	ماخذ، ريفرنس، حواله
اخځليك	د ماخذونو فهرست، بيبليوگرافي
آر	اصل، اصيل، اصلي، پرنسيپ
آر پېر	اصلي حالت
ارته يووستوې غونډله	منكشفه ساده جمله
آر شمېر	اصلي عدد
آر غونډله يا آره غونډله	اصلي جمله
ارماني	تمنايي
آره	اصل، منشاء، نسب
آره يووستوې غونډله	اصلي ساده جمله
آړ (گره)	شرط، مانع
اړوتى	شرطى، مانع
اړوندي	تابعيت، تعلق، ارتباط، مربوطيت
اړيكپېر	ارتباطي حالت
اړيكنومځرى	ارتباطي ضمير
انځورليك	گراف، دياگرام
اړيكوييكى	ارتباطي كلمه (حرف ربط يا صله)

انگازه (غبرگون)	انعکاس، عکس العمل
انگینوم	صوتي نوم، نام اوا
انگینومیز	نام آوایي
اواز	فونیم، واج یا واژ
اوازپوهه	فونیمېکس، فونیمشناسي، واجشناسي
اوډل	ترتیبول، تنظیمول
اوډون	ترتیب، تنظیم، نظم
اوریز	سمعي، سماعي، شنوایي
اوړون	گردان، تصریف
اوړونی	گرداني، تصریفي
اوړېدونی	گردانیدونکی، متصرفه
- ژبه	متصرفه
- گړ	گردانېدونکی مورفیم
اوستریل	پسینه، پوستپوزېشن
اوسترمهال (وسترمهال)	استقبال، مستقبل
اوښتون	تغییر، تحول، انقلاب
اوښتی پېر	مغیره حالت
اېښونی	مسند، خبر، گزاره
اېښی	مسندالیه، مبتدا، نهاد
بشپړ	مطلق، مکمل
- کړ	مطلق فعل
- تېرمهال	مطلقه ماضي
- وسمهال	مطلق حال
- وسترمهال	مطلق استقبال
بشپړ اند	بشپړوونکی، متمم، مکمل
- کړ	سوپلاتیف یا ناقص فعل
- توك یا ټوك	بشپړوونکی عنصر یا جزء
بیا پېښنی	تکراري، مکرر
بیا پېښني	تکرار
بېچار	بېکار، بې فعالیت، مجهول (فعل)
- پېر	ارگاتیف
- کړ	مجهول فعل

- کړنوم	مفعولي صفت
بېدوده، بېدويه	بې قاعده
بېلتون	فصل (نازنځيري فونيم)
- و پيوستون	فصل ووصل
بېلبنت	اشتقاق
بېلبنتي	اشتقاقي، مشتق
بېواك	کانسونېنت، صامت
پايځوړ	ضميمه، تعلق، اپنډېکس
پايلنيوى	نتيجه گيري، استنتاج
پايله	(فعلي، اسمي) خاتمه، نتيجه
پايليزه	(د کتاب) خاتمه
پرتله	مقايسه، نسبت
پرتليز	مقايسوي، نسبي
پژنوم	ذات اسم
پژنى (پړنى)	بدني، جسمي، ذاتي، جسماني
پژى	بدن، جسم، ذات، وجود
پښويپوهاند	گرامرپوهاند
پښويه	گرامر، دستور، صرف ونحو
پښوييز	گرامري
پلوي	طرفدار، سمتي
- نومځرى	توجيهي ضمير (نومځرى ←)
پورغږ	واج قرضي
پور ويى	مستعار لغت، واژه قرضي
پوړ شمېر	رتبي يا وصفي عدد
پوښتغونډله	استفهامي جمله
پوښتنښه	د سواليې علامه
پوښتنليك	پرسشنامه، کويسټشنر (ي)
پوښتنومځرى	استفهامي ضمير
پوښتني	استفهامي
پېر	مرحله، دور، دوره، حالت (اسمي)
پېژند	ارتيکل، (حرف) تعريف
پيوستون	وصل (نازنځيري فونيم ←)

تاړی	وند ، افېکس
تړ غبرګغونډله	عطفیه یا مضاعفه جمله
تړوییکی	حرف عطف یا صله
تواني	امکاني، اقتداري
- کړ	- فعل
توری	حرف، ګرافیم
توسن	سبب، علت
- پېر	علتیه حالت، کوزاتیف
- غونډله یا توسني غونډله	علتیه جمله
- وییکی	د علت توری
توسني	الی، علتي، علتیه، معلول
توك یا توکی	عنصر، ماده
تول (په معروف و)	مال، ملکیت
- نوم	مضاف
- نومځری	ملکي یا اضافي ضمیر
تون	ځای، ظرفیت
- پېر	ظرفي حالت، لوکاتیف
توني	ظرفي، مکاني
- کړول	مکانی قید
تېرمهال	ماضي، تېره زمانه
- کړ	ماضي فعل
ټوك	جز، جلد، جزوه
ټوکر	پاراګراف
ټولنوم	عام اسم
ټولی	کتېګوري
ټولیز یا ټولوال	کلی، عمومی، مجموعی، جمعي
جاج	مفهوم
جوت	معلوم، ثابت، مشخص
جوله	بڼه، شکل، لفظ
جولیز	شکلی، ظاهری، لفظی
چار	عمل، عملیه، فعالیت، نقش، رول
- ول	فعال، معلوم (فعل)

-- کړ	معلوم فعل
--- نوم	فاعلي صفت
- انگ	عکس العمل، بازتاب
ځانګړتیا، ځانگړنه، ځانتیا	خصوصیت، خاصه
ځانګړنومځری	شخصي ضمیر
ځانګړی نوم	خاص اسم
څپه	هجا، سیلاب
څپیز	هجایي، سیلابي
څرګندنه	اصطلاح، اکسپرېشن
څرګندني، څرګندنیز	بیاني، تشریحي، توضیحي، اصطلاحي
- غونډله	بیاني یا توضیحي غونډله
څرګندوییکی	بیانیه ادات
څېرمه	فرعي، ضمني، الحاقي
- غونډله	فرعي جمله
څرنګوالی	کیفیت
څرنګیز	کیفي
څومره والی	کمیت
څومره ییز	کمی، کمیتي
څیزنوم	اسم، سوبستانتیف
څیزنومیز	اسمي
څیزوال	غیرشخصي، د یوه څیز اړوند
خبر	خبر، مسند، گزاره
خبري	خبری، بیاني، بیانیه
- غونډله	خبري جمله، بیانیه جمله
- کړ	خبري یا بیانیه کړ
خپلواك (غږ)	واول
خپلواکه غونډله	مستقله یا اصلي جمله
خج	فشار
خجن	فشار لرونکی
دود	رواج، مروج، قاعده، وجه فعلي (خبري - انشایي)
دودیز	باقاعده، عنعني، متداول
دوی	قانون، قاعده

ډېرګړی	جمع
روږد (ی)	معتاد
روږدتیا	اعتیاد
روږدنی، روږدني	اعتیادي
- کړ	اعتیادي فعل
روږدي	عادي
روستاړی	پسوند ، لاحقه، سفېکس
زور خج	دینامیك خج
ژبپوهاند ، ژبپوه	زبانشناس
ژبپوهنه	زبانشناسي
ژبپوهنیز	لنگویستیکي، زبانشناختي
ژبنی	لساني
ستاینوم	صفت (اسم صفت)
سربل	پېشینه، پرېپوزېشن
سرغاړی	مستنکف، سرکش، متمرد ، باغي
- غونډله	مستنکفه جمله
سول	عقل، منطق
سولیز	معقول، منطقي
شمېر ترنگ	عددي ترکیب
شمېرنوم	عدد (اسم)
شننه، څېرنه	تجزیه، تحلیل، تفسیر
ښځینه	مونث
غاړه	لحن، ترنم
غبرگغږ	دېفتونگ، دېفتانگ
غبرگغونډله یا غبرگه غونډله	مضاعفه جمله
غبرگوال (منځوال)	انعکاسي (فعل)
غبرگون	انعکاس، جواب، عکس العمل
- کړ	انعکاسي فعل
- نومځری	انعکاسي ضمیر
غږ (ږغ)	فون، صدا ، سونډ
- پوهه (- هنه)	فونولوجي
- پوهیز	فونولوجیکي

غوښتني	دعائیه، مطلوب
- کړ	دعائیه فعل
غونډ	اسمي گروپ، فقره، عبارت، مسندالیه
غونډله (دوه څپیز)	جمله
- پوهه	نحو - سینتکس
- پوهیز	نحوي
- ییز	جملوي
غونډ نوم	اسم جمع
کړ	فعل
- اوړون	د فعل گردان
- تړ	د فعل رابط
- توك	فعلي عنصر
- غونډ (کړوال غونډ)	(فعلي) گروپ، فقره، عبارت
- مهال	فعلي زمانه
- نوډی	فعلي جنس
- نوم	فعلي یا مشتق نوم
کړند	فاعل
- پېر	فاعلي حالت، نومیناتیف
- وال (بېچار) پېر	ارگاتیف
کړوال	فعلي
- غونډ	فعلي گروپ یا فقره
کړواله غونډله	فعلي جمله
- گړنه	فعلي اصطلاح
کړول	قید
کړ ولي	قیدي
کړولی	فعلي رېښه
کړولي غونډ	قیدي گروپ یا عبارت
کړی (یو څپیز)	مفعول
- غونډ	مفعولي گروپ یا عبارت
- پېر	مفعولي حالت
گډ غونډله یا گډه غونډله	مرکبه جمله
گډلې غونډله	مختلطه جمله

ګړ	مورفیم، واج
- پوهه (هنه)	واجشناسي، مورفولوجي، صرف
- پوهیز	مورفولوجیك، صرفي
ګړدود	لهجه، ګویش
- پوهه	لهجه شناسي
ګړنپوهه	اصطلاح شناسي، فرازیولوجي
ګړنه	محاوره، ایدیم، فراېز
ګړنیز	محاوروي، شفاهي
ګڼه	عدد، افراد وجمع
ګوماني	شکي، شکیه، احتمالي
لالر نغوتنومځری	لالرې اشاري ضمیر
لر تېرمهال	بعیده ماضي
لر ستاینوم	د مسند صفت، د پریدیکات صفت
لر کړی	بالواسطه مفعول، داتیف
- پېر	د بالواسطه مفعول حالت، داتیف
لر نغوتنومځری	لرې اشاري ضمیر
لښتیلیك	جدول
لنډ تیرمهال	قریبه ماضي
لنډ ستاینوم	د مسندالیه صفت، نژدې صفت
لنډ کړی	بې واسطه مفعول
- پېر	د بې واسطه مفعول حالت، اکوزاتیف
لنډ نغوتنومځری	نژدې اشاري ضمیر
لوستلیکی	کتاب قرائت، درسي کتاب، تکسبوك
لوښن	الي، انسترومنتال
- پېر	الي حالت، انسترومینتاتیف
لوښی	ظرف، اله، سامان، اواز
لېږند فعل	متعدي فعل، ترانزیتیف فعل
- چار کړ	کوزاتیف فعل، مصدر صناعي
لیکلړ	لست، مینیو
لیکنښه	د تنقیط علامه، پنکچوېشن
لیکنی	تحریری، کتبي
لیکی	کتاب

ليکي پلور	کتابفروشی
- پلوري	کتابفروش
مانا	معنی، معنا
- پوهه	علم معاني، سېمانتيك
- توك (مانګړ)	کوشنيترين مانيزتوك، سېمانتېم
- نوم	اسم معنی
- ونج	مانيز تغيير
مختاړی	پېشوند ، سابقه، پرېفېکس
مخکړ	فعلي سابقه، پريوپرب
مرستيالکړ	معاون فعل
مله غونډله	ملګرې يا فرعي جمله
منځېپېښي غونډله	معترضه جمله
منځتاړی	ميانوند ، انفېکس
منځوال کړ	انعکاسي فعل
منښتي	اقراري
نابشپړ کړ	غيرمطلق فعل، استمراري فعل
ناپای	ناتمام، مصدر ، اينفنيتيف
ناشنونی	لايتجزا ، غېرقابل تجزيه
نالېږند کړ	لازمي فعل، اينترانزتيف فعل
ناوړېدونی	غيرمتصرفه، نه ګردانيدونکی، نه اوړېدونکی
نرينه	مذکر
نغوته	اشاره
نغوتنومځری	اشاري ضمير
نمنښتي	انکاري
- وييکی	حرف نقض (خو، مګر)
نوچار ، نوښت	ابتکار ، اينيسياتيف
نوړ نوم	اسم جنس
نوم	اسم
- اوړون	د اسم ګردان
- اوښتون	د اسم تغيير
نوم پېر	اسمي حالت
نومځری	ضمير (ځری = استازی)

نوم نوري	اسمي جنس
نومںوال يا نوميز	اسمي
- غونډ	اسمي گروپ، مسنداليه
نومواله غونډله	اسمي جمله
- گړنه	اسمي محاوره
نومليك	فهرست اسما يا اعلام، اپنديكس
نومونپوهه	ترمينالوجي
نومونه	نامگذاري، اصطلاح (علمي، تخنيكي)، ناموازه، ترم
نومېرل	تشخيصول
نوميز يا نوموال	اسمي
نيمواك (غږ)	نيم واول، شبه واول
نيوليك	فهرست مندرجات
وتونپېر	مفعول منه يا منشايي حالت، ابلاتيف
ورتلونپېر	مفعول له حالت
ورمندون، ورمند	امر، حكم، قضاوت، داوري
ورمندي	امري، قضايي
وگړپوهنه	انتروپولوجی، بشرشناسي
وگړی	شخص، صيغه
ولی (رېښنه)	ريشه، جذر، روټ
ونج	بدل، عوض، بدلون، معاوضه، مېز
ونجول	بدلون، تبديلول، عوضول، معاوضه كول
ونجون	بدلون، معاوضه، تغيير
ونجېدل	بدلېدل، عوضېدل
وورشمېر يا مات شمېر	كسري عدد
وېش شمېر	انقسامي عدد
ويی (گای)	لغت، كلمه، واژه
- اوډون (په غونډ او غونډله كې)	(په فقره او جمله كې) د كلماتو ترتيب
- پانگه (زېرمه)	لغوي ذخيره، ويكابولري
- پور	قرض واژه يی
- پوهه	لغت شناسي، واژه شناسي
- رغاونه	لغوي ساختمان، واژه سازي، نيولوجېزم

وییز	لغوي، کلموي
- خج	لغوي فشار
وییکنومځری	اداتی ضمیر
وییکی	ادات، حرف، پارتیکل
همېشنی یا همیشه یي	استمراري، دایمي
هېبنده	محیر، تعجب اور
هېبني	تعجبي
یووستوی	ساده، بسیط
یووستوې غونډله	بسیطه یا ساده جمله
یو ګړی	مفرد
یوون	واحد، یونټ

اخځليك

۱ - الهام، محمد رحیم : روشی جدید در تحقیق دستور زبان دری - پوهنځی زبان وادبیات، ۱۳۴۹ ل .

- د پښتو گرامر طرح، ورمه - د کابل پوهنتون د کتابتون د افغانستان پوهنې ځانګه .

۲ - پالوال، عبدالرازق : پښتو نوی مصدر - ادب پوهنځی، ۱۳۵۰ ل، کابل

۳ - پنزل، هربرت : د پښتو گرامر، د محمد رحیم الهام ژباړه، ادب پوهنځی، ۱۳۴۰ ل .

۴ - تړی، حبیب الله : نوې ژبپوهنه او ژبني مسایل - پښتو ټولنه، ۱۳۴۴ ل .

۵ - چامسکي، نوم : دانش زبان، ماهیت، منشا وکاربرد آن. ترجمهٔ علی درزی. نشرنی، تهران، ایران ۱۹۸۶ .

۶ - حبیبي، عبدالحی : "تعلیقات" تاریخ تلفظ (آواشناسی) وصرف پشتو . جلد دوم ص ۲۷۳-۲۷۴ (← روان فرهادی) .

۷ - خانلري، پرویز : ساختمان جمله - بخشی از جلد دوم تاریخ زبان فارسی، بنیاد فرهنگ ایران، تهران ۱۳۴۹ .

۸ - خوشال - ك : د خوشال خان ختك کلیات، کابل چاپ .

۹ - خوشال - پ : د خوشال خان ختك کلیات، پېښور چاپ .

۱۰ - رښتین، صدیق الله : پښتو گرامر، پښتو ټولنه۱۳۲۷ ل .

۱۱ - روان فرهادی، عبدالغفور (مترجم) : تاریخ تلفظ (آواشناسی) وصرف پشتو از استادان غرب : دارمستتر، گایگر، مورگنستیرن وبن ونیست . در دو جلد . نشرات مجلهٔ ادب پوهنتون کابل ۱۳۵۶ (۱۶۷۷ م) .

۱۲ - پښتو قاموس، لومړی ټوك ۱۳۳۰ ل، دویم ټوك ۱۳۳۳ ل. پښتو ټولنه، کابل.

۱۳ - زیار، مجاور احمد زیار : پښتو پښويه (ګرامر) . د پښتو ژبې او ادب څانګه، د ژبو او ادبیاتو پوهنځی، کابل پوهنتون . د لوړو زده کړو د وزارت چاپخونه . کابل ۱۳۶۲ ل - ۱۹۸۰ ز .

- ويي پوهنه، د پښتو ژبې او ادب څانګه، کابل پوهنتون، د لوړو زده کړو چاپخونه ۱۹۸۱ .

- پښتو لیکلار، د پښتو ژبې او ادب څانګه، کابل پوهنتون، د لوړو زده کړو چاپخونه ۱۹۸۲ .

- نگرش گذرایی اتنولینگویستیك برمضحکهٔ ارتباط خلجی های ترك با غلجی های پشتون وهمچنان اریهٔ ابدالی ها ویفتلی ها به مثابه هونهای سپید (!)، هفته نامهٔ نیمروز افغانستان، شماره ... ۱۳۷۷ (لندن) وشمشاد، شماره ۱-۲ ش، ص ۱۱-۲۰ .

- پشتو، زبان پشتونها، به مثابه عمده ترین زبان آریائی شرقی (افغانستان) پژوهش در فرهنگ باستانی وشناخت اوستا (سومین همایش، هامبورگ اکتوبر ۱۹۹۸) جلد دوم ص ۴۸۹-۵۳۰. انجمن رودکی، پاریس ۱۹۹۸ .

- پښتو سينډ گی – نوېزونه (نيولوجيزونه). د ساپي د پښتو څېړنو او پراختيا مرکز، پېښور
۱۳۷۸ ل – ۲۰۰۰ ز.
- انګرېزي – پښتو سينډ گی – سرېلونه + اوستريلونه، گړنې او څرګندنې. د ساپي د پښتو څېړنو
او پراختيا مرکز، پېښور ۱۳۷۸ ل – ۲۰۰۰ ز.
- پښتو او پښتانه د ژبپوهنې په رڼا کې (له ساکي مخينې سره). د ساپي د پښتو څېړنو او
پراختيا مرکز، پېښور ۱۳۷۹ ل – ۲۰۰۱ ز.
۱۴ – لودين، دولت محمد: د کلام د اجزاوو جوړښت، زېری، ۴۳ ګڼه، ۱۳۵۱ ل کابل.
- د پښتو ژبې د فعلي اصطلاحګانو واحدونه او د هغوی د قاموسي تشريحاتو څېنې پوښتنې
(ژباړه) – کابل مجله، ۸ ګڼه، ۱۳۵۱ ل کابل.
15. F. De Saussure: Grundfragen der Allgemeinne Sprachwissenschaft Übersetzer: H. Lommel. 2. Auflage, Berlin 1967.
16. G. Helbig & J. Buscha: Deutsche Grammatik- Leipzig 1975.
17. R. Konig & U. werner: Zum Gebrauch der phraseologismen. Humboldt Universitat Berlin1979.
18- Kieffer, C. M., "Dialectologie du pachto. Distribution et typologyie des parlers Pashto d' apres les premieres Cartes de Altas linguistique de 1' Afghanistan CALA". Colloque sur L'etablissement d'um Centre de etude la langue et de la literature pashto, Caboul 1975.
-Die Paschtun und seine Paschtunwali. Bern 1974.
-AC?KZI, Encyclopaedia (Ed. By Ehsan Yarshater), Vol. 1. p. 413-414. Afghan p. 481.
19. H. Krahe: Indogermanische Sprachwisissenschaft II Form Lehre, Hamburg Goschen Band 60 – Barlin 1963.
20. D. N. Mackenzie: Pashto, The World's Major Languages, ed. Bernard Comrie, London, 1987.
20. A. Martinet. Grundlage der Allgemeinen Sprachwissenschaft. Kohlhammer Verlag 1967.
21. J. C. Mayer – Ing: Untersuchungen von Satzbau des paschto. Hamburg 1966.
22. Morgenstierne George. An Etymolosical Vocabulary of Pashto (EVP). Oslo 1927.
23. Morgenstierne George. Indo-Iranian Frontier's Lanhuages: parachi and Ormuri. Oslo 1927.
-1975: "The languages of Afghanistan, Afghanistanxx, 3, pp. 81-90. 1975: The place of Pashto among the Iranic languages and the problem of the Constitution of Pashtun linguistic and ethnic unity" Int. pashto seminar on the occasion of establishment of the International Center for Pashto studiies, Kabul, Nov. 1975.
-1978: Pashto Quarterly, 1, 4, pp. 43-55.
-1927: An Etymological Vocabulary of Pashto (EVP), Oslo.
24. Morgenstierne, George. Neu-iranische Sprachem S. 155-170. Hb. Der Orientalistik, 4. Bd. Granistik: 1. Absch. Linguistik. Leiden-koln 1958.
25. R. Murphy: English Grammar in Use. 2. Ed. Cambridge Uniiversity Press 1994.

26. J. Monroe, Pence: A Tagmemic Grammar of Pashto clause structure. Univ. Microfilms Michigan 1967.
28. H. Penzl: A Grammar of Pashto – Washington 1955.
29. Hans, Reichelt, Awestsches Elementarbuch. Carl Winter. Universitatsverlag, Heidelberg. 1967.
30. Daniel, Septfonds, Le Dzadrani, Un parler pashto du Paktya (Afghanistan), Paris 1994.
31. D. Shafeev: A Short Grammatical outline of Pashto Mouton & Co. 1964.
32. Ski aeru/, prods O., Pashto p. 384-409.
Compendium Linguarum Iranicarum Hsg. Rudiger Schmitt Wiesbaden 1989.
33. H. Tegey: The Grammar of Clitics int. Center for Pashto Studies, Kabul 1978.
34. H. Tegey & B. Robson: A reference Grammar of Pashto. Center for Applied Linguistics. Washington, D. C. 1996.
35. U. Ulrich: Worterbuch Linguistische grundbegriffe. Verlag Ferdinand hirt 1972.
36. G. Wahrig: Das Grosse Deutsche Worterbuch. C. Bertelsmann Verlag Gutersloh 1966.
37. M. A. Zyar: Die Nominal Komposita des Pashtoo, Diss. Universitat Bern. Institute fur Sprchwissenshaft, Bern 1974.
-2000: An English – Pashto Dictionary of Prepositions & Postpositions, Translation & Comparison Publ. Sapi's Center of Pashto Reaserch and Development. Peshawar 2000.
-The Collins English Dictionary 2. Ed. Collins. Editor: P. Hanks. London and Glasgow 1988.
-The Oxford English Dictionary. 2. Ed. Prap. J. A. Simson and E. S. C. Weiner. Clarendon Press, Oxford 1989.

PROPERTY OF ACKU
11228

Agha Library The Digital Library

PROPERTY OF
ARIC
Established
1988

په آرياني ژبو کې د پښتو تاريخي - جغرافيايي درېځ



سمونلیک

ناسم	سم	مخ	کرښه
ښ x	ښ x	۳۶	۱۵
۸۹ - ۹۱	۹۱ - ۹۳	۱۷۳	۱
۶۷	۷۰	//	۱۸
۹۳	۷۹ - ۸۳	۱۷۴	۱۲
۷۶	۸۳	//	۲۱
۱۳۳	۱۳۶	//	۹
۸ -	۷ -	۱۷۶	۴
۱۵۷	۱۵۸	//	//

همدا رنګه دي د نورو اخځونو اړوندو مخګڼو (۲) او (۳) زیاتوالی په پام کې ونیول شي. د ۱۳۷ مخ د جدول کیڼ پلو ته یو ړیب غشی (←) او په ورلاندې کرښو کې دویم دویم تکراري "اوړني" ویيونه هسې زیاتي راغلي دي.

PASHTO GRAMMAR

By

Prof. Dr. M. A. Zyar

Oxford, 2003

Published by:
Danish Publishing Association
Qissa Khwani Bazar, Peshawar
Ph:2564513/Kabul:0093-079-315887